د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشري
مرکز زبانها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

په دې گڼه کې:

- د ادبي بحثونو نړۍ.
- په پښتو ادب کې د لیلی او مجنون لومړنی منظوم داستان
- طناز شاعر عبدالستار بمبار
- کرگر، د خپلو عرفاني لیکنو په ضرب او کرب کې
- د ژبې د تحول ټولنیز عوامل
- ژباړونکي ختیځپوهان
- کلمه او تابع مهمل

او نور...




- دري میاشتنۍ
- دریمه دوره
- د کابل: ۱۳۹۸ لمریز
- د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
- کابل – افغانستان

۴

څېړنیزه، ژبنۍ، ادبي او فولکلوري مجله
کابل
۱۳۹۸ لمریز کال، ۴ مه گڼه


# KABUL

Monthly Journal


Establishment 1931
Academic Publication of
Afghanistan Academy of Science



Address:
Academy of Science of Afghanistan
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

معاونیت بخش علوم بشری

مرکز زبانها و ادبیات

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

ژبنۍ، ادبي او فولکلوري درې میاشتنۍ څېړنیزه مجله

د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز

۴مه گڼه

**یادونه:**

✓ مقاله دې له یوې رسمې پتې څخه چې په هغې کې د لیکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټېلیفون شمېره او برېښنالیک پته وي، د علومو اکاډمي ادارې ته را ولېږل شي.

✓ رالېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.

✓ رالېږل شوې مقاله، باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرلیک، باید لنډ او له منځپانګې سره سمون ولري.

✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کړای شي. همدغه راز، لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقاله باید د سریزې، اهمیت، مبرمیت، موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې روش، پایلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونه وي، د فونټ سایز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله باید (Single) وي او ادارې ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمي د نشراتي لایحې له مخې د یوې مقالې د تائید او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسئولیت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له مأخذه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسئول مدیر:** څېړنوال محمد نبي صلاحي

**مهتمم:** څېړنیار حضرت آغا همدرد

**کتنپلاوی:**

څېړنوال دکتور عبدالظاهر شکیب

څېړنپوه دکتور خلیل الله اورمړ

څېړنپوه نصر الله ناصر

څېړنوال محمد آصف احمدزی

**چاپ ځای:** الهام نبي زاده

**تیراژ:** ۵۰۰ ټوکه

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، طره باز خان واټ،

کابل، نوی ښار، د شاه بوبو جان کوخه

**د اړیکو شمېرې:**

۰۷۷۰۸۴۸۰۸٦- ۰۷۹۹۸٦۱۲۹۹ - ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹

**د مجلې برېښنالیک:** magazinekabul@gmail.com او info@asa.gov.af

**کلنۍ ګډون بیې:**

په کابل کې: ۹٦۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| گڼه سرلیک | لیکوال | مخگڼه |
|---|---|---|
| ۱. د ادبي بحثونو نړۍ | څېړنوال محمدنبي صلاحي | ۱ |
| ۲. په پښتو ادب کې د لیلی او مجنون لومړنی منظوم داستان | څېړنوال سیدنظیم سیدي | ۱۰ |
| ۳. طناز شاعر عبدالستار بمبار | څېړندوی رحیم الله حریفال | ۲۵ |
| ۴. د لوګر د احمدزیو او د پکتیا د آریوب ځائیو د لهجو ... | څېړنوال شهزاده توحیدمل | ۳۴ |
| ۵. کرګر، د خپلو عرفاني لیکنو په ضرب او کرب کې | دکتور عبدالخالق رشید | ۵۱ |
| ۶. د سید محمد طاهر بینا ژوند او ادبي هڅې | پوهنمل سبحان الله شهاب | ۶۹ |
| ۷. د ژبې د تحول ټولنیز عوامل | پوهنمل مریم مهان | ۸۶ |
| ۸. ژباړونکي ختیځپوهان | څېړندویه سونیا صمیم هوتک | ۹۷ |
| ۹. سواتنامه د معاصرې یونلیکنې د ځانګړنو په رڼا کې | څېړنیار حمایت الله ښاد | ۱۲۳ |
| ۱۰. د پریم چند د لنډو کیسو فني او موضوعي لوړتیا | پوهنیار سیدصمیم هاشمي | ۱۴۸ |
| ۱۱. د میناتورۍ هنر او د هغه هنري، ادبي او عرفاني ارزښتونه | څېړندوی صاحب ګل مموزی | ۱۵۸ |
| ۱۲. کلمه او تابع مهمل | څېړنیار عزیزالله مبارز | ۱۶۷ |
| ۱۳. فهرست پېژندنه او د کابل مجلې د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ کلونو په ګڼو کې د مقالو الفبایي فهرست | څېړنیار حضرت آغا همدرد | ۱۷۶ |

څېړنوال محمدنبي صلاحي

# د ادبي بحثونو نړۍ

# The World of Literary’s discussions

**Research Fellow M. Nabi Salahi**

**Abstract**

The topic of language and literature is not only important in Pashto literature, but also it has attracted the attention of the world scholars, over the history. Many famous linguistic scholars have addressed different topics in the field of language and literature to overcome the prevailing problems in this field of study; and in every stage of the history, the scholars have essential contributions in the field. Taking this fact in to account, it is important to have a synoptic study on the historical literature in this area.

**لنډیز**

د ادبي بحثونو موضوع، د تاريخ په اوږدو کې نه يـوازې پـه پښـتو ادبيـاتو، بلکـې د سيمې او نړۍ په ادبياتو کې له ډېرپخوا نه باب وه. د ادبياتو يو شمېر مهمـو اسـتادانو، ځينې ادبي بحثونه د ادبي ربړو د حل لپاره، د مختلفو ادبي موضـوعګانو پـه اړه تـرسره کړي دي. له دې امله، دغه ادبي بحثونه د ادبي موضوعاتو د څېړني په بهير کې ګټور ثابت شوي او دا طريقه، يوه منل شـوې لاره بلـل شـوې ده چـې پـر تـاريخي مخينـه او شته ادبي بحثونو باندې يې څېړنه، له علمي ارزښتونو نه خالي نه ده.

## سریزه

د ادبي بحثونو نړۍ مقاله په لرغوني یونان کې د دوو نامتو فیلسوفانو ترمنځ د ادب او هنر په اړه له تاریخي جر او بحث نه پیل شوې، بیا په اروپا کې د یوې په زړه پورې مباحثې یادونه شوې او له هغه وروسته د ادبي بحثونو د مثبتې پایلې او معلوماتي گټې په باب معلومات وړاندې شوي دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د تاریخ په اوږدو کې ځینې ادبي او علمي ستونزې، د ادبي او علمي مناقشو او بحثونو له لارې اوارې شوې دي. نن سبا د ادبي بحثونو دغه لړۍ، په افغاني ټولنه کې د پخوا په پرتله توده شوې او په دې لړ کې یو شمېر ادبي بحثونو کتابي بڼه هم خپله کړې ده. له دې امله، د ادبي بحثونو دغه لاره د څېړنې لورته یوه درېځه بلل شوې ده. د دې مضمون د لیکنې اهمیت او مبرمیت هم په دې کې دی چې د څېړنیز بهیر او له تحقیقي موضوعاتو سره د پېژندنې په برخه کې، د ادبي بحثونو په تاریخي او شته ونډه، سهم او ارزښت معلومات وړاندې شي.

## د څېړنې موخې

د دې مقالې د لیکنې بنسټیز مقصد دا دی چې له ادبي او علمي بحثونو سره د ځوانو څېړونکو بلدتیا زیاته شي او هم په دې باندې ټینگار شوی دی چې ادبي بحثونه، نه یوازې زموږ د ادبي څېړنو په بهیر کې گټور ثابت شوي، بلکې په راتلونکي کې یې دوام اړین بلل شوی دی.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ ادبي بحثونه څه ته وایي؟

۲ـ په نړیواله کچه، د ادبي بحثونو شالید څنگه دی؟

۳ـ د ادبي بحثونو کتابي بڼه کوم ارزښتونه لري؟

## د څېړنې میتود

د دې لیکنې څېړندود تاریخي ـ تشریحي لارې چارې دي.

# ادبي بحثونه

په ادبي اوعلمي موضوعاتو باندې مناقشې، مرکې او بحثونه، له عادي خبرو او مرکو نه ډېر توپير لري. له دې امله، هغه مرکې او بحثونه چې پر ادبي او څېړنيزو موضوعاتو باندې ترسره کېږي، د ادبياتو په نړۍ کې اوږد تاريخ لري. دکتور رمضان حسن زاده د (روش تحقيق کاربردی) اثر په ۳٦ مخ کې، د څېړنيزو لارو چارو او علمي بهير د اړتيا د پوهاوي او د مختلفو دليلونو د ويلو لپاره، په ډله ييز بحث باندې داسې ټينګار کوي: ((د علمي او غيرعلمي فعاليتونو د توپيرونو په اړه ډله ييز بحث وکړئ.)) (۱)

د تحقيقي پروسې د ښه والي په اړوند بيا داسې تاکيد کوي: ((په افرادو کې د علمي او څېړنيزې روحيې د روزنې د ځرنګوالي په برخه کې ډله ييز بحث بهتر دی.)) (۲)

په دې لړ کې ډېره لرغونې مباحثه د لرغوني يونان د دوو نامتو فيلسوفانو (اپلاتون) او (ارستو) ترمنځ تاريخي مباحثه ده چې د ادبياتو او هنر په اړه وه او تر مونږ پورې را رسېدلې ده.

(اپلاتون) د (سقراط) شاګرد و او (ارستو) بيا د (اپلاتون) شاګرد پاتې شوی دی. د دوی ترمنځ د ژبني هنر اړوند ډېر تاوده او نه هېرېدونکي تاريخی بحثونه ترسره شوي او په ثبت شوې بڼه تر مونږ او تاسې پورې رارسېدلي دي. په دې اړه سيدرسول رسا د (ادبي تنقيد) په ۲۹ مخ کې داسې کښلي دي: ((افلاطون چه د (جمهوريت) په نامه کوم کتاب ليکلی دی، په دې کتاب کې هغه د مثالي او خيالي رياست نه ټول فنکاران يا د زيبا هنرونو هنرمندان خارج کړي دي، صرف موسيقي يې د روح د تسکين او غذا دپاره ضروري بللې ده.

د افلاطون دا خيال و چې فنکار صرف د فطرت نقال دی. د فطرت نقالي يا عکاسي کوي او چونکه شاعر يا اديب هم په فنکارانو يا آرټستانو کښې شامل دی، په دې وجه شاعر هم محض د فطرت نقال دی، نو هر کله چې نقل د اصل نه ښه وي او اصل يعنې فطرت زمونږ په وړاندې دی، نو مونږ د فطرت نه براه راست ولې استفاده نه کوو. او خوند نه اخلو؟ د فنکارنقالي يا عکاسي ته ولې حاجتمند يو؟ فنکارخو محض يو نقال دی او د نقال نقل د اصل په مقابله کې هېڅ قيمت نه لري.

ارسطو چې د افلاطون شاگرد و او د عقلي استدلال او استنباط بابا گڼلی شي، هغه له خپل استاد افلاطون سره په دې کښې موافقت و نه کړو- ارسطو د فنکار په حمایت کې ووې چې فنکار محض د فطرت نقال یا عکاس نه دی، بلکې د فطرت ترجمان هم دی. هغه چې د فطرت ترجماني کوي، نو فطرتي څیزونو ته د خپلو احساساتو او جذباتو رنگ ورکوي. موږ فن ځکه قیمتي څیز گڼو چه مونږ په فن کښې د فنکار د جذباتو رنگ وینو او د فنکار په جذباتو کښې اشخلی، رنگین او حسین فطرت ځمونږ د روحاني خوشحالي باعث شي - فطرت خپله بې رنگ دی یعنې د جذباتو رنگینې نه لري، په فطرت کښې د جذباتو رنگیني فنکار پیداکوي.»(۳)

د دې مباحثې په رڼا کې ادبپوهان دې ته اړ شول چې د شعر او ادب په داخلي عناصرو، توکو او اجزاوو باندې ژورې څېړنې وکړي او د شاعر د فن او هنر په اړه ډېر تاوده جر او بحثونه، ادبي ناستې او خبرې اترې تر سره کړي. «دا په دې معنا نه ده چې تر ارسطو د مخه د ادبیاتو په باب بحثونه او لیکنې نه دي شوې، شوې به وي، خو په دومره منظمه، سیستماتیکه او هدفمنده بڼه لا بل اثر تر اوسه څرگند شوی نه دی. تر(بوطیقا) وړاندې د داسې یو تیوریک اثر د نشتوالي یوعلت ښایي دا وي چې تر دې د مخه په زیاته کچه لیکلي آثار هم موجود نه وو او نه بیا کوم نقاد د هغو د راټولولو او ارزونې لپاره مجال پیداکاوه. ارسطو د خپل وخت او تر هغه د مخه اکثره آثار مطالعه کړل او بیا یې د شته آثارو په مټ د ادب تیوری یا ادبپوهنې اساسات کېښودل او د ( بوطیقا) په نامه یې ځانگړی اثر ولیکه.» (۴)

له دې مباحثې نه راوروسته، په نړۍ کې او بیا په ځانگړې توگه په انگلیسي- ژبه کې د (کالریج) او (ورډز ورتهـ ) ادبي مباحثه ډېره مشهوره ده. دا مباحثه (( کافي شهرت لري او ډېره دلچسپه ده. (( (کالریج) او (ورډز ورتهـ ) د انگریزي ژبې مشهور شاعران دي. د کالریج خیال وچه شاعرانه تجربه، عامیانه تجربه نه ده، دا یوه فوق العاده او الهامي تجربه ده. په دې وجه د شعر ژبه هم عامیانه ژبه نه شي کیدی، بلکه شعر ته مخصوصه الهامي ژبه په کار ده. ورډ ورتهـ د ده سره اتفاق ونه کړو. د هغه خیال و چې د شعر تجربه بیشکه چې مخصوصه او الهامي ده، خو جذبات او احساسات چې په شدت سره راولړزېږي، نو هغه وخت یوه داسې فوق العاده

شاعرانه جذباتي تجربه په الفاظو کښې بندول ګران وي، خو دغه تجربه د هغه وخت سره د انسان په زړه يو مستقل نقش پرېږدي او جذبات چه ساړه شي او په قلار شي، نو شاعردغه جذبات په سړه سينه، په قلار وخت کښې، په آرام ، په عاميانه ژبه کښې وتړي چې په عامو خلقو د اورېدو سره اثر کوي. د خپل دليل په ثبوت کښې ورډ ورتهـ د خپلې شاعرۍ ژبه پيش کړه. هغه اووي چه زما شاعرانه جذباتي تجربه فوق العاده او الهامي ده، خو زما د شاعرۍ ژبه عاميانه ده.

کالريج پرې دا اعتراض وکړو. وې ته چه څه ته عاميانه ژبه وايې ـ هغه نسبتاً عامفهمه ضرور ده، يعنې روزمره ده، خو عاميانه نه ده. عام سړی نه داسې ژبه ويلی شي او نه يې ليکلی شي.» (۵)

استاد ګل پاچا الفت، د ( ادبي بحثونه) په نامه يو قيمتي اثر لري. داثر ليکوال په دغه کتاب کې، د ادب پر کلمه، د ادب کلمې پر تاريخ، د ادب تعريف، د ادب وېش، شعر، عاميانه بلاغت، د ځينو پښتنو شاعرانو، لکه: ( خوشحال خان ختټک، عبدالحميد مومند، کاظم خان شيدا او عليخان ) له نظره د شعر پېژند په شعر کې راوړی، په انساني ژوند يې د شعر او ادب اغېزه ښودلې او په اسلامي فقه او دينی احکامو کې يې د ادب تاثير بيان کړی دی. د ادبي بحثونه اثر په ۱۲ مخ کې پر دې بحث شوی دی چې: «د شعرد عناصرو او اصلي اجزاوو په باب کښې ډېرې خبرې شوې دي. چا په شعر کې وزن ډېر مهم جز بللی دی او چا ادبي صنعتونو ته په ډېره اعتنا کتلي دي. پخوا به خلقو دغه ادبي صنايع چې ځينې لفظي او ځيني معنوي دی، د شعر په ماهيت او حقيقت کښې داخل ګڼل، مګر اوسني يې د شعر لباس او زېور بولي. همدغه سبب دی چې د پخوا وخت ادبي مبصرينو او منتقدينو دغو صنعتونو ته په اصلي نظر کتل او د شعر قيمت يې په همدغه معيار سنجاوه... مګر اوس څوک په دغه راز جامو اوګاڼو نه غولېږي او د شعر ناوې په خپله ګوري. پدې کې څه شک نشته چه يو ښه لباس په هر وخت کښې هر چاته ضرور دی او بې لباسه شيان ښه نه ښکاره کېږي، مګر لباس په هر وخت کښې تغيير کوي او د زېب او زينت سامان وخت په وخت بل راز کېږي. کله خلک اوږدې جامې اغوندې، کله لنډې، يو وخت بخې او چکنونه رواج وي، بل وخت ساده لباس ښه ګڼل کېږي، کله په ګاڼو کې ډېر افراط کېږي او کله بيا هغه پايزيبونه او د سرو نتکۍ له رواجه ولوېږي.

شعر هم پدې وخت کښې خپل لباس او زېور له پخوا نه بـل راز کړېدی او هغـه ټول پخوانی کالي نه اغونـدي. کـه څـوک یـې پـه ډېـر زور او تکلـف ور واغونـدي، نـو خلک یې نه خوښوي، بلکې عیب یې ګڼي. دغه اوسنی نظریه چـې د شـعر پـه بـاب کښې پیدا شوې او شعر غیر له دغو ادبي صنایعو یو بل معنوي شی بولي، د پښتو په اشعارو کښې یې له پخوا نه تطبیق وینو.» (٦)

په همدغه لړکې، په دې نږدې وختو کې پـه کابـل کـې د ادبیـاتو دنیـا (پـر ادبي موضوعاتو مرکې او بحثونه) په نامه یو پنـځ کتـاب چـاپ شـو. د دغـه کتـاب وینـاوال استاد اسدالله غضنفر او استاد نجیب منلی دی. کمپوز یې لعل الدین عـاطف کـړی دی. ټول کتاب ٦٩۴مخونه لري، قطع یې منځنۍ ده او کاغـذ یـې خـړ رنګـه دی. د سرخبرې پرې استاد اسدالله غضنفر لیکلې دي او په هغو کې یې د دې نـوي کتـاب د چاپ محسوسه اړتیا بیان کړې ده. د اثر دوتنې هم ښایسته راغلې دي. د ا اثـر پـه ۱۰۰۰ ټوکونو کې چاپ شوی دی او ښایي چې په راتلونکي کې بیـا ـ بیـا هـم چـاپ شي. په دې اثر کې پر ٩۵ متنوع موضوعاتو باندې مرکې او بحثونـه شـوي دي چـې په هغو کـې ٩۵ سـلنه ادبي موضـوعات اوپـاتې پنځـه سـلنه ژبنـي بحثونـه او د ژبـې موضوعات دي. کله نا کله پر یوه نیم کتاب، لکه ( پټه خزانه) هـم بحـث راغلـی دی. دا ټول موضوعات مهـم او لـه نـوي لیـده تشـریح شـوي دي. لـه دې املـه، دا خـبره ضرورکړم، کوم شی چې په دغه نوي کتاب کې زما ډېر خوښ شو، هغـه د موضـوعاتو پرېماني ده. کتاب د ګډ کار او زیار محصول اوثمره دی او د ګـډ کـار ایـبره معمـولاً خوږه وي. د اثر دواړه ویناوال، د افغانستان ادبیاتو پېژندل شوې څېرې، سـنجیده او پاخه لیکوال دي. د هېواد د ادبیاتو په څنګ کـې د سیمې او نـړۍ لـه ادبیـاتو سره بلد دي او په یو دوو بهرنیو ژبو بانـدې هـم پـوهېږي. اسـتاد مـنلي دا اثـر، د څېړنـې لورته یوه دربخه بللې ده او اسـتاد غضـنفر بیـا د دې کتـاب پـه اړه دا خـبره کـړې ده چې: «دا کتاب لـه ځوانـو لوسـتونکو سره مرسـته کـوي چـې ځینـې نـوي معلومـات ومومي او ځینو زړو معلوماتو ته له نوي لید لوري وګـوري. پـه دې کتـاب کـې راغلـې خبرې د بل هرچا د خبرو غوندې د لوستونکو پـه فکـري وده کـې یـوازې هغـه وخـت برخه اخیستلای شي چې د کاڼي کرښې یې و نه ګڼي، بلکې د شک په عینکـو ورتـه وګوري او د نقد په تله یې وتلي.» (٧)

د شکل او معنا له پلوه د نوموړي اثر ارزونه داسې کولای شو. لومړی د متن له پلوه. د څېړنپوه زلمي هېوادمل د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د ماسټري لکچر نوټ په حواله: ((متون د نوعیت په لحاظ په درې ډوله دي :

۱ـ حقیقي متون: هغه متون چې نسبت یې یوه حقیقي شخص ته منسوب وي.

۲ـ روایي متون: کوم متون چې روایت شوي وي.

۳ـ امالي متون : هغه متون چې املا شوي وي، یعنې یو چا بل چا ته ویلي وي او هغه لیکلي وي.))(۸)

امالي، په اصل کې عربي کلمه ده چې له املا نه مشتق شوې او د ډکولو معنا لري. کله چې یو څېړونکی یا لیکوال کوم عذر ولري، لاس یې رېږدي او په خپله یو شی نه شي لیکلای او یا املایي کمزوري ولري، نو بیا له بل چا نه غوښتنه کوي، دی یې ورته شفاهي وایي او هغه یې په قلم باندې لیکي او دې ته، په ادبي اصطلاح امالي متون ویل کېږي. د نمونې په توګه: د ادبیاتو دنیا اثر چې د استاد اسدالله غضنفراو استاد نجیب منلي پر یو شمېر ادبي موضوعاتو د مرکو او بحثونو ټولګه ده، دوی یې وېناوال دي او د دغو منلیو استادانو د زیاتې بوختیا له امله، ښاغلي لعل الدین عاطف او ... د راډیو له څپو نه دغه مرکې او بحثونه اورېدلي او بیا یې د کمپیوټر د ښیښې پر مخ لیکلي او کمپوز کړي دي، نو ځکه د دې کتاب متن امالي متن بللای شو.

بحثونه راساً پیل شوي، ډېر لږ لیدل کېږي چې وېناوال له اصلي بحث نه بلې خواته تللي وي. په ټوله کې دواړه نومیالي استادان پرمطرح شوې موضوع باندې داسې راڅرخېدلي چې ګڼ شمېر موضوعات یې کانکریټ بیان کړي، حشوې او زواید په کې نه شته. د دوی د موضوعي بیان او تګلارې غټ بریالیتوب په دې کې دی چې دوی مهم ادبي موضوعات مطرح کړي، پر هغو باندې یې مهم ادبي بحثونه او مرکې تر سره کړې دي او دا د اعلی لیکوالو لویه نښه ده چې هغه تل د څېړنو، مرکو او بحثونو لپاره مهم موضوعات انتخابوي. د مبتدي اوعادي لیکوالو بېلونکې او ستره نښه بیا دا ده چې هغه ژوندلیکونه لیکي.

د دې کتاب مهم موضوعات د ادبپوهنې، ادبي تیوري، کره کتنې، میتودولوژي، سبک پوهنې، یو شمېر ادبي مکتبونو او د ادبپوهنې پر بنسټیزو موضوعاتو مرکې او

بحثونــه رانغــاړي. دغــه ادبي بحثونــه ډېــر ګټــور دي. دواړو وینــاوالو د دغــو ادبي موضوعاتو لازم معلومات، له نورو کتابونو، منابعو، سرچینو او مختلفو ریفرنسونو نـه را اخیستي، هغه یې ښه مطالعه کړي او بیا یې همدغه معلومات، د خپل فکر په میزان تللي او سنجولي دي او له هغه وروسته یې، په اسانه، لنډو او عام فهمـه کلماتـو کـې نورو ته، د ادبي مرکو او بحثونو په ښه بیـان او وړانـدې کـړي دي. پـه خـبرو کـې یـې بلاغت او فصاحت د زیاتې ستاینې وړ دی، مهمې خبرې په لنډو کلماتـو کـې افـاده شـوې. پـه پوښـتنو او ځوابونـو کـې هڅـه شـوې چـې وینـاوال، د اورېـدونکو ارواوې محاصره کړي او د هغوی پاملرنه، تر بحث لاندې موضوع تـه ور واړوي. لـه دې املـه، ډېر په زړه پورې، جالـب او اغېزنـاک دي. یـو شـمېر موضـوعات، لکـه د پټـې خزانـې موضوع یې ښه نینولې او ځینې موضوعات بیا داسې هـم پـه کـې راغـلي چـې بایـد نورهم خبرې پرې شوې وای. سره له دې هم ، مونږ دا کتاب یوه نوې هڅه بللای شو، ډېرګټور دی او د زړه له کومې یې هرکلی کوو. د ځوان نسل د فکري روزنې په برخـه کې ډېر ارزښتناک دی. دا کتاب یو مهم هدف تعقیبوي او هغه دځوان نسـل د اهـل قلم لیکوالـو فکـري روزنـه ده. د دې کتـاب دواړه وینـاوال پـه دې توانیـدلي چـې پـه پیاوړي استدلال او ژورې پوهې سره، له لـږو مـوادو نـه ډېـر څـه ترلاسـه کـړي. دواړو ویناوالو خپل اورېدونکي پر دې قانع کړي چې تر بحـث لانـدې موضـوع پـردې ارزي چې بحث وربـاندې وشي. کله نا کله دواړو پوهانو د بېلابېلو موضوعاتو پـه برخـه کـې متفـاوت درېځونـه هـم لـرلي او دې کـار، د بحـث جـذابیت لا زیـات کـړی دی. لـه اورېدونکو سره په اغېزمنه توګه مفاهمـه او د دواړو علمـي بـې طـرفي، د دې اثـر وزن ډېر کړی دی. د دواړو تمایلات علمي دي، نه شخصي چې پر مطـرح شـوې موضـوع بانـدې سـیوری وغورځـوي. د اسـتاد غضـنفر مقصـد بـه داسـې موضـوع وه چـې ځوانـو څېړونکو ته یې ګټه ورسېږي او د استاد منلي هدف بیا دا دی چې مطرح شوې موضـوع، د علم لـه پرمختـګ او پراختیـا سره مرسـته وکـړي. کـه څـه هـم دغـه ادبي مرکـې اوادبي بحثونه، دعلمي اثـر پـه نامـه نـه دي را غونډ شـوي، مګـر د هغـو لـه علمـي ارزښـتونو نـه هېڅوک سترګې نـه شي پټـولای. کـه دا کتـاب پـه څېرکـو ووېشـلی شي ، مطـرح شـوې مرکې او بحثونه یې کلاسیفیکشن شي او پـه پـای کـې د اسـتفاده شـویو سرچینـو لیکلـړ راوړل شوی وای، دا اثر به په ډېرې اسانۍ سره د علمي آثارو په کتـار کـې حسـاب شـوی

وای، مگر سملاسي او په دغه شته بڼه  یې، لکه څنگه چې استاد منلي د نوموړي اثر د مخکتنې په غونډه کې څرگنده کړه، د علمي څېړنو لورته یوه درېځه بللای شو چې باید نوره هم دغه لړۍ وغځېږي او په راتلونکي کې دوام پیداکړي. په هغه حالت او دویم چاپ کې به د مطبعې یادونه او د خپراوي ټولنې ذکر، د دغه اثر له مینه والو سره دا مرسته وکړي چې ډېرپه اسانه یې تر لاسه کړای شي.

## مأخذونه


۱. رمضان حسن زاده. روش تحقیق کاربردی، نشرروان: تهران، سال ۱۳۹۲ خورشیدی، ص ۳٦.

۲. رمضان حسن زاده. روش تحقیق کاربردی، ص ۳٦.

۳. سیدرسول رسا. ادبي تنقید، اول چاپ، منظورعام پریس : پېښور، یونیورسټي بُک ایجنسي ، ( --- ) کال، ۲۹مخ.

۴. محمداسمعیل یون. کتاب الشعر او لس نورې لیکنې، د افغانستان ملي تحریک ـ فرهنگي څانگه: کابل، ۱۳۹۴ل. کال، ۲۰۱مخ.

۵. سیدرسول رسا. ادبي تنقید، اول چاپ،۴۰ مخ.

٦. گل پاچا الفت. ادبي بحثونه. د پښتوټولنې نشریات: کابل، ۱۳۲۴ل. کال، ۱۴مخ.

۷. اسدالله غضنفر او استاد نجیب منلی( وینااوال)، لعل الدین عاطف (کمپوزیټور). چاپځی: ( ...)، د ادبیاتو دنیا( پر ادبي موضوعاتو مرکې او بحثونه)، لومړی چاپوار، کابل، ۱۳۹۹لمریز کال، د سرخبرې ۴مخ.

۸. زلمی هېوادمل. د متن څېړنې میتودولوژي(ناچاپه اثر)، د ماسټري پروگرام درسي لکچر نوټ: کابل پوهنتون ، ۱۳۹۹ل. ۲ـ ۳مخونه.

څېړنوال سیدنظیم سیدي

# په پښتو ادب کې د لیلی او مجنون لومړنی منظوم داستان

# The first story of Lily and Majnoon in Pashto language

**Research Fellow Sayed Nazim Sayedy**

## Abstract

Live is the story, and the story of the living, the story of Lily and Majnoon is a love story of Ibn Sa'ad's daughter from the Arab tribe of Bani Amer, who falls in love with a boy named Qais (Qays) and later becomes known as Majnoon. It has not been written in order and in prose by many people in Pashto and Dari In this article, we introduce the Puritans and their stories, but more attention has been paid to the variant of Sakandar Khan Khatak, which was published in the 13th century and is still popular

## لنډیز

ژوند کیسه ده او کیسه ژوند دی، د لیلی او مجنون کیسه هم د عربو د بني عـامر قبیلې د سعد نومي شخص د لور د مینې داستان دی چې لـه قـیس (قـیص) نـومي هلک سره یې لري او وروسته بیا په مجنون مشهور کېږي.

دغه کیسه هم په دري ادب او هم په پښتو ادب کې ډېـرو ښـاغلو پـه نظـم او نـثر لیکلې چې په دې لیکنه کې موږ د پښتو ادب د همدغې کیسـې د معلومـو نـاظمانو پېژندنه او کیسې یې په لنډه توګـه معـرفي کـړې، خـو ډېـره پاملرنـه د سـکندر خـان

خټک د ليلى او مجنون کيسې ته شوې چې په ديارلسمه پېړۍ کې چاپ شوې او تر اوسه پورې ډېر مينه وال لري.

## سريزه

انسان پـه ټـولنيز ژونـد کـې د ذهنـي تفـريح او سـتومانۍ لـرې کولـو لپـاره ډېـرو مسايلو ته اړتيا لري، خو تجربو زبات کړې چې تر ټولو ښه او اسانه لار يې کيسـه ييـز يا داستاني ادب دى چې هم پرې د انسـان ذهـن لـه سـتړيا خلاصـېږي او هـم نـوي مسايل او خبرې انسان ته ور زده کوي.

په دې ليکنه کې لـومړى د منظومـو کيسـو پـر اهميـت او ارزښـت لنـډې خـبرې شوې او بيا د عربي ادب د ليلى او مجنون پر کيسې بحث شـوى چـې د نـړۍ ډېـرو ژبو ترځنګ پښتو ادب ته هم په نظم او هم په نثر د بېلابېلو روايتونو له مخـې راغلـې ده، چې ځينې يې ولسي روايات دي او ځينې يې هم ژباړې.

په دې ليکنه کې پـه نظـم ژبـاړل شـوي او لـه ولسـه اخيسـتل شـوي وريانتونـه يـې معرفي شوي چې چا له کومې ژبې ژباړلي يا يې له کـوم ادرسـه ترلاسـه کـړي دي، خـو اصلي بحث په کې د سکندر خان د ليلى او مجنون نظمـي کيسـې دى چـې کلـه يـې ژباړلې، له کومې يې اخيستې، نظم يې څنګه دى او کله د چا له خوا چاپ شـوى دى. په ټولنه کې يې اغېزې څنګه دي او نورو څومره کيسو ته يې زمينه سازي کړې ده.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د دې څېړنې اهميت او مبرميت په دې کې دى چې لومړى مـوږ د پښـتو ژبـې د منظومو داستانونو له ارزښته يو ځل بيا ګردونه څنډو ترڅنګ يې دې ته متوجه کېږو چې مهم داستانونه حتا څو کسانو په يو وخت کې ترجمه کړي چې په رښتينې معنـا هر يو ځانته کيف او زړه راښکون لري او بيا په دې ټولـو کـې د سـکندرخان ليلـى او مجنون ژباړه څومره اوچته او هنري ده.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه پـه دې کـې ده چـې يـو ځـل بيـا پـه معـاصرو ادبيـاتو کـې د منظوم داسـتاني ادب ارزښـت تـه ځير شـو او د فراموشـۍ لـه کنـدې يـې را وباسـو، ترڅنګ يې خپل شاعران او ناظمان دې ته ځير کړو چې کولاى شي د معـاصر عصرـ

غوښتنې په دغه چوکاټ کې وپنځوي او يو ځل بيا زمونږ د منظوم داستاني ادب پلوشې تاندې کړي. همدغه راز د ليلی او مجنون او دې ته ورته داستانونو ارزښت هم په ګوته کوي چې په خپل وخت کې يې څومره مينه وال او ناظمان لرل.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنې کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

✍ په پښتو ادب کې منظوم داستانونه څومره ارزښت لري؟

✍ آيا ليلی او مجنون منظوم داستان يوازې سکندر خان خټک نظم کړی او که نور ناظمان هم لري؟

✍ د ليلی او مجنون منظوم داستان کوم ناظم بشپړ او هنري ژباړلی؟

✍ آيا د ليلی او مجنون داستان په نثر هم چا ژباړلی؟

✍ د ليلی او مجنون داستان په کوم نظمي قالب کې ژباړل شوی؟

او دې ته ورته ځينې پوښتنې په دې مقاله کې ځواب شوي چې تاسې يې لوستلو ته رابولم.

## د ليلی او مجنون لومړنی منظوم داستان

مؤرخين وايي چې ليلی د عربو د يوې (بني عامر) قبيلې د سعد نومي شخص لور وه چې له وړکتوبه يې له قيس (قيص) نومي هلک سره مينه پيدا شوه او دا مينه دومره اورنۍ شوه چې ټوله دنيا پرې خبره شوه.

د سيمې خلکو به قيس يا مجنون ليونی باله، خو دا چې مينه يې پاکه وه، نو ځکه يې له ليلی سره د جنون ترحده مينه وکړه او د مينې دغې فولکلوري يا شفاهي کيسې په ټولې نړۍ کې انګازې جوړې کړې چې د نړۍ په زياترو ژبو هم وليکل شوې او هم وژباړل شوې.

پښتو يوه داسې ژبه ده چې د نړۍ ډېر مشهور داستانونه ورته راغلي چې له هغې ډلې يو هم د ليلی او مجنون داستان دی چې هم د بېلابېلو کيسه ليکوالو او ناظمانو له خوا پښتو ته راغلي او د مينه والو ذوقونه يې خړوب کړي دي.

د لاس ته راغلو معلوماتو له مخې په بېلابېلو وريانتونو کې د ليلی او مجنون د فولکلوريکې کيسې لومړی وريانت د لومړي ځل لپاره د ستر اديب او لوی شاعر خوشحال خان خټک زوی سکندر خان خټک په پښتو نظم کړې چې تر ډېره د خان

بابا په وینا یې زامنو دغه ډول اثار پښتو کړي دي چې له ولسه یې اوربدلي د نظم او نثر ژبه یې ورکړې او یا یې هم د ژباړې له لارې خپلې ژبې ته را ژباړلي چې زموږ د ادب لمن د دې خبرې سپیناوي کوي، د دې لپاره چې د سکندر خان د لیلی او مجنون د کیسې په اړه وضاحت شوی وي په اړه به یې ځیر شو:

## ۱- لیلی او مجنون د سکندر خان

سکندر ختک د ستر لیکوال، مبارز او شاعر خوشحال خان ختک بابا (۱۰۲۲-۱۰۰ هـ.ق) زوی دی چې په ادب کې د ختک بابا د مکتب لاروی دی. ده په پښتو ژبه ځینې ادبي آثار لیکلي او ځینې یې ژباړلي چې که د ژباړې قید ورسره نه وي، نو لوستونکی یې په اسانۍ معلوملای هم نه شي چې دا به یې خپل اثر وي او که ژباړه چې له هغې ډلې یو هم همدا د لیلی او مجنون داستان دی.

د سکندر خان ختک د زوکړې او مړینې په اړه دقیق معلومات نه شته، خو دوست شینواری یې په اړه کاږي: "... د سکندر په دغه دیوان کې د یوه بیت له مخې د ده د زېږېدو نېټه داسې ښوول شوې ده:

زما دوه ویشت کاله ژوند دی

زر نوي سن د هجرت دی

له دغسې بېتونو څخه چې په دغه قصه کې راغلي نتیجه اخلو چې په (۱۰۶۸هـ. ق) کې زېږېدلی او څرنګه چې یې په (۱۱۱۶ هـ. ق) کې د خپلو دوو زلمیو زامنو (انور خان او منور خان) مرثیه لیکلې، نو تر دغه وخته یقیني ژوندی و." (۱)

البته د لیکوالو او شاعرانو د زوکړې او مړینې په اړه داسې خبرې نوې نه دي، ځکه زموږ د اکثرو لیکوالو آن د اوسنۍ زمانې د لیکوالو د زوکړې او مړینې سنې همداسې ګونګې او جنجالي دي، خو اسناد او شواهد بیا موږ د دوی تقریبي ژوند ته ور نږدې کوي.

په هر حال، د سکندر په وینا نوموړي د لیلی او مجنون کیسه په دوه ویشت کلنۍ کې لیکلې چې په خپله په یو بیت کې داسې وایي:

په لوستل که څوک زړه ښه د دې کتاب کا

ما سکندر ختک دې یاد په ښه خطاب کا

ما خپل عمر د "وایاد" کالو حساب کړ

چې تمام مې د لیلی مجنون کتاب کړ (۲)

د استاد شینواري په وینا د "وایاد" کلمه د ابجدو په حساب دوه ویشت کاله کېږي چې ځینو کاتبانو د (وایاد) پر ځای (شل دوو) لیکلي چې دا سمه خبره نه ده؛ نو د سکندر خان دغه بیتونه زباتوي چې نوموړی په دې عمر کې هم د پاخه قلم لیکوال او د ښه استعداد څښتن و.

اوس پوښتنه دا ده چې دا کتاب سکندر خان خټک په کوم کال لیکلی؟

لکه څنګه چې پورته هم نغوته وشوه د سکندر خان خټک ژوند تر دولسمې زېږدیزې پېړۍ پورې یقیني دی او دی په پورته بېتونو کې وایي چې ما دا کتاب په دوه ویشت کلنۍ کې بشپړ کړی، نو دا خبره په خپله د دې ګواهي لي چې دا کتاب باید د یوولسمې پېړۍ په وروستیو کې لیکل شوی وي.

سرمحقق زلمی هېوادمل د همدې خبرې د سپیناوي لپاره وایي: "د پښتو فرهنګ ته په لیکلې بڼه دا قصه په یوولسمه هجري پېړۍ کې وارده شوې ده. د خوشحال خان خټک زوی سکندر خان خټک تر اوسه لومړنی شاعر دی چې دا قصه یې نظم کړې ده او د نظم کال یې شاعر داسې ښودلی دی:

زر نوي کاله چې سن دی د هجرت
دا کتاب دی ما جوړ کړی په صحبت
په غره مې د شعبان کتاب شروع کړ
ماضي حال مې په شلمه ورځ طلوع کړ" (۳)

سکندر خان خټک د دې بېتونو پر اساس د دې داستان د لیکلو د نېټې ستونزه هم هواروي او نور نو څېړونکو ته د دې اندېښنه نه پیدا کېږي چې په دې نه، بلکې په فلاني کال لیکل شوی څکه فلانی یې په اړه داسې وایي. د سکندر خان دغه ډول څیرکتیاوې د دې استازي کوي چې دی هم د هغه وخت د تحقیق په اصولو او مروج دودونو پوهېده، نو څکه یې د مبهموالي مسایل په ټوله معنا لرې کول، خو جالبه یا د افسوس خبره دا ده چې همدغه نسخه کابو یو سلو څو کاله وروسته د چاپ جامه اغوندي او د لومړي ځل لپاره په (۱۲۹۴ زېږدیز) کال کې په ډهلي کې چاپېږي، چې بیا وروسته د علومو اکاډمۍ د غړو له خوا په ۱۳۵۸ لمریز کال کې د سرمحقق دوست شینواري په سریزې، تصحیح، د محمد شیرین سنګري په اهتمام او د محمد عارف غروال او عبدالواجد واجد په نقل چاپېږي. استاد دوست شینواری

په دې اړه داسې وايي: "د سکندر خټک (ليلى او مجنون) د تونگ د يوې کتابخانې نه د ميکروفلم په ذريعه زموږ لاس ته راغلى دى او څېړنيار عارف غروال او څېړونکي عبدالواجد واجد نقل کړى دى او د سر او پاى له پلوه بيخي بشپړ دى، يوازې د منځ په يوه مخ کې يوه مصرع نه لوستل کېږي او محوه شوې ده. د ميکروفلم له مخې دغه کتاب په (١٣٧) مخونو کې ليکل شوى، د بېتونو شمېر يې (٢٠٨٣) دى. د نسخې د نقلوونکي نوم او د نقل ځاى او نېټې درک په کې نه شته، خو په پاى کې يو مهر لري چې نه لوستل کېږي، دومره معلومېږي چې دغه نسخه نسبتاً وروسته نقل شوې ده، ځکه چې د خوشحال د کورنۍ په ليکدود نه ده...." (۴)

لکه څنگه مې چې پورته هم نغوته وکړه دا کتاب د استاد دوست په سريزه او اېډېټ او د محمد شيرين سنگري په اهتمام په ١٣٥٨ لمريز کال کې په کابل کې د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو انستيتوت له خوا د ژبو او ادبياتو د انستيتوت رئيس څېړنوال دکتور سيدالشاه پولاد په لنډې سريزې، د استاد دوست (د ليلى او مجنون قصې ته يوه لنډه کتنه) ليکنې په ١٥٨ مخونو متن او دوه مخه سمون ليک کې چاپ شوى دى.

د کتاب په اړه استاد دوست معلوماتي خبرې کړي او بيا د (بسم الله الرحمن الرحيم) تر سرليک لاندې د يو شعر په راوړلو سره چې د سربېتونه يې دادي کتاب پيل شوى دى:

که په عقل کې لقمان يا افلاطون شي
ستا حکمت و ته چې وگوري مجنون شي
و خاطر او په ښايست د ليلى ورکړې
عاشقان لکه مجنون باندې ابتر کړې (۵)

تر دې وروسته مناجات د باري تعالى دى، بيا نعت د سرور کاينات افضل مخلوقات راغلى ورپسې حکايت په تمهيد دى، تتمه د کلام، نصحيت و هغو زړونو ته چې د اتيا کالو نو وي لا د هلکانو کارونه کا، پند و فرزند دلبند ته چې د ښو دامنگير اوسه او له بدو ببرته اوسه، حکايت، نصيحت و فرزند ته له هره بابه، حکايت، هم دا کلام، نقد، بل نقد، تتمه د کلام، مثال د هغه چې دى خپل هنر و بې هنرو ته ستايي چې هغه نه پوهېږي چې بد شي او تعريف د قلم خپل حال

ورسره او دې ته ورته سرلیکونه په وار سره راغلي او بیا د ابتداء حال د دواړو چې څرنگه سره مین کېدل مجنون او د لیلی په سرلیک سره اصلي کیسه پیل شوې چې د سربیت یې دا دی:

گوینده چې دا ماضي حکایت کاندي
په قصه کې گوره څه روایت کاندي
چې په ملک کې د عرب خجسته نوم و
دی په عقل په دانش هر گوره سلوم و (٦)

په دې بیتونو سره بیا نو د لیلی او مجنون خوږه کیسه پیلېږي او په دومره هنر سره یې وایي چې سړی پرې د ژباړې فکر هم نه شي کولای. ښایي دلته دا پوښتنه هم پیدا شي چې دا اثر سکندر خان خټک له کومې ژبې او چا نه ژباړلی دی؟

د ادبپوهانو په وینا دا اثر ژباړه نه ده، بلکې د ټولنې له هغو روایاتو او نقلونو څخه اخیستل شوی چې د خلکو په خولو او سینو کې وو او ډېر ځله یې په کې زیاتی او کمی هم کړی چې لاندې څو بېتونه یې سپیناوی کوي:

ساقي راشه پیالې راکړه مالامالې
چې پرې مست شم په کاسه د پښتونوالې
د مجنون او د لیلی احوال مې ووې
دا زړې خبرې ما کړې واړه نوې (٧)

په دې بیت کې د پښتونوالې خبره راغلې چې دا خبره خپله د ژباړې مسئله نفې کوي، ځکه که چېرې موږ ووایو چې سکندر خان خټک دا اثر له کومې بلې ژبې څخه ژباړلی، نو باید د اصل متن مرجع یې هم معلومه وي چې له کومې ژبې، له چا څخه او څنگه یې کړې او بیا دلته په دې بیت کې چې د پښتونوالې بحث راغلی له کومه شو، هغه خلک د پښتنو په اړه په څه پوهېږي او دا خبره یې په څه پورې کړې؟

دا او دې ته ورته پوښتنې ښایي موږ او یا ټولو څېړونکو ته په مخ کې کېښودل شي، نو ځکه د منطق له پلوه هم دا خبره سمه ده چې سکندر خان خټک دا کیسه له ولسه په ازادانه توگه را اخیستې او بېرته یې د هنر په گاڼه ورته داسې وړاندې کړې چې تر ننه پورې خپل لوستونکي او مینه وال لري. نوموړی د همدې خبرې د سپیناوي لپاره د همدغه شعر په وروستیو بېتونو کې داسې وایي:

په هر ملک شوې د لیلی مجنون خبرې
مزه ناکې وې تر قندو تر شکرې
هم خبرې قیمتي دُر شهوار وې
ولې بې تاره پرتې وې تار په تار وې
ما یو تار باریک د نظم ورنه ساز کړ
لاس د فکر مې په وار ورته دراز کړ
په محنت کړې ما له هره ځایه ټولې
ترې مې واخیستې ابداره گولې گولې(۸)

زه فکر کوم نور نو سپیناوي ته اړتیا نه شته، ځکه سکندر خټک په خپله دا ستونزه حل کړې او په ښکاره یې ویلي چې ما د دغو مرغلرو لپاره یو نازک، خو په ورته وخت کې دومره مضبوط چې بیا وروسته ډېر ښاغلي ترې لاس نیوی کوي، تار پیدا کړ او له ولسه مې یوه یوه دانه مرغلره (کیسه) را ټوله کړه او په دې تار کې مې وپېیله تر دې چې د غاړې یو رنگین او مزې دار هار ترې جوړ شو او د پښتون ولس په غاړه کې مې وځړاوه چې هم ما او هم ترې ولس خوند واخیست او دا دی تر ننه پورې ترې خوند اخلو.

د سکندر خان خټک د لیلی او مجنون همدغه نسخه چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ پښتو ټولنې چاپ کړې د دوست شینواري په وینا بشپړه نسخه ده، ځکه تر دې وړاندې چې کومه نسخه د ډهلي له خوا په ۱۲۹۴ هـ. ق کال کې چاپ شوې وه، ناسمه او له تېروتنو څخه ډکه وه. د استاد په وینا په هغه نسخه کې یوه برخه چې اته مخه ده د عصام تر کیسې وړاندې راغلې او پاتې نوره یې وروسته راغلې چې په هغې کې هم دوه ویشت مخونه پاتې دي او نور ترې غورځېدلي. د دې ترڅنگ دا نسخه د مایکروفلم له مخې هم نه ده تهیه شوې، ځکه کله چې استاد دوست او ملگري یې د مایکرو فلم له مخې د لیلی او مجنون نسخه چمتو کوي، نو هغه ورسره ډېر سمون نه کوي، نو ځکه وایو چې ښایي هغه مواد له کومه بله ځایه را ټول شوې وي او د هغې په نسبت دا نسخه بشپړه ده.

د سکندر خان خټک د لیلی او مجنون کیسې هغه نسخه چې پښتو ټولنې چاپ کړې او تر اوسه پرې خبرې وشوې تر ۱۴۵ مخ پورې دوام کوي او د مجنون او لیلی

د مرگ داستان په کې بشپړېږي، خو په ۱۴٦ مخ کې بيا (د خپل بابا خوشحال ياد) په نامه تر ۱۵۰ مخ پورې شعر راغلی چې د هغه او دغه ډول داستانونو د ارزښت په اړه د بابا نصيحتونه او ارزښتونه جوت شوي، تر دې وروسته په ۱۵۱ مخ کې ويې پانګه راغلې او په اخره کې هم د غلطنامې يا سمونليک برخه ده او په دې سره کتاب بشپړ شوی دی، نو دا وه د سکندر خان د ليلی او مجنون کيسه چې موږ ته را پاتې ده، اوس به په دې بحث وکړو چې دا کيسه په پښتو کې له سکندر خان څخه پرته بل چا هم ليکلې او که نه؟

د سرمحقق زلمي هېوادمل په ګډون ځينې ادبپوهان په دې نظر دي چې تر سکندر خان وروسته دويم کس چې د ليلی او مجنون کيسه د ژباړې له لارې په پښتو نظم کړې هغه بای خان دی. بای خان چې د خوشحال خان خټک له معاصرينو څخه دی تر (۱۱۰۰ هـ. ق) پورې ژوندی و.

بای خان اصلاً د بونير و او نوموړي د ليلی او مجنون کيسه د دري ژبې د جامي له اثره په پښتو نظم اړولې وه. عبدالرحيم هوتک چې د هوتکو مشهور شاعر و ويلي چې بای خان د خوشحال خان خټک سيال شاعر و او د پښتانه شعراء په حواله يې د ده د ليلی او مجنون داستان يو بيت چې ميجر راورټي را نقل کړې راوړی دی.(۹)

هغه بيت چې راورټي د پښتو ګرامر د څلورم چاپ په ۳۹ مخ کې راوړی او حواله يې د ليلی او مجنون کيسې د بای خان په ژباړې پسې ورکړې په دې ډول دی:

له دې خپلې بدې بخرې
چا ته ژاړم په چا داد کړم (۱۰)

د استاد هېوادمل په وينا تر ۱۹۷۹ زېږديز کال پورې د بای خان د ليلی او مجنون داستان د ژباړې په اړه چاته معلومات نه و، خو کله چې استاد هېوادمل او استاد رفيع د پېښور پښتو اکاډمۍ کې د بای خان د ليلی او مجنون د کيسې پاڼې پاڼې ژباړه ومونده، نو بيا يې پرې يوه مقاله وليکله او تر هغې وروسته يې دا ژباړه هم مشهوره کړه، خو زما د معلوماتو له مخې تر اوسه پورې هم دا ژباړه نه ده چاپ شوې.

د ليلی او مجنون کيسې درېيم تن ژباړونکی حافظ نظام دی. همېش خليل په خپل اثر ورکه خزانه کې د حافظ نظام د ليلی او مجنون کيسه د (۱٦۱۳) بېتونو

لرونکې کیسه بولي چې په (۱۱۰۰ هـ.ق) کال کې پای ته رسېدلې ده. همېش خلیل د مولف له قوله یو څو بېتونه راوړي:

نوم یې څه ږدم لیلی مجنون دی
له دغه اسمه تاریخ بیرون دی
خو پنځه ځله دې تکرار کا
یا څلور حرفه د غم دې شمار کا (۱۱)

د نظام د لیلی او مجنون کیسه په سیلابوتونیک عروضي سیستم لیکل شوې چې د مثنوي په چوکاټ کې ده او هر بیت یې شل څپې لري، چې په حقیقت کې یې یوه مسره یې لس هیجاوې لري.

استاد هېوادمل د ورکې خزانې په حواله وایي:

وایي ویونکی د دې قیصې
چل تل یې ښکار و د ښې هوسې

دغه بیت د دې نماینده ګي کوي چې حافظ نظام دا کیسه له کومې بلې ژبې ژباړلې او دا بیت ځرګندوی چې د دې کیسې ویونکی اصلاً بل څوک دی.

په هر حال، ما تر اوسه پورې د دې کیسې د چاپ او خپرېدلو په اړه څه نه دي اورېدلي، خو همېش خلیل په ورکه خزانه کې د دغه داستان ځینې بېتونه را نقل کړي چې له مخې یې د کیسې چوکاټ او جوړښت ترې جوت شو.

د لیلی او مجنو د کیسې بل ناظم ژباړن رحمت داوی دی. رحمت داوی چې دیوان لرونکی تکړه شاعر دی په ورکه خزانه کې یې ډېر شعرونه راغلي دي.

داوی په اصل کې د کندهار دی او د احمد شاه بابا، تیمور شاه او شاه زمان د وختونو سړی دی چې د دوی په وخت کې یې ژوند یقیني دی، د همېش خلیل په وینا نوموړی په (۱۱۵٦ هـ.ق) کال کې زېږېدلی دی. په کندهار کې یې ژوند ښه نه و او د بېوزلۍ شپې او ورځې یې تېرولې، نو ځکه اړ شو کشمیر ته لاړ او هلته یې ژوند ښه شو.

نوموړي په کشمیر کې د نظامي ګنجوي له دري متن نه د لیلی او مجنون کیسه په خواږه نظم پښتو کړه او شاه زمان ته یې ډالۍ کړه. دی د دې کیسې د ژباړلو لامل د خپل پنځه کلن زوی مړینه بولي چې د غم غلطولو لپاره یې د دې کیسې پر ژباړلو لاس پورې کړ.

استاد دوست شینواری وایي چې د دغه کتاب یوه قلمي نسخه د پښتو ټولنې په کتابتون کې خوندي ده، چې د سر ځینې پاڼې یې نه شته او حمدیه برخه یې هم له منځه تللې ده. د هغه په وینا د کتاب وروستۍ برخې هم نه شته او په منځ کې یې هم ځینې پاڼې له منځه تللې دي، نو د موجوده پاڼو شمېر یې (۴۴۳) دی او په اټکلي توګه (۴۹۰۰) بېتونه لري. دا کتاب په (۸+۸) څپو لیکل شوی چې د مثنوي چوکاټ دی او عبارات یې دومره خواږه دي چې ته وا ژباړه نه ده. (۱۲)

خو دا کتاب چې ما کتلی پر پښتۍ یې د (دلیلی او مجنون قصه) لیکل شوې، ښاغلي مصطفی نږدې او عبدالهادي هاند پرې سریزه کښلې او روزیګل هنرمل یې اهتمام کړی چې په ۱۳۶۰ لمریز کال کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو علمي او تحقیقي مرکز د فولکلور مدیریت له خوا چاپ شوی دی.

(د رحمت داوي د لیلی او مجنون منظومه قصه) په نامه ښاغلي دوکتور سیدالشاه پولاد پرې درې مخه سریزه لیکلې ده او له هغې وروسته د نږدې او هاند سریزه ده چې ټوله پنځه شپېته مخه ده، تر هغې وروسته (د رحمت د لیلی او مجنون د قصې خطي نسخه او د هغې مشخصات) په نامه بل سرلیک دی چې له ٦٦ مخ نه پیلېږي او تر ۷٦ مخ پورې دوام کوي او تر هغې وروسته په انځوریزه بڼه ده:

مناجات څما قبول کړه

پحرمت د خپل رسول کړه (۱۳)

بیت باندې چې (۲ الف) پیل شوی او تر (۲۲۰ ب) پورې دوام کوي او په دې توګه ګورو چې هره پاڼه د الف ۲ او ب۲ په بڼه تر اخره مخکې ځي. په اخره کې لغتنامه ده چې په (لومړي) پیل او په (دوه ویشتم) پای ته رسېږي او په دې توګه د رحمت داوي دیوان تمامېږي، خو د نږدې او هاند په وینا ځینې برخې یې نیمګړې دي چې باید بشپړې شي. البته پاتې دې نه وي چې د کتاب په منځ منځ کې ځینې رنګه انځورونه هم د مایکروفلم په بڼه راغلي چې د داستان جولیزې بڼې ته یې لا ښکلا ورکړې ده.

نو د اکاډمۍ په کتابتون کې د ښاغلي داوي د لیلی او مجنون کیسې پښتو ژباړه شته چې یوازې دوه ټوکه پاتې دی او نور نه شته، خو دا چې ډېره خوږه ژباړه ده، نو اړتیا یې ډېره لیدل کېږي، هیله ده چې د دې برخې مینه وال یې یو ځل بیا د چاپ په ګاڼه سینګار کړي.

که د داوي له ژباړې را تېر شو د ليلى او مجنون د کيسې بل ناظم ملانعمت الله دى چې د پېښور په نوښار کې په (۱۲۷۵ هـ.ق) کال کې زېږېدلى او د (۱۳۴۸-۵۰) کلونو په حدودو کې مړ دى.

نوموړي په پښتو ژبه ډېرې کيسې ليکلي چې د هغې له ډلې د حاتم طايي، اختر منير، اکبر پادشاه او بيربل او دې ته ورته کيسې يې ډېرې مشهورې دي. ده د ليلى او مجنون کيسه په دولس څپيز مثنوي کې ليکلې چې يو بيت يې څلرويشت څپې کېږي او د دغې کيسې د بېتونو شمېر نهو سو ته رسېږي. (۱۴)

د معلوماتو له مخې ملانعمت الله دغه کيسه له کومې بلې ژبې څخه نه ده ژباړلې، بلکې پر ولسي رواياتو يې ډډه لګولې او د همغې په رڼا کې يې په خواږه نظم پښتو کړې چې تر اوسه يې مينه وال د لوستلو تږي دي، خو ما له ډېر لټون سره سره بيا هم د دې کتاب د چاپ په اړه معلومات پيدا نه کړاى شول.

تر نعمت الله وروسته بل تن چې د ليلى او مجنون کيسه يې ليکلې هغه عصام دى، د عصام د زوکړې او مړينې په اړه دقيق احوال نه شته، خو له دغه اثره يې معلومېږي چې د دولسمې هجري پېړۍ په حدود کې يې ژوند کاوه. (۱۵)

د عصام اصلي نوم چې محمد عصام دى د ليلى او مجنون کيسه يې د سيدقسيم شاه په فرمايش د عزيز الدين په اهتمام په ډيلي کې چاپ شوې ده، دا کيسه په اوږده بحر (۱۲+ ۱۲) کې ليکل شوې، خو ستونزه يې دا ده چې د سکندر خان د ليلى او مجنون کيسې سره ګډه شوې ده او کله چې د کاتبانو په دې تېروتنې څېړونکي پوه شول، نو هغه يې ترې جلا کړه او په دې توګه ګورو چې د عصام د ليلى او مجنون کيسه نيمګړې پاتې شوه، خو د دې کيسې لومړني بېتونه چې لاس ته راغلي ترې معلومېږي چې عصام پر پښتو ژبه برلاسى او ډېر خوږ ژبې ناظم و، چې د دې خبرې سپيناوى لاندې بېتونه کوي:

له اوله حمد ثنا د الله نوره

بيا له پسه بيا درود په رسول وروره

له هغه پسه يوه قصه وايم و تاته

چې مشهوره ده عربو کې هرګوره (۱٦)

خو که له دې بېتونو تېر شو او د عصام د ليلی او مجنون کيسې څو نور بيتونه ونغوړو راته معلومېږي چې دی څومره خوږ ژبې شاعر و:

چې ليلی شوه له دې حاله خبر داره
پټه خوله شوه په ژړا سينه افګاره
دې وې وار د خوشحالی راباندې تېر شو
ګاه درونه، ګاه بېرون شو ناقراره
دا يو څرخ د فلک څه کارونه کاندي
دا چې زه يې کړم جدا له خپله ياره
که مې زر کالونه تېر شي بې مجنونه
په بار بار زما توبه له بله ياره (۱۷)

ګورو چې ښاغلي عصام په دومره هنرمندانه توګه الفاظ پېلي چې تر پايه پورې ترې لوستونکی خوند اخلي او په دې تمه چې د داستان نوره برخه هم ولولي، هيله ده چې د دې برخې مينه وال يو ځل بيا د دغه کتاب چاپ ته زړه ښه کړي او پر پښتون ولس يې ولوري.

زما د معلوماتو له مخې د ليلی او مجنون کيسې وروستی کس فدا مطهر دی چې ده هم دا کيسه په نظم ليکلې. د نوموړي دا کيسه د (اورلمبې نومي) کتاب تر (۱۸- ۲۰) مخونو پورې راغلې چې الفاظ يې د هنر له مالګې خالي نه دي.

دی د کيسې پيلامه په دې ډول کوي:

په يمن کې شهزاده قيس چې پيدا شو
ډېر خوشحاله د يمن هغه بادشاه شو (۱۸)

د مطهر د دې کيسې په اړه ډېر معلومات نه شته چې په ځانګړې توګه هم چاپ شوې او که نه، خو د اور لمبې نومي کتاب کې يې ځينې بېتونه راغلي چې د دې ښکارندويي کوي چې مطهر خوږ ناظم او هنرمن شاعر دی.

پورته ټولو ليکوالو او آثارو ته يې په کتلو معلومېږي چې دغه ډول نظمي کيسې هم پخوا او هم اوس ډېرې جالبې دي او ډېر مينه وال لري.

نو که خبره را ټوله کړم ښايي د ليلی او مجنون د مينې اورنۍ کيسه ډېرو ښاغلو نظم او نثر کړې وي، خو د نظم په برخه کې يې ما د همدومره کسانو بېلګې پيدا

کړای شوې، خو اصلي موخه د سکندر خان د لیلی او مجنون کیسه وه، چې اوس نایابه او نادرکه شوې ده او یوازې د اکاډمۍ په کتابتون کې یې یوه نسخه هغه هم ډېره زړه او فرسوده شوې او که همداسې پاتې شي، نو هغه به هم ډېره ژر له منځه لاړه شي، نو هیله ده چې یو ځل بیا د نوو معلوماتو په ورزیاتولو سره د چاپ په ګاڼه سینګار او مینه والو ته ورسېږي.

## مأخذونه


۱- سکندر خان ختک، لیلی او مجنون، د دوست شینواري په سریزه او تصحیح او د محمدشرین سنګري په اهتمام، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو انستیتوت: کابل، ۱۳۵۸ لمریز کال، ١٦ مخ.

۲- همدغه اثر، ١٦ مخ.

۳- زلمی هېوادمل، د پښتو منظومو داستاني ادبیاتو د پیاوړتیا پاخه ګامونه، ناچاپ اثر، د پښتو د پي، ایچ، ډي پروګرام درسي لکچرنوټ: کابل، ۱۳۹۸ لمریز کال، ۱- ۲ مخونه.

۴- سکندر خان ختک، لیلی او مجنون، ۱۷ مخ.

۵- همدغه اثر، ۲۰ مخ.

٦- پورته اثر، ۴۴ مخ.

۷- یاد اثر، ۱۷ مخ.

۸- سکندر خان ختک، لیلی او مجنون، ۱۸ مخ.

۹- عبدالکریم پتنګ، پښتو منظومې قصې، د زېري کالنۍ، د زکریا ملاتړ په اهتمام، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو انستیتوت: کابل، ۱۳۵۷ لمریز کال، ۳۲۰ مخ.

۱۰- زلمی هېوادمل، د پښتو منظومو داستاني ادبیاتو د پیاوړتیا پاخه ګامونه، ۴ مخ.

۱۱- سکندر خان ختک، لیلی او مجنون، ۱۰ مخ.

۱۲- همدغه اثر، ۱۳ مخ.

۱۳- رحمت داوی، د لیلی او مجنون قصه، د مصطفی نږدې او عبدالهادي هاند په سریزه او د روزیګل هنرمل په اهتمام، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او

ادبیاتو علمي او تحقیقي ریاست، د فولکلور مدیریت: دولتـي مطبعـه، ۱۳٦۰ لمریـز کال، ۲ الف مخ.

۱۴- پورته اثر. ۱۴ مخ.

۱۵- زلمی هېوادمل، فرهنگ زبان و ادبیات پښتو، لومړی ټوک، ؟ : کابل، ۳۳۷ مخ.

۱٦- عبدالکریم پتنګ، پښتو منظومې قصې، ۳۲۰ مخ.

۱۷- سکندر خان خټک، لیلی او مجنون، ۱۵ مخ.

۱۸- پښتو منظومې قصې، ۳۲۱ مخ.

څېړندوی رحیم الله حریفال

# طناز شاعر عبدالستار بمبار

# Satirist poet Abdul Sattar Bombar

**Researcher Rahimullah Hrifaal**

## Abstract

The Pashto language has taught and trained many poets in its own skirt, Among them some are poets who are neither highly educated nor have life afforded them the possibility to write and print poetry, happiness and poems circles are made nice by some of them. For a while his poems have been in the minds of people who, over time, will run out of memory and become forgotten.

In among of them satirist poet Abdul Sattar Bombar is one who made colored lots of poems circle and culture programs by their poetry  as well as With his poems he smiles at the lips of people, but neither is written in his life nor appreciated as much as he is appreciative. These sincere poets of language and culture have put their dark hair into language and literature in the service, so it is important to note that research work on life and poetry should be done.

## لنډیز

پښتو ژبې په خپله لمن کې ګڼ شاعران پاللي او روزلي دي، په دوی کې یې یو شمېر بیا داسې شاعران دي چې نه هم په لوړه کچه زده کړې لري او نه هم ژوند ورته دا امکانات برابر کړي دي چې شعرونه ولیکي او چاپ یې کړي او په دوی کې یې بیا ځینې داسې دي چې یواځې د خلکو د خوښې محفلونه او مشاعرې پرې ښایسته وي. د یو څه وخت لپاره یې شعرونه د خلکو په ذهنونو کې وي، چې د وخت له تېرېدو سره له حافظو څخه وځي او هېرېږي.

د دغو شاعرانو له جملې څخه یو هم طناز شاعر عبدالستار بمبار دی چې په خپلې شاعرۍ سره یې ډېرې مشاعرې او کلتوري پروګرامونه رنګین کړي دي او په خپلو شعرونو سره د خلکو په شونډو موسکا خوروي، اما نه هم د ده په ژوند څه لیکل شوي دي او نه هم څومره چې د قدردانۍ وړ دی هغومره یې قدر شوی. د ژبې او فرهنګ دغو مخلصو شاعرانو خپل تور وېښته ژبې او ادب ته په خدمت کې سپین کړي دي، نو په کار ده چې یادونه یې وشي، پر ژوند او شاعرۍ یې څېړنیز کارونه تر سره شي.

## سریزه

په یوه سیمینار کې استاد غضنفر وویل چې موږ تل په تېرو پېښو پسې سرګردانه او ستړي یوو؛ تر څو د تېرو حالاتو او تېرو شخصیتونو په اړه معلومات تر لاسه او له نورو سره یې شریک کړو، خو اوسني حال ته مو پام نه وي، هر څه زموږ په وړاندې روان وي او تېرېږي، خو موږ یې د خوندي کولو هڅه نه کوو، چې په دې ډول به راتلونکی نسل هم زموږ په څېر لالهانده وي. هو کله چې موږ د څېړنې په اړه خبرې کوو، تر ټولو له کړاو او ستونزو ډکه څېړنه هم تاریخي څېړنه ده، ځکه موږ د هغه څه په اړه تحقیق کوو چې له موږ څخه وړاندې تېر شوي دي. هغه روایتونو او خبرې را اخلو چې ډېر ځله متضادې او یو له بل سره په ټکر کې وي او هغه څه چې همدا اوس زموږ پر وړاندې روان دي او کولای شو هر څه مستند ثبت او د تاریخ حافظې ته وسپارو، دا کار نه کوو چې دا له تاریخ او فرهنګ سره ناځواني ده. نو راځئ چې دا اوس زموږ په مخ کې څه روان دي او د څه په اړه چې معلومات لرو، هغه ثبت کړو او د راتلونکو نسلونو لپاره کار آسانه کړو. په دې څېړنیزه مقاله کې د

کوزې پښتونخوا د یوه طناز شاعر پر ژوند او شاعرۍ بحث کوو او د عبدالستار بمبار د شاعرۍ بیلابېل اړخونه را سپړو او رڼا پرې اچوو.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

په هره ژبه او ټولنه کې چې شاعران او لیکوالان څه لیکي او خلکو ته یې وړاندې کوي. دوی د خپلو تجربو او په ژوند کې یې چې څه لوړې ژورې لیدلې دي د هغو په رڼا کې لیکل کوي او ټولنې ته یې وړاندې کوي، ډېر ځله داسې هم شوي دي چې په خپل وخت کې شاعر او یا لیکوال ټولنې نه وي پېژندلی او همداسې د پټو مرغلرو په څېر له خلکو څخه پنا وي. بیا کلونه ـ کلونه وروسته یې په ژوند او افکارو قلمونه وڅرخېږي، په اړه یې لیکنې وشي او ولس ته یې ور وپېژني. بله خبره دا چې هېڅکله هم یو شاعر او لیکوال د ځان او خپلو افکارو په اړه نه څه لیکلی شي او نه هم ویلی، نو نورو ته په کار ده چې د خپلې ژبې د شاعرانو ژوند او شاعري له مختلفو اړخونو څخه وڅېړي او کار پرې وکړي، نو د نوموړې څېړنې اهمیت او مبرمیت هم په دې کې دی چې د یوه عمر خوړلي شاعر ژوند او شاعري پکې څېړل کېږي او په اړه یې تحلیل وړاندې کېږي.

## د څېړنې موخه

د یوه طناز شاعر په ژوند او شعرونو به رڼا واچول شي او د نورو څېړنو لپاره به مواد برابر شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. عبدالستار بمبار څوک دی؟
۲. عبدالستار بمبار څه ډول طنزیه شاعري کړې ده؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## عبدالستار بمبار

اسدالله غضنفر په یوه وړه لیکنه ( د شاعر څلور وسیلې ) کې یوې مهمې خبرې ته اشاره کوي او وایي: « د شاعرۍ د هنر وزن، قافیه، ردیف او موضوع شاعر ته دا امکان ورکوي چې نا اشنا خبره وکړي او کله چې خبره نا اشنا شي، د نورو پام ور واوړي او چې یوې خبرې ته پام واوړي نو اغېزمنه شي.» ( ۱: ۳٦ مخ )

دلته د یوه همداسې شاعر په شعر او شاعرۍ غږېږو چې نا اشنا خبرې کوي او د خپل ژوند تجربې له لوستونکو او اورېدونکو سره شریکوي. مخکې له دې چې په روانه او ساده ژبه د عبدالستار بمبار ژوند او شاعرۍ ته تم شو، دلته به په لنډه توګه طنز معرفي کړو، څکه موږ چې په کوم شاعر غږېږو هغه یو طناز شاعر دی او د طنز په بڼه خپلې نا اشنا خبرې او تجربې وړاندې کوي.

«طنز لیکوال منان ملګری لیکي: طنز د نړۍ د ادبیاتو په کورنۍ کې یوه عشوه ګره او خندا مخې (خوش خویه او خوش بویه) کورنۍ ده، چې لوستونکي په لومړي سر کې خوشحالوي، خو چې د لمنې څنډې او پای یې وګوري، نو بیا ورته ناکراري، اندېښنه او خواشیني پیدا کوي.» ( ۲: ۲۵ مخ )

د طنز یو بل دې ته نږدې تعریف هم « په پښتو ادبیاتو کې طنز» له کتاب څخه دلته راوړو: «پوهاند مجاور احمد زیار لیکي: طنز لومړی بې واکه موسکا او خندا راولي او بیا وروسته وروسته، هغه موسکا او خندا په خواخوږۍ او ژړا وربدلوي. دا طنزونه هغه کوډګري او جادوګري ده چې نور ادبي ځېلونه یې په ټول ښکلاییز، نندارېز او سندرېز پرداز او راکښون سره سیالي نه شي کولای.» ( ۲: ۲٦ مخ )

پښتو ژبې په خپله غېږ کې ډېر طنزیه شاعران روزلي او پاللي دي، په دوی کې یې ځینې داسې دي چې د خپلو سیمو په کچه شاعري کوي او په بېلابېلو پروګرامونو کې د خلکو د خوښۍ لپاره طنزیه شعرونه وایي، خو له بده مرغه د دغو شاعرانو یوه برخه لکه د صحرا ګلان را زرغون شي د وخت سیلۍ او خزانونه یې مړاوي کړي او د خلکو له حافظو څخه ووځي، نه د دوی شعرونو ته پام کېږي او نه یې دا شاعري را ټولېږي او نه هم د دوی د ژوند په اړه څه لیکل کېږي. دلته موږ د یوه داسې طناز شاعر په ژوند او شاعري رڼا اچوو او خبرې کوو چې پر ژوند او شاعرۍ یې زما د معلوماتو له مخې کار نه دی شوی، که څه هم ځینو رسنیو څه نا څه مرکې ورسره کړې دي چې په نوموړو مرکو کې یې د ژوند او شاعري په اړه هم معلومات خوندي شوي دي، خو څېړنیز کارونه یې په ژوند او طنزیه شاعري نه دي تر سره شوي.

دا شاعر عبدالستار بمبار دی، کله چې د عبدالستار له تخلص سره سړی مخامخ کېږي او د لومړي ځل لپاره یې اوري، نو مستقیم یې د یوه طنز ویونکي

شاعر تصویر سترگو تـه دربـړي او داسـې برېښـې چـې پـه بمبـار سره بـه ډېـر خلـک خندوي او ډېر کسان به تر بمبار لاندې راولي. بمبار چې کـوم شـهرت هـم مونـدلی دی، هغه هم په ولسي غونډو کې د بمبار د خوندورو نظمونو له برکت څخه دی.

عبدالستار بمبار په اصل کې د سوات د کوټ دی، سوات بیا د دښمنیو له لاسه تـرې پاتې کېږي. دی، د ده نیکونه او پلرونه په کاټلنګ کې زېږېدلي دي. په ماشـومتوب کـې د بمبار پلار او مشر- ورور مـړه شـول او همـدا وجـه وه چـې ژونـد یـې لـه ډېـرو کړاوونـو او جنجالونو سره مخامخ شو. عبدالستار بمبار په یوه مرکه کې وایي چـې د اوو کلونـو بـه وم چې په حجره کې خلکو زما مشر ورور ته وویل چې ورشه او را یـې ولـه، دی وایـي چـې زه نه پوهېدم چې شعر وایم او که بل څه او همدارنګه زیاتوي چې واړه بـه کـوځې تـه راغلـل او شپېلي به یې وهل چې را ووځه، نو بیا مې شعرونه ورته ویل:

تادي مه کوه قلار شه بیا به ځې
یو ساعت ګړی ایسار شه بیا به ځې
خوند کوي د محبت خوږې خبرې
وخت په خیر د اینځر ګله سترې مه شې

که څه هـم بمبـار لـه ماشـومتوب څخـه شـاعري پیـل کـړې ده او پـه خپلـو طنزیـه شعرونو سره به یې د خپلو همزولو پر شونډو موسکا خپروله او څو شېبې به یې په خپلـو روانو شعرونو سره هغوی خوشحاله کول، خو وروسته چې کله ټولنې تـه متـوجې کېـږي او په ټولنه کې شته ستونزو او مشکلاتو ته ژور نظر کوي، بیا نو په خپله طنزي ژبـه ډېـر ژور موضوعات را سپړي او د شعر جامه ور اغوندي او پیغام لرونکې شاعري کوي.

په «شعرستان» کې د شعر او فکر تر سرلیک لاندې د سـتر خوشـحال بابـا پـه اړه لیکـل شوي دي: که خوشحال بابا را واخلو، نو ویلی شـو چـې د دې لـوی شـاعر پـه شـعر کـې تـر ټولو فني او فورمولیکو ښکلاوو ور ها خوا د فکر او نظر ښکلا هم شته.» ( ۳: ۳۵۷ مخ )

پورته مو د خوشحال بابا له لنډې یادونې څخه موخه دا ده چـې خوشـحال بابـا پـه خپلو شعرونو کې د نورو ګڼو ښکلاوو او نوښتونو تـر څنـګ لـوړ فکرونـه او پیغامونـه هـم لېږدولي دي او په بېلا بېلو برخو کې یې له پیغـامونو ډکـه شـاعري کـړې ده، چـې یـوه برخه یې هم د پښتون قوم د اتحاد او یووالي ده او د پښتنو یووالی او یو موټی کېـدل د خوشحال بابا له هغو ارمانونو څخه و چې پوره نه شو او دا هیله یې خاورو ته یووړه.

خوشحال بابا د پښتنو د اتفاق او یووالي په اړه وايي:

که توفیق د اتفاق پښتانه مومي

زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان

خو څو پېړۍ وروسته بیا یو کلیوال شاعر عبدالستار بمبار د پښتون قوم دغه ناخواله په ډېرو ساده الفاظو کې بیانوي او د یوه پټ درد په ملتیا یې تر لوستونکو رسوي:

اتفاق د پښتنو عبدالستاره

لکه زه چې د پښنو لاندې آسمان گورم

پورتنۍ بېلگه د دې گواهي ورکوي چې بمبار د طنز پر اوږو لوړ پیغامونه هم خپلې ټولنې ته وړاندې کړي او د خپلو پیغامونو په وسیله یې پښتون قوم هغو ستونزو ته متوجه کړی دی چې ترې کړېږي.

بمبار په روانه او سلیسه ژبه د خپل چاپېریال او پښتني ټولنې ناوړه کارونه غندي او خلک په غېرمستقیمه توگه د دغو کارونو پرېښودلو ته رابولې او دغو ټولنیزو نیمگړتیاوو ته په شاعرانه اندازه گوته نیسي او نقد کوي یې په لاندې شعر کې ځینو ټولنیزو موضوعاتو ته په جالبه توگه اشاره کوي، نقد کوي یې او خلک ورته متوجه کوي چې له دغو کارونو څخه ډډه وکړي، شعر په یوه خوږه نیم بیتي سره «د نازولو خیال ساتئ» پیلوي. زموږ په ټولنه کې دا مشکل لږ زیات دی، څوک چې په یوه کار کې غړول شوي نه وي، د هغوی نظر نه وي اخیستل شوی، خو متأسفانه خپله ځان پکې ورگډوي او بې مورده نظر ورکوي، نو بمبار وايي:

دا ما مه شمېره در گډ په کې لږ ډېر شول

د بللي نا بللي خیال ساتئ

بې وینا پردي خیرات کې مشري کړي

لږ د دغه ښخ وتلي خیال ساتئ

په وروستیو بیتونو کې بیا ښکلو ته جالب نصیحت کې او ورته وايي چې لږ د خپل کور، کلي، دودونو او عزت خیال هم ساتئ او په اصطلاح له بړستنې څخه پښې مه باسئ:

په اخیره کې مې ښکلو ته درخواست دی

تاسو هم د کور او کلي خیال ساتئ

هگـی زیـاتره پـه اخترونـو کـې جنگـول کېـږي او د ځوانـانو لپـاره یـوه خونـدوره سرگرمي ده، خو خپله په هگۍ جنگولو کې یو ځانګړی طنز هم پـروت دی، د بمبـار د هگیو جنگولو طنزي برخې تـه هـم پـام شـوی دی او د خپـل یـوه شـعر ردیـف یـې گرځولی دی. د دغه ردیـف پـه مرسـته یـې پـه ډېـره خـوږه او طنـزي بڼـه طنـز ډولـه مرغلرې سره پېیلې دي، کله نا کله له هگیو جنگولو څخه په لانـدې بیتونـو کـې یـوه پټه طنزي معنا هم اخیستل کېږي. خلک متوجه کوي چې حیا او درنښت لـه منځـه تللی دی، داسې وخت راغلی چې زامن له پلار سره هگۍ جنگوي، بنـدي لـه تهانـه دار سره، ماشومان له سپین ږېرو سره چې یو پټ طنز پکې ځپې وهي:

څوک چې له یار سره هگۍ جنگوي

منگري مار سره هگۍ جنگوي

ملگرو دغه یو خیرن ته گورئ

له مزیدار سره هگۍ جنگوي

تاسو هغه ډاکټر لیدلی که نه

چې له بیمار سره هگۍ جنگوي

څه عجیبه غوندې وختونه راله

زامن له پلار سره هگۍ جنگوي

پربېږده چې پروت وي بې تپوسه په کې

له تهانیدار سره هگۍ جنگوي

دی یې په قرآن او په طلاق دوکه کړ

له دوکاندار سره هگۍ جنگوي

د نظم په پای کې په یوه جالب انداز کې خلک مخاطب کوي او وایي:

ملگرو دغه ماشوم نه پوهېږي

عبدالستار سره هگۍ جنگوي

د عبدالستار بمبار په شاعرۍ کې بـل مهـم ټکـی دادی چـې ډېـر سره لـرې خـو ښکلي تشبیهات کارول کېږي، دی په لاندې دوو بیتونو کـې لـومړی پیـل پـه غـویي کوي او وایي چې غویی که په رنگ هم ښایسته وي او وهل وکړي، نو باید پـه قصـاب

وپلورل شي، کار ته غاړه نه ږدي او بیا لږ لرې ځي او ښکلي تر بمبار لاندې راولي او وایي چې ښکلي که زاړه هم شي، خو غریب او خوار ته غاړه نه ږدي:

که غویی په رنګ ښایسته وي چې وهل کړي
نو قصابي یې کړه چې کار ته غاړه نه ږدي
نور د ښکلو به صفت درته څه کړمه
ږیره یې سپینه شي خو خوار ته غاړه نه ږدي

په لاندې بیت کې یوه مهمه ټولنیزه موضوع په ښکلي انداز را اخلي او ځان ته ډاډ ورکوي چې د چا د خبرو پروا باید ونه کړل شي، ځکه داسې وخت راغلی دی چې خلک د خدای په کارونو کې هم خبرې کوي، نو داسې خلکو ته شاعر عبدالستار څه دی، بلکې دا زموږ د ټولنې یوه ستره ستونزه ده، خپلو کارونو ته به پام نه کوي، خو د نورو په کارونو کې به خبرې کوي او په خلکو پسې به یې خولې پرانیستې وي او تل به په نورو پسې غږېږي.

بمبار دا ټولنیزه ناخواله داسې را اخلي او اشاره ورته کوي:

خلک د خدای کار کې خبرې کوي
نور ورته شاعر عبدالستار څه دی

## پایله

عبدالستار بمبار په ډېره روانه ژبه شاعري کوي او ټولنیزو ناخوالو ته ښایسته طنزیه رنګ ورکوي او شاعرانه کوي یې. په شاعرۍ کې یې ساده توب او روانوالی موجود دی. لکه څنګه چې مو وړاندې وویل د طنز له تعریف سره سم په لومړي سر کې پر شونډو موسکا خوروي، خو کله چې فکر ورته وشي په شعرونو کې یې یو پټ درد څېږي وهي او انسان اندېښمن کوي. د موضوعاتو ژورو ته یې بیایي. عبدالستار بمبار تر ډېره ځایه پوري په غونډو او مشاعرو کې خپل شعرونه ویلي او وړاندې کړي دي، په لیکلې بڼه یې شاعرۍ ته توجه نه ده شوې، نو نه یوازې دا چې د بمبار شاعري را ټولولو ته اړتیا لري، تر څنګ یې د دې کلیوال شاعر له درده ډکه شاعري تحلیل او سپړنې ته هم اړتیا لري. دا څېړنې او تحلیلونه به د بمبار د طنزیه شاعرۍ نور پټ اړخونه روښانه او لا ډېر به یې معرفي کړي، چې په دې مقاله کې مو هڅه

کړې چې د دې کليوال شاعر په ژوند او شـاعري رڼـا واچـول شي او همدارنگـه مـو د نوموړي شاعري ته تحليلي کتنه کړې ده.

## مأخذونه


۱. غضنفر، اسدالله. جادوگر هنر، مومند خپرندويه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۹۶ ل کال.

۲. احمدزی، محمد آصف. په پښتو ادب کې طنز، د افغانستان د علومـو اکـاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست، شمشاد هاشمي مطبعه: کابل، ۱۳۹۷ ل کال.

۳. درمل، احسان الله. شعرستان، دريیم چاپ، سروش کتابپلورنځی: کابل، ۱۳۹۷ ل کال.

څېړنوال شهزاده توحیدمل

# د لوګر د احمدزیو او د پکتیا د آریوب د لهجو د ځینو کلمو لهجوي او مورفولوژیکه پرتلیزه څېړنه

# Dialectical and Morphological Comparative Study of some words of Ahmadzai and Aryob Zazi's Dialects

**Research Fellow Shazada Tawheedmal**

## Abstract

Out of the multifaceted flower of linguistics, I will only do a comparative study of some words and dialects of Ahmadzai of Logar and Aryob Zazi of Paktia, in which in this article we will introduce language and society according to the views of some scholars. We will introduce these two areas to the readers and then we will compare the differences between the words and the dialects according to the scientific standards. This research will provide future researchers with accurate, mature and first-hand material.

## لنډیز

د ژبپوهنې له ګڼ اړخیز ګلبڼ څخه زه یواځې د لوګر د احمدزیو او د پکتیا د آریوب ځاځیو په ځینو ویینو او لهجو پرتلیزه څېړنه کوم، چې په دې مقاله کې به ژبه او ټولنه د ځینو پوهانو د نظرونو له مخې وپېژنو. یادې دواړه ساحې به لوستونکو

ته ور وپېژنو او تر هغې وروسته به د وييونو او لهجو توپيري پرتلنه په علمي معيارونو برابره سرته ورسوو. دا څېړنه به راتلونکو څېړونکو ته کره، پاخه او د لومړي لاس مواد ورکړي.

## سريزه

ژبه د افهام او تفهيم وسيله ده او د مورنۍ ژبې ترځنګ که يو څوک بله هره کورنۍ او بهرنۍ ژبه زده کوي، دا يو غوره او پر ځای کار دی، مګر دا په دې معنا نه دی چې خپلې ژبې ته شا کړي او يا يې په ويلو وشرمېږي، څه ښه وايي:

«بله ژبه زده کول که دی کمال

خپله ژبه هېرول بې کمالي ده

زموږ په هېواد کې تر (۳۰) ډېرې ژبې شته، بايد ټولو ته کار وشي، الفباء ورته وليکل شي، شفاهي ادبيات يې را ټول... او ګرامرونه ورته وکښل شي».(۱)

ژبه په هر وګړي دا حق لري چې پرې وګړېږي، ويې ليکي، آثار پرې وليکي او نورو هېوادوالو ته يې ور زده کړي، خو پښتو ژبه له پښتو ويونکو څخه غواړي چې د پښتنو غوره او نيک خصلتونه په ځان عملي کړي او د نورو سيمه ييزو او نړيوالو ژبو زده کړو ته يې هم وهڅوي.

ياده مقاله په دې نيت پيل شوې چې د ژبپوهنې په چوکاټ کې مورفولوژيکه او لهجوي څېړنه وکړم او د ژبپوهنې د يوه وړوکې شاګرد په توګه د ژبپوهنې ګڼ ويږ غوړېدلي غولي ته يو څه ډالۍ کړای شم، ځکه مې وغوښتل، د يادو غرنيو سيمو څخه د يوې ساحوي څېړنې په ترڅ کې په داسې وييونو او لهجوي توپير هر اړخيزبحث وکړم چې له نويو موادو څخه بشپړ شي او راتلونکو څېړونکو ته به غوره او پاخه مواد په لاس ورکړي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

دا چې په دې ليکنه کې د ژبې، لهجې او ټولنې پر پېژندنې سربېره د لوګر د احمدزيو او پکتيا د اريوب ځائيو لهجو د ځينو کلمو په مورفولوژيکي او لهجوي توپيرونو بحث شوی او ځانګړنې په بېلګو کې ښودل شوې دي، د دې څېړنې اهميت او مبرميت جوتوي.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې اساسي موخه او هدف دا دی چې لومړی ژبه او لهجه يو له بله

توپیر او وپېژندل شي او بیا د لوگر او پکتیا ولایتونو کې د احمدزیو او اریوب ځاځیو د ځینو کلمو لهجوي توپیرونه او په ځینو برخو کې ورته والی جوت شي، تر څو لوستونکي له دواړو لهجو سره اشنا شي او په توپیر یې وپوهېږي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. ژبه څه شی دی او له لهجې سره څه توپیر لري؟

۲. ژبه څه ډول ټولنیزه پدیده ده او د کومو ټولنیزو عواملو له مخې په کې بېلابېلې لهجې رامنځته کېږي؟

۳. د لوگر او پکتیا په ولایتونو کې د احمدزیو او اریوب ځاځیو لهجې څومره او څنگه توپیرونه او ورته والی سره لري؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له توضیحي ـ تشریحي او په ځینو برخو کې له پرتلیز میتود څخه کار اخیستل شوی دی. همدا ډول د سیمو له اوسیدونکو څخه لهجوي مواد د مرکو په بڼه راغونډ شوي دي.

## اصلي موضوع

د نړۍ پرمخ ډېرې ټولنې داسې دي چې زیاتې ژبې لري. په دې ډول ټولنو کې د شته ژبو پالنه، د دوی په منځ کې د مناسب انډول ساتل او د هغوی حقوقو ته پاملرنه کول د هر واکمن نظام مسئولیت دی.

یو حاکم نظام هغه وخت برخمن کېدای شي چې د شته قانون څخه په ټینگه ملاتړ وکړي او هرې یوې ژبې ته په هماغه کچه پاملرنه وکړي چې حق یې وي. دا باید ووایو چې دا یواځې د نظام مسئولیت نه، بلکې ټولې اړوندې ادارې او مؤسسې هم دا دنده لري چې ورته ستونزو ته ژوره او جدي پاملرنه وکړي.(۲)

د نړۍ ټولې ژبې لږ او ډېرې لهجې لري چې په گډه سره د یوې ژبې لغوي پانگه جوړوي.

«د ژبپوهنې او تاریخ علوم هېڅ‌ا ته د دې اجازه نه ورکوي چې داسې پلیت عمل تر سره کړي او د خپل ځان لپاره د نورو خلکو او ولسونو حقه حقوق تر پښو لاندې کړي. دلته یو څه باید یادونه وشي چې ولسونه باید وېښ او بیداروي او د خپلو حقوقو څخه د قانون په چوکاټ کې ننگه او دفاع وکړي».(۳)

که پورته پاراګراف ته په غور وکتل شي، نو هغه ژبه چې خپلو خلکو وړ نه ده پالل
ې مګر بياهم د پښتو لرغونتوب د لاندې لنډۍ څخه ښکاري؛

سپوږميه کړنګ وهه راخيزه!

يار مې دګلو لو کوي ګوتې رېبينه

د پورته لنډۍ لرغونتوب د څو زره کالو پخوانی ياد را تازه کوي او هم په (۱۳۵هـ) د امير کروړ پراخه واکمني او د پښتنو د زاړه وخت شتون د خپل پښتون ولس قوت او زورواکي را ښيي چې وايي:

زه يم زمری پردې نړۍ له ما اتل نسته

په هند و سند و پر تخار او پر کابل نسته

بل په زابل نسته

له ما اتل نسته» (۴)

پښتنو مشرانو خپله سيمه، چاپېريال او هېواد د نورو له تېريو او تاړاکونو ژغورلی، خو د خپلې پښتو ژبې په عاملو، زياتولو او د پخوانيو آثارو په راپيداکولو ، ساتلو او له نورو ژبو څخه پښتو ته راژباړلو کې يې کار په نشت حساب دی.

ژبه د خلکو په ستونزو باندې د پوهاوي وسيله ده، انسان خپلې غوښتنې او اړتياوې د ژبې په وسيله څرګندوي او د حل لارې چارې هم د ژبې په واسطه پېژني. ټولنيز پرمختګ او په همدې ډول ټولنيز پايښت د ژبې په ذريعه رامنځ ته کېږي. د انسان د ماغزو خاصيت (فکر) هغه وخت پرمختګ کولای شي چې ژبه ملګرتيا ورسره وکړي. هر ولس او هره ټولنه چې ژبه ونه لري، په اصل کې ژوند نه لري. هره ټولنه او ولس چې خپل ژوند او ژبه له لاسه ورکړي؛ نو بيا د مړو ولسونو او ټولنو په ليکه کې درېږي او د دوی په اړه څېړنې يواځې او يواځې د شته اسنادو او منابعو پر مټ تر سره کېږي. په هره اندازه چې د يو ولس، قوم او يوې ټولنې د ژبې سره زياتی او ناروا کېږي، په حقيقت کې د هغوی د کلتور سره ظلم کېږي او که خدای (ج) مه کړه، د يوې ټولنې ژبه د مرګ کندې ته ور ټېله کړای شي، د دې معنا لري چې د هغې ټولنې کلتور له منځه وړل شوی دی.

دلته به د ژبې پېژندنه، غوره والی او اهميت د ځينو پوهانو له نظره په لنډ ډول ياد کړم:

- ژبه د ټولنې ترمنځ د افهام او تفهیم وسیله ده.

- ژبه د فکر د انتقال، د کلتوري، مادي او معنوي ارزښتونو د خوندي ساتلو، د یو نسل نه بل نسل ته د دغو ارزښتونو د رسولو په زړه پورې مرستندویه ده.(۵)

- ژبه د هر قوم او ټولنې له سترو مشخصاتو څخه شمېرل کېږي.

- ژبنی قوت دی چې یوه ټولنه په ټاکلې پوله کې ساتي.

- ژبه د ویونکو د شعور لوړولو غوره وسیله ده، په سیاسي، اقتصادي او کلتوري وده کې رغنده رسالت سرته رسوي.

- د ژبې په برکت د سیمې او نړۍ سره اشنا کېږو، زموږ مادي او معنوي شتمني نورو او د هغوی موږ ته را پېژني او زموږ غوره عنعنات، هویت، دودونه، اتلولي... او حماسې له موږ سره خوندي دي او د هېوادپالنې درس راکوي، عشقي کیسې، داستانونه، نازکخیالي او دا دب او کلتور نورې خوندورې برخې هم د ژبې په مټ ساتل شوې دي.

- ټول پوهان، څېړونکي او ژبپوهان په دې نظر دي چې لومړی ژبه منځته راغلې ده او بیا د خط ایجاد شوی دی، په دې اساس ویلای شو چې انسانانو د خپل منځي افهام و تفهیم او خپلو ستونز د حلولو او د هغوی لپاره د لارو چارو پیدا کېدو په غرض په شفاهي ډول ژبه کارولې ده.

- د ژبې شفاهي بڼه په اصل کې د هغې د شتون ولسي او لومړنی فورم دی.(٦)

- د ژبې د شفاهي فورم، چاپېریال د خلکو او ولسونو ذهنونه او خولې دي، د ورځینو کړو وړو ژبه او په همدې ګړدود (لهجه) هغه چوکاټونه دي چې شفاهي ژبه د خپل ځان موجودیت په کې ښکاره کوي.(۷)

- نوې ژبپوهنه او ژبني مطالعات زموږ په هېواد کې ډېر اوږد تاریخ نه لري او د شلمې پېړۍ په درشل کې دغو مطالعاتو لږ او ډېر رواج وموند.(۸)

«ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده، په ټولنه کې منځ ته راځي او د ټولنې د تکامل او پرمختګ سره سمه وده او تکامل کوي او د خپل دې بهیر په نتیجه کې ممتازه ژبه رامنځته کېږي، ژبه او ټولنه نه جلاکېدونکې پدیدې او یوه د بلې تکمیلوونکې ده.

- ژبه د ټولنې د ضرورتونو لپاره رامنځته کېږي او د یوې قبیلې، قوم او ټولنې د پایښت او دوام سبب ګرځي، نو ځکه یې څېړنه او تحقیق حتمي او ضروري دی.»(۹)

« ژبه چې  د انساني کلتور د نورو پدیدو په شان د یوې بشرۍ ټولنې سره ټینګه تړلې داسې پېښه ده چې  په یوه ټولنه کې منځته راځي، په هماغه ټولنه کې تکامل کوي او مخ په وړاندې ځي.

- ژبه د خلکو په منځ کې د پوهولو او را پوهولو یوازینۍ وسیله ده، په واقعیت کې د ولسونو د هیلو او غوښتنو د انعکاس منبع او د اړتیاوو پوره کولو لپاره د لارو چارو د لټون وسیله هم شمېرل کېږي.»(۱۰)

« ژبه بې له فکره او فکر بې له ژبې پرمختګ نه شي کولای.»(۱۱)

« ټولنه پرته له ژبې منځته نه شي را تلای او پرته له ټولنې ژبه منځته نه شي راتلای، ځکه چې ژبه هم د پیداکېدو له مخې او هم د وظیفې په لحاظ یوه ټولنیزه پدیده ده. »(۱۲)

« ژبه د نښو او علامو هغه جوړ شوی سیستم دی چې  د انسان د کار او زیار په وسیله را منځته شوی او انسانانو ترمنځ د پوهولو لپاره کارول کېږي.»(۱۳)

« ژبه چې یوه اجتماعي پدیده ده، د اجتماع سره تړلې ده، د بشر د پرمختګونو او تحولونو سره یې یو ځای وده کړې، ډول ډول تغییرونه په کې راغلي دي.»(۱۴)

« ژبه د اجتماعي ژوندون یوه اجتماعي حادثه ده او د ټولنې له تاریخي ارتقا او اجتماعي روحیاتو سره ټینګه اړه لري.»(۱۵)

«ژبه د اوازونو یوه مجموعه ده چې  انسانان یې د صوتي غړو په واسطه تر یوه خاص نظم او سیستم لاندې له خولې را باسي او په دې توګه خپل مطلب یو له بل سره څرګندوي. »(۱٦)

پورته پېژندنو ته په کتلو سره ویلای شو چې انساني ټولنه په ټوله معنا د ژبې له کارولو پرته کارونه په سمه توګه نه شي تر سره کولای، د ډېرې یادو تعریفونو نچوړ او خلاصه سره ورته والی او نږدیوالی لري، زه د دې مقالې په بشړولو کې د یادو تعریفونو د نوم په روښانه کولو سربېره د لوګر او پکتیا ولایتونو او آریوب ځاځیو پېژندنې نه وروسته د موضوع په اصلي برخه چې مورفولوژیکه او لهجوي پرتلیزه پانګه جوړوي او تر هغه د بحث رانغښتل، په پایله او وړاندیزونه پای مومي.

دا چې ټولنه د ژبې د پیدایښت زانګو بلل کېږي، نو ځکه به د ټولنې د پېژندلو په اړه څو ټکي وړاندې کړم.

«**ټولنه:** غونډه ،مجلس، اجتماع، تشکیل، نفوس، مجمع، جمعیت سره یو ځای کېدنه او هیئت (پلاوی).

**- ټولنه:** د انسانانو ګڼې ډلې ته وایي چې یوه له بلې سره راز راز اړیکې لري، بنسټیزې اړیکې یې د مادي نعمتونو د تولید او د تولید د وسایلو په برخه کې وي چې په هغوی سره دغه نعمتونه تولیدېږي.»(۱۷)

« د خلکو ټولي، د خلکو ډله، د یوه ښار یا یوه هېواد خلک چې په خپلو کې ګډ ارزښتونه ولري، ټولنه بلل کېږي.»(۱۸)

« ټولنه هغه ستر او پراخ ګروپ دی چې ډېر سازمانونه په کې شامل او د زیات شمېر سړو، ښځو او کوچنیانو څخه جوړه شوې او د اوږدې مودې په تېرېدو سره یې د اجتماعي دوه اړخیزې اتکا، د ګروپي نظم څخه ګټه اخیستي وي. انساني ټولنه د تیت او پرکو انساني افرادو مجموعه نه، بلکې هغه واحد دی چې د لړو ډېرو متجانیسو او ټینګو رابطو څخه رازېږېدلې ده. د انساني ټولنې عناصر د طبعیت د ټولو پدیدو د عناصرو په څېر په عین تیت پرک والي کې د یوه او بل سره تړنه هم لري، ځکه چې د ټولنې د غړو ګډ ژوند، ملګرتوب او له یو بل سره جوړوالی ایجابوي. د همدې ملګرتوب په نتیجه کې یو ډول اجتماعي برابري چې اجتماعي تعادل یا ټولنیز توازون نومېږي منځته راځي. یوه امریکایي پوه چې پارسنز(parsons)نومېږي، په دې اړه ویلي دي چې: «ټولنه یا اجتماعي نظام هغه مجموعه ده چې د افرادو او ګروپو څخه په دې ډول جوړه وي چې نظریو او بل ته دوه اړخیز سلوک کوي.»(۱۹)

په پورته بحث کې د ژبې، ژبپوهنې او لهجې مورفولوژیک تفصیل رالنډوو او په پرتلیزو جدولونو کې لاندې په ځغلنده توګه د لوګر احمدزي او آریوب ځاځي درپېژنم: په غلجي پښتنو کې احمدزي یو ستر او لوی خېل دی چې په نهو خېلونو وېشل شوي دي او د هېواد په ګڼ شمېر ولایتونو کې هستوګنه لري چې تر ټولو ډېری یې د لوګر ولایت په بېلابېلو سیمو کې مېشت دي او اریوب ځاځي د پکتیا ولایت شمال ختیځه سیمه د علي خېلو ولسوالۍ یادېږي. د لوګر د ازرې او د پکتیا د علي خېلو ولسوالۍ د پښتونخوا سره ګډه پوله لري.

## د لوګر د احمدزیو او د پکتیا د اریوب ځاځیو لهجوي او مورفولوژیکه پرتلیزه څېړنه

| ګڼه | د لوګر د احمدزیو لهجه | د پکتیا د اریوب ځاځیو لهجه |
|---|---|---|
| ۱ | مېټی: نر،م، (مېټي)<br>metay | سیخ<br>Six |
| ۲ | مېږوی: نر. م. (ج مېږوي)<br>megway | مږوی<br>maẓway |
| ۳ | مزی: نر. م. (ج مزي)<br>mzay | مزی<br>mzay |
| ۴ | رغړول: نر. م.ف. (ج رغړول)<br>rƔaṛawəl | راکړول<br>rākaṛāwəl |
| ۵ | ځکول: نر. م. ف. (ج ځکول)<br>ckawal | ځکول<br>ckawal |
| ۶ | سپېته: ښځ. (ج سپېتې)<br>speta | سپېته<br>speta |
| ۷ | کولول: نر. م. ف. (ج کولول)<br>kulawal | راګړول<br>rāgaṛawəl |
| ۸ | اچول: نر. م. ف. (ج اچول)<br>ačwal | غورځول<br>Ɣwrĵawəl |
| ۹ | ښکته کول: نر.م. ف. (ج ښکته کول)<br>Ṣkatakawəl | ښکته کول<br>Ṣkatakawəl |
| ۱۰ | کتار: نر.م. (کتارونه)<br>katār | کتار<br>katār |
| ۱۱ | ډېرۍ: ښځ. م. ص. (ج ډېرۍ)<br>ḍerəy | ټوپۍ<br>ṭopəy |
| ۱۲ | کوټه: ښځ. م. (ج کوټې)<br>kuwaṭə | امبار<br>ambār |
| ۱۳ | کوړۍ: ښځ. م. (ج کوړۍ) | ټالۍ |

| | kuṛəy | ṭāləy |
|---|---|---|
| ۱۴ | چارمغز: نر.م. (ج چارمغ)<br>čārmaƔz | واغزان<br>wāƔzān |
| ۱۵ | پاڼه: ښځه. م. (ج پاڼې)<br>pāṇa | پاڼه<br>pāṇa |
| ۱۶ | اوښ: نر. م. (ج اوښان)<br>auṣ | کوړی<br>koṛəy |
| ۱۷ | چغځۍ: ښځ. م. (ج چغځۍ)<br>čaƔĵəy | چغځۍ<br>čaƔĵəy |
| ۱۸ | مردکی: نر. م. (ج مردکي)<br>mardakay | گینک<br>gink |
| ۱۹ | کواڼۍ: ښځ. م. (ج کواڼۍ)<br>kawāṇəy | کوتۍ<br>kawtəy |
| ۲۰ | چیتۍ<br>čitəy | چوتۍ<br>čūtəy |
| ۲۱ | کاغذي: نر. م. ص. (ج کاغذي)<br>kāƔaδi | کاغذي<br>kāƔaδi |
| ۲۲ | مټه کور: نر. م. ص. (ج مټه کور)<br>maṭakwar | مټک<br>maṭak |
| ۲۳ | دنداسه: ښځ. م. (ج دنداسه)<br>dandāsa | دنداسه<br>dandāsa |
| ۲۴ | زردالو: نر. م. (ج زردالو)<br>zardālū | مندته<br>mandata |
| ۲۵ | خستکه: ښځ. م. (ج خستکې)<br>xastaka | زړی<br>zaṛay |
| ۲۶ | کشته: ښځ. م. (ج کشته)<br>kašta | کخته<br>kaxta |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۷ | تايفى: نر. م. (ج تايفي)<br>tāyfay | خوباني<br>xobāni |
| ۲۸ | زومبک: ښځ. م. (ج زومبکې)<br>zumbak | تمومبک<br>tamombak |
| ۲۹ | انګور: نر. م. (ج انګور)<br>angūr | انګور<br>angūr |
| ۳۰ | کشمشي: نر. م. (ج کشمشي)<br>kešmıši | انګور<br>angūr |
| ۳۱ | تور انګور: نر. م. (ج انګور)<br>tor angūr | تور انګور<br>tor angūr |
| ۳۲ | غټ انګور: نر. م. (ج انګور)<br>Ɣaṭ angūr | غټ انګور<br>Ɣaṭ angūr |
| ۳۳ | حسيني انګور: نر. م. ص. (ج انګور)<br>husayni angūr | حسيني انګور<br>husayni angūr |
| ۳۴ | کټه انګور: نر. م. (ج انګور)<br>kaṭa angūr | دانه دار انګور<br>dānadār angur |
| ۳۵ | بادام: نر.م (ج بادام)<br>bādām | بادام<br>bādām |
| ۳٦ | ګازره: ښځ. م. (ج ګازرې)<br>gāzara | ګجره<br>gajara |
| ۳۷ | چوغندر: ښځ. م. (ج چوغندر)<br>čuƔandar | چغندر<br>čaƔandar |
| ۳۸ | ملۍ: ښځ. م. (ج ملۍ)<br>mləy | تيربه<br>tirəba |
| ۳۹ | ګوپي: نر. م. (ج ګوپيان)<br>gūpi | ګوپي<br>gūpi |
| ۴۰ | شلغم: نر. م. (ج شلغم)<br>šalƔam | ټېپر<br>ṭepar |

| | | |
|---|---|---|
| ۴۱ | سرې ملۍ: ښځ. م. (ج ملۍ)<br>sremləy | ملي سورخک<br>mli sūrxak |
| ۴۲ | غنم: نر.م. (ج غنم)<br>Ɣanam | غنم<br>Ɣanam |
| ۴۳ | ډنډر: نر. م. (ج ډنډرې)<br>ḍanḍar | ډنډه<br>ḍanḍa |
| ۴۴ | بنبل: نر. م. (ج بنبل)<br>banbal | بمبل<br>bambal |
| ۴۵ | توکه: ښځ. م. (ج توکې)<br>toka | توکه<br>toka |
| ۴۶ | ټکول: نر. م. ص. (ج ټکول)<br>ṭakawəl | ټکول<br>ṭakawəl |
| ۴۷ | چوخلۍ: ښځ. م. (ج چوخلۍ)<br>čuxaləy | سپرخی<br>sparxay |
| ۴۸ | دلۍ: ښځ. م. ص. (دلۍ)<br>daləy | دلۍ<br>daləy |
| ۴۹ | هوارول: نر. م. ف. (ج هوارول)<br>hawārawəl | اوارول<br>awārawəl |
| ۵۰ | وچول: نر. م. ف. (ج وچول)<br>wačawəl | وچول<br>wačawəl |
| ۵۱ | جوال: نر. م. (ج جوالونه)<br>juwāl | جوال<br>juwāl |
| ۵۲ | ترټه: ښځ. م. (ج ترټې)<br>tərṭa | ترټه<br>tərṭa |
| ۵۳ | کندو: نر. م. (ج کندوان)<br>kandū | کندو<br>kandū |
| ۵۴ | څټه: ښځ. م. (ج څټې)<br>caṭa | شلمنی<br>šalmanay |

| | | |
|---|---|---|
| ۵۵ | پټی: نر. م. (ج پټي)<br>paṭay | ځوکی<br>ĵokay |
| ۵٦ | تخته پټی: نر. م. (ج پټي)<br>taxtapaṭay | تخته<br>taxta |
| ۵۷ | نری پټی: ښځ. م. (ج پټي)<br>naraypaṭay | نری<br>naray |
| ۵۸ | خوړ پټی: ښځ. م. (ج پټي)<br>xwaṛpaṭay | خوړ<br>xwaṛ |
| ۵۹ | کرکۍ: ښځ. م. (ج کرکۍ)<br>karakəy | کرکۍ<br>karakəy |
| ٦۰ | لاړه: ښځ. م. (ج لاړې<br>lāṛa | لرګی<br>largay |
| ٦۱ | غشی: نر. م. ( غشي)<br>Ɣašay | سیارې لاستی<br>syārelāstay |
| ٦۲ | څرمینه: ښځ. م. (ج څرمینې)<br>carmina | څرمینز پړی<br>carmanizpaṛay |
| ٦۳ | پړی: نر. م. (ج پړي)<br>paṛay | پړی<br>paṛay |
| ٦۴ | رسۍ: ښځ. م. (ج رسۍ)<br>rasəy | رسۍ<br>rasəy |
| ٦۵ | سرباڼه: ښځ. م. (سرباڼې)<br>sarbāṇa | سرباڼه<br>sarbāṇa |
| ٦٦ | بوجی: نر.م. (ج بوجي)<br>bujay | بوج<br>būj |
| ٦۷ | بوجۍ: ښځ. م. (ج بوجۍ)<br>būjəy | بوجۍ<br>būjəy |
| ٦۸ | تورړه: ښځ. م. (ج تورړې)<br>torṛa | تورړه<br>torṛa |

| | | |
|---|---|---|
| ۶۹ | بنۍ: ښځ. م. (ج بنۍ)<br>banəy | بنۍ<br>banəy |
| ۷۰ | ګوډی: نر. م. (ج ګوډي)<br>gūḍay | ګوډی<br>gūḍay |
| ۷۱ | لګن: نر.م. (ج لګنې)<br>lagan | لګن<br>lagan |
| ۷۲ | چلمچي: ښځ. م. (ج چلمچي)<br>čılamči | چلمچي<br>čılamči |
| ۷۳ | کوزه: ښځ. م. (ج کوزې)<br>kūza | کوزه<br>kūza |

۱- څېړنوال ډاکتر عبدالغفار آجزمل، ولي جان، نور بلووټ، آریوب ځاځي، پکتیا، ۵۹ کلن.

۲- اقبال، عزیز، آریوب ولسوالي، ولایت پکتیا، کلی روکیان، ۶۵ کلن.

۳- جاني خېل، موسی خېل، ولایت پکتیا، آریوب ولسوالۍ، کلی چوریان، ۲۷ کلن، ماسټر.

۴- شریف الله شریف، سپین ګل، بهلول، علي خېل، ځاځي، پکتیا، لېسانس، ۲۳ کلن.

د افغاني ژبو لپاره سمپوزیمونه، ورکشاپونه او مسلکي سیمینارونو جوړولو او عاملو ته ډېره اړتیا ده، تر څو د بېلابېلو ژبو، فرهنګونو او د ژبپوهانو لاربسوونو ته په کتو داسې پلان طرحه شي چې څنګه ژر کولای شو افغاني ژبې (پښتو او دري) نړېوال معیار ته ورسوو او په دویم قدم کې د هېواد نورو (پشه يي، نورستاني، ازبکي، ترکمني، شغني...) ژبو پیاوړې کولو ته په سیستماتیک ډول پراختیا ورکړو. د هېواد په ملي او رسمي ژبو سربېره د دویمو نورو ژبو پیاوړتیا به غوره او ګټوره چاره وي.

وایي چې پښتو ژبه ده، پښتو قانون دی، پښتو عزت دی، پت، ناموس... او هېواد ساتنه ده. پښتون ولس د فرهنګ او ادب د پاللو لپاره یوازینۍ لاره هماغه ولسي- یا

شفاهي ادبيات وو او دي چې د دوی رازونه، هيلې، خوالې او نا خوالې ټولې په کې ترسيم شوې او تر اوسه لا په بشپړه توګه دا پانګه نـه ده را غونـډه شـوې او د راټولولـو اړتيا يې زياته ليدل کېږي.

ژبه د تمدن او فرهنګ د لېږد او انتقـال عـراده ده، د ژبـې پـه واسـطه د يـو ملـت ملي هويت خوندي ساتل کېږي، کومـو ولسـونو چـې خپلـې ژبـې لـه لاسـه ورکـړې، هغوی په خپله هم ورک شوي او خپلواک ملي هويت يې له منځه تللی دی. (۲۰)

څېړنپوه نعمت الله اندړ د پښتون ولس په راتلـونکې داسـې اندېښـنه څرګنـدوي: «د ساينس د ګړندي پرمختګ پر مهال يا د انټرنيـټ پـه عصر- او زمـان کـې کمـزورې ژبې د پياوړو ژبو د برلاسۍ له کبله د زوال او کمزورتيا پـر لـور ټېلـه کېـږي. فرهنګـي يرغل، نوي لغتونه، نوې نومونې مخ په زياتېدو دي. هغه ژبې چې ويوونکي يـې تکـړه ژبپوهان او ژبڅېړونکي نه لري، ګويا هر سړی پـزه تـوره کـړي او ځانتـه آهنګـر او پښ وواييي، هغه بيا د خورا ډېرو ستونزو سره مخ دي، لکه پښتانه!.»(۲۱)

که موږ په لومړي سر کې (پښتو او دري) ژبو د غني والي، بډاينې او نړېوال تـوب معيار ته د ځغرده رسېدو لپـاره او پـه دويـم کتـار کېـد عـامولو پـه موخـه، د هېـواد او سيمې په کچه د تدريس وسايل برابر کړو، په خپلو سيمو کې د هېواد، د نورو ژبـو دا کړنه به ډېرې وړې ژبې د ورکېدو څخه وساتي چې پښتو او دري ژبې به لا نورې هـم بډايه او پياوړې شي.

## پايله

د لوګر د احمدزيو او د پکتيا آريوب ځاځيو په ګړ دودونو کې مـې مورفولوژيکـه او لهجوي څېړنه وکړه، دا پته را ته ولګېده چـې ډېـرو درنـو کورنيـو او بهرنيـو پوهـانو پـه خپل وخت کې د پښتو ادب د غنا مندۍ او پياوړتيا په ډګر کـې د خپـل فکـر اسـونه ځغلولي دي. دوی د ډېرو ستايلو او قـدردانۍ وړ دي، ځکـه د هغـوی تګـلارې د نـوو څېړونکو لپاره لارښود ګرځېدای شي.

که چېرې د پښتو ژبې او د هغې د ليکلو آثارو په باره کې د ليکوالانـو او څېړونکـو يادونو او څرګندونو ته نظر واچول شي، نو داويلای شـو چـې د دې ژبـې آثـار د زمـانو ناخوالو او تاړاکونو له منځه وړي او له مخې يې رغړولي دي.

پښتو ژبې لا تر اوسه پورې هم خپل مقام نـه دی خپـل کـړی او څنګـه چـې لازم

دي، ویوونکو او حکومتونو يې حق نه دی ادا کړی؛ خو بیا هم هغو آثارو او څېړنو ته په کتو سره چې په دې ژبه کې لیکل شوي او رامنځته شوي دي، کولای شو ووایو چې دا ژبه که د سیمې په سطحه له نورو ژبو څخه وړاندې نه وي، نو ترې وروسته به هم نه وي.

یو شمېر هغو آثارو ته په کتو چې په پښتو ژبه کې د ژبپوهنې په برخه کې لیکل شوي دي، د خپلو پیاوړو شفاهي ادبیاتو په خواکې ډېر شتمن تحریري ادبیات هم لري چې د انساني ژوند او کلتور ټولې خواوې یې په ډېره پراخه کچه څېړلې او تر موږ یې را رسولې دي.

پښتو ژبه ډېر بډایه شفاهي او لیکني ادبیات او ډېر لرغونی او اوږد تاریخ لري ، په نړیواله کچه په هغو ژبو کې درېږي چې د مورنۍ ژبې په توګه ډېر ویونکي لري، دا هغه څه دي چې پوهانو د خپلو څېړنو په نتیجه کې یاد کړي دي.

د نورو ژبو په پرتله، د پښتو ژبې ځانګړې اهمیت په دې کې دی چې دا ژبه هر ډول پردي ویپونه، د خپل طبیعي جوړښت لوی قالب ته ور اچوي.

د پښتو ژبې لغوي ذخیره ډېره شتمنه ده او داسې ویپونه لري چې که د لغت پوهنې پوه، ماهر او متخصص پوهان یې په اړه څېړنې وکړي، نو له واقعیت څخه لرې نه ده چې د هندو اروپایي ژبو د پېژندنې او څېړنې لړۍ به روښانه کړي. د یوې ژبې ځانګړې اهمیت یواځې د یو چا د خولې په خبرو نه شي ښودل کېدای او ښه سند یې هغه څرګندونې او څېړنې دي چې پوهانو او ژبڅېړونکو نړیوالو ته وړاندې کړې او یا یې وړاندې کوي.

د افغانانو او افغانستان پېژندنې د غوره ثبوت لپاره د ژبپوه، ختیځ پوه او پښتو څېړونکي د ((برتلیس)) نظر د ژورې پاملرنې وړ دی: د پښتو ژبې د زده کړې څخه پرته هېڅوک نه شي کولای چې د افغان [او افغانستان] پېژندنې په برخه کې کار وکړي.

په دې مقاله کې د ژبې او ټولنې پر پېژندنې سربېره، په دوه ولایتونو (لوګر او پکتیا) کې د احمدزیو او آریوب ځاځیو په مورفولوژیکو او لهجوي توپیرونو څېړنه تر سره شوې او په کې نوي، تازه، د لومړی لاس کره ویپونه او د هغو مورفولوژیکي او لهجوي ارزښت، د علمي معیارونو سره برابر تر سره شوی او راټلونکو څېړنو ته غوره او د لومړی لاس مواد په واک کې ورکوي.

## وړانديزونه

د پښتو ژبې د پياوړتيا، وړتيا، غنا، نړيوال توب او په علمي معيارونو د برابرۍ، په سيمه ييزه او نړيواله کچه کې د ځای ورکولو او ورته د مقام اخيستلو لپاره لاندې وړانديزونه کوم:

۱- د د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز اړوند د پښتو او دري د ژبپوهنې څانګو د تشکيل (غړي) بايد دومره زيات شي چې د بېلابېلو ګړدودونو د وييونو لست جوړ او د نوې تکنالوژي پر مټ يې چاپ او د هېواد، سيمې او نړيوالو ته د ښو څېړنو په موخه يې ور ورسوي.

۲- د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو په نړيوال مرکز کې د نورو ژبو څخه ژباړې د ډېرو غړو لرونکی انستيتوت جوړ شي چې د نړۍ مهم آثار په خپل وخت د هېواد ژبو ته و ژباړي او له چاپ وروسته يې ښوونيزو او څېړنيزو مرکزونو ته ورسېږي.

۳- د هېواد په ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې بايد د ژبپوهنې څانګو ته ډېر محصلين جذب شي، د هېواد د ژبو او د دوی د اړوندو ګړدودونو په باره کې پراخې څېړنې وشي او د افغانستان د علومو اکاډمي ته د چاپولو لپاره راولېږل شي، تر څو د هېواد په کچه عامې او ګټه يې ټولو ته ورسېږي.

## مأخذونه

۱- تڼيوال، مولاجان. پښتو ژبه او ژبپوهنه، د افغانستان د علومو اکاډمي: شمشاد هاشمي مطبعه، کابل، ۱۳۹۷ل، ل مخ.

۲- تڼيوال، مولاجان. د ژبې د پرمختګ اړتيا، ايلبند (مجله)، لومړۍ ګڼه، پرله پسې شپاړسمه ګڼه، د کوچيانو لوی رياست خپرونه، ۱۳۹۴ل، ۱۷ مخ.

۳-پورتنی اثر، هماغه مخ.

۴- هوتک، محمد بن داود. پټه خزانه، دويم چاپ، د پوهنې وزارت، دارالتاليف: دولتي مطبعه، ۱۳۳۹هـ.ل، ۳۴ مخ.

۵- تڼيوال، مولاجان. ژبه او ټولنه، د افغانستان د علومو اکاډمي: شعيب مطبعه، ۱۳۸۸ ل، الف مخ.

۶- مولاجان، تڼيوال. د ژبې د موجوديت فورمونه، کابل مجله، ۳- ۴ مه ګڼه،

۱۳۸۴ل، ۷۷- ۷۸ مخونه.
۷- تېيوال، مولاجان. ژبه او ټولنه، ، د افغانستان د علومو اکاډمي: شعيب مطبعه، ۱۳۸۸ل، د مخ.
۸-پورته اثر، و مخ.
۹- ياد اثر، ۱ مخ.
۱۰- پورته اثر او مخ.
۱۱- پولاد، سيدالشاه. د ژبې پيدايښت او انکشاف عوامل، د زېري اوونيزه، ۴ مه گڼه، ۱۳۵۷ل، ۴ مخ.
۱۲- لودين، دولت محمد. د ژبې شعور او ټولنې گډې اغېزې، زېري اوونيزه، ۲۸ مه گڼه، ۱۳۵٦ هـ ل، ۴ مخ.
۱۳- نږدې، مصطفی. ژبه او فکر، زېري اوونيزه، ۱۳ مه گڼه، ۱۳۵۹ هـ ل، ۱ مخ.
۱۴- گربز، ميراحمد. ژبه د بشري ټولنې د ضرورت په اساس منځته راغلې، زېري اوونيزه، ۱۴ مه گڼه، ۱۳۵۹هـ ل، ۲ مخ.
۱۵- حبيبي، عبدالحی. د پښتو اشاره، وږمه مجله، ٦ مه گڼه، ۱۳۴۰ هـ ل، ۲ مخ.
۱٦- شاکر، نور احمد. د ژبې د درسي کتابونو د ليکلو ميتود، وږمه مجله، ۳ مه گڼه، ۱۳۴٦ هـ ل، ۷ مخ.
۱۷- پښتو- پښتو تشريحي قاموس، دويم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو انستيتوت، د ژبپوهنې څانگه: کابل، ۱۳٦۰ل، ۱۲۱۵مخ.
۱۸- فرهنگ عميد، د امير کبير د خپرونو مؤسسه: تهران، ۱۳۸۳هـ. ل، ۴۵۱مخ.
۱۹- پښتو آريانا دايرة المعارف، پنځم ټوک، ۱۳۵۴ هـ ل، ۲۷۱ مخ.
۲۰- تېيوال، مولاجان. پښتو ژبه او ژبپوهنه، د افغانستان د علومو اکاډمي: شمشاد هاشمي مطبعه، کابل، ۱۳۹۷ل، و مخ.
۲۱- پورتنی اثر، ز مخ.

پروفیسور دکتور عبدالخالق رشید

# کرگر، د خپلو عرفاني لیکنو په ضرب او کرب کې

# Kerger in his mystical Research

**Prof. Dr. Abdulkhaliq Rashid**


## Abstract

In this article, I shed light on the significance of Mohammad Akbar Kargar’s three research books. He is a well-known author in the field of social sciences and social studies in Afghanistan. The most imperative aspect of these three research books is its focus and emphasis on the psychology and philosophy of pashto literature. This is due to the fact that Mr. Krager has extensively researched as well as incorporated these topics in his books. In this scientific research, the lines of Sufism and spirituality have been highlighted by underlining the works of a famous, mystic poet, Mirza Khan Ansari. As a result, we are afforded a unique scientific research in Pashto language.

## لنډيز

محمد اکبر کرگر د پښتو ادب هغه څېړونکی او لیکوال دی چې پښتو ادب ته يې ډېر آثار ليکلي او څېړنې يې کړي دي، نوموړي خپل د تحليل فکر پر روښانيانو هم تجربه کړی دی او په اړه يې ښه څېړنې کړي دي، په دې مقاله کې د نوموړي په درېيو آثارو: د ميرزا خان انصاري فلسفي او عرفاني نړۍ ليد، بايزيد روښان او اشرقي معرفت او د وخت ضرب که کرب باندې بحث کېږي.

## سريزه

نږدې نيمه پېړۍ وشوه چې له کرگر سره پېژندگلوي لرم، د لومړي ځل لپاره د پوهنځي په دويم ټولگي (۱۳۵٦ل کال) کې وم چې دی له خواخوږي ځوان (شهيد سربلند) سره ادبياتو پوهنځي ته راغلل، سربلند ما ته زما کيسه چې د پنجشنبی په ورځ د پوهنتون په اديتوريم کې لوستلو ته غوره شوې وه راکړه، او راته ويې ويل چې تر ويلو د مخه له استاد جنيد سره وگورم چې څه ټکي درته لري، په همدغه ورځ مې د لومړي ځل لپاره له هغه او يوه بل ځوان څخه د کرگرنوم واورېد چې په خندانه څېره يې راته کړه : «بس ځوانه ملاورته وتړه، ښه کيسه دې ليکلې استاد جنيد خوښه کړه ...له هغې ورځې وروسته مې بيا تر ډېرو پورې رابطه يواځې د ليکنې او لوستنې په کچه وه... چې وروسته راته و بريښيده چې د ليکنو او څېړنو برخه يې هم هغسې وه، لکه د يو شمېر استادانو، سيد شمس الدين مجروح، سيد بهاء الدين مجروح، ډاکتر شجاعی او استاد جنيد او يو شمېرنورو چې دوی دوديزې ليکنې نه کولې او د اندو ژوند د يوه نوي يون او لاريون لرليد يې څاره چې زياته برخه يې په روانپوهنيزو او فلسفي مسايلو چې د ډېرو لپاره نوې تگلاره وه، په ډاگه کوله. په رښتيا هم چې په پښتو ليکوالي کې دغه سبک يو نوی او د پاملرنې وړ سبک او تگلاره وه چې تر اوسه يې لړۍ د يو شمير ليکوالو، لکه اسد اسمايي او محمد اکبر کرگر په هڅو او ليکنو سره روانه ده. کرگر په دغه برخه کې ځانگړی او د پاملرنې وړ کارکړي دی. اسد آسمايي په دغه برخه کې يو بل استعداد و، خو ځومره چې اړتيا وه، د بېلابېلو عواملو له مخې پر مخ لاړ نه شو او په دغه برخه کې مرگي ډېر څه ويلو او ليکلو ته پرې نښود، خو کرگر په دغه ډگر کې تر اوسه روان دی او په بشپړه تنده

يې دا دی نږدې نيمه پېړۍ په خورا لېوالتيا سره د پوهاند مجروح او نورو دې لړۍ ته په خپلواکه توگه دوام ورکړ او په ډېرو برخو کې يې د هغو په پچه سپرو بې تجربه ليکوالو او مداحانو خبره غلطه ثابته کړه چې ديرش کاله يې بې فيلسوفه؟ ډنډوره د کرگر په شان عيني هڅو او کړنو د شته والي په لړ کې په مداحۍ سره بې معنا وډنگوله ...

## د څېړنې اهميت او مبرميت

په دې مقاله کې د محمد اکبر کرگر د هغو درېيو آثارو په اړه بحث کېږي چې د روښانيانو په اړه يې ليکلي دي چې په دې سره به د نوموړي درې واړه آثار هم تر بحث لاندې ونيول شي او همدا ډول به د روښانيانو په اړه څېړونکو ته معلومات وړاندې شي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه، د محمد اکبر کرگر د هغو څېړنو تشريح ده چې د روښانيانو په اړه يې کړې دي او  په دې څېړنو کې، په روښانيانو ښه بحث شوی دی، د ميرزا خان په اړه گټور معلومات په کې وړاندې شوي دي، نو اړينه وه چې څېړونکو ته د روښانيانو په اړه د محمد اکبر کرگر د څېړنو په اړه معلومات پيدا شي، تر څو په خپلو څېړنو کې ترې گټه واخلي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. ولې په روښانيانو کې ميرزا خان د ژور فلسفي او عرفاني ليد پر لور دی؟
۲. له اشراق څخه د يو شمېر تعبير سم دی؟
۳. ولې کرگر په روانی ـ فلسفي تگلارې کې د پاملرنې وړ دی؟

## دمقالې ميتود

مقاله يوه انتقادی مقاله ده چې د يوه بشپړ علمي او ساينټېيک ميتود پر اساساتو او دقيقو سرچينو په پام کې نيولو سره په انتقادي ليد سره ليکل شوې او بشپړه شوې ده، معنا يې دا ده چې دا مقاله د علمي ـ څېړنيز ميتود په واسطه ليکل شوې ده او په ځېنو ځايونو کې له کره کتنيز ميتود څخه هم گټه اخيستل  شوې ده.

## اصلي موضوع

په دې نږدې وختونو کې مې د کرگر درې آثاره تر لاسه کړل چې په لنډه توگه یوه ځغلنده کتنه تریوه عمومي تحلیلي چترلاندې ورته کوم، دغه درې آثار: د میرزا خان انصاري – فلسفي اوعرفاني نړۍ لید، بایزید روښان او اشراقي معرفت او د وخت ضرب که کرب ، دي. (۷)

دغه درې آثاره، دیوه ځانگړي نړیوال علمي – رواني او یا فلسفي لید په رڼا کې په یوه ځانگړې انتقادي نظر سره لیکل شوي دي. په دغه اړه تر هر څه له مخه زما لپاره د علومو په دغه ځانگړې برخه کې د لیکوال دقیق څیروالی د پاملرنې وړ دی، هغه دا چې ده په افغاني – پښتني چاپېریال کې له مودو وروسته یوه جالب او د پاملرنې وړ بحث ته چې هغه د پښتنو روښانیانو بحث دی ملا وتړله او په دغه نا سپړلې، پېچلې او ناپېژندل شوې ادبي ـ فلسفي او لوړې انساني وړتیا باندې یې خپلې اوږدې څېړنې راتم کړې او په دې باوري شوی چې روښانیان زموږ د اندو ژوند او ان فرهنگي هویت د څرگندتیا لوړه څوکه ده. کرگر په خپل دغه تحقیق سره، دغه حقیقت ته ورننووت او یوه شو چې روښانیان په شرقي اواشراقي تفکري تله کې هغه بحث دی چې اوس پیل شوی او ډېر ژر به دغه بحث له دغو وړو حلقو څخه نړیوال ډگر ته ور ووځي، پر روښانیانو باندې تر اوسه چې هرڅه لیکل شوي، هغه په یوه وړه ځان ساتې دایره کې وو، ځکه چې زیاترو لیکوالوپر دغو بې بدیله هستیو باندې په شاتو د زهرو گومان کړی او هغه یې د نورو له نظرونو هم یا په سیاسي لوبه ماری او یا هم ځانگړې تعصبي نادانی کې پر یوه خوا ساتلي او یا یې داسې اخوندي توره پرده ورباندې اچولې چې د هر چا په مخ یې د کفر والحاد پر پوله باندې درولي ساتلي دي، په داسې حال کې چې روښانیانو په خپلو ناسپړلو افکارو او آثارو سره دخلقت او رسالت، حقیقت او انساني هویت رازونه او رمزونه د خپل وخت د جهالت او بربریت په زړه کې ویلي او راسپړلي دی. یوه بېلگه یې چې اکبر کرگر د میرزا خان په برخه کې په دقت سره اشاره ورته کړې، دا ده چې میرزا خان وایي:

امانت چې آسمان ځمکې وړلی نه شه
اوس یې زه په دا عاجز صورت عماد یم
په اختیار مې هسې ظلم په ځان وکه
له دې قصده د جهول په نامه یاد یم

که د جهل بار مې لرې شي له سره
بی گومانه د صفی آدم اولاد یم
گه طالب گهې سالک گهې ذاکر شم
گه عارف په معرفت باندې اشهاد یم
گهې قطب قراري کړم په ځای اوسم
گهې غوث گهې ابدال گهې اوتاد یم.
(٦: ١٨٨ مخ)

دا د یوه روحاني بحث په اړه روښاني درس او لید دی چې تشریح یې د یوه باور (عقیدې) په مقدساتو پورې اړه نه لري، یواځې د دغوځو بیتونو لپاره ناچاریو چې تورات، انجیل، زبور، قرآن کریم، ریگوید، بودیزم او نورو باورونو ځرگندونو ته وردننه شو او هلته هم دغه روښاني لید د هغو په وړاندې تشریح او د ادب او فلسفې په ډگر کې یې هم په پام کې ونیسو، معنا دا چې دا ډول لید په اسلامي پېر او اسلامي عارفانو په اړه په عربي او فارسي ادبیاتو کې د سنايي او مولانا، حافظ، عطار او نورو په اشعارو او افکارو کې، په توضیحي تفاوت سره لیدای شو.(د امانت) پېښې په بېلابېلو وختو کې زموږ د فارسی ژبې شاعرانو یاد کړی، نامتو شاعر حافظ هم دغه ټکي ته اشاره کړې ده، لکه چې وایي :

آسمان بار امانت نتوانست کشید
قرعۀ کار بنام من دیوانه زدند

میرزاخان وایې :

امانت چې آسمان ځمکې وړلی نه شه
اوس یې زه په داعاجز صورت عماد یم

اوس اصلي خبره دا ده چې هم حافظ او هم روښاني مفکر میرزا خان انصاري، دا خبره د قرآني آیت په پام کې نیولو سره کړې چې په هغه کې را غلي:

**« إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا » (١)**

کله کله یو شمېر یاران داسې فکر کوي چې د پښتنو شاعرانو او مفکرانو لپاره فارسي کلاسیک مواریث الهامي بڼه لري، خو په دغه اړه مو باید یوه ټکي ته پام وي

چې روښاني مفکران او روښانیان په ټوله کې تـر فـارسي کلاسـیکانو ور هغـه خـوا، د نورو ژبو په تېره بیا له عربي، هندي او ان سانسـکریت سرچینـو سره آشـنا وو او ان دا چې د خپل وخت فارسي کلاسـیکان یـې پـه ډېـرو برخـو کـې تـر خپـل اغېـز لانـدې راوستي دي. په پورتني شعر کې چې کله موږ په اوړو کې وېښته لټوو، نو بیا پـر دغـه حقیقت باندې سترګې نه شو پټـولای چـې میرزاخـان تـر حـافظ پـه دغـه برخـه کـې مسئله له قرآني ارشاد سره سمه او تر حافظ په لوړتیا او روښانتیا سره طرحه کـړې ده او داسې ښکاري چې میرزاخان که په دغه برخه کې اشاره هم کړې، نـو قـرآن کـریم یی مخې ته ایښی دی، ځکه خو یې توضیح اوتشریح له حافظ څخه پـه بشـپړه توګـه توپیر لري او میرزاخان ته دا وړتیا په رښتینې توګه ور په برخه کوي، لکـه چـې کرګـر وایي:" واقعاً چې هغه د دې وړتیا لري چې د هنر او تفکر شـاعر ورتـه ووایـو، نومـوړی ډېر ستر شاعر او له عالي پوهې برخمن و... " (٦: ٣٥ مخ)

د کرګر له روښان او میرزا څېړنې څخه موږ ته تر هر څه له مخه دا خبره په علمي لحاظ ښه راجوتیږي چې دی روښان څېړنو ته د خپلـو ټولـو اسـلافو لیکوالـو او ان د ده د خپلو استادانو (پوهاند مجروح) د څېړنو خلاف نېغ په نېغه د پښتو ژبې له لارې ورننوتی دی. ده خپله دغه تجربه په پښتو ژبه کې په ځانګړې او خپلواکه توګه ترسره کړې ده، په داسې حال کې چې زموږ نورو لیکوالو خپلې دغه شـان لـومړنۍ لیکنـې او تجربې له فارسي عرفانیاتو سره په رابطه کې پیل کـړې دي، کلـه چـې هلتـه فضـا وربانديې راتنګه شوې، نو بیا یې پښتو ژبې او عرفان ته ورپام شـوی دی چـې لـه بـده مرغه دې ډول هڅو بیا پـه خپـل وار پښـتوعرفاني مواریثـو تـه دویمـه درجـه اهمیـت ورکړی دی، په داسې حال کې چې خبره داسې نـه ده، پـه څـه معنـا؟ پـه دې معنـا چې زموږ یو شمېر تېرو لیکوالو او څېړونکـو چـې کلـه د تصـوف، روحانیـت او عرفـان څېړنو پر کرښه باندې ګام ایښی، دوی د فارسي ژبې د کلاسیکانو له مرستې یو مـلي متر هم وړاندې نه دي تللي، ان چې استاد مجروح هم خپلې خودي څېړنې له عطار او سنایي څخه را پیل کړې دي، خو برعکس کرګر په دغه برخه کې په خپلواکه توګه علمي میتودولوژۍ ته مراجعه کړې او د هغې د اصـولو او پرنسـیپونو پـه رڼـا کـې یـې خپل کار او هڅې د پښتو ژبې له لارې روښاني څېړنو ته وقف کړي او دغه نادر، نګـه او نوي افغاني بحث ته په خپلواکه توګـه د خپلـې ژبـې لـه لارې ورننـوتی او پـه دغـه

برخه کې یې د یوه نوي علمي تېزس ریکارډ ټینګ کړی دی چې دا کار پخوا په دغه شومه او دغه اراده زموږ په ټولنه کې تر ډېره حده ناشونی و، ځکه خو زموږ د ادب، فرهنګ او افغاني فلسفي یو ډېر مهم او روښانه اړخ د تورتم، تاریکانو، حلولیانو، تناسخیانو او نورو مفاهیمو د تیاره بربریت قرباني شوی دی.

بله دا چې دا باید په پام کې ولرو چې روښانیان د اسلامي او آسیایي عرفان او معنویت په تاریخ کې یو ځانګړي او خپلواک بحث دی، روښان پیر د دغه بحث پیلوونکي اوخپروونکی دی، جالبه دا ده چې  د ده دغه بحث له الهي ارشاده او الهامه نېغ په نېغه خپلواکه توګه راپیل کېږي، په دبستان مذاهب کې دغه ټکی په ډاګه شوی چې :"پس عالمان گفتند با میان بایزید :"مردم به کدام گفته و کرده تو اعتبار کنند؟" میان بایزید گفت :" از شما یکی در پیش آن کس که نزد شما بهترو وفاضلتر است ارادت پیشه کند و ریاضت کشد و بعده پیش من آید و بر آیین من عبادت وریاضت به جای آورد. اگرمنفعت بیشتر یابد، به من گرود" ملک میرزا نام مردی، گفت :"ای بایزید! از پرُ گویی حذر کن خلق را گمراه مخوان. هر که خواهد راه تو پوید و آن که نخواهد، به راه تونرود." میان روشن بایزید گفت:"مثالی آرم : اگر در خانه یی که جزیک راه نداشته باشد و جمعی کثیر به خواب رفته باشند و در آن خانه آتش افتد و ناگاه یک کس بیدارشود، دیگران را بیدارسازد یانه ؟" منافقان گفتند: "ای بایزید چون حق تعالی به تو امرکرده است؟ مگو نزد من جبرییل میاید و من مهدیم و خلق را کافر وگمراه مخوان " (۹: ۲۸۱مخ)

په دغه بحث کې مو تر هر څه له مخه باید دغه الهی ارشاد ته هم پام وي چې" آیا پوه او ناپوه دواړه سره یو شی دي؟») روښانیان تر هر څه له مخه معنویت ته د هغه په رښتیني معنا سره له یوې خوا ګوري او له بلې خوا اهمیت ورکوي. د کرګر په ټولو روښاني څېړنو کې همدغه اصل د څېړنیز علمي میتود او میتودولوژۍ په رڼا کې په پام کې نیولی دی او پر دې باوري شوی چې:

در مقامی که عقل و عرفان است
مردن جسم  زادن جان است
( سنایي )

د کرګر په وینا : روښاني میرزاخان د خپلو افکارو د بیان او څرګندتیا له امله خپله ژبه او ادبي ځانګړتیا لري:"میرزاخان که مبالغه نه وي، لومړنی شاعر دی چې غزل یې

تغزل لري او هم د يوې مفکورې او عقيدې د تبليغ او اظهار لپاره وسيله شوی دی، ميرزا سخت فلسفي عرفاني مسايل د غزل په فورم کې ارايه کړي. (٦: ٢٦مخ)

د عارف نظر له قافه دی تر قافه
په محيط درياب به ګډ دغه جنون کا
عجب زېب د معرفت د زړه په سترګو
چې بې مثله ننداره د دې بيچون کا
زورور له شش جهته منزه دی
د بيچون تعريف به څه رنګه چګون کا
د ليلی د سادګۍ نهايت نشته
د ښايست صفت به يې څه رنګه مجنون کا
(٦: ٢۵٩ مخ)

په دغه اړه سړی بې له شکه دې پايلې ته رسېږي چې په شرقي عرفاني بهير کې دغه طرز او سبک يو نادر او ځانګړی سبک دی چې ورته او کټ مټ بېلګې يې په ويدي، بودي او سانسکريت عرفاني آثارو کې په کټ مټ بڼه ليدای او لوستلای شو. هغه سرچينې چې روښانيان تر فارسي سرچينو د مخه له هغو سره آشنا وو، زه باور لرم چې دغه نښې نښاني فارسي ادب ته هم په غزنوي دوره او يا لږ وړاندې، وروسته رسېدلې دي، ځکه خو په فارسي عرفاني څېرو کې د غزني نامتو عارف سنايي د عارفانه او فلسفي او ادبي افکارو له امله په خپلو آثارو کې، لکه د ميرزا خان غوندې مخکښ شوی دی چې کېدای شي په دغه برخه کې د يوه پرتليز علمي تحقيق لپاره هم لاس په کارشو، ځکه چې د دغو دوو عارفو شاعرانو دغه ورته والی شته دی. دلته يې يوه بېلګه را اخلو:

جمالت کرد جانا هست ما را
جلالت کرد ماها پست ما را
دل آرا ما نگارا چون توهستی
همه چيزی که بايد هست ما را
شراب عشق روی خرمت کرد
بسان نرگس تو مست ما را

اگر روزی کف پایت ببوسم
بود برهر دو عالم  دست مارا
تمنای لبت شوریده دارد
چو مشکین زلف تو پیوست ما را
چو صیاد خرد لعل توباشد
سرزلف  تو شاید شست مارا
زمانه بند شستت کی گشاید
چو رلفین تومحکم بست مارا
(۱۱: وېبپاڼه)

زه فکر کوم چې د کرگر لپاره  بایزید روښان، میرزاخان، ارزانیان، روښانیان او روښاني مفکوره پردې هم مهمه انګیرل شوې چې دوی په خپلو آثارو او ایجادیاتو کې په یوه ځانګړې پراخ نظرۍ له عرفان او معنویت سره تماس نیولی دی. روښانیان په شرقي عرفان کې هغه عارفان او ادیبان دي چې د شرقي معنویت په پراخ بهیر کې تر فارسي او عربي او ترکي عارفانو زیات د تشدد پر ځای د تفاهم پلویان وو. د بایزید روښان او د هغه د زامنو ناچارۍ او په ډاګه آواز اوچتول د مجبوریت له مخې یوه استثنا ده چې هغه هم د ده په تعلیماتو کې ځای نه لري چې دا په خپل وار له ځان سره تاریخي او روحاني روښانه پس منظر لري، په دې شک نشته روښانیان چې په یوه داسې عرفاني تقاطع کې را وڅرکېدل چې د دوی په شاوخوا کې  د دوی تر رامنځ ته کېدو پورې د دوو لویو امپراتوریو (لودي او سوري) ډمامې لانه وي سړې شوې، سوري پراخ نظرې واکمنۍ په هند کې بهکتی او مهدوي عرفاني غورځنګونه له اسلامي تصوفي جریانونو لکه سهروردیه، چشتیه، نقشبندیه او په لسګونو نور ترځنګ راوپنځول. دا خبره کېدای شي د یو شمېر بنسټپالوافکارو په وړاندې ناروا تلقي شي،خو په واقعیت کې دا هغه اړتیاوه چې په شېرشاهي پراخ بنسټه دور کې هندوستان ته ورډالۍ شوه ، بهکتي په یوه حساب یو هندویي عرفاني غورځنګ و چې د سولې او تفاهم او نه زور زیاتي پر اصولو باندې یې د یوه سمونوال (اصلاحی) حرکت بنه درلوده. مهدویت هم اسلامي اساسات څارل چې مشر یې سیدمحمد جونپوري و. ددغه لوی عارف مزار په فراه کې د

سیدمحمد آغا په مزار باندې نامتو دی چې د هندوستان په سهیل او لویدیځ کې اوس هم زیات شمېر پلویان لري. د دغه غورځنګ آوازه په خپل وخت کې له هندوستانه تر خراسان او افغانستان پورې ولګېده. په دغه غورځنګ هم د سوري واکمنۍ په زړه کې رامنځته او د هغوی د آزاد فکرۍ تر وزر لاندې یې وده وکړه. همداسې دویم لوی مذهبي غورځنګ چې د ایجاد ویاړ یې لودیانو ته رسېږي، هغه دسیک او سیکیزم باور دی. په دغه اړه هم سړی ویلای شي چې د لودي واکمنانو برکت و چې په هندوستان کې یې د سیکیزم لپاره لاره هواره کړه. په دغه اړه د دغې خبرې یادول اړین دي چې:« نانک پنتهیان که معروف به گرو سکهانند به بُت وبُتخانه اعتقاد ندارند. نانک از بیدیان است و بیدي طایفه یی اند از کهتریان. در عهد حضرت فردوس مکانی ظهیرالدین بادشاه انارالله بُرهانه اشتهار یافت و پیش از تسلط فردوس مکانی بر افاغنه، مودی دولتخان لودی بود که از امراء سترگ ابراهیم خان فرمانفرمای هند بود، و مودی آن است که غلات به دست او باشد. درویشی بدو رسید، دل اورا تصرف کرد. لاجرم نانک به دکان او رفته از غلات خود و دولت خان آنچه در دکان وخانه داشت همه را به تاراج داد و دست از تعلق زن و فرزند بر آفشاند. دولت خان از استماع این، متحیر گشت. چون در نانک اثری از درویشی یافت، دست از آزردن او بازداشت... نانک قایل به توحید باری بود و به اموری که منطوق شرع محمدی است و به تناسخ نیز، ایمان داشت. خمر وگوشت خوک را حرام شمرده...». (۹: ۱۹۸مخ)

روښانیان او روښاني اشراق په همداسې یوه عرفانی چاپېریال کې چې د بېلابېلو مذهبونو او طریقو په منځ کې را ښکېل وو، خپل باور یې د یوې ځرګندې پراخ نظرۍ په ګاڼه باندې وپسوله او ځان ته یې دا حق ورکړ چې خپل باور ته له نورو هغو سره که څه هم مخالف وو، د تفاهم تګلاره ونیوه او دا یوائیني لاره وه چې د هند په پراخ نفوسه هندي او پیاوړي عرفاني بنسټه ټولنه کې داسلامي مقدساتو او باورونو د معقولیت او ژغورنې لپاره یواځې د تفاهم په مرسته شونتیاوې برابرېدای شوې. په هند کې هغو د ګماتستو عارفانو چې د نورو د باورونو د زغم او تحمل په وړاندې یې مقاومت او مقابله خپل شعار کوله، د هغوی په وړاندې نه واکمنانو تحمل وکړای شو او نه هم عامو خلکو، ځکه خو روښانیان په سیمه کې د یوه بېل او

ځانګړي حرکت په توګه په یوه منځلاري دریځ سره رامنځته او په خپله ځانګړې او خپلواکه آزادۍ سره پر مخ لاړل: ”په خپل وخت کې یې د ارتودوکسي- مذهبي دګماتیزم په وړاندې قدعلم کړی... “ (۴: ۱۴۱مخ)

د کرګر د اثر ((بایزید روښان اواشراقي معرفت)) سرلیک جالب سرلیک دی چې د هغه په ترڅ کې روښانیان په دقیقه توګه د اشراقي روښانتیا په ترڅ کې تشریح شوي دي. د دغه اثر په پیل کې یوه لیکنه (روښاني ختیځ) د سرې پاملرنه وراړوي. زه خپله دغه سرلیک ته چې دغې مهمې نړیوال بنسټه عرفاني موضوع ته وار د واره تحریفي بڼه ورکوي حیران شوم. زه پوهېږم چې لیکوال، لکه ما غوندې په دغه برخه کې د مطالعې اوڅېړنې اکاډمیک صلاحیت نه لري، نو خامخا به داتېروتنه ترې کېږي چې غوښتي یې دي. په مولانایي نومونه یې (بحر په کوزه) کې ځای کړی دی، خو له بده مرغه چې کوزه یې تر بحر لوړه کړې ده او یو جالب او علمي مفهوم یې په لوی لاس دومره کوچنی کړی چې د دغه اثر له محتوا سره یې خبره په ټکر کې دربدلې ده. ختیځ د اشراق فلسفي او علمي مفهوم نه شي افاده کولی او نه علمي څېړنې په دغه برخه کې داسې یوې نومونې ته د منلوحوصله لري، ځکه مهمه خبره داده چې دغه پراخ علمي اوفلسفي اصل یو یونیورسل یا نړیوال مفهوم چې که موږ وغواړو هغه ته په پښتو ژبه کې خپل نومونه ولرو، نو کېدای شي هغه د رڼایي او لمر څرک په بڼه وړاندې کړل شي؛ نه د ختیځ؟ په دغه اړه به بده نه وي چې دا ولولو: ”شق القمر کنایت باشد از ظاهر او به باطن که عقل فعال است و چون حضرت نبي علیه السلام سر کردهء قمر است، شکافتن قمر این باشد که به باطن قمر رسید. این مذهب حکماء مشائین است. اشراقیان گویند حل این رمز آن است که در اصول ایشان آمده که نور، عبارت از اصل پیدایی عالم است و هر چه در او است آن را به دو قسم نهاده اند: یکی نوری که هیچ گونه ظلمت وتاریکی جسم با او نباشد؛ دوم نوری که به تاریکی جسم ممتزج تواند شد. نور اول به کلیات وحقایق مجرده را از ماده نمودن حاصل است و نمودن ایشان از جزئیات مطلق خالی افتاده است. اما قسم دوم نور به ظلمت آمیخته شده و به هر طرف پرتو انداخته، علم او به کلیات وجزئیات محیط تواند شد...(۹: ۳۳۵مخ)

زه د اشراق او اشراقیت په اړه نه اروپا ته ځم او نه هم لرغوني روم او یونان ته، یوازې دومره وایم چې د (ختیځ) په ویې کې موږ ځنګه کولای شو، د دغه لوی علمي او نړیوال مفهوم لپاره د منښت فکر او تمایل پیدا کړو؟ او که زما په وینا مو باورنه کېږي، نو راځئ یو ځل د همدغه (روښانی ختیځ) په نړیوالو او سیمه ییزو ژبو باندې وژباړو. په فارسي، اردو، هندي، عربي، ترکي او نورو ژبو (اشراق ) منلی، نو زموږ لپاره هم اړینه ده چې په دغه اړه باید له یو څه احتیاطه کار واخلو: (شرق روشانیان ـ فارسی)، (روشانی یا روشانیه شرق ـ مشرق ـ اردو او هندي)، (روشانین (ز) ویست ـ انګریزي). د دغه لوی نړیوال علمي ـ فلسفي بحث لپاره د حیرانتیا او نه منلو وړ خبره او د کتاب له سرلیک او محتوا سره په تمامه معنا مغایره او غیرعلمي ځان ښودنه ده چې باید نه وای!

کرګر په دغه اثر کې د روښان او روښاني معرفت پر پېژندنه باندې د فلسفي او اروایي علومو او نخبه ګانو د نظریاتو په رڼا کې یو لوي او اوږد علمي بحث راپیل کړی دی او د دغه علمي بحث پایله یوې مقابله یي څېړنې ته رسېږي. خبره دا ده چې نن سبا په لویدیځ او ختیځ کې په دغه برخه کې د علمي تېزسونو لمنه ډېره زر په پراخېدو ده. زما په اند، په دغه ځانګړې برخه کې د کرګر لیکنې او څېړنې زموږ لپاره د ځانګړې یادونې وړ دي. لوېدیځوال تر اوسه پورې په ټولو شرقي مفکرینو کې په مولانا پورې نښتې دي. زه یو مهال زموږ د یوه امریکایي افغان له مېرمنې چې لوېدیځواله یهوده ده او د اسلامي افغاني فرهنګ د مسخ کېدو په اړه، لکه خاوند یې کار کوي، په ډېره بې شرمۍ راته کړه چې:"د مولانا نظریه او ایډیا تر رسالت پناه مهمه ده. زه غواړم پر دغه کرښه د تصوف او عرفان په اړه کاروکړم". ما یوازې دومره ورته وویل چې ته باید لومړی دا ثابته کړې چې مولانا د رسالت پناه او قرآن له اصولو په کومو برخو کې تېرې کړی؟

اوس له موږ سره لویه پوښتنه داده چې موږ نن سبا ولې په نړیوال ډګر کې ځان نه شو مطرح کولای، دا ځکه چې موږ تر هر څه له مخه د ځان پېژندنې احساس له لاسه ورکړی دی. کرګر د روښاني معرفت په اړه نوې خبرې لري چې هغه د همدغه احساس روزل دي، خو له بده مرغه چې موږ تر اوسه خپل معرفتي احساس د جهالت په کنډو غوړو کې زمزمه کوو او نتیجې ته نه پرې رسېږو. فارسي ژبې ته

مولانا، سنايي او عطار روح ورکړې ده، همداسې د پښتو ژبې ته دغه روح او احساس بيا په روښانيانو کې دی چې که څوک يې مني او يا نه روښانيان اوروښاني معرفت نړيوالو عرفاني مطالعاتو او څېړنو ته هغه دريڅه ده چې موږ له دغې لارې په نړيواله کچه په يوې نوې علمي اوعرفاني څېړې سره مطرح کېږو. کرگر په دغه برخه کې پر همدغه واټ مخ په وړاندې تللی دی:"د کارل گوستاويونگ د نظرياتو له مخې په سختو اوکړکېچنو حالاتو کې چې جسماني او روحاني ځواکونه مبارزې ته رابلل او د آگاهانه تفکر کولو مهال او موقع نه وي. «حکيم يا پير يا د برخې خاوند» چې هماغه د اخلاقو او جسماني ځواکونو متمرکزه او هدف لرونکې مفکوره ده،له ناخبري شعور څخه سر راپورته کوي او فرد ته لارښوونه کوي ... له دې شننې نه پس غواړو، د بايزيد روښان د لومړي پړاو نفسي خبرتيا يا د هغه خوب ته ځير شو، هغه وايې: ما په اربعين کې (د۲مې چلې پر مهال) يوه شپه خوب وليد او په هغه کې تللم، ومې ليده چې يو سړی ناست و، هغه سړي وويل: له مانه ولې بېنوا تېرېږې؟ بيا زه ودرېدم هغه ته مې وويل چې ته څوک يې؟ هغه وويل چې زه مهتر خضر... » (۴: ۳۷مخ)

خو کرگر په دغه اړه خپلې څېړنې ته د دغه رواني اوسايکولوژيک اصل په اړه دوام ورکوي او ليکي چې: "سره له دې چې خوبونه يو ډول قطعات دي، په دې معنا چې مکمله او بشپړه منظمه افسانه يا داستان نه لري، خو د بايزيد له دې خوب نه داسې بريښې چې دا په تمامه معنا خوب نه، بلکې د خوب او بيدارۍ ترمنځ يو حالت دی چې هغه په کې خپل مراد او مقصود ته رسېږي. په همدې لړ کې هغه د خپل ليد او باور له مخې يې باورونه پخېږي، د شک او وسواس ريښې يې له ذهن او مغز نه لرې کېږي او فيضان ته رسېږي، بايزيد وايي: "ومې ليدل چې د هغه ښار خلک ډلې ډلې راځي او د هغه هوښيار مهتر خضر پښې نيسي- او وايي چې شکر الحمدالله چې دغو کسانو له مهتر خضر سره ملاقات وکړ او خلکو نه پرېښود چې زه ژر هغه کور ته بوځم ،بيا په يوه ځاي کې هغه له خلکو سره کېناست او په هغه ښار کې يوه چينه وه، د هغې چينې نوم حيات و. ومې ليده چې دوه پرښتې د وينځو په ډول له هغې چينې څخه د حيات اوبه راوړي او هغه خلک چې له هغه سره ناست وو، تږي وو. مهتر خضر صلواة الله عليه هغه اوبه خلکو ته ورکولې او ماته يې هم راکړې، خو زما تنده ماته نه شوه. خلک ډېر زيات وو، اوبه هم خلاصې شوې. ځينو

تــه ونــه رسـېدې ... دغـو دوو پرښـتو چـې اوبـه وړلـې، د مخکنـۍ پرښـتې اوبـه يـې واخيستې او زه يې دخلکو له منځه وغوښتلم، جام يې په لاس کې نيولی او ماته يـې راکړ. ما له دې امله ډېرې اوبه وڅښلې، کله چې مې د جام سرخلاص کړ، ويې ويل: ما دومره اوبو ته اړه نه درلوده. څرنګه چې په خپـل لاس يـې راکـولې، نـو د دې بـاور لپـاره مـې وڅښـلې چـې مـوړ شـوم، نـو بيـا مهـتر خضرـ شـکر وويسـت، ويـې ويـل:« الحمدالله رب العالمين» چې زما په لاس د حيات په اوبـو مـوړ شـوې، بيـا لـه خوبـه ويښ شوم، اسويلی مې وکيښ، ومې ويل: کاشکې! چې ويښ شوی نه وای... » (۴: ۴۱مخ)

زه په دغه برخه کې د کرګر دقت ستايم، ځکه ده دغې موضوع ته کـه څـه هـم د لوېديځو ايډيالونو او عصري رواني څېړنو له ليده کتلي دي، خـو بايـد ووايـم چـې پـه دغه خوب کې د خضرتصوير، سره له دې چې په روښاني معرفت کې روښـاني بـاوري بنه لري، خو تر زياتې انـدازې يـې ورتـه والـی د ويـدانتيانو، بکتهيـانو او مهـديانو لـه باورونواو ايډيالونو سره هم شته. په هر ډول اوس خبره دا ده چې په روښـاني معرفـت کې د بايزيد روښان ونډه او برخه په دغه اثر کې په بېلابېلـو څپرکـو او برخـو کـې پـه دقيقه توګه د محسوساتو د ځانګړتياوو پـه پـام کـې نيولـو سره تشـريح شـوې ده، دا ځکه چې په عرفان کې محسوسات تر معقولاتو مهم او په لومړي قدم کې د پـاملرنې وړ وي. د معقولاتو په برخه کې د بېلابېلـو علومـو لـه تـړاو او اغېـز څخـه کاراخيسـتل کېدای شي، خو محسوسات بيا ځانګړې څېړنې او مطالعې ته اړتيا لري چـې هغـه د اوسني رواني او سايکولوژيکو علومو په مرسته تر يوې پايلې پورې رسولای شـو. اکـبر کرګر د روښان پېژندنې او روښان څېړنې تحقيـق تـه پـه خپـل دغـه ابتکـار سره دغـه نوي علمي لاره ور پرانيستې ده. (۴)

کرګر د همدغې تګلارې او ميتودولوژۍ پـه رڼـا کـې پـه ادبي آثـارو بانـدې دکـره کتنې په موخه هم مخ په وړاندې تللی او پـه دغـه تـرخ کـې يـې د نـامتو شـاعر مـلا عطايي د وخت ضرب هم تحليل کړی دی. ملاعطايي د افغانستان د ويښو افکـارو او ايجادګريو د طغيان او ميلان مخکښ شاعر دی چې له شاعرانه سرکښ طبعيت سره يې موړ تړول آشنا يو، عطايی ملا د ډول او سرنې شاعر، مداح او مقلد نه دی، لکـه چـې د مخه مو ياده کړه، د محسوساتو پر طغياني نيلي د معقولاتو پـه تـوده او لانجمنـه مـادي او حرصي نړۍ کې ځان د شعر معراج ته رسوي. کرګر دی د بيا ځلي يا دويمې مونـدنې پـه

مقدمه کې مومي او محسوسوي يې او تر هر څه د مخه د خپلو لويو ستونزو ترڅنګ دا هم ورته وايي :"له مانه ډېر شعرونه ورک او يا چا غلاکړل.» (۵: ١٦مخ)

زه د پښتو معاصر ادب او کره کتنې مدرس يم، يو مهال مې له عطايي څخه پوښتنه وکړه چې د ده په باره کې يو څه راته ووايي، هغه زما له پوښتنې سره سم راته کړه چې: که غواړې د هغه په باره له ما معلومات واخلې، نو بالا زما ځواب دا دی چې هغه نور زموږ سره په دغه دنيا کې ژوند نه کوي او نه زه د هغه د دې نوې دنيا په باره کې څه ويلای شم، هغه اوس په بله کې دی؟ ستا يې خوښه که پسې ورسېدې ماته دې خپل راز ووايه... ». زه د خپل خواخوږي مشر عطايي همهغې خبرې تر اوسه هم نيولی يم چې ګواکې د عطايی ملا دنيا زموږ له هغې سره توپير لري، هغه چې څه محسوسوي کېدای شي، زموږ په ساينټفيکو معقولاتو کې په آساني سره تعبير نه شي. په دغه اړه کرګر بيا خپله هڅه کړې، ځکه يې دغه لوی شاعر عطايي ملا د خپل کلام تر ټولنيزو، ښکلاييزو ځانګړنو ورهخوا په يوه نوي احساس کې زموږ په وړاندې په يوه نوي تحليل کې راسپړلی دی: "موږ که عطايي ملا د يوې شېبې لپاره لومړنی بشر فرض کړو چې له خپل ګران او پلرني ټاټوبي لرې شوی دی، نو هم دې انديښنو هغه هم عرفان او اشراق ته ور برابر کړی او يا هم يې دغه ياس او حرمان او قلندري دنيا لري. خو د خپلو کوڅو او مالتو شور ماشور نه هېروي او که لږ نور هم زيات ځير شو، نو پوهېدای شو چې د شاعر د فکرونو او خيالونو سيلاب له دې درو او ورشوګانو جاري کېږي او په کنډو کمرو او ملکونو لاره کوي او دفکرونو يو لوی سمندر ته غېږ ورکوي:

د مينوشو کال آباد شو، د شرابو ارزاني ده
عقل بند پر بند ماتېږي، د بد مست جنون خاني ده
توبې مړه لور دې پيدا سه، زهده! غبرګ ځامن دې ومره
هلته وار د پيالې تېرسو، دلته پاته لا ځواني ده
په دوزخ دبېلتانه کې، ما ستا رنګ ساتي په زړه کې
ګله! وينه دې ترخه سوه، د زقومو آبياري ده
کله مست موج د خندا سي،کله غم په غم زنګېږي
د حالاتو جبر نه دی، د ژوند خټه شرابي ده

توره شپه د بیلتانه ده، تور د مینې توره تبه
ستا د سترگو د یاد بزم، د تورانو مهماني ده
مقدس جنونه پام کړه ،لاس دې ساته له گرېوانه
مینه پټه په پرده کې، درنه پېغله سارايي ده
د آدم د گناه بیه، د فردوس د باغ گلونه
ملایانو ځان خبرکړئ، دا خبره کتابي ده
(۵: ۵۹مخ)

په هر صورت، زه د دغه شعر تر لیکلو وروسته په دې فکر کې شوم چې د ملا دغه شعر خو یو شمېر داسې نومونه او انځورونه، لکه: جنون، بد مست، شرابي، موج، ملا، آدم، فردوس، جبر، عقل، مینوش، توبه، دریاب، پیمانه او نور لري چې ما د یو شمېر شاعرانو چې تر ملا راوروسته شاعران شوي، په کټ مټ وزن، شور او شرنگ سره لوستي دي... خو اجر یې له زیاتو راسپړنو پرته عطايي ملاته غواړم ...

د ملا د وخت ضرب نو،ډېر اړخونه لري چې د هغو تحلیل د همدغه اثر په ترخ کې په هر اړخیزه توگه شوی دی، خو زه فکر کوم چې د ملا ستونزه په درېیو اړخو کې، لکه چې کرگر هم اشاره ورته کړې برالا شوې. ملا او ټولنه، ملا او د هغه محسوسات او په پای کې ملا او د هغه د کلام غل؟ په دغه اثر کې، ملا او ټولنه، ملا او د هغه باورونه په علمي میتودولوژۍ سره تحلیل شوي او یوه عمومي پایله هم ترې راوتلې ده، خو د ملا د درېیم اړخ خبره چې هغه د ده د کلام غله یا غل ده، نه ده په ډاگه شوې، زه فکر کوم چې د ملا د شعر د غلا مسئله هم باید د یوې ادعا په توگه کره کتونکي، په تېره هغوی چې په دغه برخه کې کار کوي راوسپړي چې ډېره گرانه خبره نه ده او غل یې هم په خپله ټوله سپین سترگۍ سره د شعر کره کتونکي په ډېره اسانۍ سره پېژندلای شي. زه پر دې باوري یم چې ملا رښتیا وایي. د هغه ډېر شعرونه غلا شوي او شته ښاغلي چې د ملا له برکته یې ځان د شعر معراج ته رسولی دی... خو ملا سبک لري او ملا په دغه سبک کې له لومړنیو درېیوځخه دی چې هغه (لایق، فاراني او سهیک عطایي یا خپله ملا) دی. دوی زموږ په اوسني معاصر نوي شعر کې خپل ځانگړی ځای لري، ما په ویکیپیډیا کې د عطایي یو پخوانی غزل ولید او رانقل مې کړ په گډه به یې ولولو چې وايي:

غزل

ساقي واخله پياله واخله، نور دې خم راندرانه کړه

زما تنده د عمرونو، يو درياب را پيـــمانه کړه

د مکار زاهد پر قبر، بدمستان سره ټول سوي

انتقام له ژونده اخلي، هديره يې ميخانه کړه

د گمراه عقل زنځير مې، د گلرخ په پښو کې توی کړ

د پايزېب له هره شرنگه، جوړه مسته ترانه کړه

د خزان زخمي بلبله، پسرلی دې مبارک سه

د سرو گلو په بسترکې، هېره تېره افسانه کړه

آيا موږ د دغه ښکلي شعر ډېره بده او ناشولته مسخه شوې بڼه هره ورځ نه اورو ... ساقي ... ؟؟؟

**پايله**

زه د دغو ويليو او ناويليو په پايله کې کرگر ته په دغه لاره کې د لا علمي بريو هيلـه کوم. روښانيان د افغاني ـ پښـتني علمـي اوسـاينټفيک هويـت ځرگنـدوی او بولنـدوی سـتوري دي. دوی د لمـر ځـرک او رڼـايی اسـتازي دي، نـو د دوی پـه بـاره کـې ژورو عرفاني څېړنو ته اړتيا ده چې له بده مرغه له کرگـره پرتـه دغـه لـوی مسـئوليت تـه لـږو کسانو اوږې ورکړې دي او تر اوسه په دغه برخه کې مـوږ پـه آزاد فکـر او آزادې روحيـې سره نه کارکړی، نه مو پېژندلي او نه مو نورو ته ورپېژندلي دي. زه باور لرم چې کـه مـوږ دا کار ترسره کړ، نو لرې نه ده چې نړيوال پوهان او دعلم لېوال به په دغه اباسـين کـې د ژوند، ژواک، تفاهم او انسانيت هغه مرغلرې ومومي، کومـو تـه چـې بشـري روښـانه شعور د خپلې راتلونکې په ترخ کې د تورتم او بربريت په وړاندې اړتيا ولري.

## مأخذونه

۱. قرانکریم، سورة الاحزاب، ۷۲ آیت.

۲. حسین الحق. تفهیم تصوف، روشان پرنټرز: دهلي، ۲۰۱۵ز کال.

۳. رشید، عبدالخالق. د پښتو ژبې یو لړ عرفاني سرچینې( ناچا پ).

۴. کرگر، محمد اکبر. د بایزید روښان اشراقي معرفت، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۹۸ل کال.

۵. کرگر، محمد اکبر. د وخت ضرب که د ژوند کرب، پښتانه مترقي لیکوال: کویته، ۲۰۱۹ز کال.

٦. کرگر، محمد اکبر. د میرزا خان انصاري فلسفي ـ عرفاني نړۍ لید، د افغانستان علومو اکاډمي: کابل ۲۰۱۷ز کال.

۷. کرگر، محمد اکبر. په حالنامه کې د روښان عرفاني فلسفه، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۹۹۱ز کال.

۸. کرمانی، سید محمد بن مبارک، سیرالاولیاء، په اردو ژبه، ادبی دنیا، دهلي، ۱۹۹۹ز کال.

۹. کیخسرو. دبستان مذاهب (لومړی ټوک)، تهران، ۱۳٦۲ل کال.

۱۰. الهدیه، ابن شیخ عبدالرحیم. سیرالاقطاب، تذکره خواجگان چشت، دهلي، ۲۰۰۴ز کال.

۱۱. (https://ganjoor.net/sanaee/divans/ghazal-sanaee/sh32/)

پوهنمل سبحان الله شهاب

# د سید محمد طاهر بینا ژوند او ادبي هڅې

# The Life and Laterary works of Sayed Mohammad Tahir Bena

**Subhanullah Shahab**

## Abstract

When we are doing some research about some poets and writers, during research we find a lot about the literary works of the writer, To write something about them pave path for other researchers for doing research, in order to aware literary students and reader about their literary and academic works in upcoming.

Hence, considering these values I took a short glance to the life and literary works of Sayed Mohammad Tahir Bena, still now no research article is written about bena's literary works, and I could not see in the publication form any short and comprehensive information about him, in this article, I discuss about the life style of Sayed Mohammad Tahir Bena, his education, Pashto poetry, literary and artistic works, in addition to these, there is discussion of his poetical contest, folklore works and other aspect.

## لنډیز

کله چې موږ د ځینو لیکوالانو او شاعرانو په اړه ځینې څېړنې کوو، د څېړنې پر مهال د لیکوال د ادبي هڅو په اړه ډېر څه لاس ته راځي، د دوی په اړوند څه لیکل نورو څېړونکو ته د څېړنې لار هواروي چې په راتلونکي کې د دوی د ادبي او علمي لیکنو څخه د ادب مینه وال او لوستونکي با خبره وي.

همدې ارزښتونو ته په کتو سره مې د سید محمد طاهر بینا ژوند او ادبي هڅو ته لنډه کتنه کړې. د بینا د ادبي هڅو په برخه کې لا تر اوسه پورې داسې کومه څېړنیزه مقاله نه ده لیکل شوې او نه مې داسې څه په سترګو راغلي چې د ده په اړه یې غوڅ او لنډ ،خو هر اړخیز معلومات په چاپي شکل سره خپاره کړي وي. په دې مقاله کې به د سید محمد طاهر بینا د ژوند، زده کړو، پښتو شاعري، ادبي او هنري آثارو تر څنګ، د هغه پر کسبونو، مشاعرو، فولکلوري آثارو او نورو اړخونو باندې هم خبرې وشي.

## سریزه

د مخکښو لیکوالو او شاعرانو په ژوند، پېژندنې او د هغوی په لیکلو آثارو باندې څېړنه په دې لازمي ده چې راتلونکي نسلونه په دې وپوهېږي چې له موږ څخه مخکې، پښتو ادب یو شمېر زیارکښو ادیبانو او شاعرانو پاللی او موږ ته یې ډېر څه په میراث پرې ایښي دي.

کله چې اوسني او راتلونکي ادیبان او شاعران د مخکینیو ادیبانو او شاعرانو څخه باخبره وي، نو دوی دېته هڅېږي چې خپلو ادبي او فرهنګي چارو ته ډېره پاملرنه وکړي او خپلوو راتلونکو نسلونو ته ډېر څه په میراث پرېږدي.

د داسې څېړنو بله ګټه به دا وي چې د مشرانو لیکوالانو یاد او د هغوی آثار به تلپاتي وي او د دوی د لیکنو څخه به راتلونکي نسلونه په خپل علمي بهیر کې ګټه پورته کوي او دوی ته به هم دا جرئت حاصل وي چې له موږ څخه وروسته لیکوال به هم زموږ له لیکنو استفاده کوي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې هره ټولنه علمي او فرهنګي شخصیتونه لري، د دې شخصیتونو یاد به تلپاتی وي او موږ ته دا جوتېږي چې پښتو

ژبه، د نـن څخـه مخکـې هـم پیـاوړي لیکـوالان او شـاعران لـري چـې پښـتو ادب او فرهنگ ته یې ډېر څه په میراث پرېښي دي، پښتو ژبه یې غني کړې ده چې د دوی له ډلې څخه زه په دې مقاله کې په سید محمد طاهر بینا غږېږم.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې د سید محمد طـاهر بینـا ژونـد، زده کـړه، آثـارو او شاعرۍ په ښلابېلو اړخونو رڼا واچوو ، تر څو زموږ راتلونکي ادیبان او شاعران پـه دې وپوهېږي چې بینا پښتو ادب ته ډېر څه په میراث پرېښي دي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. سید محمد طاهر بینا څوک و؟

۲. زده کړې یې څنگه ترکنۍ شوې؟

۳. په ولسي ادبیاتو کې یې څه کړي؟

۴. په پښتو کې یې کوم کتابونه چاپ شوي؟

## د څېړنې میتود

په دې مقاله کې تر ډېره حده ، له تشریحي او توضیحي میتود څخه گټه پورته شوې ده.

## اصلي متن

سید محمد طاهر بینا د سید اشرف زوی د سید محمد حسین لمسی د ننگرهـار په ولسـي شاعرانو کې د پوره شهرت خاوند دی. ده په هغه یادښت کې چې اوسـني لیکوال کې یې دسوانحو په باره کې راوړل شوی، ځان داسې ښودلی دی:

''دعمر صحیح معیار مې معلوم نه دی، خو نـژدې څلوېښـت کلـن بـه یـم، د پـلار نوم مي سیداشرف دی، په ننگرهار کې د چپرهار د باندې یم، د تحصیل کار مې پـه ۱۳۱۳/۲/۱۱ کلونو کې ښه و، له مولانا رکازالدین نه مې د سلوک کتابونـه لوسـتي دي، په دینیاتو کې مې هم د خپل ضرورت په اندازه تحصیل کړی دی، ولـې خپلـې غریبۍ سرگردانه کړم، ونـه توانېـدم چـې د علومـو د تحصـیل نـه مـې پـه پـوره انـدازه استفاده کړې وای". (۱)

د زېږېدلو نېټه دقیقه نه ده معلومه .بینا په خپل یـو اثـر (( زه او زمـا ژونـد )) کـې خپله د زېږېدو نېټه ((۱۲۹۷ )) هجري لمریز کـال ښـیي، خـو بیـا پـه خپـل یـو بـل

ناچاپ اثر ((بنې)) کې په ۱۳۴۸هـ ش کال کې یو غزل لیکلی دی چې عنوان یې مرگ دی، د یاد غزل په څلورم بیت کې خپل عمر نهه څلوېښت (۴۹)کلن ښيي، که له ۱۳۴۸ کال څخه نهه څلوېښت منفي کړو، نو داسې معلومیږي چې د بینا د زیږیدلو نېټه (۱۲۹۹) هـ ش کال ده. ( ۲ )

بیا لعل پاچا ازمون د بینا د کلیات لومړي ټوک، شپږم مخ کې د زیږیدلو نېټه ۱۲۹۵ هـ ش کال ښودلې ده. ( ۳)

بینا د چپرهار د بانډې د میرانو په متدینه او روحاني کورنۍ کې چې بټې کوټې اخوند موسی صاحب ته نسبت لري زیږیدلی دی.

بینا د ۱۳٦۵هـ ش کال د میزان په ۳۰ مه د چهار شنبې په ورځ د اویا کالو په عمر د توري دېرسوب ناروغۍ له امله په کابل کې مړ او د کابل ښار د شهیدانو تپې په جنوب ختیځه برخه کې دسید نور محمد شاه مېنې په هدیره کې خاورو ته سپارل شوی دی.

د بینا پلار د بانډې د نورو میرانو په شان زمیندار، شتمن او د ډېر ښه اثر رسوخ خاوند و. مگر د جایداد او زمینداری پروا یې نه ده ساتلې، یواځې دوستان یې خوشحاله ساتلي او هر څه یې د سره ځار او خپلې کورنۍ ته یې یواځې نیستي او بیچارگي په میراث پرېښي ده او بس.

د پلار تر مړ ینې وروسته سید محمد طاهر بینا چې د مور او پلار هم دا یو زوی و، له خپلو خویندو سره یو ځای په چپرهار کې د غربت او بېچاره گۍ ژوند ته دوام ورکړ.

بینا په خپل کلي کې له مولانا رکاز الدین نه چې په فارسي ادبیاتو کې یو تکړه لیکوال او ادیب و او یو شمېر نورو استادانو څخه د دیني علومو، عربي او د فارسي لیک او لوست زده کړي وو، د لیک لوست ترڅنگ یې دژوند د اړتیاوو د پوره کېدو په موخه ډریوري، خیاطي او عکاسي هم زده کړې وه چې د ژوند ډېر مشکلات یې د همدې لارې پوره کول او د ژوند چاره یې پري چلوله، بینا د زده کړو او کسبونو تر څنگ ،د بزگرۍ او باغوانۍ په ټولو چارو کې ښه ماهر او فعال سړی و.

په اوسني لیکوال کې د بینا د تحصیل په اړه د هغه د خولې خبره داسې راغلې: " د تحصیل سلسله مې نه ده قطع شوې، په مسلسل صورت د کتابونو مطالعه کوم، تر یوې اندازې پوري تحصیل مې پخپله استاذی کړی او لا پسې یې

لولم، غیر له دې نه دریوري مې په قطغن کې یاده کړېده، په خیاطۍ کې کمیس، پرتوگ او واسکټ گنډلی شم.

په موسیقۍ کې مې رباب، طبله او باجه کې لاس چلېږي، له ځینو مشهورو مقامونو سره، لکه :جوگ، بیرمي، بیاگ، گستوري او پاړي کې معرفت لرم.

زمکه نه لرم، د دهکانۍ په کارونو پوهېږم، قولبه، غابښور او ماله کولی شم، بېل او تبر وهلی شم، خښتې لگولی شم او خپل کور مې په خپل لاس ودان کړی دی. په عکاسۍ کې مهارت لرم، په ۱۳۳۹ او ۱۳۴۰ کلونو کې دوه ځله دننگرهار نشراتي مؤسسې له خوا د مطبوعاتو د مستقل ریاست د عکاسۍ مدیریت ته واستولی شوم، د ښاغلي حاجي امیري او ښاغلي اصفي په لارښوونه مې عکاسي یاده کړه، رسمي سند مې حاصل کړی او عملاً کار کوم. " ( ۴ )

سید محمد طاهر بینا له دې ټولو سره سره چې په ډېرو کسبونو کې یې لاس درلوده، خو بیا هم د غریبۍ وربانډې ختمه وه، یوه تنخوا یې بلې تنخوا ته نه رسېده، د قرض او پور وربانډې هر وخت باران و، د ژوند تر پایه هېڅ د قرض له غمه نه دی خلاص شوی، لکه چې وایې:

دا زما موجودیت زما هستي ده
نوره نه لرم هستي په زمانه کې
تعقل او تفکر او تخیل مـــــې
متفق دي ټول زما په دې صحنه کې
نور مې مه لټوه هېڅ راسره نشته
د شاعر دفتر لرم غریب خانه کې ( ۵ )

خو ادبي غنایې دومره زیاته او خوږه ده چې دیارانو محفلونه او بنډارونه، د ده په شعر او شاعرۍ تاوده او خواږه دي:

گلان غواړم د اغزو نه مې توبه شه
د غلط عمل ارزو نه مې توبه شه
د بشر په کرامت چې مسخرې کړي
د اسې سر د اسې مغزو نه مې توبه شه
چـــې د شوم غرض په هڅه حرکت کړي

د حيلو، چلو، سازو نه مې توبه شه
زمانې د حقيقت درسونه راوړل
د باطلو رموزو نــــه مې توبه شه
"بينا" سترگې پټول په اور ختل دي
د بې نازو د نازو نه مې توبه شه ( ٦ )

د بينا زياتره اشعار له سندر غاړو سره د او د اشعارو تر څنگ يې زياتره نثري ليکنې په جرايدو کې خپرې شوې دي.

د اشعارو په ابتدايي مرحلو کې يې خپل نوم ( سيد طاهر ) او د وخت په تېرېدو سره يې خپل لومړنی تخلص (بليد) استعمالاوه.

سر محقق عبدالله بختانی وايي: په ١٣٢٨ هـ ش کال کې يې، زما او د ښاغلي موسی شفيق په غوښتنه او مشوره د پخواني تخلص ( بليد ) پر ځای اوسنی تخلص (بينا) غوره کړ. ( ٧ )

استاد بختانی له بليد نه د بينا پر نوم اوښتو يوه لنډه کيسه کوي چې استاد لعل پاچا ازمون د بينا د کليات په ٢٦ مخ کې داسې تحرير کړې ده :

"... د هاړ موسم کې د روژې مياشت وه، زه، محمد موسی شفيق او زمونږ بليد ملگری د خوگيانيو د (بهار) په کلي کې، د ملک ميراجان مېلمانه وو. کوربه د خپلې ديرې سره، د ژرندې په سر مونږ ته ځای جوړ کړی. ژرنده پرچاوه، وه او هلته ښه هوا چلېدله او د ماشو لښکر رنگړی و. د تراويحو نه وروسته، کوربه کورته ولاړ چې ويده شي. مونږ درې واړه ويښ زلميان تر پشلمي پورې ويښ ناست وو. زمونږ د دوستانه گپ شپ مهمه موضوع زمونږ د ملگري د تخلص خبره وه.

ما او شفيق غوښتل چې د ده تخلص بدل شي او دلايل مو ويل، هغه زمونږ غوښتنه نه منله او خپل دلايل يې وړاندې کول. اخر کله چې د مېلمه له کوره د پشلمي د ډوډۍ دسترخوان وغوړول شو. ما وويل: انډېواله! بحث ډېر وشو، دلايل ډېر وويل شول، ببخي سترې شوو، د دې دلايلو په ويلو سره په دې اخره کې له تا نه دا خواهش کوو چې سر د اوس نه دا د (بليد) تخلص پرېږدې.

شفيق ورته وويل: که ته يې پرې نه ږدې هم، مونږ درته (بليد) نه وايو.

چې ډوډۍ پای ته رسېدله، هغه په خندا وويل:

زه خو (بلید) یم، مگر تاسې دواړه خواړه دوستان خپه کولی نه شم، نـوی تخلـص هم تاسې راته وټاکئ.

زمونږ د لنډ وخت د لنډې مرکې لنډيز:

شفیق: عاقل ....، بینا نه، ځان عاقل نه گڼم زه بلید یم

ما: هوښیار .....، بینا نه، زه چېرته هوښیار یم؟ زه بلید یم.

شفیق: زیرک .....، بینا او هو، زه چېرته او زیرکي چېرته؟ زه بلید یم.

له غوسې نه زما په زړه کې گرځېده چې (مجنون یا لیـونی) ووایـم، خـو وپوهېـدم چې هغه ضد کوي له بارانه به پاڅي او ناوې ته به کښېني او همدا به ومني ....

نو ومې ویل: دا نومونه چې مونږ یاد کړل ،ښې مثبتې معناوې افاده کـوي، مگـر یـو ډول رسمي، علمي غوندې بڼه لري . زه به تخلص وړاندې کوم چې هم یې معنـا مثبتـه وي، هـم د ( بلید او بلادت ) نه بېخي لیرې وي او هم شاعرانه او عاطفي مفهوم ولري: ((بینا)).

بینا پخپله غلی پاتې شو او شفیق چک چکې وکړې او وی ویل: مبارک مبارک.

په دې اساس ښاغلی سید محمد طاهر د بلید څخه بینا شـو، او د ژونـد تـر پایـه پورې همدا د بینا تخلص باقي پاتي و. ( ۸ )

## د سید محمد طا هر بینا دندې

سید محمد طاهر بینا په ۱۳۱۹هـ ش کال د څلـورم کاتـب پـه وړه رتبـه د کـتغن ولایت د فواید عامي په مدیریت کې په رسمي دنده  په کـار پیـل وکـړ. د دوه کالـه او څو میاشتو وظیفې وروسته، په ۱۳۲۱هـ ش کال د همدې ولایت په مسـتوفیت کـې د اداري مامور په توگه په دنده وگمارل شو. بیا هـم د دوه کالـه دنـدې د اجـرا څخـه وروسته، په ۱۳۲۳هـ ش کال بیا هم د همدې ولایت د مالیاتو د عوایدو په اداره کـې د لومړي کاتب (لسمه رتبه مامور) په توگه مقرر شو.

په همدې کلونو کې به یې د یاد ولایت د (اتحاد جرېدې) ته شـعرونه ورکـول. کلـه بـه چې په ولایت کې رسمي غونډې دایریدې او منسوبینو به پکې تقریرونه کول، نـو ښـاغلي بینا بـه ورکـې شـعرونه ویـل. کلـه بـه چـې دې شـعر وویلـې، د دري ژبې شـاعر مسـتوفي نورمحمد کلوخ چې د سره رود قلع جمعـدار اوسـېدونکی و، پـه ختـه پښـتون یوسـفزی و، خو په دري ژبه یې شعرونه ویل، ډېرخوند ورکاوه، نو د کلوخ سره یې دوسـتي ټینگـه شـوه او د ښاغلي کلوخ له خوا یې پوښتنه، پالنه، تشویق، او حمایه کېده.

په ۱۳۲۷هـ ش کال کې د کونړونـو د لـوی حکومـت پـنځم سرکاتـب نهمـه رتبـه مامور مقرر شوه. په ۱۳۲۸هـ ش کال کـې د ننګرهـار پـه اداري مـديريت کـې دنـده واخېسته. په ۱۳۳۲هـ ش کال کې د قلم مخصوص سرکاتب مقرر شو. پـه ۱۳۳۷هـ ش کال، د مرحوم ملنګ جان تر مړينې وروسته، د هغه پر ځای د افغانستان راډيو د پښتو موسيقۍ د منتظم په توګه وټاکل شو. د يو کال څخه وروسته د راډيو په موافقه ننګرهار ته ولاړ او د هغه ولايت د تجارت په اطاق کې پـه اداري کـار بوخـت شـو. پـه ۱۳۳۹هـ ش کال کې د ننګرهـار پـه نشـراتي مؤسسـه کـې د ننګرهـار ادبي مجلـې ((ننګرهار)) مسلکي غړی شو. د څه وخـت وظيفـې د اجـراء څخـه وروسـته د اړونـده اداري د پرېکړې پر اساس د هغې ځايـه ايسـته کـړی شـو. د دويـم ځـل لپـاره يـې د تجارت په اطاق کې دنده پيل کړه، څه موده يې وظيفه اجراء کړه، د وخت په تېرېـدو او د شرايطو په پام کې نيولو سره يې دا دنده هم پرېښوده، او د ننګرهار اړوند يې پـه نورو کوچنيو دفاترو کې پـه وړو رتبـو کـار کـاوه، دا چـې د سـيد محمـد طـاهر د کـور مصارف زيات وو، او په دولتي وظايفو کې يـې تنخـوا کمـه وه، نـو د کـور ضرروتونـه او غوښتنې يې د خياطۍ له لارې پوره کولې.

محمد طاهر بينا د هېواد په ډېرو ولايتونو کې په بېلابېلو ادرو کې وظيفې اجـرا کـړې، نو دقانون او مقررې سره سم په همدې وخـت کـې تقاعـد ورکـړل شـو. د تقاعـد اخسـتلو څخه وروسته بيا په ننګرهار کې د دولتي مامورينو د پښتو کورسونو معلم شو. ( ۹ )

## د سيد محمد طاهر بينا آثار

سيد محمد طاهر بينا له ( پنځلسو ) زيات د نظم او نثر په برخه کـې آثـار لـيکلي دي چې د هغې جملې څخه يې ځينې آثار د وخت او زمان نـا کراريـو او توپـانونو لـه منځه وړي دي، خو بيا هم د دغو ورک شوو آثارو د شعرونو او نثرونو ځينې برخـې پـه مجلو، ورځپاڼو او کېښتونو کې خوندي پاتې شـوي دي. کـوم آثـار يـې چـې لاس تـه راغلي د هغو آثارو لنډه يادونه ضروري بولم . د نېکه مرغه د دې شاعر څلور آثار چاپ شوي او نور ناچاپ دي.

۱ ــ د بينا کليات (( خولې نه مې قسم ختلی دی )) د دې د شعرونو زياتـه برخـه خوندي شوې ده. په دې کليات کې د نظم بېلا بېل ژانرونـه، لکـه: قصـيدې، غزلـې، رباعيات، چاربيتې چې د دغو ژانرونو موضوع ګانې: عشقي، حماسي، بزمي، رزمـي،

او ټولنیزې دي، راټولې شوې دي. کلیات یې په ۱۳۹۱ لمریز کال د استاد لعل پاچا ازمون په زیار په دوه ټوکونو کې په ۱۱۹۳ صفحو کې د چاپ په ګاڼه سمبال شوی دی. د بینا د نظم په برخه کې همدا یو اثر چاپ شوی دی.د نظم منځپانګه یې ټولنیزې ناخوالې، سوله، یووالی، خو زیاتره د مینې او محبت پیغام جوړوي ، د خپلې زمانې خبرې او پیغام په موزونه، ساده او روانه ژبه قام ته سپاري.

## د ښاغلي بینا نثري آثار

بینا په نظم کې مهمو موضوعاتو ته پاملرنه کړې ده، خو نثر یې هم د هغې څخه کم نه دی او خپلې پښتنې ټولنې ته یې هغه څه په میراث پرېښي چې په تحریري ادب کې ځانګړې ارزښت لري او په لاندې ډول دي:

۱ ـ (( زه او زما ژوند )) دا یې لومړی چاپ شوی اثر دی. په دې اثر کې د بینا د ژوند ټول حال او احوال لیکل شوی، یعنې: د زېږېدلو نېټه او ځای، د نسب شجره، د ژوند خاطرات، د ندې او وظیفې، د ژوند تېرولو طریقې، او یو تعداد نورې کیسې پکې هم شته. دا اثر اروابښاد بینا په پوره ۱۳۰۰ لمریز کال په ۱۱۳ مخونو کې لیکلی چې د استاد لعل پاچا ازمون په زیار په ۱۳۹۱ لمریزکال په (۱۵۷) مخونو کې چاپ شوی دی. ( ۱۰ )

۲ ـ (( کرکیله )) بینا د غه اثر په ۱۳۳۳هـ ش کال په ۴۱ مخونو کې لیکلی دی. د دې اثر محتوا په عمومې توګه د زمینداری او بزګرۍ هغه ټول لوازم او سامان الات چې د بزګرۍ په چارو کې ترې ګټه پورته کېږي، په پوره وضاحت تشریح کړي دي. دا اثر هم د استاد لعل پاچا ازمون په زیار په ۱۳۹۱ لمریز کال کې چاپ شوی دی. ( ۱۱ )

۳ ـ دریېمه نثري ټولګه یې ((د ما شومانو لوبې)) دي، دا اثر یې په هغه وخت کې لیکلی دی چې په خپله بینا له نږدې څخه د ماشومانو لوبې کتلې او ننداره یې کوله، او بیایې هره کیسه لیکلې ده، دا اثر ډېر با ارزښته اثر دی، ځکه په دې کې زیاتره هغه لوبې لیکل شوې چې اوس هغه لوبې نه کېږي او یا په ډېره یوه محدوده ساحه کې کېږي، دا اثر په ۱۳۳۷ لمریز کال کې په ۶۳ مخونو کې لیکل شوی دی. دغه اثر تاریخي، علمي او د فکلور پېژندنې لپاره ډېر ارزښتمن مواد لري چې د ولسي ادبیاتو لپاره یې ښه منبع ګڼلی شو. خوسې د ماشومانو د لوبو په اثر کې یو ډول لوبه ده چې دلته یې د بېلګې په توګه وړاندې کوم:

## خوسی

د خوسي د لوبې په رسم کې یواځې دوه تنه د لوبې د اجراء کولو لپاره او یو تن يې د (( خوسي )) په نوم معرفي شوی دی، که څه هم دا لوبه په زیات تعداد هلکان کوي او کولای شي، په هر صورت د ننګرهار په سیمه کې خاص د چپرهار په رود کې دا لوبه په دې صورت کېږي:

فرض کړه لس تنه هلکان غواړي خوسی وکړي، اول دوه تنه میران او پاتې اته تنه سره د قد او اندام په انډول دوه دوه تنه وملي، څلور تنه د یو او څلور د بل میر ورسېږي، شکېل و ولي هر چا چې شکېل وګټلو، هغه غالبه ډله شي او هغه بله ډله مغلوبه شي، وار معلوم کړي، غالبه ډله یو طرف او مغلوبه ډله بل طرف سره په مقابل کې ودرېږي، د غالبې ډلې تر شا د خاورو یوه (( ډوپۍ )) تخمین لس قدمه وړاندې جوړه کړي. او مغلوبه ډله د خپلو نفرو څخه یو تن د خوسي په نوم په ګوته کړي او تر شا يې په یو ټاکلي ځای کې ودروي، دواړه ډلې د مقابلې لپاره خوسی ونیسي.

د خوسي نیول داسې دي چې هر څوک خپله چپه پښه په ښي لاس د شا طرف نه ونیسي، په ښۍ پښه او چپ لاس مقابله کوي، خوسی به هم پښه نیولې ولاړه وي او څار به کوي، فرصت به لټوي چې د یوې پښې په ټوپونو ځان ډوپۍ ته ورسوي او ډوپۍ ووهي. مقابل طرف هر یو بل ته به نېغوړکې ورکوي تر څو ولوېږي یا يې نیولی لاس او پښه خوشې او په دې صورت وسوزي. د غالبې ډلې څخه پنځه تنه او مغلوبې ډلې څخه یو تن خوسی وي او څلور تنه به مړوند په مړوند نیولی وي، لوبه شروع وي، که چېرته د مغلوبې ډلې څلور تنه په لوبه کې غالبه شول او د مقابل پنځه واړه هلکان يې وسوزول، نو خوسی په خاطر جمعۍ سره په نیولې خوسي پسې ځي او ډوپۍ وهي او که څلور تنه ملان يې وسوزېدل او د غالبې ډلې ملان، یو یا دوه تنه پاتې وي، نو بیا یاد خوسي پښې نیولي خوسی منډې وهي چې وی يې سوزوي او یا خوسی ورسره مقابله کوي. که په منډه ورنه ځان خلاصوي او ډوپۍ وهي، که په مقابله کې خوسی مغلوب شي نو دا ځل د هماغې ډلې بل تن خوسی کېږي او په پاسني صورت لوبه پیل کېږي، او دواړه ډلې دلوبې په اجرا کې د مغلوبې ډلې ټول نفر یو یو ځل خوسی شي او وسوزول شي، نو د لوبې یوه دوره ختمه او د مقابل په ګټه تمامېږي. بیا لکه د والیبال د لوبې غوندې د جهت بدلون

کوي، دوی د هغوی د جهت لره راځي، په وار بيا لمده وچه اچوي، تر څو د مغلوبې ډلې ټول خوسي نه وي سوزېدلي، لوبه دوام لري. داسې هم کېږي چې دوه درې ساعته يو ځل د لوبې پيل ونيسي او يا هلکان ستړي شي او نه غواړي چې نور لوبې ته دوام ورکړي، په همدې يو ځل په عامه اتفاق لوبه ختموي.

**نتيجه:**په دې لوبه کې بدني ورزش او په يوه پښه او يو لاس د بري په نيت زياروکاري او غلبه حاصلوي. دا يو په زړه پورې تمرين بللی شوو. دا لوبه د چپرهار د رود دباندېې د کلي وګړو ۱۳۰۴ شمسي هجري کال په شا و خوا کې کړې او کوله يې بلکه تر ننه پورې دوام لري. ښاغلی بختانی وايي: دا لوبه په ټولو پښتنو کې تر اوسه لا راواج لري. ( ۱۲ )

د بينا دغه اثر په (( ۱۳۸۹ )) لمريز کال، په (( ۹۰ )) مخونو کې د سر محقق عبد الله بختاني په زيار د دانش خپرندويه ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

## د دغه اثر ځانګړنې په دې کې دي

۱ ـ لوبې په کې په پوره ډول ليکل شوې دي.

۲ ـ د لوبو د لوازمو رسامي په کې شوې ده.

۳ ـ کومې لوبې چې په دې اثر کې ليکل شوې دي، د هغې هرې لوبې په اخره کې هدف او نتيجه په ډېر ښه انداز بيان شوې ده.

## د سيد محمد طاهر بينا ناچاپ آثار

۱ ـ (( بن )) دا اثر په نظم ليکل شوی، په دې اثر کې هم د نظم بېلا بېل ژانرونه ليکل شوي دي، لکه : قصيدې، غزلې، رباعي، او چاربيتې په کې شته، دا اثر بينا په ۱۳۴۹ لمريز کال، په ۱۱۲ مخونو کې ليکلی دی، متاسفانه لا تراوسه نه دی چاپ شوی.

۲ ـ دويم اثر يې (( د زړه تغمې )) دی. دا اثر يې هم په نظم ليکل شوی، زياته برخه يې غزلې دي، فقط يو څو چاربيتې او څلوريزې په کې ليدل کېږې، په زړه پورې شعري ټولګه ده. بينا دا اثر په ۱۳۴۹ لمريز کال، په ۱۰۵ مخونو کې ليکلی دی، خو لا تر اوسه نه دی چاپ شوی.

۳ ـ دربيم اثر يې د (( رنوځي )) په نوم دی، دا اثر يې په ۱۳۳۶ لمريز کال، په ۱۸۸ مخونو کې په نظم ليکلی دی، تر اوسه نه دی چاپ شوی.

۴ ـ د شوروي قرغزستان د سفر خاطرې ،په ۱۳۵۹ل کال کې لیکل شوی دی.

۵ ـ د کونډ غره ته ختل ( یونلیک ) چې ښاغلی بختانی وایي: ما د (( ننګرهار )) په ورځپاڼه کې خپور کړی دی.

٦ ـ د (( سبا)) په نوم اثر یې هم شعرې ټولګه ده، د دې اثر زیاته برخه غزلې دي، په ۱۳٦۵هـ ش کال په ۱۰۰مخونو کې لیکل شوی دی چې دا اثر هم نه دی چاپ شوی.

۷ ـ (( هنر )) په ۱۳٦۱ لمریز کال کې په ۹۴ پاڼو کې د ۷۲ شعرونو په تعداد، پخپله بینا راټول کړي دي، خو لا تر اوسه نه دی چاپ شوی.

۸ ـ (( ګل )) په ۱۳٦۲ لمریز کال کې په خپله د شاعر په لیکنه او را ټولونه، د ۹٦ صفحو او ۱۰۱ شعرونو په تعداد سره ترتیب کړې ده، مګر لاتر اوسه پورې دا شعري ټولګه هم نه ده چاپ شوې.

۹ـ (( زړه او دماغ )) په ۱۳٦۳ لمریز کال بینا په ۸۴ پاڼو کې ۱۱۳ شعرونه راټول کړل، دا هم نه دی چاپ شوی. ( ۱۳ )

۱۰ـ د سید محمد طاهر بینا اخری اثر هم په نظم لیکل شوی دی چې د ((ځنګل)) په نوم یادېږي، په دې اثر کې بینا خپل آثار او اشعار راجمع کړي دي او د ځنګل نوم یې ورته غوره کړی دی، یوه په زړه پورې شعرې ټولګه ده چې بېلا بېل مضامین په کې شته، دا اثر په ۱۳۵۸ لمریز کال کې په ۱٦۵ مخونو کې لیکل شوی دی. تر اوسه نه دی چاپ شوی.

عبدالله بختاني د پښتانه شعرا د شپږم ټوک په ۱۹۷۰ مخ کې لیکلي دي چې د بینا څخه د۱۳۵۰ لمریز کال نه د مخه په جلال اباد کې دري غټې لیکلې نسخې ورکې شوې دي، او نورې یې په کور کې سوځول شوې دي. ( ۱۴ )

**د بینا د اشعارو بېلا بېل اړخونه**

دا چې بینا د خلکو په منځ کې ژوند تېر کړی دی، نو د ژوند په ټولو اړخونو کې یې شاعري کړې ده او د ده شعرونه د ټولنې د زړه اواز دی، او د ټولنې غوښتنه هم همدا وه چې بینا په خپلو اشعارو کې دا اواز اوچت کړی دی.

د بینا په اشعارو کې د مینې او محبت اړخ ته ګورو:

ستا د خوړو ســترگو کتل مزه کا
هم دې پـه ناز نـاز موسیدل مزه کا
د گلو بــوټی دې تـــر قده ځـار شه
د مخ پـه گل دې تـور سنبل مزه کا
خود مې خوښ کړی دی مسلک د پتنگ
پـه اور دحُسن دې سېزل مزه کا
د باغ گلونه گـــــــلزار نه ستایمه
پـه کې ستا ښکلي گرځېدل مزه کا
چې په کې ثبت وي نزاکت د مینې
خـود د "بینا" غـزل لیکل مزه کا (۱۵)

بینا په خپلو غزلو کې وطن پاللی او خپل ځان یې د وطن نه جدا نـه دی گڼلـی، لکه چې وایې:

گران وطن مسکن زما دی جوړ به کړم گلزار پکې
وبـه کرم وبه روزم بوټي مېوه دار پکې
ور بـه کـړم اوبـه د خــپلو وینو د ایمان پــه زور
تن به وي مصروف په خدمت روح بـه وي مالیار پکې
سـره سپین به جـوړکړمه د خپلو تورو خاورونه
متې بـه را بډ وهـم وبه گالـم زیـار پکې
غواړم چې دا خپل هېواد جنت غوندې سنبال کړمه
ورک به کړم عاطل او باطل وي به خدمتگار پکې
سترگې د دښمن به په نوکـانو باندې وکاږم
محوه بــه کړم غل، خاین، فاسد، ټگ او مکار پکې
شاړې به ابادې کړم د خپل ولس او قام په خیر
بیا به " بینا " گل کري او خلک غنم جوار پکې (١٦ )

د پسرلې موسم نه یې هم خوند اخیستی او په خپلو اشعارو کې یې په شعري ژبه نمانځلی دی:

دا چې چلېږي د سهار وږمه ده
د نوي کال نوي بهار وږمه ده
د نظافت او نزاکته ډکه
ملهم په زړه کې د پرهار وږمه ده
ټول کاینات یې بوړنولي شان دي
یــو څه لړلې پـه اسرار وږمه ده
د بلبل چغه ده چې اورېدی شي
پرې لګېد لې د ګلزار وږمه ده
روحي فرحت او د ماغي راحت دی
عطرو کې خلطه د عطار وږمه ده
یا خـو د کونډ د غره د سر شمال و
یا د ګڼګل درې د لار وږمه ده
که داسـې وایي چې یې نه پېژنم
لکه د زلفو د دلدار وږمه ده
دم او قـدم مې استواره ښکاري
روح ته بدن کې د قرار وږمه ده
دا ټول احسان د پسرلي دی منم
" بینا " خوږه د لاله زار وږمــه ده ( ۱۷ )

فولکلوریک اشعار یې هم ویلي، د ولسي ادب تنده پرې خړوبېږي،لکه:

د شنه منګي مېرمنې، د سـرو ګلونو ونې
راځـه راپسې راشـه زه منګی ګودر ته وړمه
راځه د مینې قدردانـه، زمـا د حُسن په ارمانه
زما د عشق ملنګه په دیدن دې مړومه
ګرانې! دا ستا مهرباني ده، مینه دې زړه کې یقیني ده
زه سـتا د ښکلي مخ نه سرو مال قربانومه
زما د باغ او بڼ بلـبله، زمـا د تورو زلفو ګله
زه په زړه کې ستا د محبت ارزو لرمه

نوې مې غمونه اواره شول، چې د مطلب ټکي ښکاره شول
ستا مینه محبت پـه تورو سترگو قبلومه ( ۱۸ )

بینا د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې شاعري کړې، کـه یـې د هـرې برخـې نـه یـوه یـوه نمونه را واخلو، نو د مقالې حجم به ښېخي زیات شي، له دې امله، په همدې څـو بېلگـو بسنه کوو.

## پایله

کله چې ما د سید محمدطاهر بینا آثار مطالعه کول، نو فکر مې کاوه چې د دې لوی شخص په اړه به ډېرو لیکوالو علمي څېړنې کړې وي، خو متأسفانه چې د خپلـو کتابونو څخه یې پرت،ه نور داسې څـه پـه لاس رانغلـه چـې کومـه څېړنیـزه مقالـه یـا کتاب پرې چا لیکلی وي او د لوستونکو تنده پرې خړوبه شي، نو زه مجبور شوم چـې د بینا په اړوند داسې یوه څېړنیزه مقاله ولیکم چې کم تر کمه د دې سـتر شخصـیت په رابطه یې لنډه پېژندنه شوې وي، که څوک یې ټولو آثارو ته لاس رسی ونه لري، نو د دې مقالې څخه دا گټه پورته کړي چـې د ده د ژونـد، ادبي هڅـې، وظـایف او زده کړو څخه خو معلومات تر لاسه کړي. بینا د پښتو ادب لپاره ډېر څـه پـه مـیراث پـرې ایښي دي، لکه په پښتو شاعرۍ کې قصیدې، غزلې، رباعي، چاربیتې، سـفرنامې او په ولسي ادبیاتو کـې مسـتقل او پـه زړه پـوري آثـار، شـاعري یـې زړه راښـکونکې ده، منثور آثار یې روان او سلیس دي او د ښه تحلیل خاوند دی

د ژوند لومړي پړاوونه یې ډېر ستونزمن وو، کور یې دوه ځلـې مخـالفینو سـوځلی، آثار یې ورته لوټ کـړي، غربـت او فقـیرۍ سره لاس او گرېـوان و، ولـې همـت یـې لـه لاسه نه دی ورکـړی، قسـمت ورسره یـاري کـړې او خپـل قلـم یـې د ادب پـه لار کـې چلولی دی او د همدې کړېدلي شخص په واسطه، پښتو ادب پـه ډېـرو برخـو کـې د نورو ژبو سره سیال شوی دی.

## مأخذونه

۱. بېنوا، عبدالرؤف. اوسني ليکوال (بشپړ متن) د مطيع الله روهيال په زيار، علامه رشاد خپرندويه ټولنه: کندهار، ۱۳۸۸ هـ ش کال،۱۷۴ مخ.
۲. بينا، سيد محمد طاهر. بڼ، ننګرهار: (ناچاپ)، ۴۷ مخ.
۳. بينا، سيد محمد طاهر. د سيد محمد طاهر بينا کليات. (خولې نه مې قسم ختلی دی) (لومړی ټوک)، ترتيب او تدوين، لعل پاچا ازمون، د ختيزې سيمې ليکوالو او ژورناليستانوخپلواکه ټولنه: جلال آباد،۱۳۹۱ هـ ش کال، ٦ مخ.
۴. بېنوا، عبدالرؤف. اوسني ليکوال (بشپړ متن) د مطيع الله روهيال په زيار، علامه رشاد خپرندويه ټولنه: کندهار، ۱۳۸۸ هـ ش کال، ۱۷٦ مخ.
۵. بينا، سيد محمد طاهر. د سيد محمد طاهر بينا کليات. (خولې نه مې قسم ختلی دی) (لومړی ټوک)، ترتيب او تدوين، لعل پاچا ازمون، د ختيزې سيمې ليکوالو او ژورناليستانوخپلواکه ټولنه: جلال آباد،۱۳۹۱ هـ ش کال،٦۹ مخ.
٦. همدغه اثر، ۷۳ مخ.
۷. اوسني ليکوال (بشپړ متن) د مطيع الله روهيال په زيار، علامه رشاد خپرندويه ټولنه: کندهار، ۱۳۸۸ هـ ش کال، ۱۷٦ مخ.
۸. بينا، سيد محمد طاهر. د سيد محمد طاهر بينا کليات. (خولې نه مې قسم ختلی دی) (لومړی ټوک)، ترتيب او تدوين، لعل پاچا ازمون، د ختيزې سيمې ليکوالو او ژورناليستانوخپلواکه ټولنه: جلال آباد،۱۳۹۱ هـ ش کال، ۲٦ مخ.
۹. بينا، سيد محمد طاهر. د ماشومانو لوبې، د خدمتګار په زيار، کابل: دانش خپرندويه ټولنه: ۱۳۸۹هـ ش کال، ۲ مخ.
۱۰. بينا، سيد محمد طاهر، زه او زما ژوند، د چاپ زيار، لعل پاچا ازمون، ننګرهار: د ختيزي سيمي ليکوالو او ژورناليستانو خپلواکه اداره: ۱۳۹۱ هـ ش کال.
۱۱. بينا، سيد محمد طاهر، کر کيله، د چاپ زيار، لعل پاچا ازمون، ننګرهار: د ختيزي سيمي ليکوالو او ژورناليستانو خپلواکه اداره. ۱۳۸۹ هـ ش کال.
۱۲. همدغه اثر، ٦۹ مخ.
۱۳. بختانی خدمتګار، عبدالله. پښتانه شعراء (شپږم ټوک). د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز: کابل، ۲۰۱۲م، ۱۹۷۰ مخ.

۱۴. همدغه اثر، ۱۹۷ مخ.

۱۵. بینا، سید محمد طاهر. د سید محمد طاهر بینا کلیات. (خولې نه مې قسم ختلی دی) (لومړی ټوک)، ترتیب او تدوین، لعل پاچا ازمون، د ختیزې سیمې لیکوالو او ژورنالیستانوخپلواکه ټولنه: جلال آباد،۱۳۹۱ هـ ش کال، ۴۲۰ مخ.

۱٦. همدغه اثر، ۲۵۷ مخ.

۱۷. هماغه اثر، ۳۱۸ مخ.

۱۸. بینا، سید محمد طاهر. د سید محمد طاهر بینا کلیات. (خولې نه مې قسم ختلی دی) (لومړی ټوک)، ترتیب او تدوین، لعل پاچا ازمون، د ختیزې سیمې لیکوالو او ژورنالیستانوخپلواکه ټولنه: جلال آباد،۱۳۹۱ هـ ش کال، ۸٦۱ مخ.

پوهنمل مریم مهان

# د ژبې د تحول ټولنیز عوامل

# Social cause of language changes

**Assistant Prof, Maryam Mahan**


## Abstract

Language change is one of the most important topics in linguistics, so the defect of this issue inner at the all in social interaction” Because the language is originally a social phenomenon. geographic impacts, Political considerations and social trends all effects on language but government support and Folks or civility support can promote language. That's it Public gathering, Religious circles, Traditional music and Traditional allegory those values in social position of language Plays an important role. For the Pashto language speakers need to be based the formulas which mentioned to strengthen their language.


## لنډیز

په ټولنیز ژوند کې څو مهم ټکي دي چې په ټولنه کې د وګړو د هویت او پېژندنې په ترخ کې د یو څرګند عنصر په توګه منل شوي آرونه ګڼل کېږي، له دغو مهمو عناصرو څخه یوه یې هم ژبه ده چې د یوه ملت د بقا او حیات ساه پکې پرته ده. د دغه مهم رکن او عنصر د پاللو په موخه چې له تحول سره مخامخ نه شي،

لازمه ده چې په ټولنيزه توګه ژبه له بدلونونو او تحولاتو وساتل شي چې په هغه کې جغرافيوي عوامل، ټولنيز تعاملات، تعليم او تربيه، فمينستي ارزښتونه او سياسي ـ اقتصادي عوامل هغه څه دي چې ژبه ګواښي او د تحول زمينه ورته برابروي. د ژبې د تمويل يا د ودې په برخه کې لازمه ده چې د تحول او بدلون سره مخامخ نه شي، نو دا هم اړينه ده چې ژبه په رسمي او ولسي توګه وپالل شي.

## سريزه

په ټولنيزو مفاهيمو کې د ژبې څېړل او ارزول يو له هغو کړنو څخه دی چې په ټولنه کې د ژبې او فرهنګ ماهيت او ارزښت ترې را برسېره کېږي، دغه مقاله موږ ته لومړی د ژبې ټولنيز دريځ راپېژني او ترڅنګ يې موږ پوهوي چې د يوې حاکمې او ژوندۍ ژبې پر وړاندې هغه کومې ننګونې دي چې ژبه ورسره مخامخ ده. همدا ډول هغه عوامل هم په کې څېړل شوي دي چې ژبه پرې وده کوي.

## د څېړنې موخې

دغه مقاله د هغو مفاهيمو او ارزښتونو د رابرسېره کولو په موخه ليکل کېږي چې د ژبې د تحول په رامنځته کولو کې مثبت دي او همدا شان هغه لارې چارې په کې ارزول شوې او پيشنهاد شوې دي چې ژبه پرې وده او پرمختګ کوي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. د ژبنيز تحول او ودې ټولنيز عوامل کوم دي؟

۲. ايا په ټوليزه توګه دغه عوامل زموږ ټولنه کې لېدل کېږي؟

د څېړنې فرضيې

۱. آيا ژبنيز مفاهيم د ټولنيز انکشاف او جريانونو په درشل کې د له منځه تللو په حالت کې وي؟

۲. څنګه کولای شو له ژبنيز پرمختګ سره ټولنه په اجتماعي لحاظ د يوې واحدې کتلې په توګه خپل تلپاتی بهير سره يو ځای کړو؟

## د څېړنې ميتود

په دې څېړنه کې له تشريحي او پرتليز ميتود څخه کار اخيستل شوی دی.

## لیکنیز مفاهیم

**ژبه:** ژبه د یوه ټولنیز او فرهنګي عنصر- په توګه د انسانانو ترمنځ د افهام او تفهیم وسیله ده.

**ژبنیز تحول**: په عمومي توګه ژبې ته ټول ورپېښ فونولوژیکي، مورفولوژیکي او معنیزو بدلونونه چې د جغرافیوي، ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي عواملو پر بنسټ رامنځته شوي وي، ژبنیز تحول ګڼلای شو (Barton.strang,2012).

**ټولنیزعوامل**: ټولې هغه کړنې او حرکتونه چې د ځانګړو اهدافو او سببونو په پار ترسره کېږي، همدغه سببونوته ټولنیز عوامل وایي.

**فمینستي ارزښتونه:** له فمینیستي ارزښتونو څخه زموږ مراد په دغه مقاله کې ښځینه ټولنیز حقوق دي.

**سیاسي توکمپالنه:** دا پوهه هغه قضیې څېړي چې د سیاسي موخو او لوبو په جریان کې د یو توکم ټولنیزې ځانګړنې تر مطالعې لاندې نیسي.

**لینګوافرانکا:** په داسې هېواد کې چې څو ژبې پکې دود ولري،د دغو ژبو له منځه یوه ژبه چې نسبت نورو ژبو ته سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، ملي او بین المللي اعتبار ولري، هغه ژبه د یوه هېواد (lingua franca) ده.

## د ژبې د تحول ټولنیز عوامل

ژبه په انساني ټولنه کې د یوه ګډ فعالیت هغه منل شوی سیستم دی چې د انسانانو ترمنځ د ارتباط دنده پرمخ بیایي. ژبه د هرې ټولنې لپاره د هغوی د فرهنګي میراث او هویت په توګه یو پېژندل شوی اصل دی. ژبه د اختیاري ویبونو (فونیمونو او ګرافیمونو) په مرسته د تجربو، اندونو، غوښتنو، معناګانو او مفاهیمو د لېږد او انتقال وړتیا لري.(Harrof,1962).

هر ملت د ځانګړو ارزښتونو درلودونکی وي چې د هغې په مرسته یې هویت تثبیتیږي، یو له هغو ارزښتونو څخه ژبه ده چې د ملت په پېژندنه کې مرسته کوي. ژبه د ولسونو د بقا او ژوند سرچینه ده. د ارسطو په اند د ملت د محوه کېدو راز د هغه ملت د ژبې په محوه کېدو کې پروت دی. نه یواځې دا، بلکې ژبه د یوې ټولنې

د فرهنګ د يوه مهم رکن حيثيت لري او د ټولنيزو مسايلو او تعاملاتو په جريان کې له تحول، عروج او زوال سره مخامخ کېږي (Barton.strang,2012).

ژبه د ټولنې له هر ډول جريان سره په مستقيمه او غيرمستقيمه ډول ژور تړاو لري، په ټولنيزو ټولو هغو مسايلو کې چې د خلکو د ژوند له تحول سره تړاو لري، ژبه په غيرمتوازي توګه په دغه تحول او بدلون کې د حرکت په حال کې وي. ټولنيز تعاملات د انسانانو د ورځني ژوند يو معمول دی چې دغه معاملات د اقتصادي، سياسي او نورو غوښتنو په پار ترسره کېږي چې په دغه منځ کې ژبه د يوه کليدي واحد په توګه مهم رول لوبوي. (فکوهي، ۱۳۹۳). ژبه د ټولنيز جريان او غوښتنو په ترڅ کې له ځينو داسې ننګونو سره مواجه ده چې د ژبې د حيات او بقاء د نظم مسئله ګواښي. دغه تعاملات او ټولنيز جريانونه په لنډه توګه توضيح کوو:

## جغرافيوي عوامل

په جغرافيوي مسايلو کې مهاجرت او کډوالي په مستقيمه توګه د ژبې په تحول کې ستر رول لوبولای شي. له آر ټاټوبي څخه لرې والی او يا هم په بل توکم د ورګډېدو په پايله کې ژبه سم د واره له تحوليز چاپېريال سره مخامخ کېږي، مهاجرت ځکه د ژبنيزو مسايلو په لړ کې داسې يو مفهوم دی چې له نوي حياتي او ټولنيز جريان سره وګړي مخامخ کوي. عرضه او تقاضا او نور تعاملات دې ته زمينه مساعدوي چې د مخاطب او متکلم ترمنځ يو نوی ډيالوګ او نوي لغتونه او يا هم فونيمونه او الوفونه تبادله شي. اقتصادي ځان بسيا کولای شي چې د مهاجرت او جغرافيوي ګواښ مخه ونيسي (فکوهي،۱۳۹۳).

## ټولنيز تعاملات

**خپلوي**: خپلوي (بل کور ته کوژده (exogamy)) چې پارسي کې ورته درون همسري وايي، هغه کوژده چې بل کور، بل خېل او بل قوم کې ترسره شي او خپل کور کې کوژده (inbreeding) يې ضد دی چې پارسي کې ورته درون همسري وايي. د زوجينو تبادله په انساني ټولنه کې له مهمو عواملو څخه يو عامل دی چې د اړينو موخو او حياتي مسايلو د پاللو، خپلولو او انحلال په هدف ترسره کېږي. په خپلوۍ کې بيا د مطلوبې خوا ژبنيز مفاهيم په دا بل لوري اغېز پرېباسي چې ژبه په تدريجي، خو د يو پټ حرکت په توګه ګواښي. همدا شان ټولنيز موقفونه مستقيماً

پر ژبې اغېز لري. په هغو ټولنو کې چې دوه گونې ژبې (Bilingual)حاکمې وي، نو ټولنيز موقفونه چې د کوم لوري غالب وي، همغه ژبه پر دا بله ژبه خپل اغېز درلودلای شي؛ دغه مسئله زموږ په هېواد کې ډېره مطرح ده. بله دا چې پښتون ولس په رواني توگه په ټولنيزو معاملاتو کې مقابل لوري ته د خپلې ژبې حق وربخښي چې دا په ټوله کې د يوې ژبې د پرمختگ مخه نيسي.

## ښوونه او روزنه

که چېرته د ښوونې او روزنې له لارې د ژبې ملاتړ ونه شي، ژبه د يوه ستر تغيير، تحول او بدلون سره مخامخ کېږي. ښوونه او روزنه په يو قوم او يا هم قومي گروپ (Ethnic group)کې چې ځانته مستقله ژبه ولري، د ژبې په تحول کې ستر لاس لرلای شي، که چېرته ژبه په حکومتي او دولتي چوکاټ کې وپالل شي او د ټولنې په علمي او ښوونيزو بنسټونو او سازمانونو کې د قوم مورنۍ ژبې ځای په ځای نه شي، ژبه د بدلون لورې ته ميلان پيدا کوي. هغه قوم چې ورته تدريس کېږي، ژبه يې د معارف ژبه شي او علمي آثار ورته وليکل شي او همدا ډول ژباړې او علمي سيمينارونو او غونډو ته په کې زمينه مساعده شي، نو د ژبې پانگه ځواکمنوي، همدا ډول د دغو مفاهيمو د نه شتون له کبله ژبه د بلې هغې ژبې (چې معارف او تحصيلات پرې اکمالېږي ) تر اغېز لاندې راځي او تحول کوي. (فکوهي،۱۳۹۳)

## فيمنيستي ارزښتونه

فيمنيستي يا ښځينه ارزښتونه (Feminist values) چې د ښځو ټول حقوق رانغاړي. د ژبې په وده او ټيټوالي کې ستره ونډه لري، په دې دليل چې د ژبې لومړنۍ زده کړه، له مور څخه کېږي. دا هغه اصل دی چې د عربو په ښوونه او روزنه کې له پخوا راهيسې يو منل شوی ارزښت و، ماشومان به يې د فصيحې او بليغې عربي زده کړې په موخه د کليو او بانډو دايانو ته ور استول، نو که چېرته مېرمنې باسواده او پر ژبنيو ارزښتونو باندې پوهې وي، حقوق يې تأمين وي او د ټولنيزو ناخوالو ښکارنه وي، نو د بچيانو په روزلو کې يې ونډه مثبته راوځي. په دغه برخه کې مثبته کورنۍ د ژبې په پاللو کې ستره ونډه درلودلای شي(Outhwaite,1993). په اوسني پېرکې او په ځانگړي ډول په ختيځه نړۍ کې د ښځو سواد او په اداري او

مسلکي چارو کې يې گمارنه د يوې ژبې د بقاء او پرمختگ يو ستر لامل دی. (مشيرزاده،۱۳۸۸)

## ديني ملحوظات

دين او ايډيالوژي په ټوله کې هغه څه دي چې مستقيماً د انسانانو له روان او هويت سره تړاو لري. دين چې په اصطلاح ايډيالوژي ده او له ژبې سره يې ځرگند او مبرم ارتباط دی، لکه قادر، رحيم او رحمن، رازق او خالق، دا هغه څه دي چې په رواني توگه د انسانانو په شعور کې ځای لري. دغه او دې ته ورته وييونه هغه څه دي چې په خپل وخت کې يې د يوې پردۍ ژبې، لکه زموږ پښتو چې عربي ژبې ته پردۍ ژبه ده، د يوه ثابت او کره لغت ځای نيولی دی او د ويي په برخه کې يې تحول راوستی دی. همدا ډول ديني او ايډيالوژيکي وييونه په يوه ټولنه کې د سمبول ځای هم نيسي چې د ژبې د کلکو معنيزو توکو او لغتونو په توگه کارول کېږي. گناه او ثواب داسې سمبولونه دي چې په مجموعي توگه د يوې ډلې اعمالو لپاره کارول کېږي(chamsky1993)، نو دين او ايډيالوژي هغه ارزښتونه او مفاهيم دي چې د ژبې په تحول کې خلاص لاس لري، لکه عربي ليکدود چې د پښتو ژبې تر څنگ د ډېرو اسلامي هېوادونو د ليکدود ځای نيولی دی.

## سياسي او اقتصادي عوامل

ځرگنده ده چې سياسي عوامل يو له هغو وسيلو څخه دي چې ټول اجتماعي عناصر ننگوي. ژبه د يوه ټولنيز عنصر۔ په توگه د سياسي او اقتصادي ملحوظاتو پر بنسټ د تحول او بدلون يو جريان ته ورلوېږي. په سياسي توگه د ژبې ملاتړ او تمويل د ژبې د بقا او حيات لپاره يو ښه فرمول دی، خو که په سياسي او حکومتي کچه د ژبې د بقا او سپما ملاتړ ونه شي او ژبه د سياسي او ايتنولوژيکي مسايلو ښکار شي. د ژبې حيات او تلپاتېتوب له زوال سره مخامخ کېږي (Kramsch,1998).

اقتصادي عوامل، لکه د گډ تجارتي بازار ژبه، سوداگريزو توکو او د توليدي ژبې برلاسی، د يوې ژبې پر وړاندې بله ژبه لينگوافرانکا(lingua franca) کېدلو ته زمينه مساعدوي، نو که يوه ژبه له بازار ووځي، له لوحو پرېوځي، په تجارتي اعلاناتو او رسنيز

بهیر کې کمرنګه شي، د مجالسو او جرګو له ډیالوګ څخه ووځي، نو خود په خوده د ولس له شونډو هم غورځېږي او له مرګ سره مخامخ کېږي. (Kramsch,1998)

## د ژبې د ملاتړ،تمویل او پرمختګ لارې چارې

ژبه داسې یو ټولنیز عنصر دی چې د ټولنې له هر ډول حرکت سره سم د یو غیرمتوازن جریان سره مخامخ کېږي؛ په ځانګړې توګه په توکمیز (Ethnologic) او ژبنیزو سیاستونو (language policy) کې لومړی ژبه له بشري قوې سره سمه متضرره کېږي. په دې موخه چې ژبه مو له تحول، تنزل او تعزیل څخه ساتلې وي، د ملاتړ، پرمختګ او تمویل لارې چارې یې په لاندې توګه تشریح کوو:

**۱. د پرمختګ رسمي لارې چارې:** د پرمختګ رسمي چارو څخه مو موخه په حکومتي کچه د ژبې تمویل او ملاتړ دی. د دولت له لوري ژبې ته پاملرنه، لکه:

۲.علمي او روزنیز ورکشاپونه دایرول.

۳. مکتوبونه او اداري پروسیجرپرې سمبالول او په ځانګړې توګه د محاکمو او عدلي ارګانونو په درشل کې د ژبې ملاتړ.

۴. د نیولوګیزم او ملي اصطلاحاتو د رامنځته کولو یو مسلکي او ګډ کمیسون او ارګان رامنځته کول چې په سیاسي، فرهنګي او اقتصادي ډګر کې د واردېدونکو وییونو، اصطلاحاتو او مفاهیمو مخه د خپلې ژبې د انډولو مفاهیمو په ذریعه ونیسي.

- نړیوال او ملي نندارتونونه پرې دایرول.
- د ژبې د ټرمینالوژۍ او اصطلاحاتو خوندي ساتل.
- د توریزم، بهرنیو او نړیوالو اړیکو کې د ژبې کارول.
- په ملي ادبیاتو کې د ژبې ونډې ته پاملرنه.
- چاپ او صحافت (ترجمه، تحقیق او تخلیق).
- رسنیو ته د ژبې پورته کول او کارول.
- انټرنیټ کې ټولو علمي، معلوماتي او تفریحي ویبپاڼو ته د ژبې پورته کول.
- ملي او معیاري املاء او انشاء را منځته کول.
- له ژبنیزو او قومي حرکتونو څخه نظارت او سانسور.

- د استعماري حرکتونو له ګواښ څخه ژبه ليرې ساتل او داسې نور هغه څه دي چې د ژبې په پرمختګ کې ستره ونډه درلودلای شي.(Braton,strang. 2012 )

## ۲. د پرمختګ ولسي لارې چارې

که دولت له ولس جوړيږي، نو ژبه هم په لومړي سر کې د ولس او وروسته د حکومت او دولت مال دی. که يوې ژبې ته د حکومت او دولت پاملرنه د همهغه حکومت د رعيت له حرکت او ايډيال سره سم پر مخ ځي؛ له ژبې سره د ولس مينه او ذوق د حکومت په څېره کې څرګنديږي، لکه څنګه چې ولسي- خوځښتونه په حکومتي څېره کې منعکس کېږي؛ داسې ولسي- هويت او حرکت د حکومتونو پاليسي او ستراتيژي ټاکي. ولسونه په خپله ژبه، فرهنګ او ايډيالوژۍ ژوندي او تلپاتې دي (فکوهي،۱۳۹۳). ولسونو او په ځانګړې توګه د ټولنې مسلکي او پر اجتماعي ګدۍ ناست (ملک، پير او خان) ته اړين دي چې په ولسي- توګه ژبه وپالي؛ څو ژبه د يوه پياوړي ممثل ارزښت په توګه عامه ذهنيت کې ځای پيدا کړي. زما په اند په عمومي توګه لاندې عناصر به ژبې ته د ولس په لاس د پرمختګ زمينه مساعده کړي:

**۱. عامه مجالسو او بنډارونو کې د ژبې کارول**، لکه ودونه، فاتحې، جرګې، ميلمستياګانې، ټولنيزې بوختياوې(لوبې اوسيالۍ) او دې ته ورته غونډې.

**۲. ديني مجالس:** ديني مجالس د ژبې او فرهنګ په ترويج او تمويل کې ستر لاس درلودلای شي، ځکه ديني او مذهبي مفاهيم نېغ په نېغه د انسانانو له احساس او رواني ځواک سره تړاو لري، په ديني مجالسو کې هغه مفاهيم بيانېږي چې په اروايي توګه د ولسونو پر احساساتو او رواني ځواک باندې ژور اغېز پرېباسي او بشري حافظې ته سپارل کېږي. دا هغه پروسه ده چې مقدسو او نسبتاً سپېڅلو ځايونو کې پر مخ ځي، نو که ژبه هغو ځايونو کې وپالل شي چې د ټولنې د فزيکي او معنوي ځواک له ملاتړ او تمويل څخه برخمنه وي، ژبه په تدريجي او غيرعادي توګه پرمختګ کوي، زموږ په ټولنې کې مذهبي منظوم ادبيات چې په پښتو ژبه پنځول کېږي، له نېکه مرغه په ګړندۍ توګه د يوه نااعلان شوي خوځښت په څېر د نورو کاونډيو ژبو ديني مجالسو کې لارموندلې ده.(فکوهي،۱۳۹۳)

**۳. موسيقي او تمثيل:** ساز او موسيقي هم د ولسي فرهنگ يو ډېر مهم رکن دی چې له اغېز او تاثير څخه يې د ژبې او ژبپالنې په برخه کې څوک انکار نه شي کولای؛ سندرې او موسيقي نه يواځې عامه مجالسو کې د ژبې فونيمونو او لغتونو سره خلک آشنا کوي، بلکې خلک دې ته مجبوروي چې حافظې ته يې هم وسپاري. تمثيل هم د يوه هنر په څېر د ژبې او ولس د هويت او شتون ښکارندويي کوي، لکه اتڼ چې د پښتو او پښتنو د پېژندنې يو سمبول دی. د تمثيل په برخه کې فلمي، تياتري، ډراماتيکې او طنزيه سناريو هغه څه دي چې د ژبې په تمويل او پرمختګ کې ستر لاس لري؛ ترويج او توسعه يې د ولس له منځه کېږي.(Doranti,1997 )

## پايله

په پورته ليکنه کې ژبه د يوه ټولنيز عنصر په توګه وښودل شوه چې د ټولنيزو تعاملاتو او تحولاتو جريان کې په نامنظمه توګه له تحول او تغيير سره مخامخ کېږي، خو که دغه تغيير مثبت او که منفي وي، پر ژبه يې زغمل لازم او ملزوم دي. ټولنيز ارزښتونه لومړی د دولت د پاليسۍ او ستراتيژۍ په شپول څرخي او بيا له ولسي-ملاتړ او مخالفت سره مخامخ کېږي. زموږ هدف په دغه ليکنه کې ژبه وه چې د يوه ټولنيز ارزښت او مفهوم په حيث تر بحث لاندې راغله. لومړی دا چې که په حکومتي او دولتي کچه د ژبې مخه ډب شي او يا هم تمويل شي، نو په لومړي هغه کې تحول او تنزل کوي او د تمويل له کبله پرمختګ کوي او همدا شان د تلپاتې کېدو امکان يې زياتېږي.

نه يواځې حکومت او دولت مکلف دی چې ژبه وپالي او تمويل يې کړي. بلکې ولس هم په مسلکي او اجتماعي چاپېريال کې مکلف دی چې د خپلې ژبې د بسپنې او بقا لپاره کوټلي او غښتلي، خو منطقي او علمي ګامونه پورته کړي؛ ژبه وپالي، توسعه ورکړي او ترويج لپاره ورته لازمې هڅې وکړي.

پايله اخيستنه

ژبه يوه ټولنيزه پديده ده چې د انسانانو ترمنځ د ټولو ټولنيزو تعاملاتو او جريانونو په ترڅ کې پرمختګ او تحول کوي. د ټولنيزې راکړې ورکړې ترڅنګ حکومتي او دولتي ملاتړ هم ژبې ته پرمختګ ورکوي او همدا شان د ژبې تنزل او يا

هم ژبه حاشيې ته غورځول، د دغو ارزښتونو په نـه تطبيـق کـې نغښـتې دی. ولسي-ملاتړ او ټولنيز تړونونه او کتلې، هغه څه دي چې هر يو ټولنيز او بشري ارزښت ته پـه خپلو ارادو کې انعکاس ورکوي.

مناقشه

پښتو ژبې ته وروسته ټول بدلونونه، په ناڅاپي او طبيعي توگه نـه دي راغـلي، بلکـې د ټولنيزو سياسي او اقتصادي عواملو پر بنسټ په لوی لاس پښتو ژبـې تـه د يـوې ايجـاد شوې پروسې پر بنسټ رامنځته شوي دي، خو په ادبي چوکـاټ کـې يـې دغـه سـتونزه د ناسمو قضاوتونو او ملحوظاتو په واسطه هم رامنځته شوي دي، يعنې د امـلاء او انشـاء پـه برخه کې د ژبې ملي معيار پـه پـام کـې نـه دی نيـول شـوی. د يـوه مروجـه ليکـدود او د پښتو ژبې مسلکي توب ته کار نه دی شوی، د گرامر په لسگونو کتابونو کې ډېـری يـې د ځانگړو گرامري فارمولونو او يو مفهوم لپاره د متفاوتو اصطلاحاتو درلودونکي دي؛ دا هغـه څه دي چې يوې ژبې لپاره سـتره ننگونـه ده. همـدا شـان زمـوږ پـه ټولنـه کـې د ژبـې او ژبپوهنې برخه کې د پام وړ کار نه دی شوی؛ که شوی هم دی، يواځې گرامـري اړخ کـې ليکوالو خپل قلـم ازمـويلی دی او د ژبـې د ودې او ټـولنيزې بقـا او تـرويج لپـاره لا سـم او سيستماتيک کار نه دی شوی، څو ژبه پرې پرمختگ وکړي. اوسـمهال د پښـتو ژبـې پـر وړاندې ډېرې داسې ننگونې شته چې ولس او حکومت يې په معياري او منطقـي توگـه د محوه کولو ځواک نه لـري؛ اقتصـادي او بـازاري وييونـه او د بهرنيـو مؤسسـاتو لـه لـوري د پردي فرهنگ او ژبې بهير په ناويلي او نااحصايه شوي توگه لگيا دی. زموږ ژبه گواښـي او له تنزل او تعزيل سره يې مخامخ کوي او هغه ناسم رقابتونه، حرکتونه او غورځنگونـه چـې د ژبې د ملاتړ او کره والي شعارونه ورکوي، د يـو نـامنظم او غيرمسـلکي حرکـت پـه توگـه ټـولنې تـه خپـل ادبيـات عرضـه کـوي چـې پايلـه يـې پـر سـياسي توکمپالنـه( political Ethnology)کېږي او د يو قوم، ژبې او فرهنگ پر وړاندې ناسالم رقابت او عکس العمـل ته لار هواروي.

## مأخذونه

۱. فکوهي، ناصر. مبانی انسان شناسی، تهـران: نشرـ نـی، ۱۹۹۳ز کـال، ۳۲-۷۶-۸۵-۹۱مخونه.

۲. مشیرزاده، حمیرا. تاریخ دو قرن فمینیسم، ایران:جهان کتاب، ۱۳۸۸ل کال، ۱۳۸۸ل کال، ۳مخ.

۳. Braton,strang.linguastic for Dummies.USA:jhonwiley and sons, 2012, 135 page.

۴. Claire Kramsch. Language and Culture. California: University of California, Berkeley, 1998, 25 page.

۵. Chamcky noam. language and thought. Mexico:moyebell. 1993, 21- 54 pages.

٦Doranti,alessandro. linguastic anthropology.USA:Cambridge university.dl from http//Cambridge.org/9780521445368.1997, 178 page.

۷. Harrof. on language in cucber and readings in sociology.newyork, 1962, 61 page.

۸. Outhwaite,William.(1993).twentieth century social thought. The Blackwell, dictionary, 1993, 203 page.

خېړندويه سونيا صميم هوتک

# ژباړونکي ختيځپوهان
# Translators Orientalists

## Researcher Sonia Samim Hotak


## Abstract

In this article those Orientalists were mentioned who tried to enrich Pashto language and literature throughout translation, who translated the various books from Pashto language and literature to the western language and from western languages to the Pashto language and literature, so in the relation to it, in this article the Orientalists of England, Russia, Germany, France, America and Denmark countries and the Tajikistan and Uzbekistan countries Pashto scholars and their various religious, historical, folkloric, literary and linguistic translations have been descripted.

## لنډيز

په دې ليکنه کې د هغو ختيځپوهانو يادونه شوې چې د پښتو ژبې او ادب په بډاينه کې يې د ژباړې له لارې هڅې کړې او له پښتو ژبې او ادب څخه يې لوېديځو ژبو ته او له لوېديځو ژبو څخه يې پښتو ژبې او ادب ته آثار ژباړلي دي چې په ترڅ کې يې د انګلستان، روسيې، آلمان، فرانسې، امريکا او ډنمارک د هېوادونو ختيځپوهان او د تاجکستان او ازبکستان د هېوادونو پښتو پوهان او د هغوی د بېلابېلو ديني، تاريخي، فولکلوريکي، زده کړه ييزو، ادبپوهنيزو او ژبپوهنيزو ژباړو په اړه څرګندونې شوې دي.

## سریزه

د نولسمې پېړۍ په بهیر کې د پښتونخوا او افغانستان سیمو ته د انګرېزانو نږدې کېدل او د افغانستان شمالي خواوو ته په ګاونډې ترکستان او بخارا کې د روسانو پرمختګ او د دې هېواد حساس او ستراتیژیک موقعیت له امله په روسیه او انګلستان او بیا په نورو غربي هېوادونو کې د پښتنو او پښتو ادبیاتو په اړه څېړنو ته پاملرنه ډېره شوه.

دوی د پښتو ژبې د ار او منشأ، له ځینو سیمه ییزو او پخواني اریاني او اریایي ژبو سره د پښتو ژبې پرتله، د پښتنو د تاریخ، د پښتو ژبې د ګرامر، د پښتو ادبیاتو د تاریخ، د پښتو ادب د نظم او نثر، د پښتني فولکلور، د پښتني ټولنې د ژوند پر کړو وړو، دود و دستور، د پښتني قبیلو پر قبایلي ژوند او ځانګړنو او دې ته ورته پر ډېرو نورو اړخونو باندې د لیکنو او څېړنو تر څنګ یې ډېرې ژباړې هم کړې دي.

ختیځپوهانو د ختیځ پر ډېرو ژبو لکه عربي، فارسي، اردو، پښتو او ډېرو نورو ژبو کې لیکنې، څېړنې او ژباړې کړې دي، خو په دې مقاله کې یوازې د هغو ختیځپوهانو یادونه کوو او پر ژباړو یې رڼا اچوو چې له پښتو ژبې څخه یې انګرېزي، فرانسوي، آلماني او نورو ژبو او یا یې له دې ژبو څخه پښتو ژبې او ادب ته آثار او مواد راژباړلي او د پښتو پانګه یې پرې رنګینه او بډایه کړې او همدارنګه یې د پښتو ژبې آثار او لیکنې لوېدیځې نړۍ ته ورپېژندلي دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د هغو ژباړونکو ختیځپوهانو پېژندل چې له پښتو ژبې او ادب څخه لوېدیځو ژبو او له لوېدیځو ژبو څخه یې پښتو ژبې او ادب ته ژباړې کړي او څرنګه چې د دوی د ژباړو په اړه کره او منسجم معلومات نشته؛ نو د دې آثارو په ګوته کول او د پښتو ژبې او ادب په بډاینه کې یې ارزښت څرګندول اړینه چاره ده.

## د څېړنې موخې

په دې څېړنه کې هغه ختیځپوهان معرفي شوي دي چې پښتو ادب په بډاینه کې کار او له نورو ژبو څخه پښتو ژبې ته او له پښتو ژبې نه نورو ژبو ته آثار یې ژباړلي دي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. کومو ختيځپوهانو د پښتو ژبې او ادب په بډاينه کې د ژباړې له لارې هڅې کړې دي؟

۲. کومو ختيځپوهانو له پښتو ژبې او ادب څخه لوېديځو ژبو ته آثار ژباړلي دي؟

۳. کومو ختيځپوهانو له لوېديځو ژبو څخه پښتو ژبې او ادب ته آثار ژباړلي دي؟

## د څېړنې میتود

په دې ليکنه کې له تشريحي او توضيحي ميتود څخه ګټه اخيستل شوې ده.

## اصلي متن

کله چې لوېديځوال د پښتنو سيمو ته راغلل؛ نو په پېښور، مردان، نوښار، کوهاټ، دير او ځينو نورو ځايونو کې د کليساوو او د مبلغينو د مرکزونو د جوړولو تر څنګ يې په ديني برخه کې د عيسويت د دودولو او د دې دين د ښېګڼو د ښوولو لپاره په نظم او نثر باندې د آسماني کتابونو ژباړې وکړې. په تاريخي برخه کې د افغانانو د اصل او نسل په اړه، په فولکلور کې د پښتني بډايو فولکلوريکو موادو، په زده کړه ييزه برخه کې د پښتو ژبې د زده کړې په موخه، په ادبي برخه کې د پښتو ادب د نامتو شاعرانو او ليکوالو لکه خوشحال خان خټک، رحمان بابا او نورو ليکوالو د آثارو او په ژبپوهنيزه برخه کې د قاموسونو، ګرامرونو او نورو آثارو ژباړې شاملېږي چې دلته به لومړی د انګلستان او بيا به د روسيې، آلمان، فرانسې، امريکا او ډنمارک پر ختيځپوهانو او د تاجکستان او ازبکستان پر پښتو پوهانو خبرې وکړو.

### ۱. هنري ونسټارټ Henry Vansittart

انګرېز ختيځپوه هنري ونسټارټ Henry Vansittart د ۱۷۳۲ز.کال د جون په دربيمه نېټه په لندن کې نړۍ ته سترګې وغړولې. له رېډنګ ښوونځي څخه تر فارغېدو وروسته ونچسټر کالج کې شامل شو. د درس په بهير کې په مېډمينهم کې د فرانسسکنز ټولنې غړی شو. په ۱۷۴۵ز.کال کې د ۱۳ کالو په عمر په East India کمپنۍ کې ملازم شو. په ۱۷۶۰ز.کال په بنګال کې د فورټ ويليم د والي او د هند د کونسل د مشر په توګه وټاکل شو. ده په بنګال کې د مير جعفر پر ځای مير قاسم صوبدار کړ، خو وروسته د مير قاسم او د کمپنۍ تر منځ اړيکې خرابې شوې. هنري

دا خپله تېروتنه وګڼله او استعفا يې وکړه. په ۱۷٦۴ز.کال کې بېرته انګلستان ته ولاړ، خو پنځه کاله وروسته يعنې په ۱۷٦۹ز.کال کې د همدې ايسټ انډيا کمپنۍ ډايرکټر وټاکل شو او بېرته هند ته راغی.

د وياړلي په تذکره کې د ده د مړينې کال ۱۷۷۰ز. او ځای يې مکيپ ټاون افريقا ښودل شوی دی، خو ځينې په دې اند دي چې دی په ۱۷۷۰ز.کې په لاره کې د کښتۍ د ډوبېدلو له امله مړ شوی دی، خو د ډاکټر جاويد خليل په وينا، دی د ۱۷۸۴ز.کال د مارچ تر درېيمې نېټې پورې ژوندی و. د دې خبرې دليل هغه ليک په ګوته کوي، کوم چې هنري ونسټارټ د هغې ټولنې مشر ته استولی و چې په دې ليک کې يې د خپل کتاب د هغه تلخيص د ژباړې يادونه کړې چې ده د اسرارالافاغنه په نامه په انګرېزي ژباړلی دی. د دې ليک په پای کې د ده له نوم سره دغه نېټه د (مارچ درېيمه ۱۷۸۴ز.کال) ليکل شوې؛ نو دا څرګنده شوه چې دی تر ۱۷۸۴ز.کال پورې ژوندی او په کلکته کې و. بيا چې کله د ده دا ليک په Asiatic Researches کې خپور شو؛ نو د هغه وخت اېډېټر ده ته د متوفي لفظ کارولی دی؛ نو ويلی شو چې هنري د (۱۷۸۴ او ۱۷۸۷ز.) کلنو په منځ کې مړ شوی دی. (۲: ۵۵ مخ)

هنري ونسټارټ هغه ختيځپوه دی چې اسرارالافاغنه يا د افغانانو رازونه په نامه يو کتاب يې د پښتنو د اصل او نسل په اړه په انګرېزي ژبه وژباړه او ورسره يې د پښتو ژبې د ليک بېلګه هم شامله کړې ده.

## ۲. هنري جارج راورټي Henry George Raverty

د مېجر راورټي پوره نوم هنري جارج راورټي Henry George Raverty و. دی د ۱۸۲۵ز.کال د مې په ۳۱مه د انګلستان په فالمت نومي ښار کې زېږېدلی. د پلار نوم يې پيټر راورټي وو چې په بحري فوج کې يو جراح و. مور يې د فالمت ډران له خاندانه وه. راورټي د پنځلسو کالو په عمر کې له پلار سره په سمندري سفر روان شو، بيا يې په پوځي کړنو پيل وکړ. د سر چارلس ليمون په مرسته په پوځ کې شامل شو او دغسې هندوستان ته راغی. په ۱۸۴۳ز.کال کې له خپل پوځ سره د ملتان د قلعې محاصرې ته راغی. وروسته د پنجاب په ګجرات سيمه کې د سيکهانو خلاف وجنګېده. د دې جګړې په پای کې پنجاب او صوبه سرحد د ۱۸۴۹ز.کال د مارچ په ۳۱ د انګرېزانو لاس ته ورغلل. په ۱۸٦۳ز.کال کې راورټي د مېجر عهدې ته

ورسېده او یو کال وروسته له پوځ څخه تقاعد شو. راورټي د ایسټ انډیا کمپنۍ یو داسې پوځي افسر و چې په هند او پښتونخوا کې یې د خپل ژوند ډېره برخه د پښتو او نورو ختیځو ژبو زده کړې او مطالعې ته وقف کړې وه. دی یو ذهین سړی و او دلته یې د ۲۱ کلن ملازمت په دوران کې پر پښتو سربېره اردو، فارسي، گجراتي، مرهټي او هندي ژبې هم زده کړې وې، خو د ده د خوښې ژبه پښتو وه او په دې ژبه کې یې گرامر، ډیکشنري، یو انتخاب، د پښتو د ژبې د زده کړې کتاب(مېنول) لیکلي دي او د پښتو د کلاسیکو شاعرانو د منتخب کلام ژباړه یې په ۱۸٦۰ز.کال کې په انگرېزي کې خپره کړه. راورټي هغه لومړنی سړی دی چې له انگرېزي څخه یې یو کتاب په پښتو کې د «ایسپ الحکیم کیسه Aesop fables» په نوم ترجمه او په ۱۸۷۱ز.کال کې یې خپور کړ.(۲: ۷۱مخ)

د ده بل اثر د پښتو شاعرانو غوره اشعار دي چې له انگرېزي ژباړې سره په ۱۸٦۴ز.کال کې چاپ شو. له راورټي سره عمر وفا و نه کړه، که نه ډېر نور آثار به یې هم خپاره کړي وو چې له هغو څخه یو هم پښتو شوی انجیل و.(۳: ۱۸ مخ)

راورټي د ۱۹۰٦ز.کال د اکتوبر په دوهمه نېټه د یو اتیا کالو په عمر مړ شو. ده په څلوېښت کلنۍ کې په ۱۸٦۵ز.کال کې واده وکړ، بچي یې نه و، خو ده چې کوم کارونه د پښتو ژبې او ادب لپاره کړي دي پښتانه به یې نوم تر ډېره ژوندی وساتي.(۲: ۸۰ مخ)

همدارنگه ده د طبقات ناصري انگرېزي ژباړه په۱۸۸۰ز.کال کې بشپړه کړه. راورټي یو بل کتاب د (selection from the poetry of the Afghans from the sixteenth to nineteenth century) یعنې (د افغانانو له شاعرۍ نه انتخاب له شپاړلسمې څخه تر نولسمې پېړۍ پورې) په نامه له پښتو څخه انگرېزي ته ژباړلی دی. راورټي د خپل گرامر د لومړي چاپ ۱۸۵۵ز.کال کلکته په پای کې څلور ولسي نکلونه هم ثبت کړي دي: د نحوي او خره نکل، د افریدي او ملا نکل، د زاړه او طبیب نکل او د هلک د امر نکل. راورټي دا پښتو نکلونه له انگرېزي ژباړو سره خوندي کړي دي. (۱۰: ۵٦۴ مخ)

### ۳. سي. اي. بېډولف Cuthbert Edvward Biddulph

کپتان جان بېډولف يو طبيعت پېژندونکی نظامي وو. دی د رابرټ بېډولف دريېم زوی و چې د ۱۸۴۰ز.کال د جولای د مياشتې په ۲۵مه زېږېدلی او د ۱۹۲۱ز.کال د ډيسمبر په ۲۴ مه د لندن په Grey Court د ۸۱ کالو په عمر مړ شوی دی. په اتلس کلنۍ کې پوځي قطعې ته شامل شوی او د هندوستان د آزادۍ ۱۸۵۷ز.کال د جنګ په بهير کې اَوده ته را استول شوی دی تر ۱۸۷۷ز.کال پورې يې د کشمير په شمال لوېديځ کونج ګِلګِت کې هم دنده ترسره کړې ده. په ۱۸۹۶ز.کال کې تقاعد شوی دی. (۴: ۲۳۰ مخ)

ختيځپوه سي. اي بېډولف انګرېز و. د نولسمې پېړۍ په وروستيو کې د کيمرج پوهنتون په ټرېنټي کالج کې پروفيسر و. ده د خوشحال خان خټک ۱۱۲ نظمونه، غزلونه په انګرېزي وژباړل. د کتاب نوم يې Afghan poetry of the seventeen century being selection from the poems of khushal khan khattak يعنې (د اوه لسمې پېړۍ افغاني اشعار د خوشحال خان خټک له اشعارو څخه انتخاب) دی. (۲: ۹۲ مخ)

### ۴. کپتان ټريور چيچلي پلاوډن Captain Trevor Chichele Plawden

پلاوډن د انګلستان اوسېدونکی و. په ۱۸۶۰ز.کال کې پښتنې سيمې ته راغلی او د برتانيې په پوځ کې يې د مېجر په عهده کار کاوه. په ۱۸۷۵ز.کال کې په پنجاب ديره غازي خان کې اسسټنټ کمېشنر و، پښتو يې زده او له پښتو ژبې او ادب سره يې مينه لرله. په کال ۱۸۷۵ز.کې يې د پادري هيوز کليد افغاني په انګرېزي وژباړه او د لاهور جېل له چاپخونې څخه يې خپور کړ. ده په لومړي ځل له ټولو نه ډېر پښتو منظوم او منثور ادبيات په انګرېزي وژباړل او له دې لارې يې پښتو ژبه او په هغې کې يې شوي کارونه اروپايي نړۍ ته ور وپېژندل. پلاوډن د مولوي احمد پوره کتاب (ګنج پښتو) په انګرېزي ژباړلی او د Pashto translation of Ganjepakhto په نوم يې په ۱۸۸۲ز.کال کې خپور کړی. دا کتاب ۱۶۲ مخه دی. که څه هم دی يو انګرېز افسر و، خو پښتو او پښتانه يې ډېر خوښ و. ده د پښتو ژبې د زده کړې يو کتاب هم ليکلی دی چې دوه ځله چاپ شوی، خو منظمه کتابي بڼه نه لري.(۲: ۹۴ مخ)

د استاد رشاد په وينا، د پلاوډن د کليد افغاني ژباړه يواځې د کليد افغاني ژباړه نه ده، بلکې ځای ځای ځيني جغرافيايي او ګرامري څېړنې هم ورسره شته او دغه چاپي ژباړه ۳۹۵ مخه لري.(۴: ۲۵ مخ)

## ۵. مېجر جې ډبليو ګلبرټسن J. W. Gilbertson

د ده پوره نوم جارج والټر ګلبرټسن و. د ۲۰ زېږديزې پېړۍ په پيل کې د برتانوي حکومت له خوا په پوځ کې د ملازمت په لړ کې هند ته راغلی و. په پوځ کې يې د مېجر په عهده کار کاوه. په پښتني سيمه کې پاتې شوی، څه وخت يې په لنډي کوتل کې هم تېر کړی دی. پښتو يې زده وه. ده د نورو تأليفاتو په لړ کې يو هم د پښتو د محاورو او اصطلاحاتو ژباړه کړې چې د A Dictionary of pakhto idioms نومېږي. (۲: ۱۲۳مخ)

## ٦. سر اولف کېرو Sir Olaf caroe

اولف کېرو هغه ختيځپوه دی چې د پښتنو په علاقه کې يې نږدې شپېته کاله تېر کړل او له پښتنو سره ډېر بلد و. په ۱۹۱٦ز.کال کې د برتانيې حکومت له خوا د پوځي افسر په توګه پښتونخوا ته راغلی و. په دې علاقه کې ښه بلد او ګرځېدلی و. په پېښور او نوښار کې پاتې شو او بيا يې درې کاله په پنجاب کې تېر کړل، بيا مردان، هزاره، کوهاټ او پېښور کې د پوليټيکل افسر په توګه وټاکل شو. د يو څه مودې لپاره د صوبه سرحد چيف سکريټري هم پاتې شوی و. په ۱۹۳۴ز.کال کې نوي ډهلي ته واستول شو او هلته يې د دوهمې نړېوالې جګړې په بهير کې د فارن سکريټري په توګه کار کاوه. څه موده يې په بلوچستان کې هم تېره کړې ده. په (۱۹۴٦ ـ ۱۹۴۷ز.کال) پورې د صوبه سرحد ګورنر هم پاتې شوی دی. بالاخره کېرو د ۱۹۸۱ز.کال د نومبر په ۲۳ مړ شو. اولف کېرو د پښتنو د تاريخ، اصل، نسل او ژبې په اړه پر هغه ارزښتمن کتاب سربېره چې The pathans (پښتانه) نومېږي، د ژباړې په برخه کې يې هم خپل قلم چلولی چې له ايويلين هاول سره يې د خوشحال خان خټک د٢٦ پښتو نظمونو انګرېزي ژباړه کړې ده چې The poems of khushal khan khattak (د خوشحال خان خټک اشعار) په نامه له پښتو متن سره په لومړی ځل اکسفورډ يونيورسټي پرېس په کال ۱۹٦۳ز.کال کې په کتابي بڼه خپور کړ.(۲: ۱۲۸ مخ)، نو له دې ځرګندونو څخه دا جوتېږي چې اولف له پښتنو او پښتو ادب او تاريخ سره څومره مينه لرله.

## ۷. ډاکټر ډېوېډ نېل مکینزي Dr. D. N. Makenzi

ډېوېډ نیل مکینزي چې زیات په مکینزي مشهور دی، په ۱۹۲٦ز.کال کې په لندن کې پیدا شوی دی. په ۱۹۴۳ز.کال کې یې د کېمرج یونیورستۍ تعلیم بشپړ کړ. دی د دوهمې نړیوالې جګړې په بهیر کې له انګرېزي پوځ سره هند او برما ته راغی، پښتو ژبه یې پېښور کې په ۱۹۴۵ز.کال کې زده کړه. په ۱۹۴٦ز.کال کې د میرانشاه(شمالي وزیرستان ـ دوړ) په عسکري قطعه کې و. د هندوستان او پاکستان د وېش تر وخته پورې یعنې تر ۱۹۴۷ز.کال پورې یې په شمالي وزیرستان میرانشاه کې په پوځ کې نوکري کوله. ده په ۱۹۵۱ز.کال کې له School of oriental and African studies څخه په ژبپوهنه کې ډګري واخیسته. بیایې د خپل استاد هینګ په لارښوونه د اوستا، پهلوي او سغدي ژبو مطالعه هم وکړه. نوموړی ختیځپوه په ۲۰۰۱ز.کال کې مړ شو. (۲: ۱۳۲مخ)

په ۱۹۴۷ز.کال کې د لندن په پوهنتون کې شامل شو، د فارسي ژبې (B.A) یې وکړه بیا یې د ایراني ژبو په فیلالوژۍ کې (M.A) وکړه. په ۱۹۵۴ز.کال عراق ته ولاړ او د ډاکټرۍ تېزس یې د کردي لهجو په اړه ولیکه، په ۱۹۵۷ز.کال یې د ډاکټرۍ دیپلوم واخیسته. (۴: ۱۹۱ مخ)

دې ستر ختیځپوه د خپلو نورو علمي کارونو تر څنګ د خوشحال خان خټک د دېوان څه برخه په انګرېزي ژباړلې ده چې Poems from the dewan khushal khan khattak (د خوشحال خان خټک له دېوان څخه شعرونه) تر نامه لاندې په ۱۹٦۵ز.کال کې په لندن خپور شوی دی. د مکینزي د دې ژباړې په اړه عبدالرحیم رحیم وایي:« همدارنګه نوموړی د یونسکو د پاره د خوشحال خان خټک د دېوان یوه برخه په انګرېزي ژباړلې او خپره کړې ده».(۳: ٦۰ مخ)

## ۸. ویلیام کېري William Carey

د عیسوي دین مبلغ ویلیام کیري د ۱۷٦۱ز.کال د اګست د میاشتې په ۱۷مه د انګلستان په Paulerspury کې زېږېدلی او د ۱۸۳۴ز.کال د جون د میاشتې په نهمه د هندوستان په سیرامپور کې د ۷۲ کلو په عمر مړ شوی دی. دی د نوي عصر ـ د عیسوي مبلغینو پلار بلل شوی. په ۱۸۱۸ز.کال د هند په سیرامپور کې یې د سیرامپور د پوهنتون بنسټ کېښود. ده انجیل په عربي، هندي، سنسکریټ، بنګالي او سامي ژبو

ژباړلی او چاپ کړی دی. ويليام لومړنی سړی دی چې د ځينو نورو په ملګرتيا يې په کلکته کې ۱۷۹۰ز.کال شاوخوا کې تورات په پښتو وژباړه. (۴: ۳۶۴ مخ)

ويل کېري چې د انجيل پښتو ژباړه تر ټولو لومړی ويليم کېري او د ده ملګري جان لېډن په شريکه کړې وه. د انجيل دا ژباړه په ۱۸۱۸ز.کال کې چاپ شوه او همدا د پښتو لومړنی چاپ شوی کتاب ګڼل کېږي.(۲: ۱۳٦ مخ)

ګيرس په «د مېړني اولس ادبيات» کې ليکي: ويليام کېري په ۱۷۹۳ز.کال کې د برتانوي حکومت په دور کې له لندن څخه د هند کلکتې ته د تبليغ په غرض راغلی دی او په ۱۸۰۰ز.کال د ده په لمسه او زيار د عيسويت د تبليغ مرکز په سيرامپور کې جوړ شو. بيا يې په سيرامپور کې هنديانو ته کالج پرانيسته او ورپسې يې يوه مطبعه تأسيس کړه چې په دې مطبعه کې مسيحي ادبيات په ختيځو ژبو چاپېدل.(۷: ۳٦ مخ)

## ۹. پادري ډاکټر جان لېډن Dr. John Leyden

ډاکټر جان لېډن هغه اوځار انګرېز ختيځپوه دی چې د پښتنو د پېژندنې په لړ کې د اولويت حق لري. جان لېډن اصلاً طبيب و، خو د ژبو په زده کړه کې يې حيرانوونکی استعداد درلود. دی په ۱۷۸۵ز.کال په لندن کې پيدا شوی او په ۱۸۲۱ز.کال کې د ۳٦ کالو په عمر مړ شو.

مورنۍ ژبه يې انګرېزي وه، خو په عربي، فارسي، ګجراتي، اردو، سانسکرېټ، جاوه يي او پښتو ژبو هم پوهېده، ښې يې زده وې ان تر دې چې ژباړې يې هم ترې کولې. د پښتو ژبې تر زده کړې وروسته يې د اخوند درويزه مخزن الاسلام غونډې ګران متن څه برخه په انګرېزي وژباړله، تر دې وروسته يې انجيل او تورات پښتو ژباړه په ۱۸۱۸ز.کال کې وکړه. همدارنګه ده د روښانيانو په اړه له دبستان مذاهب نه يو مضمون په انګرېزي ژبه وژباړه.(۲: ۱۳۹مخ)

دی چې اتلس کلن و په ۱۸۰۳ز.کال په مدراس کې د ايسټ انډيا کمپنۍ ملازم شو. دی په ۱۸۰٦ز.کال په فورټ ويليم کالج کې د اردو ژبې استاد شو. په دغه وخت کې ده ډېر کتابونه له سنسکريټ او پارسي څخه انګرېزي ته واړول. دی له کلکتې څخه جاوا او سوماترا ته ولاړ او هلته يې جاوه يي ژبه زده کړه.(۴: ۲۰۰-۲۰۱ مخونه)

## ۱۰. پادري رابرټ کلارک Robert Clark

د مسيحي مبلغينو د ټولنې لومړی استاد ويليام کيري و چې په ۱۷۹۳ز.کال کلکتې ته راغی او هلته يې په يوه کلي«سيرامپور» کې يو کتاب په پښتو ژبه چاپ شو چې پنځه کتابه نومېده. په ۱۸۵۴ز.کال په پېښور، په ۱۸٦۲ز.کال کې په ډېره اسماعيل خان، په ۱۸٦۵ز.کال کې په بنو کې د مسيحي تبليغ دايره پرانيستله شوه. لومړی پښتون چې مسيحيت يې ومانه، دلاورخان نومېده چې د چترال په غرونو کې پښتنو وواژه.

د پېښور د مسيحي مؤسسې لومړی آمر او بنسټګر رابرټ کلارک و چې انجيل يې په پښتو وژباړه او په ۱۹۰۰ز.کال کې يې په لندن کې چاپ کړ. انګرېزي اخبار ليکونکي ليکي چې ۵۷٦۲ تنو عيسوي مبلغينو د پښتنو په سيمه کې فعاليت کاوه او ۵۳۳ تنه پښتانه يې عيسويان کړل. په پېښور کې اېډوارډ کالج په ۱۸۵۵ز.کال دغو خلکو جوړ کړ. په ۱۹۳۰ز.کال د مسيحي مبلغينو مرکزونه په پېښور کې ۲۱، په ډېره اسماعيل خان کې ۱۲، په بنو کې ۱۰، په هزاره کې ۹ او په کوهاټ کې ۲ وو. (۷: ۴۴ مخ)

رابرت کلارک د ۱۸۲۵ز.کال د جولای د مياشتې په څلورمه په انګلستان کې د Lincolnshire ښار کې زېږېدلی دی. ده د Trinity کالج وواېه او بيا کيمريج پوهنتون کې شامل شو. له پوهنتون څخه تر فراغت وروسته په ۲٦ کلنۍ کې د Church Mission Society (CMS) له خوا جذب او د عيسويت د تبليغ لپاره هندوستان ته واستول شو. دی په۱۸۵۱ز.کال د بحر له لارې کلکتې ته ولاړ او له هغه ځای څخه پنجاب ته راغی. په ۱۸۵۲ز.کال کې يې په امرتسر کې د تبليغ لومړنی مرکز پرانيست او په خپلو تبليغاتو يې پيل وکړ. ده په پنجاب کې د نوي عيسوي شوو کسانو لپاره يو نوی کلی جوړ کړ، د دغه کلي لپاره يې ۷٦۰ هکتاره ځمکه له حکومت څخه راونيوله او د دې نوي کلي نوم يې د خپل نوم په نسبت «کلارک آباد» کېښود.

په ۱۸۵۴ز.کال يې د پېښور د پښتنو د اړولو په موخه په پېښور کې د عيسويت د تبليغ مرکز جوړ کړ. دی د هند د آزادۍغوښتنې تر جګړې۱۸۵۷ز.کال دمخه لندن ته ولاړ، هلته يې د ۱۸۵۸ز.کال د مې د مياشتې په ۱۴مه له Elizabith Mary Browne سره واده وکړ. د ده مېرمن يوه نرسه وه او په سنسکريټ، اردو،

فرانسـوي، جرمنـي او ايتـالوي ژبـو هـم پوهېدلـه، ځکـه نـو دا هـم د ده پـه تبليغـي ماموريت کې له ده سره مرستياله شوه او دوی دواړه ببرته په ۱۸۵۸ز.کال پېښـور تـه راغلل. په ۱۸٦۴ز.کال يې په کشمير کې د مؤثر تبليغ په موخـه يـو طبـي کلينيـک جوړ کړ او مېرمن يې که څه هم مسلکي ډاکټره نه وه، خو د ډاکټرې په توګـه يـې پـه کار پيل وکړ. په کشمير کې عـام خلـک لـه دوی سره ډېـر جـوړ نـه وو. يـو وار خـو لا داسې هم پېښه شوه چې اولسي خلکو د ديني علماوو له برکتـه د دوی پـه نيتونـو او موخو پوه شول او د دوی پـر ضـد راوپارېـدل، کـابو يـو نـيم زر کسـانو د دوی مرکـز د ودانۍ پر چاپېر را وڅرخېدل او د دوی د تبـاهۍ هڅـه يـې وکـړه، خـو د ده مېرمنـې چې د کليوالو ښځو په منځ کې يې ډېر درناوی او رسوخ موندلی و. د خپلو خورلڼـو د مرستو له برکته په دې وتوانېدله چې وضعه څه آرامه کړي. دوی تر دې وروسته خپلو طبي مرستو ته د تبليغ د ښه مؤثريت په موخه لا زور ورکـړ، دا ځکـه چـې د دې کـار ګټه او ښه پايله يې په خپلو سترګو ليدلې وه. کـلارک پـه پنجـاب، پېښـور او کشـمير کې د ډېرو تبليغاتي پروګرامونو تر عملي کولو وروسته د ۱۹۰۰ز.کال د مې مياشتې په ۱٦ د هيماچل پرادېش ايالت پـه Kasauli نـومي ځـای کـې د ۷۷ کـالو پـه عمـر ومړ. (۴: ۱۰۵ـ۱۰٦ مخونه)

پادري کلارک پښتو زده کړې وه او د انجيل پښتو ژباړه يـې کـړې وه چـې پـه دې اړه څېړنپوه معتمد شينواری وايي:«دغې ټولنې په پښتنې خاوره کې د هغو آسانتياوو نه استفاده کولـه چـې اسـتعماري حکومـت ورتـه برابـرې کـړې وې. کـلارک د خپلـو سيرامپوري اسلافو کارونو ته دوام ورکړ او انجيل يې په پښتو وژباړه». (۷: ۳۸ مخ)

د ده بل مسيحي کتاب ابنيت د حضرت عيسی دی. دا کتاب په ۱۸٦۰ز.کـال کـې چاپ شو.

## ۱۱. پادري تهامس پيټرک هيوز Thomas Patrick Hughes

ختيځپوه ټي پي هيوز انګرېـز پـادري وو. اصـل نـوم يـې تهامس پيټـرک هيـوز و. پـه لندن کې يې مسيحي زده کړې بشپړې کړې. په ۱۸٦۵ز.کال کـې پېښـور تـه راغلـی و. په پښتنې سيمه کې يې د عيسايي مبلغينو د مشر په توګـه شـل کالـه تېـر کـړل. پښـتو، عربي او اردو ژبې يې ښې زده وې. دې سيمې ته د پادري هيوز په راتګ سره ګـڼ شـمېر ادبي آثار چاپ شول. له ده سره په دې کار کې د تنګي مولوي احمـد مرسـته وکـړه. ده د

انګرېزانو لپاره د پښتو انتخاب «کلید افغاني» چمتو او خپور کړ. دوهم کتاب یې د انجیل پښتو ژباړه ده چې په ۱۸٦۳ز.کال کې د انګلستان په هرټ فورډ کې چاپ شو چې ۷۷۹ مخه ده. هیوز د پښتو یو ګرامر هم لیکلی دی.(۲:۱۴۸ مخ)

## ۱۲. سیپټیموز سمیټ تهاربرن Septimus Smet Thorburn

تهاربرن انګرېز ختیځپوه دی. دی په ۱۸۴۴ز.کال کې زېږېدلی او په ۱۹۲۴ز.کال د اتیا کالو په عمر مړ شوی دی. تهاربرن د نولسمې پېړۍ په اویایمو کلونو کې د بریټانوي هند له خوا د بنو د سیمې د اصلاحاتو مامور و او دې کار ده ته دا زمینه برابره کړې وه چې د دغې سیمې له بېلابېلو خلکو سره له نږدې ووینې او د هغو د ژوندانه، دودونو، فولکلور او ټولنیز ـ فرهنګي ځانګړنو په اړه ډېر مواد او معلومات ترلاسه کړي.

ده د بنو د سیمې په اړه یو اثر کښلی دی چې Bannu or our Afghan Frontier (بنو یا زموږ افغاني سرحد) نومېږي. نوموړی کتاب لومړی ځل په ۱۸۷٦ز.کال په لندن کې چاپ شوی دی. د دغه کتاب په دوهمه او درېیمه برخه کې له ۲۳۱ څخه تر ۴۱۵ مخه پورې د پښتو متلونو انګرېزي ژباړه شوې ده او په څلورمه برخه کې یې له ۴۱۵ څخه تر ۴۷۳ مخه پورې اصلي پښتو متلونه راغلي دي. دغه کتاب جنرال شېرمحمد کریمي په پښتو ژبه اړولی چې په ۲۱۱ مخونو کې په ۱۳۷۷ل. کال په پېښور کې چاپ شوی دی.(۴: ۲۳۳ مخ)

## ۱۳. کرنل سي. اې. بایل Col. C. A. Boyle

کرنل سي. اې. بایل د بریتانیې په پوځ کې پوځي منصبدار و او د پښتونخوا په پېښور،کوهاټ او وزیرستان سیمو کې یې عسکري دنده ترسره کوله .(۹: ۸ مخ)

کله چې هند د انګرېزانو تر استعمار لاندې و، دی په صوبه سرحد کې د انګرېزانو ګورنر و، دلته یې پښتو د خپل ماموریت پر مهال زده کړه. ده د پښتون قوم د ځانګړنو په برخه کې پوره څېړنې او لیکنې کړې دي. د ده یو مهم او غوره اثر (پښتو متلونه) دی چې۴۰۰ متلونه یې د خان بهادر احمد خان په مرسته راټول کړي او د فقیر چند مروا له خوا چاپ شوی دی. دغه کتاب دوهم ځل په ۱۹۳۹ز.کال په پېښور کې چاپ شو. کرنل په دې اثر کې(پښتو متلونه، وجیزې او غوره ویناوې) ځای کړي دي او په انګرېزي ژبه یې ژباړلي دي. (۵: ۴۲۲۵ مخ)

## ۱۴. ايويلين هاول

ايويلين هاول د خوشحال خان خټک د اشعارو په عروضي څېړنه کې يو کوچنی اثر لري. ايويلين هاول او اولف کېرو په ګډه د خوشحال خان خټک ۲۷۸ بيته په انګرېزي ژباړلي او دا ټولګه يې د The poems of Khushal Khan Khatak (د خوشحال خان خټک اشعار) په نامه د پېښور اکاډمي له خوا خپره شوې ده. (۴: ۹۹ مخ)

## ۱۵. پادري يوحنا لي مهر

د قاضي عبدالرحمن په مرسته يې د سيرالسالکين په نامه د عيسويت د يوه مذهبي کتاب پښتو ژباړه وکړه. نوموړې ژباړه په ۱۸۷۷ز.کال په امرتسر کې چاپ شوه چې ۲۹۴ مخه لري. دا د يوه خوب قصه ده. (۴:۱۱۱مخ)

## ۱٦. لېبېديف

لېبېديف په ۱۹۲۰ز.کال کې د مسکو په کولومنا ښار کې زېږېدلی دی. په ۱۹۳۸ز.کال له منځنۍ ښوونځي او په ۱۹۴۲ز.کال د مسکو د ختيځ پېژندنې له عالي ښوونځي څخه راووت. ده په دغه عالي ښوونځي کې پښتو ژبه د تخصص لپاره غوره کړه. د خپل ډېر زيار او بري له امله په ۱۹۴۳ز.کال کې د نوموړي عالي ښوونځۍ پښتو ښوونکی وټاکل شو. (۹: ۱۰ مخ)

له۱۹۵۰ز.کال نه تر ۱۹۵۴ز.کال پورې د هغه ښوونځي د پښتو څانګې مشر و. بيا د مسکو د نړيوالو اړيکو د عالي ښوونځي(انستيتوت) د رئيس مرستيال و او په همدغه عالي ښوونځي کې د پښتو ژبې درس هم ورکاوه. لېبېديف په ۱۹۵۰ز.کال کې د يوه علمي تأليف په ليکلو د فيلولوژۍ علومو د کانديدات علمي درجه وګټله. لېبېديف په ۱۹٦۴ز.کال کې يو علمي اثر تأليف کړ چې له امله يې د فيلولوژۍ علومو د دوکتورا علمي درجه ترلاسه او په ۱۹٦۷ز.کال کې د پروفيسورۍ علمي لقب هم ورکړل شو.دی د ۲۰۱۸ز.کال د جنوري په ۹مه مړ شو. په پښتو ژبه کې د دغه پښتو پوه تأليفات په لاندې ډول دي:

**۱ـ د پښتو ژبې لنډ ګرامر:** دغه کتاب په ۱۹۴۵ز.کال کې چاپ شو.

**۲ـ د پښتو ژبې ګرامر** چې په ۱۹۵٦ز.کال په مسکو کې چاپ شو. دغه کتاب ۲۳۳ مخونه لري چې ۱٦۲مخه يې صرف او نوره نحوه ده.

**۳ـ د پښتو غږ لرونکي توري.**

**۴ـ پښتو منتخبات**

**۵ـ پښتو ـ روسي قاموس**

**٦ـ روسي ـ پښتو قاموس**

**۷ـ په پښتو ژبه کې (د ساده او مفردو جملو جوړښت او ترکیب)** چې ناچاپ دی.

**۸ـ په پښتو ژبه کې مرکب مسند.**

**۹ـ په پښتو ژبه کې مسند الیه .**

**۱۰ـ په پښتو ژبه کې مرکبې تابع لرونکې جملې او د تابع جملو ډولونه.**

**۱۱ـ نور محمد او کتاب یې د بنګ مسافري.**

لېبېدیف سربېره پر دې آثارو د پښتو سندرو، پښتنې افسانو او د پښتو ژبې د ګرامر په اړه ډېرې مقالې خپرې کړي او ډېرې پښتو لنډۍ، پښتني نکلونه او د پښتو د مشهورو شاعرانو یو څه اشعار یې په روسي ژبه اړولي دي. لېبېدیف دوه ځله افغانستان ته راغلی، یو ځل په ۱۹۵۸ز.کال او بل ځل په ۱۳۴۹ل.کال د خپل روسي ـ پښتو قاموس لپاره یې درې میاشتې دلته تېرې کړې چې په دې قاموس کې څلوېښت زره لغتونه راغلي چې ټول یې په پښتو ژباړلی دي. (۳: ۴۳ـ۴۵ مخونه)

## ۱۷. ګېرس

بشپړ نوم یې ګیورګي فیودورو ویچ ګېرس دی. د ۱۹۲۸ز.کال د اکتوبر پر ۱۱مه نېټه په مسکو کې زېږېدلی دی. په ۱۹۴۷ز.کال د مسکو د ختیځ پېژندنې د انستیتوت په افغاني څانګه کې شامل شو او پښتو ژبه یې زده کړه. په ۱۹۵۸ز.کال کې افغانستان ته راغی، په پښتو ټولنه او د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې یې مطالعات وکړل. ده د پښتو تاریخي سندرې تر سرلیک لاندې اثر په ۱۹۸۴ز.کال کې ولیکه چې په دې اثر کې یې ټولې هغه سندرې چې د پښتونخوا د شعر هارو بهار، توربرېښ او ځینو نورو سرچینو کې راغلې وې، په روسي نظم ژباړلې دي. (۹: ۱۲ مخ) ګېرس د آدمخان او درخانۍ او د بنګ مسافري کتاب هم په روسي ژبه وژباړه. (۸: ٦۹ مخ)

## ۱۸. کالینیا

مېرمن کالینیا په ۱۹۲۳ز.کال د مسکو په ښار کې زېږېدلې ده. د منځنۍ ښوونځۍ تر فراغت نه وروسته په ۱۹۴۳ز.کال کې د مسکو د ختیځ پېژندنې د

انستیتوت پـه افغـاني څانگـه کـې د زده کـړې لپـاره شـامله شـوه. دغـه دوره یـې پـه ۱۹۴۸ز.کال کې پای ته ورسوله او د پښتو ژبې په څانگه کې د پښتو ښوونکې شوه. له ۱۹٦۴ز.کال څخه تر ۱۹٦۹ز.کال پورې د بین المللي اړیکو په انستیتوت کـې د پښتو ژبې د استادۍ په توگه مقرره شوه. بیا په ۱۹٦۹ز.کال کې د شـوروي اتحـاد د علومو اکاډمۍ د ختیځ پېژندنې د انستیتوت د ژبو د څانگې علمـي غـړې شـوه. دې مېرمنې په ۱۹٦۰ز.کال کې د خپل کاندید اثر نه چې عنوان یـې «پـه معـاصره ادبي پښتو کې د گردان گرامري کټگوري» و، په ښه توگه دفاع او د دوکتورا درجه یې پـرې ترلاسه کړه.

مېرمن کالینیا د نـورو علمـي ـ څېړنیـزو کـارونو ترڅنـگ د افغـاني لیکوالـو یـو لـړ کیسې او لنډ داستانونه له پښتو څخه په روسي ژبه ژباړلي دي.

**۱ـ افغاني کیسې(۱۹۵۵ز.کال).**

**۲ـ افغاني کیسې او اشعار (۱۹۵۸ز.کال).**

**۳ـ پټ پهلوان (۱۹٦۱ز.کال).**

**۴ـ زرغونه (۱۹٦۱ز.کال).**

**۵ـ بنگړی (۱۹٦۷ز.کال).**

په ۱۹٦۱ز.کال کې یې د افغانستان د خپلواکۍ د جشن په وخت کې پـه کابـل کې د نړیوالو نندارتونونو په لړ کې د شوروي اتحاد د نندارتون د ژباړنې پـه توگـه کـار کړی دی. (۳: ۵۵ ـ ۵٦ مخونه)

## ۱۹. جوئیس کلاپروت J. Klaproth

کلاپروت د ۱۷۸۳ز.کال د اکتوبر په ۱۱مه زېږېـدلی او د ۱۸۳۵ز.کـال د اگسـت پـه ۲۸مه نېټه مړ شو. جوئیس کلاپروت د روسیې د اکاډمۍ یو مهم غړی و. ده د نـورو آثـارو او لیکنو تر څنگ د انجیل پښتو ژباړه د نوي پند په نامه کړې ده. (۵: ۴۱۹۷ مخ)

## ۲۰. ډاکټر اډوارډ ایورسمن

ایورسمن له ۱۸۱۲ز.کال څخه تر ۱۸۱۴ز.کال پورې د بـرلین پـه پوهنتـون کـې طبیعي علوم وویل، بیا له پلار سره روسیې ته ولاړ. پلار یې د روسـیې د Slatoust پـه ښار کې د ټوپکـو جوړولـو د فـابریکې مشر ـ و. ایورسـمن د Darpat پـه ښـار کـې تـر ۱۸۱۷ز.کال پورې جراحي زده کـړه. پـلار چـې یـې آلمـان تـه راسـتون شـو، دی پـه

روسیه کې پاتې شو. ده د ۱۸۲۰ز.کال د اکتوبر د میاشتې په لسمه د روسیې د شاهي کونسل د طبیب په توګه له اورن برګ څخه بخارا ته سفر وکړ، درې میاشتې هلته و. دلته د روسیې د جاسوس په توګه معرفي کېده؛ نو د کاشغر او تبت سفر یې پرېښود او اورن برګ ته ستون شو. د ده یو کتاب Reise Von OrengburgnachBuchara یعنې «له اورن بورګه بخارا ته یو سفر یا له اورن بورګه تر بخارا پورې». دا اثر د پښتو ژبې د نومونو، عددونو، ضمیرونو او فعلونو فهرست دی چې په پارسي، تاتاري، جرمني او روسي ژبو یې ژباړلی دی. (۴: ۱۸۵ مخ)

## ۲۱. ګیراسیمووا

الیفتینا سیرګېیفنا ګیراسیمووا په ۱۹۲۵ز.کال د اندیژان د ښار د یوه انجینیر په کورنۍ کې وزېږېده. د منځني ښوونځي د انستیتوت د خلاصولو څخه وروسته د مسکو د ختیځ پېژندنې په افغاني څانګه کې شامله او په ۱۹۴۹ز.کال کې ترې فارغه شوه. په ۱۹۴۹ز.کال کې د شوروي اتحاد د علومو اکاډمۍ د ختیځ پېژندنې په څانګه کې علمي غړې شوه. دې مېرمنې د پښتو د معاصرو ادبیاتو د ترقۍ لار د اثر په لیکلو سره خپله دوکتورا ترلاسه کړه. ګیراسیمووا څو کاله د ختیځو ژبو پېژندنې ډیپارتمنټ مسکو کې د پښتو درس ورکړی او پښتو ژبې او ادب ته یې خدمت کړی دی. د دې مېرمنې هڅه دا وه چې روسي لوستونکي پښتو ژبې، ادب او معاصرو لیکوالو سره آشنا کړي. نوموړې د خپلو نورو غوره علمي څېړنو تر څنګ د عبدالروف بېنوا، ګل پاچا الفت، قیام الدین خادم، محمد یوسف ساپي، احسان الله هېر، پکتیاني، غلام غوث خیبري، حمزه شینواري او راحت زاخیلي یو لړ ادبي آثار په روسي ژبه وژباړل او د بې روزګاره ورځ او واوره ورېږي په ټولګو کې یې چاپ کړل. په ۱۹٦۸ز.کال کې مېرمن ګیراسیمووا د لیود میلایا ځیویچ او ناوم ګریبنف په ملګرتیا (د فراق او وصال سندرې) په نامه یو کتاب چاپ کړ. په دې کتاب کې د پښتو د اولسي اشعارو غوره نمونې په روسي ژبه ترجمه او په منظوم ډول چاپ شوي دي. (۳: ۵۷-۵۸ مخونه)

## ۲۲. لیود مېلایا څېویچ

ختیځپوهه لېود مېلایا څېویچ په مسکو کې زېږېدلې ده. په مسکو کې د پښتو ژبې په لیکوالو او څېړنکارو کې یو ښکاره مقام لري. د مسکو د ختیځ پېژندنې

ډیپارتمنت نه یې په ۱۹۵۰ز.کال کې PHD کړې ده. بیا یې په مسکو راډیو پښتو څانګه کې کار پیل کړ چې پښتو خبرونه او تبصرې یې له روسي ژبې څخه ژباړل. پېغله مېلایا څیویچ په هغو تکړه لیکوالو کې شاملېږي، چا چې په لویه پیمانه د پښتو ژبې بدیعي آثار، نظم او کیسې په روسي ژبه ژباړلي دي. دا مېرمنه په ۲۰۰۷ز.کال کې مړه شوې ده. د نوموړې ځینې مشهورې ژباړې دا دي: (۲: ۲۰٦مخ)

**۱ـ د روسي ژبې لنډ درسي کتاب** د نینا پوتا پووا تألیف، دا کتاب یې په پښتو ژبه ترجمه کړی دی.

**۲ـ د پښتو ژبې درسي کتاب**، دا کتاب یې په روسي ژبه ژباړلی دی.

**۳ـ د ځینو پښتو کیسو، شعرونو او نثرونو ژباړه.**

**۴ـ پښتو متلونه او د پښتو د عوامي شاعرانو د اولسي ـ شعرونو په روسي کې ژباړه.** (۳: ۸٦مخ)

## ۲۳. ایفي موف

دغه روسي ختیځپوه د شلمې پېړۍ په لومړیو په ۱۹۰۷ز.کال کې د پښتو ژبې په اړه یو کوچنی اثر چې د افغاني«پښتو» ژبې ترجمان نومېده، په تاشکند کې خپور کړ چې په شوروي اتحاد کې لومړنی تدریسي ـ کتاب ګڼل کېږي. د ایفي موف دغه تألیف مستعملې پښتو کلمې او له (۴۰۰) نه ډېرې د محاورې جملې لري. نوموړې دغه جملې او کلمې په روسي لیکدود لیکلې او په روسي یې ژباړلې وې. (۳: ۲۳ مخ)

## ۲۴. پروفیسر برنارډ ډورن Prof. Bernhard Dorn

د افغانستان او پښتو ژبې په باب ژورې پلټنې د ۱۹مې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې په روسیه کې پیل شوې، د دغې پېړۍ په دېرشمو او څلوېښتمو کلونو کې د پیترزبورګ مشهور ختیځپوه برنارد ډورن ډېر کارونه د افغان پېژندنې په اړه کړي دي. د لومړي ځل لپاره یې د پیترزبورګ په ختیځ پېژندنې فاکولته کې د پښتو تدریس پیل کړ. له ۱۸۵۵ز.کال څخه تر ۱۸۵۷ز.کال پورې د پښتو ژبې تدریس په دې فاکولته کې د دغه پوه په زیار جاري و. (۴: ۱۹۵ مخ)

ډورن روسي آلماني نژاده ختیځپوه دی چې د آلمان په لایپزیک کې د ۱۸۰۵ز.کال د مې په ۱۱مه وزېږېده. له ۱۸۲۲ـ۱۸۲۵ز.کلونو کې هلته او لیپزیک

پوهنتونونو ته ولاړ، په الهیات او ختیځو ژبو کې متخصص شو. خپله دوکتورا یې له لېپزیک پوهنتون څخه ترلاسه او په همدې پوهنتون کې استاد شو. (۱: ۱۳۹ مخ)

ډورن د روسیې د حکومت له خوا لـه ۱۸۲۹ز.کال څخه تر ۱۸۳۵ز.کال پورې وبلل شو چې د خارکوف په پوهنتون کې درس ورکړي. بیا په پطروګراد کې د آسیایي کتابتون او د شاهي موزیم په کار مشغول شو. وایي چې ۱۵۰ کتابونه یې کښلي دي، په عربي و ایراني مسکوکاتو کې یې مهارت درلود او اسلامي خطونه یې ښه پېژندل. له بېلابېلو دندو، لیکنو او څېړنو څخه وروسته په ۱۸۸۱ز.کال کې مړ شو.

ده د پطروګراد په کتابتون کې د ختیځو هېوادو د خطي کتابونو فهرست جوړ کړ چې په ۱۸۵۲ کال چاپ شو. د عربي، پارسي او ترکي ژبو آثارو یو فهرست یې هم په ۱۸٦٦ز.کال په پطروګراد کې چاپ شوی دی.(۱۰: ۵۴۹ مخ)

۱ـ ډورن د پښتو یوه کوچنۍ خریستوماتي(انتخاب) لري چې په ۱۸۴۵ز.کال په پېترزبورګ کې چاپ شوی. دوهم ځل یې فوټوسټېټ نسخه په ۱۳۵٦ل.کال په کابل کې چاپ شوې، ٦۲۰ مخه ده او محمد صدیق روهي پرې په زړه پورې سریزه لیکلې ده.

۲ـ پادري هیوز د کلید افغاني په مقدمه کې لیکي چې د نعمت الله هروي تألیف مخزن افغاني د روسیې د امپریل پوهنتون پوهاند برنهارد ډورن پـه ۱۸۲۹ز.کال پـه انګرېزي وژباړه. (۴: ۱۹٦ مخ)

ډورن د افغانانو تاریخ چې د نعمت الله تألیف دی، په دوو جلدونو کې له فارسي څخه انګرېزي ته په ۱۸۲۹ز.کال کې وژباړه. (۱: ۱۴۰ مخ)

د رحمان بابا د اثر لومړی چاپ پـه روسیه کـې پـه ۱۸۴۸ز.کال کـې وشـو. ډورن د رحمان بابا له اشعارو سره آلماني او انګرېزي ژباړه هـم چـاپ کـړه. دیـد لنـدن د آسیایي ټولنې او ختیځو ژبو د ترجمو د کمېټې غړی شو، یوه ترجمه یې چاپ کـړه چـې د پښـتنو تاریخ نومېده. دا ترجمه د افغان پېژندنې په باره کې د ده لومړی ګام و.(۳: ۸ مخ)

## ۲۵. جېمز ډارمسټېټر James Darmestater

جېمز ډار مسټېټر د مارچ په ۲۸مه په ۱۸۴۹ز.کال د فرانس په الزاس نـومي ښـار کې په یوه غریبـه کـورنۍ کـې وزېږېـد. پـه اصـل کـې یهـودي و. ورور یـې آرسـن ډار مسټېر او د پلار نوم یې سرف(cerf) په خارج کې پښتو څېړونکي نومي اثـر کـې هـم

سرف دی، خو رشاد صاحب د ده د پلار نـوم cert ښـودلی دی چـې دا بـه ضرور یـوه املايــي تېروتنــه وي. پــه پــاريس کــې د کندرســې د لېســې زده کــوونکی و. پــه ۱۸۷۷ز.کال کې يې په ادبياتو کې پي ايچ ډي وکړه او له هماغه مهال راهيسې يـې د ختيځ د ژبو او فرهنګ د يوه وتلي پوهاند نوم وګاټه. په ۱۸۸۵ز.کـال کـې د The) France( په کالج کې استاد شو. له ختيځو علومو سره يې ډېره مينه وه او د فرانسـې حکومت هم په ۱۸۸٦ز.کال کې د هندي ژبو د څېړنو کار وروسـپاره او هنـد تـه يـې واسـتاوه. ده هـم پـه بمبـی، هزاره(ايبـټ آبـاد) او پېښـور کـې پـه زړه پـورې څېړنــې وکړې.(۲: ۲۳۰ مخ)

د ده د هوښياري او پوهې کچه د روان فرهـادي لـه خـبرې معلومـولای شـو چـې ويلي يې دي:«ما په ځوانۍ کې ډار مستېټر پېژندلی و. لـه جسـمي پلـوه يـې دومـره ښکلا او راښکون نه درلود او شاکوپی و، خو د هوښيارتيا او ذهنـي وړتيـا لـه پلـوه مـو بل داسې ختيځپوه نه لاره». (٦: ۳۵۸ مخ)

دغه نامتو ختيځپوه د ۱۸۹۴ز.کال د اکتوبر په ۱۹مه په ماسيونزلافيت کـې وفـات شو. تر ده را وروسته يو ختيځپوه هم دومره پراخې هلې ځلې نـه دي کـړي، ان تـر دې چې تر هغه وروسته ختيځپوهنه هم پر بېلابېلو څانګو يعنې پر ژبپوهنـه او ختيځپوهنـه ووېشل شوه او څانګوېش منځته راغی. د ده نامتو ژباړې په لاندې بڼه دي:

**۱. د پښتونخوا د شعر هارو بهار:** پـه دې کتـاب کـې يـې د پښـتونخوا عـوامي غزلې، چاربيتې، بدلې، متلونه، الله هو، کيسې او سندرې راټـولې کـړي او فرانسـوي يې ته اړولي دي.(۲: ۲۳۱ مخ)

**۲. په افغاني سندرو کې افغاني مينـه:** ډار مسـتېټر پـه دې کتـاب کـې د ډېـرو اولسي شاعرانو د سندرو بېلګې را اخيستي. لـومړی يـې پـه فرانسـوي او بيـا يـې پـه انګرېزي ژبه ژباړلي دي.

## ۲٦. پادري ايسيدور لووينتال Loventhal

ختيځپوه پادري ايسـيدور لووينتـال د امريکـا اوسـېدونکی او د ۱۸۵۷ز.کـال پـه پيل کې پېښور ته راغلی وو. مسيحي تبليغ يې کاوه. (د نوو وصيتونو) په نامه يې يـو کتاب وليکه چې په ۱۸٦۳ز.کال کې په لندن کې چاپ شو. ده په پوهّي کړنـو کـې هم برخه اخيسته، له همدې امله په ۱۸٦۴ز.کال کې چا په خپل دفتر کـې وواژه. د

ده قبر تهکال سره نږدې په گورا قبرستان کې دی. پادري لووینتال د انجیل پښتو ژباړه کړې ده چې چاپ ده او یو چاپ شوی مضمون یې Is Pashto a semitic language نومېږي. (۲: ۱۴۳ مخ)

## ۲۷. ټي. سي. اېډوړډز T. C. Edwards

دغه امریکایي ختیځپوه د امریکا په مشینگن یوهنتون کې پروفیسور دی. ده د محمد نواز طایر «روهي متلونه» کتاب په انگرېزي ژباړلی چې ۱۵۰۰ پښتو متلونه په کې خوندي دي. (۹: ۱۳ مخ)

## ۲۸. پادري جینز انولډسن Jens Enevoldsen

ختیځپوه پادري جنز انولډسن په ۱۹۲۲ز.کال کې په ډنمارک کې پیدا شوی دی. اصلي نوم یې جنز کرسچین انولډسن و. په پښتونخوا کې په غلام عیسی مشهور و. په ۱۹۵۸ز.کال کې یې د پېښور یونیورسټۍ د تاریخ په برخه کې د اروپا د تاریخ تدریس کاوه. په پېښور اکاډمي کې یې څېړنه هم کوله او پښتانه یې په دې اړه رابیدارول چې د خپلې ژبې او ادب په باره کې څېړنې وکړي او کتابونه چاپ کړي. دی د پښتو په ولسي ژوند کې داسې ورگډ شوی و چې جامې او پیزار به یې د پښتنو اغوستل، ناسته پاسته یې ټوله د عامو خلکو په څېر وه، د پښتنو عادتونه یې خپل کړي و، داسې چې بالکل د یو پښتون په شان ښکارېده. ده د پښتو کتابونو یو گرځنده دوکان په یو وېگن کې جوړ کړی و چې وربانـدې لیکلي یې وو (کتابونه دریابونه)او د وېگن په بله خوا یې دا ټپه لیکلې وه:

غنچه د گلو مې په لاس ده
که څوک گلونه بویوي نو را دې شینه
(۵: ۴۲۰۲ مخ)

دا وېگن به د پښتونخوا په گوټ گوټ کې گرځېده، تر ډېره اسماعیل خان او بلوچستان پورې به هم تله، وروسته یې د پېښور صدر بازار کې په همدې نامه یو دوکان پرانیسته. له پښتو او پښتنو سره یې ډېره مینه وه چې د همدې مینې له امله یې پښتو ژبه زده کړه. ډېر ادبي، فولکلوري او د پښتو ژبې په اړه یې ډېر مواد راټول او ویې ژباړل. د ده ژباړل شوي آثار په لاندې توگه دي:

**۱. سپوږمیه کړنګ وهه راخېژه:** دا کتاب د چاپ کال نه لري، خو مقدمه یې په ۱۹٦۹ز.کال کې لیکل شوې ده. په دې کتاب کې د پښتو ټپې او متلونه راټول کړي او په ډنمارکي ژبه یې ژباړلي دي. په دې کتاب کې د پښتنو د اولسي ژوند په اړه تصویرونه هم چاپ دي چې د پېښور رسام سعید سلطان جوړ کړي دي.

**۲. The Nightingale of Peshawar (selection from Rehman Baba 1993)**

په دې کتاب کې انولډسن د رحمان بابا منتخب کلام راټول او په منظومه انګرېزي یې ژباړلی دی.

**۳. An Introduction to Pashto**: د پښتو درسي کتاب دی. (۳۹) درسونه لري. سربېره پر دې د پښتو حروفو په تلفظ او د دې ژبې په ګرامري جوړښت باندې هم په کې خبرې شوې دي.

**۴. د خوشحال خان کلام په دېنش(ډنمارکي) ژبه کې:** په دې کتاب کې د خوشحال خټک د ژوند له حالاتو سره د هغه د کلام بېلګې په ډېنش ژبه کې ژباړلي دي.

**۵. د انجیل پښتو ژباړه.**

**٦. د تورات له خلاصې سره د زبور د صحیفو پښتو ژباړه.**

له دې کتابونونو علاوه یې ځینې علمي ـ څېړنیزې مقالې هم لیکلي دي چې د ډنمارک، پښتو او Peshawar times او جشن خیبر په مجلو کې خپرې شوي دي. دی څه موده په کوپن هاګن یونیورسټۍ کې د پښتو ژبې استاد هم پاتې شوی دی. نوموړی ختیځپوه په ۱۹۹۱ز.کال کې په ډنمارک کې مړ شو.(۲: ۱۵۰ ـ۱۵٦ مخونه)

## ۲۹. عبدالحفیظ غني یف

پښتو پوه عبدالحفیظ غني یف په ۱۹۲۹ز.کال په تاشکند کې وزېږېد. په قوم ازبک او د پلار نوم یې عبدالغني و. ده تر ۱۹۴٦ز.کال پورې د تاشکند په اولغ بېګ نومي ښوونځي کې تر دولسمه پورې سبق ولوست بیا یې د تاشکند په لېنن یونیورسټۍ کې داخله واخیسته او په ۱۹۵۱ز.کال کې فارغ شو. ده د پښتو ګرامرونه ولوستل او د پښتو د فاعل او مفعول په جوړښت او استعمال باندې یې تېزس ولیکه، بیا د نورې زده کړې لپاره مسکو ته ولاړ، هلته یې د پي ایچ ډي لپاره د ختیځو ژبو په ډیپارتمنټ کې درې کاله تېر کړل بیا یې د دریانکوف په لارښوونې د پښتو ژبې د فعلي اصطلاح ګانو تصنیف، د دوی جوړښت او استعمال تر سرلیک

لاندې تېزس يې دفاع او دوکتورا يې ترلاسه کړه. تاشکند ته په راستنېدلو سره د ختيځو ژبو د پېژندنې په ډيپارټمنټ کې د فيلالوجۍ د څانګې مشر شو او دلته يې ديارلس کاله تېر کړل. دی يو ځل په ۱۹۵۹ز. او بل ځل په ۱۹۶۰ز.کال کې افغانستان ته راغلی دی. نوموړي له پښتو سره ډېره مينه لرله چې د نورو ګڼو ليکنو او څېړنو تر څنګ يې دا ژباړې هم ترسره کړې دي:

**۱.** د پښتو افسانو ژباړه په ازبکي ژبه، ۱۹۵۶ز.کال.

**۲.** په ازبکي ژبه د پښتو د معاصرو نثرونو د څو بېلګو ژباړه، ۱۹۵۸ز.کال.

**۳.** د عبدالرحمن پژواک درې مينان او افسانه های مردم د آثارو ژباړه په ازبکي ژبه، ۱۹۶۴ز.کال. (۲: ۱۸۹ مخ)

پروفيسور عبدالحفيظ غني يف مړ شوی دی، خو د مړينې نېټه يې څرګنده نه ده.

## ۳۰. پروفيسر ډاکټر عارف عثمانوف

دغه پښتو پوه د ازبکستان د جمهوريت يو تکړه او رسېدلی څېړونکی دی. دی د پښتو په معاصرو او کلاسيکي ادبياتو کې د پراخې مطالعې خاوند دی. عثمانوف په ۱۹۳۴ز.کال کې د ازبکستان د تاشکند صوبې په ينګي يول نومي ښار کې زېږېدلی. تر لوست وروسته په ۱۹۵۳ز.کال کې د تاشکند يونيورسټۍ د ختيځ پېژندنې په ډيپارټمنټ کې داخل شو او په ۱۹۵۹ز.کال له دغه ډيپارټمنټ نه فارغ شو. په ۱۹۵۸ز.کال کې افغانستان ته راغی او پوره يو کال يې د کابل پوهنتون د ادبياتو په څانګه کې د افغانستان له پوهانو سره درس ولوست. په ۱۹۶۰ز.کال کې يې د Ph.D لپاره د مسکو د علومو اکاډمۍ د ختيځ پېژندنې په انستيتوت کې داخله واخيسته او په ۱۹۶۳ز.کال کې د الفت نثر تر سرليک لاندې خپل تېزس دفاع او دوکتورا يې ترلاسه کړه. ډاکټر عثمانوف له ۱۹۶۶ز.کال څخه تر ۱۹۶۹ز.کال پورې د کابل په پولي تخنيک کې کار وکړ. وروسته يې د ازبکستان د علومو اکاډمي د فلسفې د انستيتوت (ختيځه فلسفه) په څانګه کې د خوشحال خان فلسفي افکارو په اړه نورې څېړنې وکړې. ده د تاشکند په پوهنتون کې د ختيځو ژبو په ډيپارټمنټ کې لس کاله د پښتو ژبې او ادبياتو په اړه تدريس کړی دی.

**۱.** ده د خوشحال خان خټک رباعيات انتخاب کړي او له فارسي، ازبکي، ترکمني او بلوچي شعري ژباړو سره په کابل کې چاپ شوي دي.

**۲.** د ګل پاچا الفت د نثرونو غورچاڼ يې د «بې ګناه محبوس» په نامه په ازبکي ژبه په ۱۹۶۳ز.کال کې په تاشکند کې چاپ شوی دی.(۲: ۲۰۹ـ۲۱۰ مخونه)

## ۳۱. ډاکټر صولت شاه

د ده پښتو پوه بشپړ نوم صولت شاه ميرګنوف دی. په ۱۹۳۷ز.کال کې د تاجکستان په درواز نومي ځای کې زيږيدلی دی. تر لومړنيو زده کړو وروسته د نورو زده کړو په موخه د تاجکستان ښار دوشنبې ته ولاړ، هلته يې په لېنن پوهنتون کې داخله واخيسته، خو له پښتو ژبې او پښتو ادب سره د زياتې مينې له امله د لېننګراد ښار د ختيځو ژبو د زده کړې په انستيتوت کې داخل شو او په ۱۹۶۱ز.کال کې تر فراغت وروسته د تاجکستان په پوهنتون کې د پښتو ژبې او ادب د استاد په توګه مقرر شو. په ۱۹۶۵ز.کال کې د ختيځو ژبو د پېژندنې په موخه بېرته مسکو ته ولاړ چې په ۱۹۷۴ز.کال کې يې PHD هم ترلاسه کړه او په پښتو متلونو کې ژبني او عروضي خصوصياتو تر سرليک لاندې يې له خپل تېزس څخه دفاع وکړه. نوموړي دا ژباړې ترسره کړي دي:

**۱.** د غوث خيبري پښتو داستان (اورلمبې) يې وژباړه چې د افغان ادبياتو په ټولګه کې چاپ شوی دی.

**۲.** په تاجکي ژبه د عبدالروف بېنوا د اوسني ليکوال کتاب يې وژباړه، خو لا چاپ نه دی.(۲: ۲۱۴ـ۲۱۵ مخونه)

## ۳۲. منو هرسنګه بترا

دی په ۱۹۲۷ز.کال کې په راولپينډۍ ښار کې زيږيدلی، خو د «وياړلي» په تذکره کې د ده د زوکړې کال ۱۹۲۱ز.کال ښودل شوی. په ۱۹۴۷ز.کال کې د هند او پاکستان تر وېش وروسته له خپلې کورنۍ سره هند ته ولاړ او په ډهلي کې مېشت شو. په پنډۍ کې يې تر لسم ټولګي پورې درس ولوست، وروسته يې په لاهور کې تر څوارلسمه پورې درس ولوست. ماسټري يې د هند په پنجاب پوهنتون کې وکړه او په ۱۹۶۳ز.کال کې کابل ته راغی او د ادبياتو په پوهنځي کې د پښتو د زياتې زده کړې لپاره داخله واخيسته، تر يو کال درس ويلو وروسته بېرته ډهلي ته ولاړ او د آل انډيا راډيو په پښتو څانګه کې يې په کار پيل وکړ. نوموړي د نورو کارونو تر څنګ ژباړې هم کړي چې د پښتو زيات شمېر شعرونه يې په انګرېزي ژبه ژباړلي

چې په کابل ټايمز کې خپاره شوي دي. په کابل مجله، هېواد او اصلاح ورځپاڼو کې يې هم ځينې مقالې او مضمونونه چاپ شوي دي. دی په انګرېزي، پښتو، پنجابي، اردو، هندي، عربي او اسپانوي ژبو ښه پوهېده او په دري ژبه يې هم خپله ستونزه حل کولای شوای. (۲: ۲۶۴-۲۶۵ مخونه)

## پايله

انګرېزان پر دې واقعيت پوهېدل چې د پښتنو له ژبې او عنعناتو له پېژندنې پرته استعماري او ستراتيژيکو موخو ته نه شي رسېدلای. ځرنګه چې د يو قوم او ملت پر ژبه او عنعناتو باندې پوهېدل ډېرې پېچلې ستونزې اسانوي او د حل لارې يې برابروي؛ نو پر همدې بنسټ لسګونو ختيځپوهانو په آلماني، انګرېزي، فرانسوي او نورو ژبو د پښتو ژبې، ادب، تاريخ او فرهنګ په اړه مقالې، رسالې او کتابونه ليکلي دي چې له ځينو سهوو او نيمګړتياوو سره سره د دغو پښتو پوهانو کارونه په ډېرو برخو کې ارزښتناک دي. ان تر دې چې که د پښتو د فرهنګ او ژبې د پېژندنې په اړه چې کوم کارونه د پښتنو له خوا هم ترسره شوي دي، ډېرو د ختيځپوهانو له آثارو ګټه اخيستې ده، زموږ د ډېرو فرهنګي شخصيتونو او کتابونو په اړه معلومات د دغو ختيځپوهانو له آثارو څخه اخيستل شوي دي.

پښتنو چې تل نا آرامه او له تاړاکګرو سره لاس او ګرېوان ژوند تېر کړی؛ نو د خپلې ژبې او ادب د خدمت لپاره ډېر وزګار شوي نه دي، خو د دې قوم ژبه تر ډېره د ښې برخې خاونده ده، دا په دې چې که خپله پښتنو ورته د اړتيا تر کچې کار نه دی کړی، خو د نورو ژبو ويونکو او ختيځپوهانو ورته په هر مهال کې د يادولو وړ کار او خدمت کړی دی. که څه هم د دې ختيځپوهانو علمي او څېړنيزې هڅې د خپل وخت د سياسي او حربي غوښتنو، پوځي موخو، سوداګريزو او تفريحي غرضونو او علمي ګټو لپاره وې، خو د دوی دا هڅې د پښتو ژبې او ادب د علمي پرمختګ لپاره او نايابو آثارو او ليکنو په خوندي ساتلو کې خورا په زړه پورې ګامونه وو. ختيځپوهان که څه هم غير پښتانه او د دې ژبې اهل نه وو، خو د پښتنو د ژبې، ادب، فولکلور، تاريخ، تهذيب، عقايدو او پرمختګونو په اړه يې لټونې او څېړنې کړې دي. دوی په پښتو ژبه او ادب کې د يوې نوې لارې پر رامنځته کولو سربېره ساده او رواني ليکنې

دود کړې. ختیځپوهانو خپله هم ژبه زده کړه او هم يې نورو ته د زده کولو آسانتیاوې برابرې کړې.

دې سیمې ته د ختیځپوهانو راتګ د پښتو ژبې، ادب، تاریخ، فولکلور، د پښتو ګرامرونو او قاموسونو جوړولو او په ځانګړې توګه د ژباړې په برخه کې یوه بې سارې هڅه وه. دوی په دې ټولو ډګرونو کې غوره کارونه کړي دي، داسې کارونه چې خپله پښتانه هم ترې خبر نه وو، دوی پښتانه لیکوال د څېړنې له فن سره بلد کړل، د فولکلور په راټولولو يې پوه کړل، د پښتو ژبې د زده کړې لپاره يې ګرامرونه او قاموسونه جوړ کړل او د دې ټولو تر څنګ يې دوی ته د ژباړې لارې چارې هم ور په ګوته کړې چې په ترڅ کې يې د پښتو ژبې او ادب ډېر ارزښتناک آثار نورو ژبو او ولسونو ته ور وپېژندل شول او ټولو ته دا جوته شوه چې پښتون هم یو مهذب او له فرهنګي او معنوي ارزښتونو څخه ډک قوم دی.

## وړاندیزونه

۱. هغو ختیځپوهانو چې د پښتو ژبې او ادب د بډاینې لپاره ژباړې کړي دي، د هغوی پېژندګلوي او د ژوند حالات دې د یوې علمي - څېړنیزې پروژې په ترڅ کې د پښتو ژبې او ادب مینه والو ته لا نور هم روښانه شي.

۲. پښتو ژبې او ادب ته د ختیځپوهانو د خدمتونو د درناوي په موخه دې د هغوی په اړه یو علمي ـ څېړنیز سیمینار جوړ شي.

## مأخذونه


۱. بدوي، عبدالرحمن. فرهنګ کامل خاورشناسان، دفتر تبلیغات اسلامي: ایران، ۱۳۷۵ل.کال.

۲. خلیل، محمد جاوید. پښتو او مستشرقین، پېښور، پښتو اکاډمي، پېښور یونیورسټي، جدون پرینټنګ پرېښ: پېښور، ۲۰۱۱ز.کال.

۳. رحیم، عبدالرحیم. په خارج کې پښتو څېړونکي، پښتو ټولنه: کابل،۱۳۵۳ل.کال.

۴. رشاد، عبدالشکور. ختیځپوهان، علامه رشاد اکاډمي، ملالی مطبعه: کندهار، ۱۳۹۵ل.کال.

۵. رفيقي، عبدالروف. ویاړلي، تذکره، لسم ټوک، د افغانستان ملي تحریک، اسد دانش مطبعه: کابل، ۱۳۹۵ل.کال.

٦. زيار، مجاور احمد. پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې، د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، شینواری پرنټینګ پرېس: ۱۳۷۹ل.کال.

۷. شینواری، معتمد. ترجمه د ګ. ف. ګېرس د میړني اولس ادبیات، د قومونو او قبایلو وزارت،د نشریاتو او تبلیغاتو ریاست:کابل، ۱۹۸۵ز.کال.

۸. شینواری، معتمد. په شوروي اتحاد کې د افغان پېژندنې عنعنه، کابل مجله، ۱ ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي:کابل، ۱۳۵۹ل.کال.

۹. نيازی، رفیع الله. پښتني فولکلور او ختیځپوهان، کابل مجله، درېیمه دوره، ۱۲مه ګڼه د افغانستان د علومو اکاډمي:کابل، ۱۳۹۵ل.کال.

۱۰. هېوادمل، زلمی. د پښتو نثر اته سوه کاله، ملت پرنټرز:لاهور، ۱۳۷۵ل.کال.

څېړنیار حمایت الله ښاد

# سواتنامه د معاصرې یونلیکنې د ځانګړنو په رڼا کې

# Swatnama in the Light of Contemporary Features of Travelogue

**Research Assistant Hemayatullah Khad**

## Abstract

Life is a journey, and each alive person is passenger on this trip. Some are going in dry desert, and some others enjoys from their travel by siting and spending time in green, cool and water-rich environment.

The journey of life is accompanied by joy, colors, pain and sorrow, relaxation and affliction.

Furthermore of Khushal Khan short journey of life he traveled to many deferent places that one of those place is Sawat on which he wrote Swatnama in the form of poetry.

This article will included and discuss contemporary features of travelogue, furthermore of oldness of Swat and general cultural situation will be covered.

Finally it will be proven that Khushal's Swatnama is stand in which group of Travelogue.

## لنډیز

ژوند یو سفر دی او د ژوند هر غړی یو مسافر دی، څوک په وچه صحرا کې په سفر روان وي او څوک بیا د شنو ونو یخو سیورو او د سړو چینو په غاړه ناست له خپل سفر څخه خوند اخلي. د ژوند سفر د خوند او رنګ، درد و غم، تکلیف او ارام

سره مل وي. خوشحال خان د ژوند په دغه لنډ تنګ سفر کې پر نورو وړو سفرونو سربېره سوات ته ځي او له سفر وروسته خپل سفر ته رنګینـي ورکـوي او پـه منظومه ژبه يې د کتاب پر پاڼو پربېږدي.

په دې لیکنه کې به په سواتنامې کې د معاصرې سفرنامې پر ځانګړنو سربېره د سوات په لرغونتیا او عام فرهنګي وضعیت باندې هم بحث وشي او دا بـه جوته شي چې د خوشحال سواتنامه د سفرنامو په کوم کتار کې درېږي.

## سریزه

انسانان په ژوند کې ډېر سفرونه کوي او د سفرونو پـه تـرڅ کـې لـه ډېـرو لـوړو او ژورو سره مخامخ کېږي؛ خو ټول انسانان د خپلو سفرونو د حالاتو بیـان نـورو تـه پـه لیکلي بڼه نه پرېږدي او یا هم يې د لیکلو او پرېښودلو وړتیـا نـه لـري. د ژونـد پـه لـړ کې ډېر انسانان سفرونه کوي، ډول ډول سیمو ته د بېلا بېلو موخه په پـار ځـي؛ خـو هغه شیان چې ادیبان او شاعران يې د خپل سفر په دوران کېویني، د نـورو عـادي خلکو ورته پام نه اوړي، که پام يې هم شي، هغسـې پـه ادبي او هـنري ژبـه چـې یـو شاعر یا ادیب يې وړاندې کـوي چـې د خلکـو احساسـات ډېـر ژر تـرې اغېـز مـومي، عادي خلک بیا دغه جوهر نه لري.

خوشحال خان د پښتو ژبې ستر لیکـوال او شـاعر و چـې تـر اوسـه یـې پـه پښـتو ادبیاتو کې موږ سیال نه لرو. دغه ستر لیکـوال خپـل سـفر د سـواتنامې تـر سرلیـک لاندې په ساده، خوږ او روان نظم پرېښـود چـې اوسـمهال هـم د یـوې بشـپړې ادبي سفرنامې ډېرې ځانګړنې په ځان کې رانغاړي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې د پښتو ادب پـه بـڼ کـې د تـر ټولـو لـومړی منظـومې سـفرنامې ځـانګړنې روښـانوي چـې سـواتنامې تـر کـومې اندازې د معاصر یونلیک پر پل تګ کړی او همدارنګه یـې پښـتو ادب لـه دغـه اړخـه څومره رنګین او بډایه کړی دی.

## د څېړنې موخه

پـه سـواتنامه کـې د یـوې بشـپړې ادبي سـفرنامې ځـانګړنې او بـېلا بېـل اړخونـه څرګندول د دې څېړنې تر ټوله لومړی موخه ده.

## د څېړنې پوښتنې

۱. سواتنامه کوم ادبي ژانر دی؟

۲. ایا د خوشحال سواتنامې د یوې ادبي سفرنامې ځانګړنې پوره کړې دي؟

۳. سواتنامه کومې مهمې ځانګړنې لري؟

دا او دې ورته کوچنۍ پوښتنې به په دې څېړنه کې ځواب شي.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي ـ تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## اصلي متن

مخکې له دې چې د خوشحال خان خټک په سواتنامه کې د معاصر یونلیک ځانګړنې وپلټو، غوره به وي چې لومړی د یونلیک (سفرنامه) په اړه د ځینو ادبپوهانو پېژندنو ته تم شو، څکه د لیکوالو تعریفونه له موږ سره د موضوع په روښانولو او څېړلو کې ډېره مرسته کولای شي.

د یونلیک په اړه بېلا بېلو څېړونکو او ادبپوهانو ډول ډول توضیحي، تشریحي او تحلیلي څرګندونې کړې دي چې ډېر یې سره ورته او ګډ ټکي لري چې دلته یې د ځینو پوهانو تعریفونه راوړم:

استاد حبیب الله رفیع په خپل اثر (زرینې ځانګې) کې د سفرنامې په اړه داسې راته وایي چې د لیکوال او شاعر سفر د نورو خلکو له سفر سره خورا کوړت توپیر لري، په دې معنا د عادي خلکو سفرونه تېرېږي او هېرېږي؛ خو ادیبان او شاعران په خپل سفر کې ډېر داسې څهویني چې عادي سیلانیان یې لیدلو ته نه ځیر کېږي. دوی خپلې دا خاطرې د قلم په ژبه او د ادب په ادا خوندي کوي او ورپسې راتلونکو نسلونو ته یې د خپل سفر د نچوړ په توګه پرېږدي.(۱: ۱۰۰مخ)

اکاډمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد د یوې علمي ـ څېړنیزې پروژې په تقریظ کې د سفرنامې په اړه کاږي: «... د ژوندانه په سفر کې لنډ لنډ جسماني سفرونه سته، له یوه ځایه بل ځای ته خلک ځي، مځکه نغاړي. له یوه اقلیمه بل ته اوړي، له یوه اولسه بل ته ځي. د دغو لارو ځینې لاروي (ګرځندویان) چې په خپلو سفرونو کې څه ویني، اوري یا څه ترخه خواږه حالونه پرې راځي، هغه لیکي. د دوی د سفر پېښې او لیدنې، خلک ډېرې سدۍ وروسته هم په شوق لولي او کله کله پانیاتونه

(عبرتونه) لا هم ځنې اخلي، د ادب دغه پیځکه په پارسي کې سفرنامه بلل کېږي، ځلمیان پښتانه یې (یونلیک)بولي.(۲: ۱۵مخ)

د (فرهنګ زبان و ادبیات پشتو) اثر لیکوال یې په لنډه توګه داسې راپېژني: سفرنامه هغه اثر دی چې لیکوال په کې خپل د سفر حالت په هنري او ادبي ژبه بیان کړی وي. ( ۳: ۱۳٦ مخ)

سید نظیم سیدي بیا په یوه مقاله کې د سفرنامې په اړه کښلي دي: سفرنامه هغه ادبي ژانر دی چې د انسان د سفر خوږې او ترخې خاطرې بیانوي، دغه خاطرې کېدای شي د انسان په ژوند کې مثبت بدلون راولي او یو ډول ننګونې ته یې اړ باسي او کېدای شي انسان په ټوله معنا عقدوي او له احساساتو څخه ډک کړي او ډېر ځله د ډېرو پدیدو، ټولنو، انسانانو او ... په اړه غبرګون وښیي چې دغه یې د ناکامي او احساساتي برخورد دی.( ۴: ٦۲ مخ)

لکه څرنګه چې مې مخکې وویل، د یونلیک په اړه ډېرو پوهانو خپل اندونه او تحلیلونه وړاندې کړي چې هره پېژندنه یې د الفاظو او کلماتو  په بدلون یوه موخه تعقیبوي، د دغو ټولو پېژندنو په رڼا کې ویلی شو چې یونلیک یا سفرنامه هغه لیکلی محتوایي( موضوعي) ادبي ژانر دی چې لیکوال په کې د خپل سفر ټول لیدلي، کتلي او اورېدلي څیزونه او مسایل، د سفر په دوران کې ځان پېښې، د لیدلو ځایونو طبیعي، جغرافیایي، سیاسي، اقتصادي، تاریخي او فرهنګي څرنګوالی او حالت، همدارنګه د خلکو د خویونو، دودونو، دیني او مذهبي عقایدو او ملي عنعناتو اړوند معلومات په کې په ادبي او هنري ژبه بیان کړي؛ یعنې په ټوله معنا یونلیک هغه اثر دی چې لیکوال په کې د سفر بېلا بېلې خواوې په خورا خوندوره، روانه او هنري ژبه بیان کړې وي.

دا چې د سفرنامې په ټولیزه وېشنه او په ځانګړې توګه په سواتنامه پوره پوه شو، غوره به وي چې د یونلیکونو ډولونو ته هم سر ورښکاره کړو، چې په دې خبر شو چې سواتنامه د سفرنامو په کوم ځېل کې راتللی شي. په عمومي توګه زما په اند یونلیکونه د شکل له مخې په دوو برخو وېشل شوي چې لومړی یې منثورې او دوهم ډول یې منظومې سفرمانې ګڼلی شو، ځکه سفرنامه یو داسې ژانر دی چې د سفر له موضوع سره سروکار لري او د سفر د حالاتو په بیان کې د شکل او بڼې ډېر خیال

نه ساتي. د دې وېشنې له مخې د خوشحال سواتنامه يوه منظومه سفرنامه ده؛ خو پر دې ډول وېشنې سربېره نورې وېشنې هم لرو چې دلته يې راوړل اړين دي.

ادبپوه ډاکټر څېړنپوه سيد محي الدين هاشمي، ادبي يونليکونه د بڼې له مخې په درېوو ډولونو وېشلي چې هر ډول به يې د يوې لنډې پېژندنې په ترڅ کې معرفي هم کړو:

۱- واقعي يا رښتيني يونليکونه

۲- خيالي يونليکونه

۳- تمثيلي يونليکونه

واقعي يا رښتيني يونليکونه: هغه دي چې سفر يې په رښتوني توګه تر سره شوی وي.

خيالي يونليکونه: په دې ډول يونليکونو کې سفر رښتينې بڼه نه لري، ليکوال د خپلې تړلنې نا انډولي، نادودې په يو خيالي سفر کې بيانوي.

تمثيلي يونليکونه: په دې ډول يونليکونو کې ليکوال د خيال او تصور په حال کې نړۍ ته سفر کوي او ليکوال خپل سفر د کيسې او تمثيل په بڼه بيانوي. (۵: ۲۸٦ مخ)

د يونليکونو د دغې پورتنۍ وېشنې پر بنسټ سواتنامه د واقعي يا رښتيني يونليکونو په قطار کې درېږي، ځکه چې خوشحال عملا سوات ته ځي او وروسته خپل سفر د يوې ښکلې سفرنامې په ترڅ کې بيانوي.

## د خوشحال سواتنامه

په پښتو ادب کې د سفرنامې ليکلو په برخه کې په لومړي ځل د قلم څوکه د خوشحال خان بابا له خوا وخوځېده، کله چې خوشحال په ۱۰۵۴ هجري قمري کال ننني پنجشېر او د افغانستان نورو شمالي سيمو ته سفر کوي، له سفر وروسته دغه حالت د (هندو کوه نامه) تر سرليک لاندې په نثري بڼه پيوندوي او په پښتو ادب کې د سفرنامې د بنسټ ډېره ږدي. له دغه سفر وروسته په (۱۰۸٦هـ ق) د سوات ښکلې سيمې ته ځي او د خپل سفر حالات، جغرافيايي څرنګوالی، د خلکو ژوند، دود او عنعناتو په باب په زړه پورې معلومات په منظومه ژبه وړاندې کوي. (٦: ۲۹۱ مخ)

سواتنامه، خان د سوات د سفر په ترڅ کې په پښتو مثنوي کښلې ده چې ټول ۳۹۱ بيتونه لري او د خان له بهترينو اثارو څخه شمېرل کېږي. (۷: ۱۸۵ مخ)

سوات د هاغه وخت او اوسني وخت ښکلې، ښېرازه او د ليدو وړ سيمه ده. دغه سيمه د فاتحانو پر لار کابل، کونړ، باجوړ او اباسين پرته وه چې د پانيني په آثارو

کې (۳۵۰ ق.م) را په دې خوا ادییانه بلل شوې چې په پراکریت کې اوجیانه وه او معنا یې هم باغستان یا بوستان غوندې ځای دی.

په پښتو ژبه کې پوهاند عبدالحی حبیبي د (ادییانه) کلمې ډېره ښه شننه کړې ده: ادي Uddi د پښتو له ودې څخه ریښه لري چې نشونما او وده کول او سمسورېدل دي. له دې سره دیانه ـ وانه ـ بڼ پایڅوړ ونښلي، نو به ادییانه= ودې بڼ ښیي. یعنې وده کوونکی باغ یا سمسور بڼ چې په پاړسو یې بوستان یا گلستان بولي.

سوات یوه لرغونې تاریخي سیمه ده چې د ریگویدا په سندرو کې د سوات د رود نوم سوتي یا سواستو ذکر شوی او په نورو لرغونو آریایي ژبو اوستا کې SPAETA او په پهلوي کې SAITA = SPET او په ویدي ژبه کې سویت CVET په نومونو راغلې ده ( ۸: ٦٦ ـ٦٧ مخونه). سوات ډېره لرغونې تاریخي سیمه ده چې دلته یې په اړه پورتنۍ لنډه توضیح بسنه کوي، له خوشحال خان ختک څخه ډېر مخکې د (۴۰۰ـ ٦۳۱) زېږدیزو کلونو په دوران کې دغې سیمې ته درې تنه چیني بودایي راهبان هم راغلي او په خپلو سفرنامو کې یې د سوات یادونه کړې ده.

که څه هم د دغو راهبانو سفر په ټولیز ډول د افغانستان بېلا بېلو سیمو ته شوی و او موخه یې د مذهبي وضعیت معلومول و چې د دغو سفرونو په ترڅ کې یې د سوات په فرهنگي وضعیت هم ښه رڼا اچولې ده، له خوشحال خان څخه وړاندې دغه سفرونه ډېر پخوا شوي وو او د دغو راهبانو سفرنامو یوازې مذهبي جنبه درلوده، نو ویلی شو چې خوشحال خان یوازینی پښتون شاعر او لیکوال دی چې د سوات سفر یې په رنگینه، هنري او منظومه ژبه موږ ته د یوې ادبي منظومې سفرنامې په بڼه پرېښی دی.

دلته غوره بولم چې لومړی د خوشحال د سوات سفر چې په منظوم تحریري ډول موږ ته راپاتې دی، په لنډو ټکو کې وړاندې کړم تر څو په کې د خپلې موضوع ټول اړخونه په سمه توگه ومونډی شو : خان بابا د ۱۰۸٦ ق کال د دریمې خور(پنځمه میاشت) په اوومه نېټه د سوات په لوري روان شو او اووه میاشتې یې هلته تېرې کړې، په دغه سفر کې خوشحال خپله موخه درلوده چې په پښتنو کې د یووالي، تعلیم او پرمختگ روحیه راپارول او د گورگانیانو (مغلو) پر وړاندې راپاڅول وو.

په هر حال، خوشحال د مغلي پادشاه اورنگزېب په زمانه کې له خپل کوره د سوات په لوري حرکت کوي، هلته په سوات کې له ډول ډول لوړو ژورو سره مخامخ

کېږي. خوشحال بابا په دغه سفر کې د اسماعیل خان یوسفزي لـه لـور سره واده هـم کوي چې صدر خان د دغې ښځې له نسه و. دا چې خان له بنده مخکې د مغلو پلـوی و او د هغوی د خوشحالۍ لپاره یې ډېر پښتانه او په ځانګړې توګـه یوسـفزي وژلي وو، سوات چې د ګڼو یوسفزیو د اوسېدو سیمه وه؛ نو د خوشحال خان ورداخلېدل هم څـه اسان کار نه و؛ خو بیا هم خان د غټ زړه خاوند او د خپلو پښتنو پـه ننـګ پـوه مشرـ و. خوشحال سوات ته ورسېد، د سوات ښکلې، ښـېرازه او سمسـورې درې، لارې ګـودرې، د خلکو ټولنیز ژوند او ناستې ولاړې یې له خپله لیدلوري ولیـدې. هلتـه یـې د کـلي او ولس د ملکانو او د وخت د مذهبي مشرانو له ناروا چارو پردې پورته کړې چـې پـه دغـه کار سره د خلکو له تریخ غبرګون سره هـم مخـامخ شـوی دی، کلـه چـې یـې د اخونـد درویزه په مخزن الاسلام باندې (چې په دغه دور کې د سـوات د خلکـو مـذهبي کتـاب و) نقد وکړ، په مقابل کـې یـې ډېـر خلـک چـې مشرـي یـې میـانور کولـه، راولاړ شـول. میانور په مذهبي رنګ کې د مغلي حکومت له خوا روزل شـوی سـړی و چـې د سـوات خلک همداسې پرده پوښ وساتي تر څـو د مرکـزي حکومـت پـر وړانـدې بغاوتونـه و نـه کړي. خوشحال له میانور سره علمي مباحثه کـوي او پـای کـې میـانور او پلویـان ماتـه مني او د مغلي دربار له خدمت څخه توبه وباسي.

په ټوله کې خوشحال د سوات ټولو اوسېدونکو او د وخت ټولنیز وضعیت تـه پـه خپلـه سفرنامه کې ځای ورکړی چې په ځانګړنو کې به د بېلګو له راوړلو سره روښانه شي.

## په سواتنامه کې د معاصر یونلیک ځانګړنې

پورته د یونلیک او د خوشحال د سواتنامې په اړه په ډېرو شیانو پوه شو، په پښـتو ادب کې سواتنامه د لومړۍ بشپړې منظومې ادبي سفرنامې ویاړ له ځـان سره لـري، داچـې دغـه سـفرنامه څـومره د معـاصرو یونلیکونـو ځـانګړنې لـري؟ او څـومره یـې د سفرنامې له معیار سره ځان برابر کړی؟ دا هغه پوښتنې دي چې پـه دې څېړنـه کـې به ځواب شي.

سید محي الدین هاشمي «د نثري ادبي ډولونه» کې د یو ښه یونلیک د لیکلو پـه موخه داسې لیکي:"...د یوې غوره او بشپړې سفرنامې لیکل د داسې چا لپـاره چـې د لیکوالۍ ښه او کره تجربه او مهارت و نه لري، آسانه کار نه دی، نو لازمه ده چې په دې لړ کې د کوچنیو بېلګو له ترتیبولو څخه پیل وشي...". (۵: ۲۸۹ مخ)

د یو بشپړ ادبي او خوندور یونلیک لیکل د هر چا د وس کار نـه دی او نـه لـه هـر لیکوال چې په دغه برخې کې د پوره پوهې خاونـد نـه وي، مـوږ تـرې د ښـه یونلیـک تمه نه لرو، ځکـه د یونلیـک د لیکـوالی شرایـط او ځـانګړنې هـر څـوک نـه شي پـوره کـولی، د سـفرنامې لیکـونکی یـوازې لیکـوال نـه وي، بلکـې پـه تـاریخ، جغرافیـه، سیاست، ارواپوهنه، ادب، ثقافت او نـورو ګڼـو علومـو کـې د پـوهې او پـوره مطـالعې خاوند وي. خوشبختانه خوشحال په دغو ټولو علومو کې د پوره پوهې خاونـد و او پـه خپل سفر کې یې ډېرې هغه برخې راوړي چې د اوس وخت لیکوال هم ورته ګوته په غاښ دي. اوس دلته یوه پوښتنه راولاړېږي، په اوسني وخت کې مونږ ډېر د یونلیـک لیکونکي ګورو چې په ډېرو علومو نه پوهېږي، خو سـفرنامې لیکـي. هـو مـوږ لـه دې خبرې انکار نه شو کولی چې یو څوک په پورته علومو پوه نه وي، نو سـفرنامه نـه شي لیکلی، لیکلـی یـې شي؛ خـو یـوازې د یـوه راپـور بڼـه بـه ولـري، هغسـې خونـد چـې لوستونکي یې د بېلا بېلو علومو په برخه کې د پـوه لیکـوال لـه سـفرنامې اخـلي، لـه نورو یې نه شي اخیستلی. زه دا نه وایم چـې د یونلیـک لیکـونکی دې پـه دغـو ټولـو علومو کې د برلاسی خاوند وي، بلکې لږ تر لږه  د لیکوالی تر څنـګ پـه نـورو علومـو کې  مطالعه ولري، داسې نه چې مونږ ته د یوې سیمې څلور خـواوې ختـیځ لویـدیځ او لویدیځ ختیځ راوپېژني او په لوی لاس مو په کړاو اخته کړي. په هر حـال، دا ټـول د لیکـوال پـه اسـتعداد، ادبي ذوق او ښـوځانګړنو پـورې اړه لـري، کـه د سـفرنامې د لیکوال پر ځانګړنو وغږېږو، نو دا بېلې څېړنې ته اړتیا پیـدا کـوي او دلتـه بـه مـوږ لـه خپلـې اصلـي موضـوع بلـې خواتـه روان کـړي، اوس بـه پـه سـواتنامه کـې د ښــې او معاصرې سفرنامې ځانګړنې وپلټو:

دلته د یوې خبرې وضاحت په کـار دی چـې لـه معـاصرې سـفرنامې څخـه زمـوږ موخه هغه سفرنامې نه دي چې په اوس وخت کې لیکل کېږي، بلکې د (معاصر) لـه کلمې څخه مو هدف هغه سفرنامې دي چـې د ادبي یونلیـک بشـپړې ځـانګړنې یـې پوره کړې وي، ځکه اوسمهال موږ ډېـرې تـش پـه نامـه عـادي یونلیکونـه لـرو چـې د سفرنامې ډېر خصوصیات نه لري.

**۱.  په معاصر یونلیک کې د زمان او وخت څرګنـدول اړیـن دي:** پـه معـاصرو یونلیکونو کې د وخت څرګنـدول د یـوې سـفرنامې لپـاره تـر ټولـو غـوره ځانګړنـه ده،

يعنې ليکوال بايد د خپل سفر د پيلېدو پوره او کره نېټه وليکي، ځکه د وخت ظاهرول له لوستونکو سره ډېره مرسته کولی شي. د بېلگې په ډول که يو لوستونکی اوسمهال سواتنامه ولولي او له لوستو وروسته سوات ته لاړ شي، ښايي هغه څه چې يې په سواتنامه کې لوستلي وي، اوس يې کورټ تغير کړی وي؛ نو په يونليک کې د وخت او مهال ذکر کول تر ټولو اړين توکی دی ځکه په دې سره لوستونکی هغه سيمه چې ليکوال ورته پخوا سفر کړی دی، له خپل حال سره ډېر ښه پرتله کولی شي او د پخواني او اوسني سوات په توپيرونو يې په ډېره اسانه پوهولی شي. خوشحال خان په سواتنامه کې د خپل سفر د پيلېدو نېټه نه ده ذکر کړې، يوازې د سواتنامې اغاز يې د ده د ځوانۍ د وخت له پادشاهۍ څخه داسې کړی دی:

په دوران د شاه جهان پادشاه ځواني وه
ميسره د زړه هره کامراني وه

په پورته بيت کې خوشحال د خپلې ځوانۍ موسم رايادوي، ځکه په دغه وخت (د شاه جهان په دور) کې خوشحال د خپلې کورنۍ سردار او د خټکو او سيمې خان وي؛ خو اوس چې سوات ته راغلی، هغسې ځواني او خاني نه لري. دغه بيت د سوات له سفر سره هېڅ ډول اړيکه نه لري او يوازې موږ ته د خوشحال د ځوانۍ له پسمنظره پرته نور هېڅ نه شي راکولی. که څه هم خوشحال په سواتنامه کې ځای ځای د اورنگزېب له پادشاهۍ سرټکوي؛ خو په ښکاره ډول يې سوات ته د تللو وخت نه دی ذکر کړی. موږ د خوشحال په اړه د نورو څېړنو پر بنسټ په دې پوهېږو چې خان د اورنگزېب د پادشاهۍ په دوران کې په ۱۰۸٦ هـ ق کال د پنځمې مياشتې په اوومه نېټه سوات ته خپل سفر پيلوي؛ خو په سواتنامه کې په څرگند ډول د سفر د پيلېدو او سوات ته د تللو نېټه نه ده ذکر شوې چې دا يې د معاصرې سفرنامې د ځانگړنو له مخې يو کمی گڼلی شو، ځکه که چېرته موږ د خوشحال د ژوند په اړه نور معلومات نه درلودای او يوازې يې سواتنامه راپاتې وای؛ نو د سواتنامې له متن څخه موږ هېڅکله د سفر وخت نه شو معلومولای.

که څه هم خوشحال سوات ته د تللو کره نېټه نه ده ښوولې؛ خو هلته يې د خپل وخت موده په يو بيت کې يې داسې بيان کړې ده:

اووه میاشتې یم په سوات کې گرځېدلی
همه واړو دی عظیم سوگند خوړلی
(۹: ۳۸۰ مخ)

**۲. یونلیک د لوستونکو لپاره د لارې یو لارښود وي:** د یونلیک بله مهمه ځانگړنه دا ده چې لیکوال لوستونکی هغې سیمې ته چې سفر یې ورته کړی دی د ورتگ له وسایلو او لارو چارو خبر کړي. لیکوال باید لوستونکو ته د لارې یو ښه لارښود وي، ځکه چې د لیکوال سفر لوستونکو ته د لارو په پیدا کولو کې ډېرې اسانتیاوې برابرولی شي، که چېرته لیکوال د خپل سفر په ترڅ کې د انتقال پر وسیلو، د هغو پر ستونزو، ښو او بدو اړخونو او همدارنگه له خپلې سیمې څخه د هغه ځای چې لیکوال ورته د سفر نیت کړی، پر لرې والي (فاصله) او نورو اړخونو پوره رڼا اچولي وي، نو د راتلونکو سیلانیانو لپاره ډېرې اسانتیاوې ایجادولی شي او لوستونکي د لارو او هغې سیمې چې لیکوال ورته سفر کړی، په کرلېچونو پوره پوهولی شي. که څه هم خوشحال په سواتنامه کې د سفر د وسیلو په اړه څرگند بحث نه دی کړی؛ خو له خپل کور څخه د سوات لرې والی یې ډېر ښه روښانه کړی دی:

سرای له سواته فاصله لري دېرش کروهه
چې ورکوز شې تر دریا د سوات تر کوهه
(۱۰: ۳۷۷ مخ)

استاد حبیبي د پورته بیت شرحه د سواتنامې په حاشیه کې داسې کړې ده:

سرای د ختکو په اکوړه کې د نوښار تحصیل د لنډي سیند پر غاړه له اټک څخه دولس میله لوېدیځې خواته پروت دی چې د خوشحال خان مولود او مسکن و او د ملک اکوړي د خوشحال غورنیکه ودان کړی و. د ختکو دغه مرکز له سواته جنوب خوا ته ۷۰ کیلو متره د کابل سیند پر جنوبي غاړه پروت دی. ( ۱۱: ۱ مخ)

پورته بیت مونږ د سرای اکوړي او سوات له فاصلې خبروي، خوشحال د خپل کور او سوات لرې والی دېرش کروهه ښودلی دی، کروه د مسافې (فاصلې) یو واحد دی چې تقریباً دوه میله کېږي چې د حبیبي صاحب د شرحې په استناد باندې د اوسني پېر له ۷۰ کیلو متره سره مساوي دی. (۱۲ : ۷۷۸ مخ)

**۳. د لیدلې سیمې جغرافیه بیانول:** د معاصرو ادبي سفرنامو بله تر ټولو ښه ځانګړنه د هماغه سیمې چې لیکوال ورته تللی دی، د جغرافیایي حالت څرګندول دي، له جغرافیه څخه مو موخه د لیدلې سیمې نفوس، څلورخواوې، لارې ګودرې، اوبه او هوا، طبیعي مناظر، مهم پیداوار او د سیاحت ځایونه معرفي کول دي. محمدصدیق روهي په خپله یوه لیکنه کې چې د سواتنامې په اړه یې کړې ده، د سوات د جغرافیایي اړخ د تشریح په باب وایي: «خوشحال لکه د یوه جغرافیه پوه غوندې د سوات په پېژندنه کې څلور خواوې(اربعه حدود)، توپوګرافي، اقلیمي حالات، پیداوار، جیوپولیتیکي وضع، د سیاحت ځایونه او طبیعي منظرې په ډېره شاعرانه انداز انځور کړي دي.» ( ۱۳: ۲۷۹ مخ)

خوشحال په سواتنامه کې پر نور خواوو سربېره د جغرافیې ټولو اړخونو ته متوجه شوی دی، چې دلته به یې په جلا جلا ډول هر اړخ معرفي شي. خان د سوات نفوس په څرګند ډول نه دی ښوولی؛ خو په یو بیت کې یې د سواتیانو او په ځانګړې توګه د یوسفزیو نفوس ته داسې اشاره کړې ده:

یوسفزیه په شماره تر حساب تېر دي
اما واړه ګاو خرونه دي که ډېر دي
(۱۴: ۳۷۹ مخ)

زما په اند، خوشحال نفوس د خلکو او انسانانو په پوهې پورې تړلی دی، یعنې که د ځمکې په سر هر څومره ډېر خلک ژوند ولري او علم او پوهه ورسره نه وي، بیا نو د دوی او څارویو تر منځ هېڅ توپیر نه شته، ځکه انسانان الله (ج) اشرف المخلوقات پیدا کړي، عقل او پوهه یې ورکړې چې په ورځني ژوند کې پرې د ښو او بدو تمیز وکړي. خان په سوات کې د باسواده او پوهه خلکو شمېره لږه ښوولې ده.

خوشحال خان د سوات څلور خواوې داسې راپېژني:

و شمال وته یې غر وبلورستان دی
شرق کشمیر غرب یې کابل او بدخشان دی
هندوستان و ته تور غر لري بدغاشي
پرې خاته به د لښکرو په غوغا شي

طولاني دره تر دېرشو کروهو ډېره
عرض يې دوه کروهه يا يو يا تېروبيره
له مشرقه يې درياب درومي مغرب ته
په کج راست يې ويل مه کوه کاتب ته
(۱۵: ۳۷۷ مخ)

خان د سوات ځلور خواوې او پراخوالی ډېر ښه ورانديې کړی دی، د سوات شمالي خوا د بلور لوړو غرونو نيولې ده، ختيځ لوري ته يې کشمير او لوېديځې خوا ته يې کابل او بدخشان د هغه وخت مهم ځايونه وو، سوات له هندوستان سره هم لار درلوده چې د تور غر پر سر د غاشي (غاښي) په واسطه له يو بل سره اړيکې لري او خلک پرې تگ راتگ کوي. همدارنگه خان د سوات د درو پراخوالی هم له ياده نه باسي چې تر ټولو لويه دره يې تر ۷۰ کيلو مترو اوږدوالی او نږدې تر ځلورو ميلو په اندازه پراخوالی لري، د همدغو اوږدو، ښېرازو او سمسورو درو په منځ کې سرشاره د يخو او سپينو اوبو سيند بهيږي چې د سوات سيمې ته يې لا ښکلا ورکړې ده.

خان د سوات پر ځلور خواوو سربېره لوستونکو ته د سوات د اوبو او هوا په اړه هم معلومات ورکوي، همدارنگه د هغه وخت د هوا حالت له نورو مشهورو سيمو سره په پرتليز ډول بيانوي چې دغه پرتلنه يې د معاصر يونليک له مخې تر ټولو ښه ځانگړنه گڼلی شو.

تر کابل يې هوا د اوړي ښه ده
د کابل هوا ترخه د ده خوږه ده
په هوا کې د کشمير په آب و رنگ دی
حيف دا چې کشمير ارت دی، دی تنگ دی
په هر کلي په هر کور کې يې ولې ځي
هم يې خوري هم يې هر لوري ته غلې ځي
هم سړې اوبه چينې لري هم واورې
نه په سوات باد سموم شته نه گرد خاورې
په هر لور کې فوارې دي آبشارونه
ښه ښهرونه، ښه سرايونه بازارونه

هسې ملک هسې هوا هسې جویونه
نه ځایونه نه باغونه نه بویونه
(۱۶: ۳۷۸مخ)

لوړو بیتونو ته که وکتل شي، نو د سوات د هوا او اوبو په حقیقت ډېر ژر پوهېدای شو. سوات په دنگو او شنو غرونو او واورو پوښل شوی دی، نو حتمي به یې اوبه یخې او خوږې وي او هوا به یې هم د سمسورتیا له امله پاکه او صافه وي. خان یې هوا د وخت له نوموتو ځایونو کشمیر او کابل سره پرتله کړې او له مبالغې پرته یې د سوات هوا ستایلې هم ده، که څه هم سوات ښکلې هوا لري؛ خو د کشمیر په پرتله بیا تنگ دی.

**لارې**: لارې د انسانو تر منځ د اړیکو د ټینگولو، د اقتصاد په پیاوړي کولو کې مهم اصل دی. خوشحال خان د یو ستر جغرافیه پوه په څېر د سوات لارو ته هم ځیر شوی او په دغو لارو د تگ راتگ وختونه یې هم ښوولي دي، په لاندې بیتونو کې یې له سوات سره د نورو شاوخوا سیمو په نښتو لارو گودرو هم ښه بحث کړی:

د چترال سرحد د سوات سره قریب دی
غر او سم یې آبادان جریب جریب دی
و چترال ته یې لار د کوهستان ځي
تر چتراله یې پنځه ورځې کاروان ځي
درې څلور میاشتې دا لار وي ښه روانه
ډېر افت لري له برفه له بارانه
تله راتله د خلایق په دا لار کم شي
مگر کار په بدرقه د ملک سم شي
یوه لار د هندو کوه ده ترکستان ته
بله لار دا د چترال ده بدخشان ته
بله لار چې د بټن ځي تر کاشغره
بله لار که په مورنگ ځي لره بره

دا څو لارې په سرحد د هندوستان دي

نورې لارې په سرحد د خراسان دي

(۱۷: ۳۷۸ـ ۳۷۹ مخونه)

له پورته بیتونو څرګندېږي چې خوشحال د سوات د تلو راتلو ټولې لارې ښوولې دي چې له فکر پرته لوستونکي سوات ته د داخلېدو په لارو په ډېرې اسانۍ سره پوهوي، ښايي د نننې عصر ځينې د سفرنامو ليکوال د يوې سيمې د ټولو لارو له بيان او وضاحت څخه عاجز وي؛ خو خان په خوږه منظومه ژبه بيا موږ د سوات له ټولو لارو خبروي.

د سيمې د جغرافيې د بيان په برخه کې بل مهم بحث د هماغه ځای پيداوار دي چې لوستونکي په هنري او ادبي ژبه د خپل سفر په ترڅ کې په سيمه کې له کېدونکو محصولاتو څخه خبر کړي.

يا د سوات خاوره ګنده په کار د کشت دي

يا له ځايه يوسفزيه بد سرشت دي

په درست کال کې يې ګوتې نه خېژي له کاره

بوتيمار دي د اوبو په شالي زاره

نه پرې لار شته نه بل کار نه يې بل سود دی

خو يو ګنج ګوښه له خلکو غله بود دی

په کې نشته مېوه دارې باغې ونې

همګي د غره پلوسې دي يا غنې

(۱۸: ۳۸۲ مخ)

استاد حبيبي د سواتنامې په سريزه کې د سوات د جغرافيايي موقعيت په اړه کاږي:

"...سوات د پښتونخوا د شمالي څنډې د غرونو په لمنو کې يوه زرغونه او ډېره ښکلې سيمه وه، آريايي خلکو د ريګويدا له زمانې راپدې خوا له دغو غرونو او رود سره ډېره مينه درلوده او په کې مېشته کېدل به. دغه خلک چې د خپلو اجتماعي پړاوونو تېرېدلو په سلسله کې له کوچې ژونده زراعتي او کليوالي ژواک ته رسېدل؛ نو د دوی لپاره سوات د اوبو او هوا له مخې د کر پټي او رشو لپاره مناسب ځای و." (۱۹: سريزه ۳ مخ)

محمد صديق روهي هم په خپله يوه ليکنه کې د سواتنامې د اقتصادي برخې په شرحه کې د سوات د پيداوارو په اړه داسې ليکي: "... خوشحال په دوو شيانو تأسف ښکاره کوي، يو داچې د سوات له پيداوار څخه په مطلوبه توګه استفاده نه کېږي. سره له دې چې سوات د غلو او دانو ګودام دی؛ خو له نورو ملکونو سره تجارتي مبادله او راکړه ورکړه نه لري." (۲۰: ۲۸۲ مخ)

د پورتنيو څرګندونو پر بنسټ ويلای شو چې د خوشحال د ليدلو پر وخت به د سوات خلک د زراعتي ژوند په ډېر ټيټ حالت کې وو، يعنې د کر او کشت په برخه کې يې ډېر پرمختګ نه و کړی، ځکه خو به يې له ځمکې څخه پوره حاصل نه شو اخيستی. که څه هم سواتيان به له سهاره تر ماښامه په پټيو کې په کار بوخت وو او د اوبو په شالي زارو کې به سترې ستومانه لګيا وو؛ خو دغه ټولې خوارۍ يې تر ډېره بې ځايه وې، ځکه خان يې له کرنيزو محصولاتو راضي نه و، سواتيانو به له دغو ځمکو څخه يوازې غلې دانې لاسته راوړې او لکه د نن په څېر يې ډول ډول غلې دانې او مېوې نه درلودې. خان د سوات له ځمکې څخه د نبو کرنيزو محصولاتو په نه لاسته راوړنه کې خپله يوسفزي يا په ټوله کې سواتيان ملامت او ازلي بدبخته ګڼي.

خوشحال د سوات د منظرو يادونه او ستاينه هم کړې ده چې لوستونکي د سوات له ښکلاوو هم په شاعرانه مهارت خبروي. محمد صديق روهي د سوات د طبيعي ښکلا په اړه ليکي: "که د خوشحال د اشعارو هغه برخه چې د سوات طبيعي ښکلا په کې ستايل شوې ده د ګرځندويانو لپاره د هغو په ژبه ترجمه شي، له ډېرو اعلانونو او تبليغاتو څخه به يې اغېزه زياته وي." (۲۱: ۲۷۹ مخ)

د طبيعي او مصنوعي ښکلا ستاينه د معاصرو ادبي يونليکونو په ښو ځانګړنو کې شمېرل کېږي، ځکه لوستونکی چې سفرنامه لولي، د هغه ځای له ښکلاوو څخه د خبرېدو تلوسه لري او دغه تلوسه بايد بې ځوابه پاتې نه شي. خوشحال هم د لوستونکو ښکلاييزه تنده ماته کړې او د سوات د طبيعي ښايست او د ليدو وړ ځايونو تر څنګ يې ښځينه ښايست هم نه دی پرېښی، لاندې يو څو بيتونه يې د زباد لپاره غوره بولم:

هر هر ځای د سوات د ملک ملوکانه دی
بې سرداره بې حاکمه کوه خانه دی

په کې لويې منارې شته بتخانې شته
لوی کوټونه حوېلۍ د زمانې شته
د مېوو دی د ګلونو د بوستان دی
د ملوک لایق په وخت د تابستان دی
دوه څیزونه دي د سوات تحفه تر واړه
ګل رخسارې يې کافرې باز دا دواړه
د سوات ملک چې په کې روغې حوېلۍ دي
په هر کور کې ګلزارونه سهیلۍ دي
د سوات ملک چې درست لایق دی د باغونو
یوسفزیو برابر کړ له راغونو
په هر لوري کې فوارې شته ابشارونه
ښه ښهرونه ښه سرايونه بازارونه
هسې ملک هسې هوا هسې جويونه
نه ځايونه نه باغونه نه بويونه
(۲۲: ۳۷۸ مخ)

**۴. د سيمې د فرهنګي وضعيت بيانول:** فرهنګ د يوې سيمې د وګړو ناستې ولاړې، غم ښادی، خوراک څښاک، پوښاک، دين مذهب او په ټوله کې د ټولنيز ژوند د معنوي او مادي اړخونو ټولګې ته وايي. خوشحال د يو فرهنګپوه په څېر د سوات فرهنګي حالات هم لوستونکو ته په پراخه پيمانه شرحه کړي او د خپل سفر په ترڅ کې چې يې څه ليدلي کتلي، په غوځ ډول يې منظوم کړي هم دي. په يونليک کې د خلکو د ټولنيز ژوند، دودونو، تاريخي ځايونو او د وګړو د ژوندانه د بېلا بېلو اړخونو په اړه معلومات راوړل د يونليک له ښو ځانګړنو څخه ګڼل کېږي، ځکه په دې سره لوستونکي د هغه ځای د خلکو له ټولنيز ژوند څخه ډېر ښه خبرېدای شي. خوشحال په سواتنامه کې د سواتيانو د ټولنيز ژوند ډېر ښه انځور وړاندې کړی دی:

یوسفزیه ډېر چرکين لري ځايونه
الوده ګنده بد بوی لکه سرايونه
که په سوات کې په نظير دي وروړې ماشي

د منګښو بروړو ويل په چا شي
په کې دوه ځله تبژن په بروړو شوم
هر هر ځای دانې په څو موړو شوم
څو سړي هومره يې سپي په هره خونه
په انګړ کې يې چرګان ګرځي سلګونه
درسته خونه يې نيولې په چرګانو
په ګنده روزګار بتر دي تر هندوانو
بايي زيه يې روزګار کا چې سيالان دي
خواځوزي يې نور څه نه دي بقالان دي
( ۲۳: ۳۷۸ مخ)

سوات د پښتونخوا په شمالي برخه کې په غرونو پوښل شوې ښکلې او سمسوره سيمه وه چې خلکو يې ډېر ساده او عادي ژوند درلود چې د وخت له ډېرو پرمختګونو او عصري ژونده لرې وو. خوشحال د پښتو ژبې يو داسې ستر نامتو شاعر او ليکوال دی، هر څه چې يې د خپل ژوند په دوران کې ليدلي که ښه دي که بد دي، له ټولو يې ښه په مبړانه پرده پورته کړې آن په دې برخه کې يې د خپل ځان، کورنۍ او خپل قوم پروا هم نه ده کړې. خوشحال چې په خپله د لوړ علم څښتن او يو وخت د سيمې خان و او پلرونه او نيکونه يې هم خانان تېر شوي وو، د ټولنيز ژوند په اصليت ډېر ښه پوهېده، ځکه خو يې په پورته بيتونو کې د سواتيانو ژوند او کاروبار چې يې څه ډول ليدلی هماغسې يې بيان کړی دی.

که څه هم خوشحال د سواتيانو په ډېرو بدو کړنو سترګې پټې کړې هم دي؛ خو بيا هم يې د هغه وخت د اوسېدونکو د ټولنيز ژوند ډېر مسايل راپېژندلي دي. خوشحال په سواتنامه کې يو ځای داسې وايي:

ته په ننګ د پښتانه راغلې تر سواته
غوږ کاږه کړه د عالم په کم و زياته
(۲۴: ۳۸۹ مخ)

په يونليک کې د ځايي خلکو د خوراک څښاک، ناستې ولاړې، مېلمه پالنې په اړه معلومات ځای پر ځای کول د سفرنامې غوره ځانګړنه ده، ځکه په دې سره

لوستونکي په اسانۍ سره د هغه ځای د اوسېدونکو په خوی بوی پوهېږي. خوشحال خان په سواتنامه کې دې برخې ته خاصه پاملرنه کړې او د سواتیانو د خوراک ښاک او مېلمه پالنې په اړه یې داسې ویلي دي:

که په کور کې خزانې لري د زرو
بیا خواړه خوري په شړشمو په ډنبرو
نه یې خوان نه دستار خوان نه چرغدان شته
درسته شپه یې د شونټیو بد دخان شته
چې په تیل په دستار خوان یې څه څرخېږي
که زردار وي هم یې غوښې اوبه کېږي
د ادب په کار کې هسې ناهموار دي
کشر مشر تور و سپین په یوه شمار دي
و مېلمه و ته ست بړ بړ راشه نشته
نه د ژبې چار نه شناخت مهر د زړه شته
په هر کار کې ناهموار نا فهمیده دي
نادیده دي نادیده دي نادیده دي
(۲۵: ۳۸۲ مخ)

په ټولنه کې د ډول ډول طبقو خلک ژوند کوي، د بېلګې په توګه ځینې وګړي یې په لوړې طبقې، ځینې یې په منځنۍ او ځینې یې بیا په ټیټې طبقې پورې اړه لري چې ډېر عادي او غریب ژوند لري. خوشحال په سواتنامه کې په دوو طبقو: د ملکانو، مذهب په نوم مشرانو او عامو وګړو باندې بحث کړی او د دواړو ډلو ټولنیزې چارې یې په ډاګه کړې دي. دلته یې لومړی د لوړې طبقې( ملکان، خانان، مذهبي مشران) په اړه لاندې بیتونو ته تمبړو چې په پیرۍ او مذهب کې خپلې ګټې خوندي ساتي. دا چې د حقایقو په بیانولو کې رښتینولي او صداقت مهم اصل دی چې دغه رکن د سفرنامې له مهمو ځانګړنو څخه هم دی، خوشحال دغه مهمه ځانګړنه د خپل سفر په ترڅ له پیله تر پایه په پام کې نیولې او د سوات د ملکانو او عالمانو ټولنیز مقام او کړنې یې په پوره جرأت سره رابرسېره کړې دي:

ملکان خانان يې کل واړه خران دي
عالمان شيخان يې واړه جاهلان دي
ملکان د يوسفزيو لکه خرونه
په ګندګۍ سره لړلي خلي سرونه
نه يې علم نه دانش نه شرم پوهه
خو دوستۍ د دروېزه باندې انبوهه
عالمان يې همګي واړه سفيه دي
نه عالم دي نه فاضل دي نه فقيهه دي
چې د کنز د قدوري شي ځان ملا کا
هر حلال حرام په ځان باندې روا کا
کتابونه په سر کېږدي ځان ملا کا
په هر کلي محلت ګرځي ټګي غلا کا
کښني شرع پرېکوي په رشوتونو
ځان قاضي کا په غلط روايتونو
و هر چا ته مسئلې د سخاوت کا
خپله خونه ډکوه بله غارت کا
په مسجد راځه پنځه وخته اذان کا
چې زکات سرسايه نه وي مسجد وران کا
د ميراث مالونه خوره له ظالمانو
نوم په ځان باندې کېږده د عالمانو
په داسې علم برند کښني ملا شي
و عالم ته ميراث خور د انبيا شي
نه يې کښل زده نه لوستل زده تل ټګل کا
تعويذونه ورکوي په دروغو کښل کا
وايي مونږ ته چې نظر د سترګو سپک کا
خپل ايمان به په دا هومره چارو ورک کا

چې ملا د میانور په حکم درومي
هم هغه د سوات په ملک کې سیرۍ مومي
میان نور که د خنزیر غوښې روا کا
ملایان به باندې زر جوړې فتوا کا
(۲۶: ۳۸۴ ـ ۳۸۵ مخونه)

په پورته بیتونو کې خوشحال د سوات د ملکانو، ملایانو او مذهبي مشرانو حال ډېر ښه واضح کړی دی. اوس به راشو د سوات د عامو خلکو له حاله به هم ځان خبر کړو چې خان یې په اړه څه وایي:

ما د سوات د عالم ښه ننداره وکړه
د هر هر فریق مې پټه ښکاره وکړه
خو په خوله کلمه لولي مسلمان دي
په وعده په عهد قول بې ایمان دي
د لږ سود د لږ بهبود د لږ مقصود دي
په اندک له تا خوشنود هم ناخوشنود دي
د خپل سود لپاره گرمه یاري کاندي
چې یې سود نه وي بې شرمه یاري کاندي
خبردار کله په شرم په کرم دي
همگي عبدالزوجه عبدالدرهم دي
عام عالم قران حدیث په سترگوویني
لا په نورو کوڅو گرځي خاورې پیني
عام وگړي په معنا لکه دواب دي
په دوابو کې د گډو په حساب دي
چې یوه گډه روانه شي د وړاندې
هغه نورې گډې تله ورپسې کاندي
(۲۷: ۳۹۱ مخ)

لکه څنگه چې ما مخکې یادونه وکړه، د سوات خلک د وخت له ټولنیزو علومو څخه لرې و او د عالمانو او شیخانو حال یې دومره بدتر و چې د اخوند درویزه او

شیخ ملي په کتابونو به یې پرېکړې کولې، نو عام ولس خو بـه یـې حتمـي لـه پـوهې لرې وو. په هر حال، خوشحال چې عالم او فاضل شخص و او د وخت په ټولو علومـو پوهېده، د سواتیانو کړنې ورته ډېرې جاهلانه ښکاره شوي او زما پـه نظـر دوی یـې د دې لپاره چې له خپل عقـل څخـه کـار نـه اخلـي، د قـران او حـدیث څخـه ځـان نـه خبروي او د گورگاني(مغلي) دولت لـه خـوا د روزل شـوو ملایـانو پـه هـره خـبره بـاور کوي، نو ځکه یې له خرو او گډو سره تشبیه کړي دي، ځکه خان وایي چې د سـوات عالمان او ملکان ناپوهه او جاهله دي، نو عـام وگـړي خـو بـه یـې حتمـي کنـده کـې غورځي، لکه چې وایي:

چې نېکان پاکان یې دا وي دا یې حال وي
له بدانو به یې وایه کوم مقال وي
(۲۸: ۳۸۳ مخ)

فرهنگ ډېر اړخونه لري چې ځینې یې پورته د بېلگو له راوړلو سره روښانه شـول، د خلکو دودونه او عنعنات د فرهنگ ډېره برخه رانغاړي او د سفرنامې لیکـوال تـه پـه کار دي چې د خلکو له ټولنیزو دودونـو څخـه لوسـتونکي خـبر کـړي، خوشـحال پـه سواتنامه کې د ځایي خلکو دودونـه بیـان کـړي چـې ډېـره برخـه یـې د سـواتیانو پـه ټولنیزو ناوړو دودونو څرخي.

خان په دې باب ډېر بیتونه لري، دلته یې په لاندې بیتونو بسنه کوو:

سیوای بډي د لور چې لوښه پلوري
په دا څو توکه کې غرق دي مخ توري
په کم اصل په بد اصل نظر نه کا
د ټنگو په لالچ خور او لور واده کا
د بابا د مال یوازې میراث خور دي
نه په ترور دي نه په مور دي نه په خور دي
چې د ورور یې جنازه په کور کې کښېوزي
که رضا که بې رضا په ورندار پرېوزي
له قاتله ځان غلط کا په قصاص کې
د مقتول په ځای بل وژني په خاص کې

دا لا څه دي ځنې نور قباحتونه
کور په کور سره اخته په شدتونه
(۲۹: ۳۸۳ مخ)

خوشحال د سواتیانو ډېر بد او ناوړه دودونه لوڅ کړي چې دلته د ټولو راوړل د موضوع له حوصلې وتلې خبره ده، گران لوستونکي کولای شي په سواتنامه کې يې ولولي.

خان په لوړو بیتونو کې د سواتیانو ګڼ بد رواجونه بیان کړي، له بده مرغه دغه ډول بد دودونه اوسمهال هم زموږ په لرې پرتو پښتني ټولنو کې هم لیدل کېږي، خپلې پېغلې لوريانې د روپيو په مقابل کې په سپين ږيرو او نامناسبو خلکو پلوري، د ورور له مرگ وروسته له ورېندار سره ډېر ژر واده کوي، د قاتل پر ځای بې گناه کس وژني چې دغسې ډېر ناوړه دودونه خان په ساده او روانه شاعرۍ بيان کړي دي.

ژوي او حيوانات د چاپېريال په ښکلا کې مهم رول لري، ځکه ژوي الله (ج) د انسانانو د گټې لپاره پيدا کړي دي، خوشحال خان په سوات کې د حيواناتو حال هم بيان کړی او د حيواناتو پر وړاندې يې د ځايي خلکو ناوړه چلند داسې رانښوولی دی:

که بل ښکار د سوات په ملک کې په مقدار دی
په هر لوري يې تل دل د زرکو ښکار دی
مرغاويه يې د سيند تر سرو پا شته
د نا اهلو د ټوپکو پرې غوغا شته
هم گاوز بزونه سرژې هم کوته پای
اما ورکې کړې توپچيانو څه به وايې
(۳۰: ۳۷۸ مخ)

په يونليک کې بله تر ټولو ښه ځانگړنه دا ده چې ليکوال د خپل سفر کټ مټ او نېغ په نېغه حال بيان کړي، هغه څه چې يې د خپل سفر په ترڅ او لړ کې ليدلي وي؛ د هغې يو رښتينی او واقعي انځور وړاندې کړي، همدارنگه هره خبره په روښانه او صفا ډول وړاندې کړي او له هيڅ ډول مبالغې څخه په کې کار وانخلي. خان په سواتنامه کې دغه ټول اصول ډېر ښه په پام کې نيولي، څه چې يې ليدلي او کتلي، هماغسې يې رانقل کړي چې موږ يې له پورتنيو بېلگو څخه ډېر ښه پوهېدلی شو. خان له پوره امانتدارۍ سره د سوات ليدلي حالات بيان کړي چې په

دې برخه کې يې آن د خپل قام او ځان پروا هم نه ده کړې، زه يې دلته لاندې بېلګې رااخلم:

د خټکو نه يو لک خټک داخل دي
نور خټک واړه تر اوسه لا باطل دي
د مغل نمک مې وخوړ شپږ پېړۍ
ما د زرو په کې روغې کړې ببړۍ
د مغل لپاره ما تورې وهلې
پښتنو به راته کړې ډېرې ښکنځلې
پښتانه مې په زرګونه دي وژلي
په سرونو به يې خره غوايه وولشلي
(۳۱: ۳۷۹ مخ)

## پايله

له شک پرته، هر کله چې په نړۍ کې يوه نوې پديده سر راښکاره کړي، په لومړيو کې ډېرې خامۍ او ستونزې له ځان سره لري؛ خو چې کله د وخت او زمان پوړونه ووهي، پرمختګ کوي او د پوخوالي درجو ته ځان رسوي. د دې ليکنې په پايله کې ويلی شم، که د خوشحال خان سواتنامې ته په معاصرو سترګيو کې وکتل شي، نو تر ډېره د معاصر يونليک ځانګړنې لري. خان په سواتنامه کې د سوات جغرافيه، اقتصاد، طبيعي منظرې، لارې ګودرې، د خلکو دودونه ...او د خپلو سترګو ټول ليدلي حالات په خوږه ژبه کټ مټ نظم کړي دي چې په دې سره يې په پښتو ژبه کې د لومړۍ منظومې سفرنامې د بنسټګر مقام هم خپل کړی دی.

خوشحال د ۱۰۸٦ هـ ق کال په پنځمه مياشت کې سوات ته د پښتنو د ليدلو په موخه ځي او اووه مياشتې هلته تېروي، په دغه دوران کې د سوات او اوسېدونکو پښتنو په حالاتو پوره ځان پوهوي او وروسته ورته په ډېرې ځېرکۍ د نظم جامې وراغوندي.

خوشحال د سواتيانو اقتصادي، سياسي، جغرافياوي، فرهنګي او ادبي خواوو ته متوجه شوی او په ډېر ښه مهارت سره يې دغه ټولې خواوې چې د سفرنامې د ليکول لپاره اړينې دي ؛ هماغسې نظم کړې دي.

## مأخذونه

۱. رفیع، حبیب الله. زرینې ځانګې، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، د زیري جریده: کابل، ۱۳٦۰ لمریز کال.

۲. رشاد، عبدالشکور. پښتو سفرنامې او د هغو داستاني ځانګړتیاوې«تقریظ»، د سرمحقق مرستیال نور محمد سهیم د سر محقق علمې رتبې د ترفیع پروژه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: کابل، ۱۳۷۵ لمریز کال.

۳. هېوادمل، زلمی. فرهنگ ادبیات پشتو، دریېم ټوک، د چاپ او خپرونو دولتي کمېټه: کابل، ۱۳٦٦ لمریز کال.

۴. سید ي، سید نظیم. «د پښتو د کیسه ییزو ژانرونو ځانګړنې( لومړۍ برخه) »، کابل مجله، دریېمه دوره، ۱۱مه ګڼه، ۱۳۹۵ ل.

۵. هاشمي، سید محی الدین. د نثري ادب ډولونه، د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: کابل، ۱۳۹۴ل.

٦. پورتنی اثر.

۷. هېوادمل، زلمی. ننګیالی د زمانې، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه جرمني: ۱۳۸۰ ل.

۸. خټک، خوشحال خان، سواتنامه (د عبدالحی حبیبي له سریزې او څرګندونو سره)، د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز:کابل، ۱۳۵۸ ل کال.

۹. خټک، افضل خان. تاریخ مرصع (د دوست محمد کامل مومند په مقابله، تصحیح او نوټونو)، یونیورسټي بک ایجنسي: پېښور، ۲۰۰٦.

۱۰. پورتنی اثر.

۱۱. خټک، خوشحال خان، سواتنامه.

۱۲. زاهد مشواڼی، عبدالقیوم. پښتو ـ پښتو سیند، د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو نړیوال مرکز: کابل، ۱۳۸۵ ل.

۱۳. روهي، محمد صدیق. «د خوشحال خان خټک سواتنامه د ټولنیزو اصلاحاتو هینداره»، ادبي څېړنې، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۸۷ ل.

۱۴. خټک، افضل خان. تاریخ مرصع (د دوست محمد کامل مومند په مقابله، تصحیح او نوټونو)، یونیورسټي بک ایجنسي: پېښور، ۲۰۰٦.

۱۵. پورتنی اثر
۱٦. پورتنی اثر
۱۷. پورتنی اثر
۱۸. پورتنی اثر.
۱۹. خټک، خوشحال خان، سواتنامه .
۲۰. روهـي، محمـد صـديق. «د خوشـحال خـان خټـک سـواتنامه د ټـولنيزو اصلاحاتو هينداره»، ادبي څېړنې، دانش خپرندويه ټولنه: کابل، ۱۳۸۷ ل.
۲۱. پورتنی اثر.
۲۲. تاريخ مرصع (د دوست محمد کامل مومنـد پـه مقابلـه، تصحيح او نوټونـو)، يونيورسټي بک ايجنسي: پېښور، ۲۰۰٦.
۲۳. پورتنی اثر
۲۴. پورتنی اثر
۲۵. پورتنی اثر
۲٦. پورتنی اثر
۲۷. پورتنی اثر
۲۸. پورتنی اثر
۲۹. پورتنی اثر
۳۰. پورتنی اثر
۳۱. پورتنی اثر.

پوهنیار سیدصمیم هاشمي

# د پریم چند د لنډو کیسو فني او موضوعي لوړتیا

# Artistic and contextual development of Prim Chands’ short stories

**Assistant prof: Sayed Samim Hashimi**

## Abstract

Prim Chand (1880-1936) is an Indian, playwright, novelist, short story writer, journalist, literary price, writer and essayist of the Indian classical literatures. He has been recolonized as a founder of short story in Urdu and Hindi literature and he was the king of short story (khata samrath).

He has published and written 15 novels and about 300 short stories in deferent collection. His writing has realistic styles, and he is a realistic author of his Era. He protracted his society and environment with a very realistic imagination and painted his writing factual.

His 300 short stories have political, historical nature.

In this short written piece his arts and vigor are overviewed in order to comprehend the fanes about art and style of his story writing.

## لنډیز

پریم چند ( ۱۸۸۰-۱۹۳۶ ) دهندي ادب معاصرې دورې یومخکښ اوپیاوړی کیسه لیکوال، ناول لیکونکی، ډرامه لیکونکی ،ژورنالست،ادبي نوټه اومقاله لیکوال دی.

نوموړی په هندي او اردو ادب کې د لنډې کيسې بنسټګر بلل کيږي او پـه دې ډګـر کې د کتها سمراټ (لنډو کيسو بادشاه) په نوم شهرت لري. هغه د خپـل ادبي ژونـد په اوږدو کې ۱۵ ناولونه او نږدې ۳۰۰ لنډې کيسې چې پـه مختلفـو مجموعـو کـې چاپ شوي هندي ادب ته ډالۍ کړي دي د پريم چند نږدې ټولې کيسـې او ليکنـې رياليستيکه بڼه لري او دی په بنسټيزه توګه يو رياليست ليکوال ګڼل کيږي. ځکه چې پريم چند د خپلې زمانې هغه تضادونه چې په هندي ټولنه کې موجود وو، ښـه درک کړي وو او له هغو څخه په راپيدا شويو کړو وړو او محرکو ځواکونو ښه پوهيده. هغـه د يو رياليست ليکوال په توګه د خپل چاپيريال ژوره انځورګري وکړه او په دې توګـه يـې د هندي او اردو ژبو لنډو کيسـو کـې د حقيقـت ليکنـې اوريالسـتيکو افکـارو بنسـټ کيښــود. د ده لــه خــوا ليکــل شــوې نــږدې ۳۰۰ کيســې لــه موضــوعي پلــوه سياسي،تاريخي او اصلاحي رنګونه لري. په دې لنډه ليکنه کـې د نومـوړي د کيسـو پر موضوعي او فني خواوو لنډ او ځغلنده نظر اچول شوی چې د کيسه ليکنې پـر فـن او سبک يې د ادب مينه وال لا ښه وپوهيږي.

## سريزه

هندي ادبيات چې د نظـم او نثرپـه دواړو برخـو کـې د نړيوالـو ادبيـاتو سـيالي کـولی شي.په دې ادبياتوکې چې سرچينه يـې لـه سنسـکرت ژبـې څخـه ده، د پـاڼني پـه څېـر ګرامر پوه سر راپورته کړی دی چې د ګرامر بنسـټ يـې کېښـود او د څلـور ويـدونو ( سـام ويد،ريګويد،يجورويد، ارتهواويد) او يا هم د مهابهارت او رامايڼ په څېر د مشـهورو حماسـو ښتن ادبيات دي چې په نړيوال ادب کې يې ارزښت ،اهميت او مقام جوت دی.

په معاصرو ادبياتو کې هم پـه هنـدي ادب کـې ډيـری هسـتۍ شـته چـې د ادب ځولۍ يې ډکه کړې ده، يو لـه دغـو هسـتيو کيسـه ليکـوال، نـاول ليکـونکی، ډرامـه ليکونکی، ژورنالست، ژبـاړن او پيـاوړی مقالـه ليکـوال پـريم چنـد دی. پـريم چنـد د خدای ورکړي پياوړي استعداد څخه په هره برخه کې ګټـه پورتـه کـړې او پـر هنـدي ادب يې پيرزوينې کړې دي. په دې ليکنـه کـې د نومـوړي پـر کيسـه ييـز فـن بحـث شوی او د کيسو پر موضوعي، فني او سبکي خواوو يې رڼا اچول شوې ده او دغـه راز پکـې د دغـه مشـهور نړيـوال کيسـه ليکـوال د کيسـه ليکنـې موضـوعات اوسـبکې خصوصيات رابرسيره شي.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنيزې مقالې څخه لويه موخه داده چې په ټوله کې د ادب مينه وال او په ځانګړې توګه د هندي او اردو ژبو اوادب لارويان او مينه وال د پريم چند په څير د نړيوالې ادبي څيرې له شخصيت او د هغه د کيسه ليکلو له فن، سبک او ادبي مقام څخه په بشپړه توګه پوه او اګاه شي.

تېرو ليکنو ته کتنه: پريم چند چې په هندي او اردو ادب کې يو نوموتی او مشهور ليکوال دی. په هندي او اردو ادب کې يې د ادبي شخصيت په هکله ډېرې څېړنې شوې دي او د فن هره خوا يې د پياوړو څېړونکو لخوا په ډېر ښکلي انداز په هر اړخيزه او معياري توګه څېړل شوې ده. ښايي د پښتو، دري او نورو ژبو ادبياتو کې هم د ده د شخصيت په اړه لږ و ډېر معلومات وړاندې شوي وي؛ د مثال په توګه، د افغانستان علوموااکاډمۍ اړوند کابل مجله کې د ده د آثارو اړوند ليکنې راغلې دي، خو زما په پوهه داسې کومه ليکنه او څېړنه نه ده ترسره شوې چې پکې د نوموړي د کيسو موضوعي، فني او سبکي اړخونه دې څېړل شوي وي، نو په پښتو ژبه کې د ادب مينه والو لپاره دا زما لومړنۍ هڅه ده. الله دې وکړي چې څه نا څه ځای ونيسي.

## د څېړنې ميتود

د دې مقالې بڼه کتابتوني ده، نو پکې د پريم چند د لنډو کيسو بېلابېلو ټولګو هر اړخيزه مطالعه ترسره شوې او بيا د هغې فني، موضوعي او سبکي اړخونه جوت او څرګند شوي دي او په دې ډول دغه څېړنه بشپړه شوې ده.

کليدي کلمې: هندي ادب، پريم چند، د کيسه ليکلو فن او موضوعات.

## د پريم چند د کيسو فني او موضوعي لوړتيا

مخکې له دې چې د هندي ادب د پياوړي ليکوال پريم چند د لنډو کيسو په فني، موضوعي او سبکي خواوو وغږيږو، اړينه بريښي چې لومړی د نوموړي پر لنډه پېژندنه تم شو.

د هندي او اردو ژبو کتها سمراټ ( دلنډو کيسو بادشاه) منشي پريم چند په ۱۸۸۴ع کال د جولای د مياشتې په(۳۱) يو ديرشمه نېټه د هند د بنارس ښارڅخه څلورکيلو متره ليرې په لمهې نومې کلي کې په يوه بزګره کورنۍ کې دنيا ته سترګې غړولې دي.

د پریم چند اصلي نوم د هنپترای و، خو تره به یې د نواب رای په نوم یاداوه. پلار یې عجایب رای نومیده، چې د نورو بزګرانو په څېر یې یوازې په بزګرۍ ګوزاره نه کېده، نو ځکه یې د ډاک په یوه محکمه کې د میاشتې په شل روپۍ نوکري هم کوله. کله چې پریم چند وزیږیده د هغه د پلار شل روپۍ تنخوا وه او کله چې هغه د اوو کلونو شو، نو مور یې وفات شوه؛ په پنځلس کلنۍ کې یې له شیوراني نومې نجلۍ سره واده وکړ. که څه هم دغه وختونه د پریم چند د زده کړې او تعلیم وختونه وو، خو برعکس پریم چند ته له همدې وخته د کورنۍ سرپرستي ورپه غاړه شوه. د هغه په کورنۍ کې دوه میرني ورونه، میره مور او د هغه خپله میرمن وه. (۹ : ۴۵)

په هندي ادب کې د پریم چند شخصیت او ادبي مقام د یو پیاوړي او غوره کیسه لیکونکي، ناول لیکونکي، ډرامه لیکوال، ژباړونکي او ژورنالست په توګه جوت او څرګند دی. د نوموړي شخصیت ګڼ اړخونه او خواوي لري، د خپل پیاوړي استعداد او ذکاوت پر بنا یې هندي او اردو ژبو ته نږدې ۳۰۰ لنډې کیسې او دوه درجنه غوره او په زړه پورې ناولونه ډالۍ کړل چې له امله یې د هندي او اردو ادب په ډګر کې دکتها سمراټ (دلنډو کیسو بادشاه) لقب خپل کړ. په ۷ د اکتوبر ۱۹۳٦ع کال د یوې وژونکې ناروغۍ (جلودر) له امله په بنارس کې د ٥٦ کالوپه عمر ومړ. (۴ : ۱۰)

## د پریم چند دکیسو فني او موضوعي لوړتیا

د پریم چند د کیسو او افسانو د فني لوړتیا په اړه د اردو ادب مشهور لیکوال ډاکټرمسعود حسین لیکي:« که چیرې د پریم چند د کیسو بیلابیلو مجموعوته نظر واچول شي، نو د ده په کیسو کې په تدریجي ډول لوړتیا تر سترګو کیږي. که له یوې خوا د ده د کیسو لومړنۍ ټولګه (سوزوطن) او له بلې خوا یې وروستۍ ټولګې (واردات) او (زادراه) ته نظر واچول شي، نو په څرګند ډول پکې توپیرلیدل کیږي. دده وروستۍ ټولګې لکه د شبنم د څاڅکو په څیر په ځان کې یوه نړۍ رانغاړي په دې مجموعو کې ښکلا او ژوروالی دواړه پریمانه دي».( ۷ : ۲۸) دغو توپیرونو ته په کتو موږ د پریم چند دکیسه لیکلو هنري برخه په څو دورو او برخو ویشلی شو:

۱- دپیل یا لومړنۍ دوره: دکیسه لیکنې لومړنۍ هڅې ـ ۱۹۰۹م پورې

۲- دویمه دوره: تاریخي او اصلاحي کیسې ـ ۱۹۰۹ ـــ ۱۹۲۰م پورې

۳- درېیمه دوره: سیاسي او اصلاحي کیسې ۱۹۲۰ــــ ۱۹۳۲م پورې
۴- څلورمه دوره: سیاسي او فکري کیسې ۱۹۳۲ــــ ۱۹۳۶م پورې

**۱- د پیل یا لومړنۍ دوره:** په اصل کې، خو پریم چند د ادبي ژوند پیل له ۱۹۰۱م څخه شوی و چې خپله لومړنۍ کیسه د (نړۍ قیمتي مرغلره) یې په خپل اصلي نوم، نواب رای ولیکله. په ۱۹۰۸م کال کې یې د (سوزوطن) په نوم د پنځه کیسو مجموعه چاپ شوه چې بیاد انگریزي حکومت له خوا ضبط شوه.

په لومړیو کې پریم چند د اریایې ټولنې (اریه سماج) له تحریک څخه متاثره شو، خو دکیسه لیکلو له هنرسره یې مینه هله پیدا شوه، کله چې دی د هندي او اردو ژبو د ترجمو په وجه د ټاگور له لیکنو سره مخامخ او اشنا شو. دا باید په یاد ولرو چې پریم چند د ادب په ډگر کې له مشهوریدو او ځلېدو څخه د مخه په بنگالي ژبه کې د مغربي(غربي) ډوله کیسو د پام وړ پرمختگ کړی و. د ځینو لیکوالو او په ځانگړي توگه د ټاگور ځینې کیسې نه یوازې هندي ژبې ته، بلکې اردو ژبې ته هم ژباړل شوې وې. دغو اثراتو او څه د غربي سبک دمطالعې او ژباړو په وجه، پریم چند متاثر کړ.(۱ : ۲۷۳)

په دغه وختونو کې پر، پریم چند دسیاسي فضاء اغیز هم پریوت. دا چې په دغوو ختونو کې له یوې خوا د بنگال دویش له امله په ملک کې اړو دوړ رامنځته شوی و او له بلې خوا په گانگرس کې د گرم دل بنیاد هم ایښودل شوی و، نو د ملک هر لور ته د آزادۍ او خپلواکۍ ترانې غږیدلې؛ پریم چند هم له دغو حالاتو څخه متاثر شو او د (سوزوطن) نومې کیسو مجموعه یې ولیکله چې په دې مجموعه کې د حب الوطنۍ (وطن دوستۍ) اثرات زیات دي. د سوز وطن په سریزه (مقدمه) کې چې پریم چند په خپله لیکلې، د دغو کیسو د ارزښت، اهمیت او کیفیت په اړه غږیدلی دی، هغه یوځای لیکي:

"د هر قوم علم او ادب د خپل وخت رښتنی انځور وي، خیالات او تصورات چې د یو قوم ذهنونه متحرک کوي اوکوم جذبات او احساسات چې دیوقوم په زړونو کې راولاړیږي؛ همغه د نظم او نثر په بڼه دکاغذ پر مخ په داسې روښانه او صفا توگه کښل کیږي او تر سترگو کیږي، لکه په ایینه کې انځور. زموږ د ادب دلومړي دور پیل په هغه وخت کې وشو، کله چې عوام د غفلت او بې پروایۍ په درانه خوب ویده

و. د دغه وخت ادبي یادګارونه د عاشقانه غزلو او څو بې کاره کیسو څخه نور هیڅ نه وو. دوهمه دوره هغه وبولئ، کله چې د عوامو په نویو او پخوانیو خیالاتو د ژوند او مرګ جنګونه پیل شول او د اصلاحي تمدن په هکله وهڅېدل. په دغه زمانه کې کیسو او حکایاتو اکثره اصلاحي بڼه غوره کړه.

اوس هغه وخت رارسیدلی چې د هندوستاني قوم خیالات د بلاغت په لوري یو ګام مخکې لاړ شي. اوس کله چې د وطن دوستۍ جذبات د عوامو په زړونو کې راپورته شوي، نو دا کله ممکنه ده چې پر ادب دې اثر او اغېز پرې نه باسي. دغه څو په شمېر کیسې د دغو اثراتو آغاز او پیل دی او په دې باوري او یقیني یو چې څومره زموږ خیالات لوړوالی او پراخوالی مومي، په همغه کچه ورځ تر بلې پیاوړی ادب پنځول کیږي چې زموږ هېواد ته د دا ډول ادب ډېره اړتیا ده، چې د ځوان کهول(نسل) پر زړونو د هېواد پالنې او هېوادنۍ مینې نقشې جوړې شي". ( ۱ :۲۷۰)

ښایي پریم چند ته دکیسه لیکنې ذوق او هنر د ملک د سیاسي حالاتو ورکړه وي، دا ځکه چې د همدغه سیاسي شعور او حب الوطنۍ له مخې یې (سوزوطن) مجموعه ولیکله، حال دا چې پریم چند تر دې وخته یو سرکاري ملازم (مامور) و. د سوزوطن وروسته یې ډېرې نورې کیسې هم په مستعار نوم ولیکلې چې د هغو کیسو د لیکلو سبک او بڼه هم سوزوطن ته ورته ده. په دغو کیسو کې یې د وطن پالنې احساس او قومي تاریخ په زړه پورې انځورونه وړاندې کړل، البته په دغو کیسو کې د سوزوطن په پرتله زیات وطني احساسات لیدل کیده، دا ځکه چې په دغو کیسو کې د لیکوال تجربه او پختګي هم شامله وه.

**دویمه دوره (تاریخي او اصلاحي کیسې- ۱۹۰۹م ـــ ۱۹۲۰م):** د سوز وطن له لیکلو وروسته پریم چند له ملت او قوم سره د خاصې مینې له امله چې دا دوره له ۱۹۰۹م څخه تر ۱۹۲۰م کلونو پورې رسیږي، تاریخي او اصلاحي کیسې لیکل پیل کړل.

د لومړۍ نړیوالې جګړې له ختمیدو وروسته په هندوستان کې د آزادۍ ولولې خپرې وې چې ((د پریم بتیسې)) او ((پریم چالیسې)) کیسو مجموعې پریم چند په همدغو وختونو کې ولیکلې.

له ۱۹۰۹م څخه تر ۱۹۱۴م کلونو پریم چند د انسپکټر په توګه پر دنده بوخت و، په همدغو وختونو کې یې د وطن دوستۍ او وطن پالنې د منیې تنده په خپلو

افسانو او کيسو ماته کړه او په دې لړ کې يې د آلهـا، رانـي سـارندها، راجـه هـردل او گناه کا انگن نومې کيسې وليکلې. په دې کيسـو کـې پـريم چنـد پـه هندوسـتانيانو کې د وطن دوستۍ او هېوادپـالنې روحيـه او د آزادۍ او خپلـواکۍ د تـر لاسـه کولـو هيلې او جذبې راوپارولې. د پريم پچيسي کيسې يې د سوزوطن په پرتله ډيرې قوي او پخې ښکاري، ځکه چې دغه کيسې يې له فني اړخه مکملې بريښي. (٧: ٦١)

په دغو وختو کې پريم چند ډېـرې اصـلاحي کيسـې هـم ليکلـې دي، کـه څـه هـم د اصلاحي کيسو ليکل د تاريخي کيسو په پرتله ستونزمن او مشـکل کـار دي، خـو د پـريم چند قوي مشاهدې او مثبت قومي فکر دغه ستونزه تر ډېره بريده اسـانه کـړې ده چـې د دغه وخت په اصلاحي کيسو کې يـې بازيافـت، حـج اکـبر، سـوتيلي مـاه، نجـات، منـدر، مستعار گهڼې د يادولو وړ دي چې لـه دې جملـې يـې ځينـې کيسـې، لکـه، حـج اکـبر، نجات او سوتيلي ماه شمير د پريم چند په شاهکارو کيسو کې راځي.( ٦ : ٨٢)

**درېيمـه دوره : (سـياسي او اصـلاحي کيسـې ۱۹۲۰م ـــ ۱۹۳۲م ):** د پـريم چند دکيسه ليېظکلو درېيمه دوره له ۱۹۲۰م څخه تر ۱۹۳۲م کلونو پورې رسيږي. دا نو هغه وخت دی، کله چې د اتحاد جرمني له مـاتې او شکسـت وروسـته پـه هنـد کې د فتحې جشنونه لمانځل کيدل، په ټول هند کې سياسي تحريکونـو د آزادۍ او خپلواکۍ هلې ځلې لا چټکـې کـړې وې. د سـامراجي طـاقتونو پـر خـلاف کرکـې او نفرتونه خواره وو. له دغو حالاتو څخه پريم چند هم متأثره شو، دنده او ماموريـت يـې پرېښود او د وطن او هېواد د آزادۍ په جدو جهد کې شامل شو او د دغې جـذبې تـر اغېز لاندې يې اصلاحي کيسې په سياسي بڼه ليکـل پيـل کـړل چـې مشـهورې يـې جيل، بهاړی کا ټيو، قاتل ، ستيه گره او داسې نورې دي.( ١: ٢٦٨)

همداراز هغه ناولونه چې پريم چند پـه دغـو وختونـو کـې لـيکلي دي، پـه بشـپړه توگه د دغه وخت د سياسي حالاتو هنداره ده. مولانا عبدالماجد دريا آبـادي د پـريم چند د کيسو په اړه ليکي: ((که ددغه وخت دسياسي حالاتو څخه دخبريدو په موخـه د وخت دسياسي شخصيتونو مطالعه اړينه ده ، په همدې توگه دپريم چنـد د کيسـو لوستل هم خورا اړين دي)).( ٩: ٥٤)

د دولتي دندې او ماموريت له پرېښودو وروسته د پريم چند قلم هم په پوره توگـه آزاد شو چې په خلاص لاس يې سياسي او اصلاحي کيسې وپنځولې.

**ځلورمه دوره (سیاسي فکري کیسې ۱۹۳۲م ـــ ۱۹۳۶م):** که څه هم د پریم چند دکیسه لیکنې دغه دوره لنډه اومختصره ده، خو د فني اړخه بیا مهمه او اړینه ده، ځکه چې په دغو وختونو کې د هندوستاني عوامو نوی نسل د ټولنیزو (معاشرتي) او فني نظریاتو د لوړتیا او پرمختګ څخه په بشپړه توګه اګاه او خبر وو. په دغوکلونو کې د نړۍ دانقلابونو له امله د زماني د شعوري برخو بېلابېلو خواوو لوړتیا موندلې وه. په ۱۹۳۲م کال د هندي او اردو د کیسه ییز ادب لپاره یو غوره او اهم کال و، په دغو کلونو کې پریم چند هم د وخت له سیاسي حالاتو څخه متاثرشو او په همدغه کال د ترقي پسند نومې تحریک(ګوند) غړی شو چې بیا یې د دې تحریک مشري هم پر غاړه شوه. ( ۴ : ۷۷)

له ۱۹۳۶م کال راپدېخوا د پریم چند (زاد راه) او (واردات) نومو د کیسو دوه مجموعې چاپ شوې چې دغه کیسې یې له مخکنیو کیسو څخه له هر لحاظه معیاري بریښي، ځکه چې په دغه وخت کې پریم چند د لیکوالی، په تېره بیا د لنډې کیسې په فن کې د منلو وړ حاکمیت موندلی و او د کیسه لیکنې فن یې اوج ته رسیدلی و. د اردو ادب د مشهور لیکوال حسن فاروقي په قول: ''خدای پاک پریم چند ته دکیسه لیکنې پیاوړی اوځانګړی استعداد ورکړی و، چې ده هم ورڅخه په بشپړه توګه ګټه واخیستله.'' (۱ :۹۰)

پریم چند د دغې دورې په کیسه لیکنه کې د کیسو په واقیعت زور اچولې دی، نه د هغو د کردارونو په جوړولو. که چېرې د (زاد راه) او (واردات) نومو مجموعو ته نظر واچو، نو په دغو کیسو کې یې د ژبنیزو ایجاداتو او سبک د ارتقاء نخښې په څرګنده توګه تر سترګو کیږي.

مناقشه

دا چې پریم چند په هندي ادب کې یو مخکښ او پیاوړی کیسه لیکوال دی، په هندي ادب کې پرې د څېړونکو لخوا ډېرې څېړنې ترسره شوې دي. د فن هره خوا یې سپړل شوې او څېړل شوې ده، حتی د ګورکي په څېر پر پیاوړو بهرنیو لیکوالو سربېره یې د پښتو ادب د لومړني کیسه لیکوال سیدراحت زاخیلي سره د لنډو کیسو او فکرو فن پرتله اومقایسه هم شوې. د لنډو کیسو ټولګې یې راټولې شوي، مفصلې سریزې او تحلیلونه پرې لیکل شوي او د ناولونو او کیسو ژباړې یې د نړۍ

په ببلابېلو ژبو شوې چې په پښتو ژبه يې هم د گودان نومې ناول د غوايې خيرات په نوم راژباړل شوی دی.

## پايله

د دې ليکنې په پای کې دې نتيجې ته رسېږو چې پريم چند په پوره معنا يو رياليستيک ليکوال دی. د نوموړي ځينې لنډې کيسې د کيسه ليکنې د فن له پلوه دومره بشپړې ښکاري چې په هغو باندې بل هېڅ شی نه شي ورزياتولی. که د پريم چند د لنډوکيسو مجموعو ته وگورو، نو دا په کې جوتيږي چې د نوموړي مجموعې د معيار اوکيسه ليکنې د فن له پلوه سره يو شان نه دي. د بيلگې په توگه د ((سوزوطن)) چې د لومړنيو ليکل شويو کيسو مجموعه ده؛ د کيسه ليکنې د فن د ادبي معيار په لحاظ د وروستيو مجموعو د کيسو سره زيات توپير لري او موږ نه شو کولای، د سوز وطن کيسې د ده د اوسنيو کيسو په کتار کې شاملې کړو.

همدا ډول د (پريم پچيسې) د مجموعې کيسې د کيسه ليکنې د فن په لحاظ خامې ښکاري، خو کولی شو، په هغو کې دلنډې کيسه ليکنې لومړني شرطونه او ځانگړنې ومومو. د (پريم بتيسې) د مجموعې کيسې هم په همدې بڼه او فورم کښلې شوې دي. خو د مخکينۍ مجموعې دکيسو په پرتله ښې ليکل شوې دي. که له دغو مجموعو څخه تېر شواو د (پريم چاليسې) مجموعې مطالعه کړو، نو له داسې کيسو سره مخامخ کېږو، چې د مخکينۍ مجموعې له کيسو سره زيات توپير لري او په خپله پريم چند د ليکوالۍ په ډگر کې له زيات رياضت او هڅو څخه وروسته، تازه د لنډې کيسې ليکنې په فن باندې د منلو حاکميت موندلی دی، نو د پايلې په توگه ويلی شو چې که د پريم چند لنډې کيسې په غور سره ولوستل شي، نو لوستونکی په اسانۍ سره په دې حقيقت پوهيدلی شي چې ددغه ليکوال ځينې کيسې د يوې اوږدې مودې څخه وروسته نن هم د مطالعې خاوندانو ته په زړه پورې دي.

## وړانديزونه

۱- د ژبو او ادبياتو ډېری ليکوالو ته ښايي چې د خپل اړوند مسلک او ژبې نوميالي کيسه ليکوال، ډرامه ليکوال، ناول ليکونکي او يا هم مشهور شاعران او د هغوی د فن ببلابېلې فني او موضوعي خواوې وڅېړي او وسپړي، تر څو له دې لارې د ادب مينه وال خبر او زموږ پښتو ژبه او ادب هم غني او بډای شي.

۲- په نورو بهرنیو ژبو کې د دا ډول پیاوړو لیکوالو او شاعرانو سره دې د پښتو ادب د لیکوالواو شاعرانو فکري او فني خواوې پرتله شي.

## مأخذونه


۱- احمد عتیق. مضامین پریم چند، انجمن ترقي اردو پاکستان، ۱۹۸۱ز کال.

۲- الازهري، ابوعفان. افسانوي ادب: لاهور، علمي کتابخانه، کبیر سټریټ اردو بازار، ۲۰۱۰- ۲۰۱۱ز کال.

۳- افراهیم، صغیر. یگ پرورتک پریم چند، نوی دهلي، کتاب گهر مسلم ایجوکیشنل پرس علی گړهـ. ۲۰۰۹ز کال.

۴- پریم چند، منشيـ. دغوایي خیرات(سریزه سمون او راټولونه: صفي الله ملاخیل). دافغانستان ملي تحریک: فرهنگي څانگه،۱۳۹۴ل کال.

۵- رای، امرت. قلم کا سپاهي، اله آباد: هنس پرکاشن، ۲۰۱۳ز کال.

٦- رضا،جعفر. پریم چند فن اور تعمیر فن، اله آباد: شبستان شاه گنج، ۱۹۸۰ز کال.

۷- رضا،جعفر . پریم چند کهاني کا رهنما، اله آباد: شبستان شاه گنج، ۱۹٦۹ز کال.

۸- ریئس،قمر. پریم چند فکر وفن، دهلي، پبلکشنز ډویرمین، ۱۹۸۰ز کال.

۹- ریئس، قمر. منشي پریم چند شخصیت اور کارنامی، علی گړهـ، ایجوکیشنل بوک هاوس. ۱۹۸۳ز کال.

**څېړندوی صاحب ګل مموزی**

# د میناتورۍ هنر او د هغه هنري، ادبي او عرفاني ارزښتونه

# The art of miniature and its artistic, literary and mystical values

**Researcher Sahib Gul Mamozai**


## Abstract

Its historical background will be firstly discussed. This article and research, the shape and content of the miniature will explained and then there will be discussion on the mystical literary values and characteristic of this art and how the miniature art in Afghanistan yesterday, today and tomorrow will be discussed.

## لنډیز

په دې څېړنه کې د میناتورۍ هنر په لغوي او اصطلاحي پېژندنې سربېره د هغې پر تاریخي شالید باندې لنډ بحث شوی، په میناتورۍ کې د شکل او منځپانګې څرنګوالی بیان شوی او په پای کې د دغه هنر عرفاني- ادبي ارزښتونه او ځانګړنې په ګوته شوې، په افغانستان کې د میناتورۍ هنر د پرون، نن او سبا پر څرنګوالي هم بحث شوی دی.


## سریزه

میناتوري د ښکلو هنرونو یوه په زړه پورې څانګه ده چې د نړۍ د هنرونو په تاریخ، په ځانګړې توګه د اسلامي تمدن په پرمختیایي بهیر کې له لوړ هنري- ادبي

او عرفاني ارزښت نه برخمن و او دی او د دغه بهیر په هر پړاو کې یې تر ننه ډېر مینه وال لرلي دي.

د دغې هنر د ودې او پرمختیا په بهیر کې هغه څه چې ډېر جوت دي، دا دي چې د صنعت او معمارۍ په څېر دغه هنر د خلکو ورځنۍ اړتیا نه وه او نه یې د علم او پوهې د خاوندانو په ګډون هر چا د رانیولو او کارولو مالي وس او توان درلود او نه هم لکه نور ښکلي هنرونه لکه (موسیقي، خطاطي او...) په اسانه او ساده وسیلو تر لاسه کېدای شول، بلکې یو داسې پېچلی هنر و چې ځینو توکو، رنګونو او نورو وسایلو ته یې اړتیا درلوده چې هغه د واکمنو له سلطنتي دربارونو او کارځایونو پرته بل ځای نه شو برابرېدلی، نو ځکه دغه هنر یواځې د لوړ ذوق او شتمنو پانګوالو فرمایش ورکوونکو په ذوق او فرمایش پورې تړلی پاتې شو او ډېره ورو- ورو یې وده او پرمختیا ومونده.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د یادې لیکنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې د میناتورۍ هنر د ښکلو هنرونو د یوې څانګې په توګه د هنر او ادب مینه والو ته ورپېژني او د دې تر څنګ چې د شکل او مضمون په څرنګوالي بحث کوي؛ زموږ په لرغوني هېواد افغانستان کې یې پر پرون، نن او سباني حالت هم اړینه رڼا اچوي.

## د څېړنې موخه

د دغې څېړنې اصلي موخه دا ده چې میناتوري هنر د ادبي او هنري مطالعاتو، مینه والو، څېړونکو او محصلانو ته وروپېژندل شي او د هغه په فرهنګي ارزښت او اهمیت هم ښه پوه شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱- د میناتورۍ هنر څه ډول هنر دی؟

۲- د دې هنر اهمیت او ماهیت په څه کې دی؟

۳- په دغه هنر کې د شکل او مضمون څرنګوالی له کومو ځانګړنو برخمن دی؟

۴- د میناتورۍ هنر د ودې او پرمختیا لاملونه کوم دي؟

۵- د دغه هنر د راتلونکې ودې او پرمختیا لپاره څه کول په کار دي؟

## د څېړنې میتود

په نوموړې څېړنه کې له تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

د میناتورۍ لغوي او اصطلاحي پېژندنه

د څېړنې په پیل کې به لومړی باید میناتوري کلمه په آره او کره ډول در وپېژنو او له هغې وروسته به د لیکنې په آر مطلب لاس پورې کړو.

میناتور یا میناتوري یوه فرانسوي کلمه ده چې لغوي معنا یې کوچنۍ ښودنه یا وړوکي کول دي او په اصطلاح کې ډېرو ښو، غوره او ښکلو انځورونو ته ویل کېږي، یا په بله وینا:

میناتوري په کوچنۍ بڼه جوړو شوو انځورنو ته ویل کېږي؛ یا هغې څېرې ته ویل کېږي چې په اوبلن رنګ جوړېږي.

زموږ په ژبو کې د دغې کلمې استعمال د لومړي ځل لپاره د ختیځپوهانو، هنر خوښوونکو او هنر پېژندونکو له خوا دود شوې ده(۱).

## تاریخي شالید

په نړیواله کچه د انځورګرۍ په هنر کې دغه اصطلاح له اوولسمې میلادي پېړۍ راهیسې د یوې لفظي تېروتنې له امله لومړی د ټولو انځورونو لپاه وکارېدله، دا ځکه چې له لغوي معنا یې داسې برېښي چې د کورنۍ تر ټولو کوچنۍ غړی دی؛ خو هغه څه ته چې اوس میناتور ویل کېږي، هغه د الیزایت په دوره کې د ایلیارد او نورو اتلانو انځورونو ته ویل کېدل او کوچنیو ښکلیو تذهیبکاریو ته به هم دغه اصطلاح کارېدله، دغه ډول انځورونه به معمولاً د خوسکي پر څرمنې او کله- کله به پر عاج او مقوا باندې هم ایستل کېدل چې په اوولسمو او اتلسم زېږدیزو پېړیو کې همدا د میناتورۍ انځورګرۍ د میناکارۍ په بڼه دود شول.

د یادونې وړ ده چې په فرانسه کې همدغه اصطلاح یو مهال هغو ډېرو کوچنیو او ظریفو ټوکرانو ته هم استعمال شوه چې له ورېښمو به اوبدل کېدل، د بوټو او ګلانو انځورنه به یې هم لرل(۲).

د هنر په تاریخ کې وینو چې د شپاړسمې پېړۍ د میناتورۍ سبک، لکه څنګه چې د ایلیارد یا اولیورد په آثارو کې لیدل کېږي، د منځنیو پېړیو د انځورګرانو له خوا د خوسکي پر څرمن ایستل کېدل او د څېرو دغه ډول انځورونه به د خطي آثارو او

کتابونو د حکایتونو لپاره د تذهیب اصلي مأخذ و چې په اوولسمه پېړۍ کې بیا همدغه د میناتورۍ په واسطه د څېرو انځورول د اوسني روغني رنګ په واسطه پر فلز باندې د څېرو ښکلي انځورونه دود شول.

وروسته په اتلسمه پېړۍ کې د میناتورۍ د انځورګرۍ ټولو ځانګړنو بدلون وموند، د رڼو رنګونو په اړه د سپینې ځمکې په توګه د عاج کارول ډېر زیات شول(۳).

د میناتورۍ هنر د ودې او پرمختیا په بهیر کې هغه څه چې ډېر ښکاره دي؛ دا دي چې د معمارۍ په څېر دغه هنر د خلکو ورځنۍ اړتیا نه وه او نه یې د علم او پوهې د خاوندانو په ګډون هر چا د رانیولو او کارولو مالي وس او توان درلود او نه هم لکه نور هنرونه موسیقي، خطاطي او نور په اسانه او ساده وسیلو ترلاسه کېدای شول؛ بلکې دا یو داسې پېچلی هنر و چې ځینو توکو، رنګونو او نورو وسایلو ته یې اړتیا درلوده چې هغه د واکمنو له سلطنتي دربارونو او کارځایونو پرته بل ځای نه شو برابرېدلی؛ نو ځکه دغه هنر یواځې د لوړ ذوق او شتمنو پانګوالو فرمایش ورکوونکو په ذوق او فرمایش پورې تړلې پاتې شو او ډېره ورو- ورو یې وده او پرمختیا موندله(۴).

## په میناتورۍ کې شکل او منځپانګه

د میناتورۍ هنر د شکل او منځپانګې له مخې خپل ځانګړی اصالت لري، منځپانګه یې تل ژوندۍ او خوځنده وي او په کوم مهال او حال پورې چې اړه لري؛ د هغې څرګندویي او پېژندویي په ډېره ښه او اغېزناکه توګه کوي.

هنر د یوې ذهني پدیدې په توګه د هغو وګړو د ژوند تاریخ چې له فرهنګ، اقتصاد او ټولنیزو مسایلو سره تړاو او سروکار لري، بیانوي، نو ځکه د میناتورۍ په هنر کې د هنرمند ناخبرۍ ذهن د هغه د خبري(شعوري) ذهن په پرتله د اثر پر ډیزاین او منځپانګه ډېر اغېز لري، د دې کار یو ستر لامل ښایي دا وي چې کرښې، شکلونه، څېرې او رنګونه ټول یوځای په سمبولیکه بڼه دا هڅه کوي چې د لیدونکي وګړي فکر ژر خپلې خواته را واړوي او کېدای شي، همدغه لاشعور تبارز به د اوسني یا معاصر سورریالیزم او میناتور ترمنځ ګډ ټکی وي؛ خو یو توپیر به یې دا وي چې په میناتورۍ کې هېڅ ډول منځپانګه د هغه په فورم اغېزه نه کوي(۵).

## د میناتورۍ هنر عرفاني او ادبي ارزښتونه

د هنر تیوري ته په کتنې سره د هر هنري اثر په ارزښت کې یو شمېر مهم عوامل ګډ دي او هغه ټول د دې لامل بلل کېږي چې یو هنري اثر لا ډېر ښکلی شي یا په بله وینا ښه ښکلا او ځلا پیدا کړي، د میناتوري هنر په ښکلا پېژندنه کې همدې پاملرنې هنروال او کارپوهان ساتلي دي، دغه عوامل په انځورګرۍ کې یو ټکی (نقطې) او کرښې وروسته چې بنسټ یې جوړوي؛ په څلورو برخو وېشي- چې هغه عوامل فورم، رنګ، اندازه او اوډنه ده او په هغو کې یوائې فورم درې برخې (هندسې، طبیعي او اتفاقي) لري.

هره میناتوري، په اساسي توګه د انځورونو له مخې له یو شمېر تدوین شوو قوانینو څخه جوړه شوې ده، دغه تدوین کېدل په دغو ټولو اساساتو باندې تل واکمن وي او میناتوري د هنروال د فکر او ذهن زېږنده یا محصول دی چې له شعر، خطاطۍ او معمارۍ سره د نږدېوالي له امله د کمال لوړ برید ته رسېدلې ده(٦).

په هنر کې انځورګرۍ او میناتورۍ ورور- ورو یو داسې قالب را خپل کړی چې د عرفاني ادب د معنا د بیان وړتیا یې هم ترلاسه کړې ده، اوس ځکه موږ له عرفاني ادبیاتو سره د دغه هنر یا میناتورۍ (انځورګرۍ) سرلوحې (یا تذهیب) شاهدان یو.

د میناتورۍ د هنر د یوې مهمې ځانګړتیا په توګه وینو چې دغه هنر هم د نورو هنرونو په څېر د بخت، حالاتو، پېښو او شرایطو په ادلون بدلون کې بدلون موندلی دی، د انځورګرۍ هنر په ځانګړې توګه د کتاب سینګارولو او میناتورۍ هنر له اتمې تر یوولسمې هجري پېړۍ پورې ښه ځلا او اغېزناکه پرمختیا درلوده، دغه دوره چې زموږ په هېواد کې د مغولو له واکمنۍ را پیل او تر صفویانو پورې رسېږي، هنروالو د سیمه ییزو امیرانو او واکمنانو په دربارونو کې د میناتورانو او شاعرانو شعرونو کتابونو په انځوریزولو بوخت وو، همدغې د کتاب لیکنې، سینګارولو او میناتورۍ ترمنځ نږدې اړیکو په دې دوره کې ډېر غوره آثار رامنځته کړي چې ډېرې لوړې بېلګې یې د فردوسي شاهنامه، خمسه نظامي، د جامي هفت اورنګ، د سعدي ګلستان، د حافظ دېوان او نور ادبي آثار دي، د تیموري او صفوي دورو واکمنانو او حاکمانو له هنر او ادب سره ډېر زیاته مینه درلوده؛ نو ځکه یې په خپلو دربارونو کې د هنروالو په پاللو  او روزولو سره دې ښکلي هنر ته ښه وده ورکړې ده.

د دې هنر وده او پرمختیا ځکه د نورو صنعتي- عمارتي او موسیقي هنرونو په څېر چټکه نه ده، هر چا د استفادې اړتیا نه ورته درلوده او یواځې به د واکمنانو په دربارونو پورې منحصر- پاتې وه، د دې هنر هنروال (میناتوران) به هم زیاتره له ستونزو سره مخامخ او خپل ځانته به یې په خلاص مټ کار روزګار نه شو پیدا کولی او امکاناتو یې په محدود فرمایش ورکوونکو او د ذوقمنو پانګوالو په غوښتنې او لاسرسي پورې اړه درلوده(۷).

## په افغانستان کې د میناتوری هنر پرون، نن او سبا

لکه چې روښانه ده، د هر هېواد هنر او مدنیت د تاریخ د پېړیو په پوړیو کې د هغه هېواد د تاریخي شالید څرګندونې کوي او په واقعیت کې د هغه هېواد د ملي لاسوندونو او فرهنګي میراثونو یوه مهمه برخه جوړوي. په افغاسنتان کې هم بېلابېل هنرونه د تاریخ په بېلابېلو دورو کې رامنځته شوي دي چې هر یو یې د خپلې اړوندې دورې په ټولنیز او فرهنګي حالت پورې تړاو لري او د هرې دورې هنر خپلې- خپلې ځانګړنې، ښېګڼې او تر څنګ یې ودې او پرمختیا لپاره ځانګړې لارې لري.

د ښکلو هنرونو په لړ کې انځورګری، سرلوحې او تذهیب هنر هم له ډېر پخوا نه زموږ د هېواد د هنروالو د پاملرنې وړ و چې ډېرو هنروالو د ځانګړي ذوق او سلیقې په لرلو سره د دغه هنر په ودې او پرمختیا کې ونډه لرلې ده، دا چې میناتوري د یو ډېر ظریف، له ښکلاوو او ځلاوو ځخه برخمن هنر په توګه د هر چا د پاملرنې او مینه والی وړ دی او له خپلو هغو ټولو هنري رموزو او رازونو سره چې لري یې؛ د لیدونکو یا نندارچیانو په زړونو او دماغونو کې ځای نیولی او د هغوی هنري تنده یې خړوبه کړې ده. دغه هنر چې تر ډېره زموږ په هېواد کې د افغاني هنروالو د فکر او زیار ګالنې محصول دی، زموږ د هېواد ځینو هنرپالو واکمنانو په پاملرنو، مالي مرستو او هڅونو سره د یو ډېر ارزښتناک فرهنګي میراث په توګه له پېړیو- پېړیو راهیسې تر ننه ژوندی پاتې دی، ګورو چې په عام ډول هنر په اسلامي هېوادونو کې د اسلام د سپېڅلي دین له خپریدو راوروسته پوره تر اغېزې لاندې راغلی دی، کله چې د دغه سپېڅلي دین وړانګې په دغو هېوادونو کې خپرې شوې؛ نو هنر یې د هغو هېوادونو له هنر سره ګډ شو، یوه ځانګړې بڼه یې غوره کړه او د دغه هنر او فرهنګ په ودې او پرمختیا سره هغه د اسلامي تمدن نوم خپل کړ(۸).

د انځورګرۍ هنر دغه بدلون او سمون په افغانستان کې په تېره بيا په هرات کې د تيموريانو په دوره کې تر سترګو کېږي چې په نهمه هجري پېړۍ د هنرونو له پلوه د انځوريز هنر يوه زرينه دوره بللی شو، د بېلګې په توګه: استاد بهزاد د دغې دورې ډېر پياوړی انځورګر او هنروال و، وروسته بيا د تېموريانو له رانسکورېدو څخه د صفويانو د واکمنۍ په پيلېدو سره چې د ايران لوېديځه برخه تېرېږي، پلازمېنه وټاکل شوه او د ازبکانو د يرغلونو په پيلېدو سره چې په ځای کې جلا- جلا کوچني خپلواک هېوادونه رامنځته شول، افغانستان د بېلابېلو سياسي عواملو او يرغلونو له امله ويجاړ او په کنډواله بدل شو؛ نو دغه هنر هم د اوږدو جګړو په ترځ کې د اور خوراک او په کلکه زيانمن شو(۹).

وروسته چې بيا په افغانستان کې د هوتکيانو او ابداليانو او بيا وروسته د محمدزيانو خپلواکې واکمنۍ او بيا په هغو کې د واک او اقتدار پر سر کورنۍ جګړې رامنځته شوې، په هغو کې دې هنر ته ډېره لږه او يا هېڅ پاملرنه و نه شوه او بيا هېڅکله داسې حالت او شرايط رامنځته نه شول چې زموږ د هېواد ښکلي هنرونه په ځانګړې توګه انځورګري، خطاطي او ميناتوري هغسې لکه چې د هرات د تېموريانو په دوره کې وو؛ وځلېږي او د سيمې له نورو هېوادونو سره سيالي وکړای شي. سره له دې چې په دې وروستيو څلورو لسيزو کې پر هېواد بهرنيو يرغلونو او کورنيو جګړو له هېواده په ډله ييزو او ځانګړو مهاجرتونو سره د دې هنر د ودې او پرمختيا په وړاندې ډېرې ستونزې او خنډونه رامنځته کړي وو، بيا هم په ځينو ښارونو لکه هرات کې د استاد مشعل په څېر پياوړو هنروالو د دې هنر زده کړې لپاره ډېر زده کوونکي وروزل او د يوه نوي هنري مکتب بنسټ يې ايښی او ډېر لارويان يې موندلي دي.

که دغه هنر ته د پخوا په شان پوره پاملرنه وشي، راتلونکې به يې له بشپړې ښکلا او ځلا څخه برخمنه شي.

## پايله

که د ميناتورۍ هنر او د هغه د عرفاني او ادبي ارزښتونو په اړه د بحث دا خوره وره لمنه راټوله کړو، نو د بحث د پايلې په توګه ويلی شو چې ميناتوري د ښکلو هنرونو يوه مهمه او زړه وړونکې څانګه ده چې د فرانسوي کلمې ميناتور لغوي معنا کوچنۍ ښودنه او وړوکي کول دي او په اصطلاح کې ډېرو ښو غوره او ښکلو انځورونو

او یا هغې څېرې ته ویل کېږي چې په اوبلن رنګ جوړېږي، ډېر لرغونی شالید لري، دغه انځورونه به معمولاً د خوسکي پر څرمنې او کله- کله پر عاج او مقوا ایستل کېدل او د څېرو دغه ډول انځورونه به د خطي آثارو او کتابونو د حکایتونو لپاره د تذهیب او ښکلي کولو اصلي مأخذ و چې وروسته بیا په اوولسمه پېړۍ کې د همدغې میناتورۍ په واسطه د څېرو انځورول د اوسني روغني رنګ په واسطه پر فلز باندې د څېرو ښکلي انځورونه دود شول، دغه هنر د شکل او منځپانګې له مخې خپل ځانګړی اصالت لري، منځپانګه یې تل ژوندۍ او خوځنده وي او په کوم مهال او حال پورې چې اړه لري، د هغو څرګندونې کوي.

په هنر کې انځورګرۍ او میناتورۍ ورو- ورو یو داسې قالب راخپل کړی چې عرفاني ادب د معنا د بیان وړتیا هم تر لاسه کړې ده، اوس ځکه موږ په ځینو خطي نسخو کې له عرفاني ادبیاتو سره د میناتورۍ د هنر سرلوحو یا تذهیب د ډېرو برخو شاهدان یو، ډېرې لوړې بېلګې یې د فردوسي شاهنامه، خمسه نظامی، د جامي هفت اورنګ، د حافظ دېوان، د سعدی کلیات او نور دي.

دغه هنر چې زموږ په هېواد کې د افغاني هنروالو د فکر او زیار ګالنې محصول دی، د تېموریانو په دوره کې یې ډېره وده او پرمختیا موندلې، بیا وروسته په هېواد کې د هوتکیانو او ابدالیانو په دورو کې خپلواک دولتونه رامنځته شوي، ډېره پاملرنه ورته نه ده شوې او نزولي حالت یې غوره کړی، د تېموریانو د دورې ښکلا او ځلا یې نه ده تر لاسه کړې، په دې وروستیو څلورو لسیزو، خپل منځي جګړو کې که څه هم دې هنر ته ډېره پاملرنه نه ده شوې؛ خو په شخصي هلو ځلو سره یې په هرات کې بشپړه وده موندلې او د استاد مشعل د میناتورۍ د هنر مکتب بیا د هرات د تېموریانو د دورې یاد تازه کړی او که په راتلونکي کې دې هنر ته بشپړه پاملرنه وشي، دغه اوسنۍ ځلا او ښکلا به یې نوره هم زیاته او په نړیواله او سیمه ییزه کچه ښه وځلېږي.

## مأخذونه


۱- محمدي رامونا، تاریخ و سبک شناسی میناتوری و نقاشی ایرانی، لومړی چاپ انتشارات فارسیران: تهران، ۱۳۸۹ هـ. ش، ۳۸– ۳۹ مخونه.

۲- ابو القاسم سید صدر، دایرة المعارف هنر، انتشارات سیمای دانش: لومړی چاپ، تهران، ۱۳۸۳ هـ. ش، ۵– ۸ مخونه.

۳- دایرة المعارف هنر (٦۴۲– ٦۴۳ مخونه).

۴- ولش استورات کری، نقاشی ایرانی، نسخه نگاری های عهد صفوی، احمدرضا تقا، لومړی چاپ، فرهنگستان هنر: تهران، ۱۳۸۴ هـ. ش، (۱۵ – ۱٦ مخونه).

۵- سلام محمد اکبر او خوشنصیب عزیزه، ارزش های هنری و فرهنگی عمارت افغانستان، مرکز منبع معلومات افغانستان در پوهنتون (ACKY): ۱۳۹۰ هـ. ش، ۱ -۴ مخ.

٦- انصاری حمیده، په افغانستان کې د میناتورۍ هنر، د پوهاند دودیال ژباړه، په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز: ۱۳۹٦ ل، ۳۷ – ۳۸ مخونه.

۷- رحیمي عبدالکریم، مکتب هنری بهزاد، لومړی چاپ، ، انتشارات اتحادیه انجمن های هنرمندان افغانستان: کابل، ۱۳۷۰ هـ. ش، ۳٦ – ۳۷ مخونه.

۸- دایرة المعارف هنر، ۳۹ مخ.

۹- په افغانستان کې د میناتورۍ هنر، ۳۰ – ۳۹ مخونه.

ځېړنیار عزیزالله مبارز

# کلمه او تابع مهمل
# Word and Nonsense

**Research Assistant Azizullah Mubariz**

**Abstract**

In Pashto language most of nonsense functions made by (M) and thier usage are common, every person using them in their speech like:Kitab Mitab,Kor Mor and etc. Despite M letter here are some more letters that creates nonsense functions such as: Kaaga Waga,Shadal Badal,Khawar Paar and etc, which are discovered and collected in this article. This article will show that may be in speech a nonsense function of a word have many versions like: the standard of (Ghat) Nonsense function is (Pat) and many more.

Also the nonsense function of (Kor) word is known as a (Mor) but if we bring the word (Or) with (kor) now here in (Kor Or) combination the word (or) is not nonsense function for (Kor), thus it is combination and from both words one another meaning has been created.

**لنډيز**

په پښتو ژبه کې د ډېرو کلمو تابع مهمل د (م) په توري بانـدې جـوړېږي، کارونـه يې هم ډېره عامه ده او هر وګړی يې په خـبرو کـې استعمالوي، لکـه: کتـاب متـاب، کور مور او داسې نور. همدارنګه د (م) له توري څخه پرته پـر ځينـو نـورو تـورو هـم د

کلمو تابع مهمل جوړېږي، لکه: کاړه واړه، شډل بډل، خوار پار او دې ته ورته نورې بېلگې يې چې په دې مقاله کې پلټل شوي او راوړل شوي دي. په دې ليکنه کې به دا هم په ډاگه شي، کېدای شي چې په وينا او ليکنه کې د يوې کلمې تابع مهمل ځو بڼې ولري، لکه: د غټ کلمې مهمل چې معياري يې (پټ) دی، نه (کټ) او داسې نور. همداشان د کور د کلمې تابع مهمل معلومه او ښکاره خبره ده چې (مور) به وي، خو که چېرې د کور له کلمې سره مو د (اور) کلمه يو ځای کړه، نو دلته(کور اور) په ترکيب کې بيا د اور کلمه د کور مهمل نه، بلکې يو ترکيب دی او له دواړو توکو څخه يوه بله(دربېمه معنا) زېږېدلې ده.

## سريزه

د کلمو او لفظونو د تابع مهمل جوړول يوه عامه خبره ده او د ژبې ويونکي يې په خبرو او وينا کې په زياته کچه کاروي. د تابع مهمل کاروونکی په خپل هدف باندې د ټينگار لپاره په جمله کې د هماغې کلمې تابع مهمل جوړوي، د مثال په ډول: که يو څوک چا ته ووايي، چې زما درسره کار دی، مخاطب يې ورغبرگوي چې زه بل کار لرم؛ نو دلته چې متکلم په خپلې خبرې باندې تأکيد او ټينگار کوي؛ نو وايي به چې کار مار دې پرېږده.

په دې مقاله کښې د تابع مهمل لغوي او اصطلاحي تعريف شوی او د تابع مهمل په اړه پکې دا هم روښانه شوې ده چې د ويونکي مقصد ورڅخه په کلام کې تاکيد وي، نو ځکه د هماغې کلمې يا لفظ تابع مهمل جوړوي.

بيا هغه کلمې او لفظونه چې په ميم توري پيل شوي وي، تابع مهمل يې هم د لومړۍ کلمې غوندې کټ مټ تکرارېږي، روښانه شوې دي او ورپسې د (م) توري څخه پرته نور هغه توري چې د کلمو او لفظونو تابع مهمل پرې جوړېږي، د بېلگو سره راوړل شوي دي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

په خبرو او وينا کې تابع مهمل ډېر کارېږي، خو د دې ترڅنگ په ليکنه کې هم کارېږي، د خبرو او وينا په وخت کې که يو څوک د کوم لفظ يا کلمې تابع مهمل وکاروي، د مثال په توگه ووايي چې کور مور دې نه دی اخيستی، اکثره ورته مقابل لوری په ځواب کې وايي چې کور خو کور شو، نو دا مور څه شی شو، نو د دې

څېړنې اهمیت او مبرمیت په همدې ځای کې په ډاګه کېږي چې د کلمو تابع مهمل جوړولو ارزښت روښانه شي چې ولې د کلمو تابع مهمل جوړوو.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې څخه موخه دا وه چې له (م) توري څخه پرته ځینې نور هغه توري چې د کلمو تابع مهمل ورباندې جوړېږي د هغو بېلګې راوړل شوي دي، که د ځینو تورو یوه بېلګه پیدا شوې ده نو دلته مو راوړې ده او د ځینو تورو بېلګې که ډېرې پیدا شوي دي، نو یو څو بېلګې مو ذکر کړي دي. همدارنګه د ځینو کلمو تابع مهمل کېدای شي په څو بڼو جوړ شي، لکه: (خیشته پیشته = میشته)،(درک مرک = خرک) یا (غټ پټ = کټ) او داسې نور، نو لازمه ده چې هغه بڼه یې په پام کې ونیول شي چې استعمال یې ډېر وي.

## د څېړنې پوښتنې

۱- په لغوي او اصطلاحي توګه مهمل څه ته وایي؟

۲- د کلمې یا لفظ تابع مهمل په کومو تورو جوړېږي؟

۳- د یوې کلمې یا لفظ تابع مهمل څو بڼې لري؟

۴- ایا ټول تابع مهمل بې معنا دي او که ځینې یې معنا لري؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه او مقاله کې له تشرېحي او تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## اصلي متن

د مهمل د لغوي پېژندنې په اړه په قاموسونو کې زیاتې معناوې کښل شوې دي، دلته به د ځینو یادونه په لاندې ډول وکړو:

په پښتو- پښتو تشریحي قاموس کې د مهمل کلمې په تشریح کې څو ډوله معناوې لیکل شوې دي: «(۱) پرېښودی، ۲) بېکاره،۳) کم عقل، ۴) فضول، بې ګټې،۵) بې معنا او بې مطلبه ته ویل کېږي، ٦) سست، کمزوری، ۷) هغه توری چې ټکی ونه لري».(۱: ۲۹۲۷)

همدارنګه په افغان قاموس کې د مهمل کلمې د معنا په برخه کې لیکل شوي دي:«سخن بی معنی و بیهوده».(۲ :۴۷۲)

## د مهمل اصطلاحي پېژندنه

په اصطلاح کې مهمل په لږ توپير د اصل کلمې عکس او انځور دی او عکس او انځور خو يې ځکه دی چې د اصلي کلمې په کومه څپه باندې چې خج راځي؛ نو د تابع مهمل هم په هماغه څپه باندې خج واقع کېږي.

تابع مهمل چې په لږ توپير د اصلي کلمې عکس او انځور يا لکه د سيوري غوندې دی او د کلمې څخه پرته کومه معنا نه لري، خو کېدای شي د کلمې تابع مهمل په ځينو مثالونو کې له اصلي کلمې پرته په يواځې ډول معنا ولري، لکه: د کور کلمې تابع مهمل چې مور دی او د متبوع کلمې پرته تابع مهمل هم يوه معنا لرونکې کلمه ده، يا د کار، خړ او سوړ کلمې چې تابع مهمل يې مار، پړ او پوړ دی او هره يوه يې يوه معنا لرونکې کلمه ده.

د تابع مهمل د اصطلاحي تعريف په اړه په پښتو ادبپوهنه نومي کتاب کې سحرگل سحر کتوزي ليکلي دي: « مهمل هغه ټکی دی چې په استعمال کې خو راځي، مگر هيڅ معنا نه لري، لکه: کتاب متاب، سبق مبق، سودا مودا او داسې نور».(۳: ۴۴۱م)

د تابع مهمل په اړه نورمحمد افغان قندهاري په تحفة الامير کې په لنډ ډول بحث کړی چې دلته يې راوړم: «تابع مهمل آن لفظ است که بعد از اسم آمده و هم وزن و پی معين باشد».(۴: ۲۰۸-۲۰۹م)

مولوي شېرگل هم د تابع مهمل په اړه داسې ليکلي دي: «هغه لفظ چې معنا نه لري او په خبرو اترو کې د ړومبنۍ کلمې په متابعت استعمالېږي، لکه مړی چې د(سړی) کلمې په پای کې راځي او تابع مهمل ورته وايي، لکه سړی مړی، ډوډۍ موډۍ او نور»(۵: ۱۸م). متبوع کلمه چې هرکله په خپله معنا پوره دلالت وکړي او يوه معنا لرونکې کلمه وي، نو له متبوع کلمې سره د تابع لفظ(مهمل) راوړل د يو څه تاکيد لپاره وي. پوهاند رښتين هم دې خبرې ته اشاره کړې ده، هغه ليکي: « که چېرې د يوه لفظ يو جزء په خپله معنا پوره دلالت کاوه، نو له دې څخه ثابتېږي چې بل جز يې د تاکيد لپاره دی».(٦: ۱۲۷م)

د يوې کلمې يا لفظ (متبوع) کلمې لومړی توری که چېرته ميم وي، نوموړې کلمه او لفظ کټ مټ تکرارېږي او د هغې کلمې يا لفظ تابع مهمل پرې جوړېږي او د تحفة الامير ليکوال خو يې ويونکی مختار بللی، نوموړی ليکي:

« آن متبوع که حرف اول آن میم باشد، آنکه در آوردن هر حرفی که باشد مختار است، تعین حرفِ در اول تابع ندارند چون، مرک = سرک، خرک وغیره».(۷: ۲۰۸-۲۰۹م)

مولوي شېرګل په دې اړه وايي چې د تابع مهمل لفظ په اول کې د میم توری راځي، هغه لیکي:«د تابع مهمل لفظ په اول کې هرو مرو د میم توری راځي، لکه: لرګی مرګی، برېستن مرېستن، کاغذ ماغذ، سکاره ماره او داسې نور.(۸: ۱۸م)

د (پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه) په کتاب کې پوهاند رښتین هم د الفاظو د تکرار په عنوان کې دې ته اشاره کړې ده، هغه لیکي: «... د اولې کلمې د ړومبي حرف په ځای(م) راځي او هغه لفظ تکرارېږي لکه: ډوډۍ موډۍ، لرګی مرګی، لاس ماس، ګوته موته، دیوال میوال، کور مور، کوزه موزه، سړی مړی».(۹: ۱۲۸)

په پښتو کې د کلمو او لفظونو تابع مهمل(مهملات) زیاتره په میم توري باندې جوړېږي، خو په نادره توګه له میم پرته پر ځینو نورو تورو هم د کلمو او لفظونو تابع مهمل جوړېږي. استاد حبیب الله رفیع هم دې ټکي ته اشاره کړې ده، هغه لیکي: «دا سمه ده چې پښتو مهملات اکثره په(م) جوړېږي لکه: کار مار، خواړه ماړه، ساتېري ماتېري، ګرمي مرمي او نور، خو لږ شمېر داسې مهملات هم شته چې له میم پرته په (پ)، (و) حتی (ن) هم جوړېږي لکه: ((کاړه واړه، ګډو وډ، مړ پړ، خړ پړ، سوړ پوړ او داسې نور». (۱۰: ۴۴م)

پوهاند رښتین هم له (میم) توري څخه پرته ځینې نور توري لیکلي او مثالونه یې هم راوړي چې د کلمو او لفظونو تابع مهمل ورباندې جوړېږي، هغه لیکي: «د اولې کلمې د ړومبي حرف په ځای( م) راځي او هغه لفظ تکرارېږي ځینې نور توري یې هم ښودلي او مثالونه یې ذکر کړي دي، لکه: «(ب، ج ، د، هـ، و) توري د ړومبی کلمې پر ځای راځي». (۱۱: ۱۲۸)

ځینې داسې کلمې هم شته چې د تابع مهمل په ډول ښکاري، خو په اصل کې یو حالت بیانوي او هېڅکله د هغې متبوع کلمې او لفظ تابع مهمل نه ګڼل کېږي، خو په دغه ترکیب کې له همدغې کلمې سره د مهمل کلمې په ډول غاړه شوې او یو ځای راغلې وي، کله دغه مهمل توکی له اصل کلمې څخه مخکې او یا هم وروسته راځي.

هغه کلمې چې له اصلي کلمې څخه مخکې راغلي وي، لکه: اخلی پخلی او انې بانې چې نوموړي هره یوه کلمه د اصلي کلمې څخه دمخه راغلې، په ترتیب سره

(اخلی د پخلی او انې د بانې) تابع مهمل نه، بلکې د همدغو کلمو تابع مهمل په ترتیب سره (پخلی مخلی او بانې مانې) دي او داسې نور.

ځینې نورې داسې کلمې هم په همدې ډول له اصلي کلمې څخه وروسته راځي او د اصلي کلمې سره غاړه کېږي، لکه: قیصې قطارې، گیلې مانې، فلانکی بستانکی، ډله ټپله، خبرې اترې، لانجې کونجې چې تابع مهمل یې په ترتیب سره(قیصې پیصې= میسې، گیلې میلې، فلانکی ملانکی، ډله مله، خبرې مبرې، لانجې مانجې) دي او داسې نورې بېلگې.

په همدې ډول پوهاند زیار هم دغسې کلمې په جوړه ترنگونو کې شمېرلي، لکه:«خټه گټه، غورځې پرځې، کور اور، وار پار، ټگې برگې، خوی بوی، ډله ټپله،کونډې رنډې، منډه ترړه، سم دم». (۱۲: ۴۸۰-۴۹۶)

مهمل د کلمې او لفظ عکس او انځور دی، نو د یوې کلمې یا لفظ د سر د یوه توري په تغییرولو سره به یې تابع مهمل هم جوړېږي. که کلمه په مفرد ډول وه، نو تابع مهمل به یې هم په هماغه مفرد ډول وي، که کلمه جمع وه، تابع مهمل به یې هم د جمعې په ډول وي او که کلمه په غیر اصلي حالت کې وه، نو تابع مهمل به یې هم په غیر اصلي حالت کې جوړېږي، مثالونه یې په لاندې ډول راوړلای شو:

د کلمې اصلي شکل او تابع مهمل یې، لکه: لاره چاره، خپور وور او کوږووږ، د کلمې د جمعې حالت او تابع مهمل یې، لکه: لارې چارې، خپرې ورې، کږې وږې او د کلمې غیراصلي شکل او تابع مهمل یې، لکه: لارو چارو، خپرو ورو او کږو وږو.

د تابع مهمل په اړه دا خبره هم د یادونې وړ ده، که چېرته د یوې کلمې یا لفظ د سر څو توري ساکن وي، نو دغه ټول ساکن توري په یو توري بدلېږي او د کلمې یا لفظ تابع مهمل ورباندې جوړېږي. پوهاند زیار په (پښتو وییپوهنه او ویي رغاونه) کې دا ډول کلمې او لفظونه چې کلستر(ابتدا په ساکن) شوې وي راوړي، له هر یو څخه یې یو یو مثال راوړو: «دوه غبرېز کلستر، لکه: ځواک ماک، خوند مند.... درې غبرېز کلستر ، ژوند مند، څلور غبرېز کلستر، شخوند مند، خوړین پړین». (۱۳: ۵۶۷م)

اوس به د میم توري په گډون ځینې هغه نور توري چې د کلمو یا لفظونو تابع مهمل ورباندې جوړېږي، البته دا ډول بېلگې په نادره توگه شته او ډېرې کمې دي، خو ځینې بېلگې به یې راوړو.

۱- هغه کلمې یا لفظونه چې تابع مهمل یې د (ب) په توري جوړېږي، لکه: شډل بډل، ړنگ بنگ، ارنگ برنگ او داسې نور.

۲- هغه کلمې یا لفظونه چې تابع مهمل یې د (پ ، م یا ک) توري جوړېږي، لکه: خړ پړ، جړ پړ، خوار پار، غټ پټ = کټ، سوړ پوړ= موړ، خیشته پیشته = میشته، مړ پړ، هیښ پیښ، چیت پیت، تش پش، ویښ پیښ، قیصې پیصې، غرک پرک.

۳- هغه کلمې یا لفظونه چې تابع مهمل یې د(ج) په توري سره جوړېږي، لکه: ځوان جان = مان، ځوانه جانه.

۴- هغه کلمې یا لفظونه چې تابع مهمل یې د (چ) په توري سره جوړېږي، لکه: نغدې چغدې.

۵- هغه کلمې یا لفظونه چې تابع مهمل یې د ( د یا م) په توري سره جوړېږي، لکه: وس دس= مس، ارمان درمان، حریان دریان، چې په عامه محاوره کې اریان دریان ویل کېږي.

٦- هغه کلمې یا لفظونه چې تابع مهمل یې د (م یا خ) په توري سره جوړېږي لکه: درک مرک= خرک.

۷- هغه کلمې یا لفظونه چې تابع مهمل یې د (ش یا م) په توري سره جوړېږي، لکه: گپونه شپونه، لافې، شافې = مافې.

۸- هغه کلمې یا لفظونه چې تابع مهمل یې د (واو) په توري باندې جوړېږي، لکه: څیرې ویرې، خواره واره، کاړه واړه او داسې نور.

۹- د زیاتو کلمو مهملونه د (م) په توري باندې جوړېږي او له (م) توري څخه پرته په نورو تورو هم د کلمو یا لفظونو د تابع مهمل بېلگې مو پورته ذکر کړې، کېدای شي په ځینو نورو تورو باندې یې هم بېلگې او مثالونه پیدا شي، اوس یوازې د (م) توري څو بېلگې چې د زیاترو کلمو او لفظونو تابع مهمل (مهملات) وربانـدې جوړېږي راوړو، لکه: خوله مله، ژوند مند، خواړه ماړه، جوار مار، کور مور، نړۍ مړۍ، ساتل ماتل، زیار میار، کښت مښت، رنگ منگ، بنډار منډار، غورې مرې او داسې نور.

## پایله

ژبه د وگړو ترمنځ د افکارو او معلوماتو د شریکولو پراخ ډگر لري، جملې، عبارات او ترکیبونه له کلمو څخه رغېږي او په تفاهم کې پوره ونډه لري، د ژبې ویونکي په

خبرو او وینا کې ځینې کلمې تکراروي او د دغو کلمو له تکرار څخه یې مقصد په هماغه جمله کې تاکید وي، که چېرې د کلمو او لفظونو په دغسې تکرار کې د یوې کلمې یا لفظ لومړي جز معنا درلوده ، نو دویم جز به یې د تاکید لپاره وي او د کلمې د لومړي توري په بدلون دویم جز د لومړي جز عکس او انځور وي، نو لومړی جز(کلمه) یې متبوع او دویم جز(عکس او انځور) یې تابع مهمل گڼل کېږي.

د یادونې وړ ده چې که څه هم د زیاتو کلمو او لفظونو تابع مهمل د (م) په توري باندې جوړېږي او کارونه یې هم خورا عامه ده، خو د (م) له توري څخه پرته ځینې نور توري هم شته، چې د زیاتو کلمو او لفظونو تابع مهمل وربانديې جوړېږي، کېدای شي د یوې کلمې مهمل چې په کوم توري باندې جوړېږي، په بل توري باندې هم جوړ شي لکه: د (خیشته) کلمې تابع مهمل چې په(م او پ) دواړو تورو باندې جوړېږي، د نوموړې کلمې تابع مهمل په وینا کې په دواړو بڼو لیدل کېږي، خو معیاري بڼه یې باید په (پ) توري ولیکل شي.

## مأخذونه

۱- پښتو – پښتو تشرېحي قاموس، څلورم ټوک، دویم چاپ، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: میدیوتیک( د افغانستان لپاره د ټولنیزو رسنیو مرکز) ۱۳۸۳ ل کال.

۲- افغاني نویس، عبدالله. افغان قاموس( فارسي او پښتو) دریم ټوک، د پښتو ټولنې د لغاتو څانگه، ۱۳۳٦ل کال.

۳- سحر کتوزی، سحرگل. پښتو ادبپوهنه، یونیورسټي پبلشرز: افغان مارکېټ، قصه خواني بازار پېښور، ۲۰۱۸م. کال.

۴- افغان قندهاری، نورمحمد. تحفة الامیر( د پښتو صرف و نحو)، قلمي نسخه، ۱۲۸۰ هـ ش کال.

۵- رشید کاموال، مولوي شېرگل. د ژبې اهمیت او د ژبې د رسا کولو نېغه لاره، کابل مجله( ۱۱ گڼه)، پښتو ټولنه: عمومي مطبعه، ۱۳۴۴ ل. کال.

٦- رښتین، صدیق الله. د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه، دویم چاپ، ۱۳۸۳ل. کال.

۷- افغان قندهاری، نورمحمد. تحفة الامیر( د پښتو صرف و نحو)، قلمي نسخه، ۱۲۸۰ هـ ش کال.

۸- رشید کاموال، مولوي شېرگل. د ژبې اهمیت او د ژبې د رسا کولو نېغه لاره، کابل مجله( ۱۱ گڼه)، پښتو ټولنه: عمومي مطبعه، ۱۳۴۴ ل. کال.

۹- رښتین، صدیق الله. د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه، دویم چاپ، ۱۳۸۳ل. کال.

۱۰- رفیع، حبیب الله. د متلونو پر کیسو یو بله کیسه، کابل مجله، د علومو اکاډمۍ، د ژبو او ادبیاتو مرکز میاشتنۍ علمي خپرونه،( ۵-٦ گڼه)، ۱۳۹۳ ل. کال.

۱۱- رښتین، صدیق الله. د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه، دویم چاپ، ۱۳۸۳ل. کال.

۱۲- زیار، مجاور احمد. وییپوهنه او وییرغاونه، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹٦ل. کال.

۱۳- زیار، مجاور احمد. وییپوهنه او وییرغاونه، پورتنۍ اثر.

څېړنیار حضرت آغا همدرد

# فهرست پېژندنه او د کابل مجلې د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ کلونو په ګڼو کې د مقالو الفبايي فهرست

# Index and alphabetical list of Kabul Magazine's articles in the (1397/1398) issues

**Research Assistant Hazrat Agha Hamdard**


## Abstract

Index is very important for identifying sources in researches, because identifying sources is a fundamental principle for research. It assists researcher in conducting research, and also identifies similar resources on related topics of research and save time and improves the quantity and quality of research.

In this discussion, first we will talk about the introduction, types and features of the index, then we will discuss the list of articles of Kabul magazine.

## لنډيز

فهرست (لیکلړ) په څېړنو کې د مأخذونو او منابعو په پېژندنه کې ډېر ارزښت لري، ځکه چې منابع يا مأخذ پېژندنه د څېړنې لپاره بنسټيز اصل دی. په څېړنه کې د منابعو پېژندنه ډېره اړينه ده او فهرست د مأخذونو او سرچينو په پيدا کولو کې مرسته کوي.

فهرست لیکنه چې لـه څېړونکـي سره د څېړنـې پـر مهـال مرسـته کـوي، د اړونـدو موضوعاتو په اړه ورته منابع او مأخذونه په ګوته کـوي چـې لـه املـه یـې د وخـت سـپما کېږي او د څېړنو د شومره والي او څرنګوالي د ښه والي سبب کېږي، نـو اړینـه ده چـې د فهرست په اړه څېړونکي معلومات ولري. په دې بحث کې بـه لـومړی د فهرسـت پـه پېژندنه، ډولونو او ځانګړنو خبرې وشي، بیا بـه د کابـل مجلـې د دربـیم خپرنیـز پـړاو د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ لمریز کلونو د ګڼو فهرست چې د لیکوالو د تخلصـونو د لـومړي تـوري پر اساس ترتیب شوی دی، له څېړونکو سره به د څېړنې په مهال مرسته واکړي.

## سریزه

فهرست لیکنه د نړۍ په مهمو ژبو کې لیکل شوې او ارزښت لـري، دا ځکـه چـې فهرست لیکنه مهم آثار خوندي کوي، د علم او فرهنګ په بډاینه کـې سـتر رول لـري او د څېړنیزو کارونو د پراختیا سبب کېږي.

په پښتو ژبه کې هم فهرست لیکنه شوې ده، د مهمو علمي ـ څېړنیزو آثارو، مجلو او خپرونو فهرستونه ترتیب شوي او خپاره شـوي دي. د ((کابـل)) مجلـې فهرسـتونه هم چمتو شوي دي او دا لړۍ اوس د کابل مجلې د اداري د پرېکړې پر اساس روانه ده، د هر کال د پای په ګڼه کې د خپرو شوو مقالو الفبایي فهرسـت پـه کرونولوژیـک ډول خپروي. دا چې د کابل مجلې د ۱۳۹۷ل کال د ګڼـو د مقـالو فهرسـت نـه دی خپـور شـوی، د ۱۳۹۸ل کـال د مقـالو لـه فهرسـت سره یوځـای خپربـږي چـې لـه څېړونکو سره به د څېړنو په برخه کې مرسته وکړي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

مخکې د کابـل مجلـې د ګڼـو الفبـایي فهرسـت خپـور شـوی دی، خـو دا چـې د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ل کلونو د مقالو فهرست نه دی خپـور شـوی او اړتیـا ده چـې خپـور شي، نو همدې اړتیا ته په کتو سره په دې بحث کـې ځـای ورکـول کېـږي چـې دا د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت څرګندوي.

## د څېړنې موخه

په دې څېړنه کـې بـه د کابـل مجلـې د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ لمریـزو کلونـو د ګڼـو د مقالو فهرست، په الفبایي بڼه په کرونولوژیـک ډول وړانـدې شي، تـر څـو لوسـتونکي ورنه د څېړنو په برخه کې د اړوندو مأخذونو او منابعو په باره کې معلومات واخلي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې مقاله کې لاندې پوښتنو ته ځوابونه پیدا شوي دي:

۱ .فهرست څه ته وايي او فهرست لیکنه څه ګټه لري؟

۲ .د کابل مجلې د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ لمریزو کلونو په ګڼو کې د لیکوالو کومې مقالې خپرې شوې دي؟

۳ .د دې ګڼو قلمي همکاران څوک دي؟

دا او دې ته ورته نورې پوښتنې هم په دې لیکنه کې ځوابېدای شي.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې تر ډېره له توضیحي او تشریحي میتود نه استفاده شوې ده.

## اصلي متن

په اوسني وخت کې کتاب پېژندنه او فهرست لیکنه د علومو د هرې برخې په څېړنو کې اساسي اړتیا ګڼل کېږي، ځکه چې له څېړونکو سره د څېړنو پر مهال مرسته کوي او څېړونکي د دې پر بنسټ توانېدای شي چې په څېړنو او لیکنو کې د خپلې برخې په اړه ترې استفاده وکړي، نو د دې لپاره چې د کابل مجلې د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ لمریزو کلونو د مقالو فهرست وړاندې کړو، اړینه ده چې لومړی فهرست وپېژنو او د فهرست لیکنې په اړه لنډ بحث وکړو.

په ((فرهنګ فارسي عمید)) کې د فهرست په اړه داسې لیکل شوي دي: ((فهرست هغه جدول دی چې په یو دفتر کې ترتیب او په کې خپل اړوند حسابونه ثبتېږي، هغه پاڼې دي چې د کتاب په پیل یا پای کې ورزیاتېږي او د کتابونو فصلونه، بابونه یا د مطالبو لنډیز په کې لیکل کېږي، هغه لیکنه ده چې د کتابونو نومونه او یا نور شیان په کې خوندي کېږي. په عربي ژبه کې فهرست یا فهرس ورته وايي او جمع یې فهارس ده.)) (۲: ۹۲٦ مخ)

څېړنوال محمدآصف احمدزي د فهرست په اړه په خپل اثر ((د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا اداره)) کې د مایل هروي د نظر یوه برخه داسې رااخیستې ده: ((د فرهنګي سرچینو ښودل د بشري میراث، علومو او فرهنګ ښکارندوی دي. د سرچینو

د ښودولو يوه لاره فهرست ليکنه ده چې په دې سره د هر ولس د خپلو تېرو فرهنګي ميراثونو په اړه معلومات تر لاسه کېږي.» ( ۱: ۱۱۳ مخ)

نومـوړی ليکـوال د فهرسـت ليکنـې پـه اړه خپـل نظـر داسـې بيـان کـړی دی: «فهرست ليکنه له يـوه ټـاکلي روش سره سـم د کتـابونو، خپرونـو يـا مطـالبو د ليکلړ ترتيب او تنظيم ته وايي، ... فهرست هغه وسيله ده چې د منابعو او لوستونکو تـرمنځ اړيکه ټينګـوي چـې پـه دې سره لوسـتونکی او څېړونکـی خپلـه مطلوبـه موضـوع پـه اسانۍ تر لاسه او له هغه سره د وخت په سپما کې هم مرسته کوي.» (۱: ۱۱۵)

د فهرست ليکنې علم (پوهه) بايد په جلا ډول د علـم پـه توګـه وګڼـل شي، ځکـه چې دا هغه پوهه ده چې د کتابونو او ليکوالو ځانګړنې بيانوي. (۳: ۱۷۳ مخ)

## فهرستونه څنګه ډلبندي کېږي؟

د مهمو آثارو، مطالبو او خپرونو فهرستونه چې جوړېږي، په لانـدې ډول ډلبنـدي کېږي:

۱. ببليوګرافي يا کتابښود: په دې برخه کـې د کتـابونو فهرسـت پـه داسـې ډول راځي چې کتابونـه پـه لنـډ ډول معـرفي کـوي، لکـه د څېړنـوال حبيـب الله رفيـع د ((پښتو پانګه)) اثر.

۲. د بېلابېلو علومو د ځانګړو اصطلاحاتو او لغتونو الفبايي فهرسـت: پـه دې ډول فهرست کې د بېلابېلو علومو، د قرآن کريم د آيتونو او حديثونو لغتونه او اصـطلاحات د الفبا په ترتيب راوړل کېږي.

۳. رابطه يي فهرست. هغه ډول فهرستونه دي چې د اړونـدو مطـالبو او معلومـاتو اخيستنې لپاره څېړونکي نورو کتابونو ته لارښوونه کوي.

۴. په کتابتون کې د کتابونو اړوند فهرسـتونه: د کتـابتون مسـؤل يـې د څېړونکـو لپاره د څېړنې په برخه کې د اسانتيا لپاره د کتلاک په ډول برابروي. (۳: ۱۷۵ مخ)

کله چې څېړونکی د څېړنې په مهال له منـابعو څخـه اسـتفاده کـوي، نـو لـه دوه ډوله منابعو سره مخامخ کېږي:

۱. اصلي منابع: دا هغه منابع دي چې هغه تـه پـه مراجعـې سره څېړونکـي تـرې خپله موخه تر لاسه کوي.

۲. رابطه منابع: دا هغه منابع دي چې هغو ته په مراجعې سره څېړونکې اصلي منابعو ته رهنمايي کوي، لکه فهرستونه، کتلاکونه او دې ته ورته نور آثار.)) (۱: ۱۱۴ مخ)

فهرستونه بيا په دې دويم ډول منابعو کې راځي چې څېړونکی يې په مرسته کولای شي، د څېړنې پر مهال اصلي منابعو ته لاره ومومي.

## د فهرست ليکنې ارزښت

۱. فهرستونه معتبر او ارزښتناک منابع دي: فهرستونه د څېړنې پر مهال ځکه ارزښتناک منابع ګڼل کېږي چې څېړونکي ته د اړوندې موضوع په اړه دقيق او اړوند مأخذونه په لاس ورکوي. "د څېړنيز کار د ښه والي او پرمختګ لپاره منابعو او مأخذونو ته اړتيا ده، د فهرستونو چمتو کول، د منابع پېژندنې يوه ښه لاره ده.". (۱: ۱۱۳ مخ)

۲. فهرست ليکنه د علم او فرهنګ په خپراوي کې مهمه ونډه لري: څېړونکی د څېړنې پر مهال د څېړنې اړوندو مراجعو او منابعو ته اړتيا لري، نو د دې کار لپاره بايد د اړوندې موضوع په اړه فهرستونه وګوري، تر څو له يوې خوا د موضوعاتو د تکرار مخه ونيول شي او له بلې خوا د څېړونکي وخت ضايع نه شي. فهرست له څېړونکي سره مرسته کوي چې څېړنه يې د کميت او کيفيت له خوا ښه شي چې له دې سره څېړنيز کارونه پراختيا او ښه والی مومي.دا او دې ته ورته نورې ګټې هم لري.

اوس به د بحث دويمې برخې ته راشو. په دې برخه کې د کابل مجلې د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ لمريزو کلونو د ګڼو د مقالو په الفبايي بڼه فهرست دی.

کابل مجله چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ لوړ څېړنيز او خپرنيز ارګان دی، تر ډېره په کې ادبي، ژبني او فولکلوري علمي ـ څېړنيزې مقالې خپرېږي. دا مجله چې په ۱۳۱۰ لمريز کال کې تأسيس شوې ده، تر اوسه پورې يې د پښتو ژبې او ادب په بډاينه کې ستر رول لرلای دی. د تأسيس له کال نه يې تر اوسه پورې په ياده مجله کې د پښتو ژبې او ادبياتو په اړه د بېلابېلو ليکوالو او څېړونکو له خوا نه په سلګونو علمي ـ څېړنيزې مقالې خپرې شوې دي چې دا مقالې د نورو څېړنو لپاره له څېړونکو سره ډېره مرسته کولای شي.

د کابل مجلې د مقالو فهرستونه تر دې وړاندې هم د ځينو ليکوالو له خوا ترتيب شوي دي، خو د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ لمريزو کلونو د ګڼو د مقالو فهرست نه و ترتيب شوی، نو اړتيا وه چې دا فهرست هم ترتيب شي.

د کابل مجلې د دې کلونو په ګڼو کې چې شمېر يې اته (۸) ګڼې کېږي، د افغانستان د علومو اکاډمۍ او د پوهنتونونو استادانو او څېړونکو (۱۰۴) علمي ـ څېړنيزې مقالې خپرې شوې دي .

## د افغانستان د علومو اکاډمۍ استادان او څېړونکي

۱. سر محقق زلمی هېوادمل: څېړونکی، ليکوال، د علومو اکاډمۍ علمي غړی او د ننګرهار پوهنتون او کابل پوهنتون د ماسترۍ او دکتورا برنامې استاد.

۲. څېړنپوه دکتور خليل الله اورمړ: ژبپوه، د علومو اکاډمۍ علمي غړی او د کابل پوهنتون د دوکتورا برنامې استاد.

۳. څېړنپوه ظاهره هنګامه: د علومو اکاډمۍ علمي غړې.

۴. څېړنپوه نصرالله ناصر: د علومو اکاډمۍ علمي غړی.

۵. څېړنپوه دکتور محمد شريف ځدران: د علومو اکاډمۍ علمي غړی.

۶. څېړنوال ډاکټر عبدالظاهر شکيب: د افغانستان د علومو اکاډمۍ رئيس او علمي غړی.

۷. څېړنوال محمدنبي صلاحي: د زېري جريدې پخوانی مسئول مدير، اوس د کابل مجلې مسئول مدير او د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت علمي غړی .

۸. څېړنوال رفيع الله نيازی: د علومو اکاډمۍ د سيمه ييزو مطالعاتو رئيس او علمي غړی.

۹. څېړنوال سيدنظيم سيدي: د کابل مجلې پخوانی مسئول مدير او اوس د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو د مرکز د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت آمر.

۱۰. څېړنوال شهزاده توحيدمل: د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز د فولکلور او شفاهي ادبياتو د انستيتوت علمي غړی.

۱۱. څېړنوال عبدالقيوم مشوانی: د علومو اکاډمۍ علمي غړی او د پښتو څېړنو د انستيتوت آمر.

۱۲. څېړنوال محمد اصف احمدزی: د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز پخوانی علمي منشي او اوس د اطلاعاتو او عامه اړيکو رئيس او د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت علمی غړی.

۱۳. څېړنواله عاطفه نورستانی: د ژبو او ادبياتو مرکز رئيسه.

۱۴. څېړندوی راضیه نوري: د علومو اکاډمۍ د تألیف او ترجمې انستیتوت علمي غړې.

۱۵. څېړندوی رحیم الله حریفال: د علومو اکاډمۍ علمي غړی او د بشري علومو د معاونیت منشي.

۱٦. څېړندوی سمیله احمدزی: د ژبو او ادبیاتو مرکز علمي غړې.

۱۷. څېړندوی صاحب گل مموزی: د پښتو څېړنو د انستیتوت علمي غړی.

۱۸. څېړندوی عبدالاحد منگل: د فولکلور او شفاهي ادبیاتو د څانگې آمر.

۱۹. څېړندوی گل غوټۍ خاورې: د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو انستیتوت د ادبیاتو او متنپوهنې څانگې آمره.

۲۰. څېړندویه بي بي فضیله: د پښتتو قبایلو د انستیتوت علمي غړې.

۲۱. څېړندویه خاطره شینوارې: د علومو اکاډمۍ علمي غړې.

۲۲. څېړندویه سونیا صمیم هوتک: د پښتو څېړنو د انستیتوت علمي غړې.

۲۳. څېړندویه مینا مسعوده نېکیار: د علومو اکاډمۍ علمي غړې.

۲۴. څېړندوی ډاکټر نظام الدین کټوازی: د علومو اکاډمۍ پخوانی علمي غړی.

۲۵. څېړنیار حضرت آغا همدرد: د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت د متنپوهنې او ادبپوهنې څانگې علمي غړی او د کابل مجلې مهتمم.

۲٦. څېړنیار حمایت الله ښاد: د علومو اکاډمۍ علمي غړی او د پښتو مجلې مهتمم.

۲۷. څېړنیار شریف الله سانین: د علومو اکاډمۍ علمي غړی او د تفکر جریدې مسئول مدیر.

۲۸. څېړنیار عزیزالله مبارز: د علومو اکاډمۍ علمي غړی او د پښتو څېړنو مرکز علمي منشي.

۲۹. څېړنیار فضل الرحمن علیزی: د علومو اکاډمۍ د سیمه ییزو مطالعاتو د ریاست علمي غړی.

۳۰. څېړنیار یاسر پاچا: د فولکلور او شفاهي ادبیاتو څانگې علمي غړی او د زېري جریدې مهتمم.

## د پوهنتون استادان او بهرني څېړونکي

۱. پوهاند دکتور مجاور احمد زیار: د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پخوانی استاد او ژبپوه.

۲. پوهنوال دکتور لال پاچا ازمون: په ټولنیزو او علمي چارو کې د ولسمشر ارشد سلاکار او د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې استاد.

۳. دکتور عبدالخالق رشید: د هند د جواهر لال نهرو پوهنتون د پښتو ژبې او ادبیاتو استاد .

۴. پوهندوی ببرک میاخېل: د ننگرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې استاد.

۵. پوهندوی دکتور اجمل ښکلی: د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې استاد.

٦. پوهندوی شاه محمود کډوال: د لغمان پوهنتون استاد.

۷. پوهنمل سبحان الله شهاب: د خوست پوهنتون د پښتو څانگې استاد .

۸. پوهنمل سیداصغر هاشمي: د کونړ د سیدجمال الدین افغان پوهنتون د پښتو څانگې استاد.

۹. پوهنمل فهیم بهیر: د پروان د البیروني پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې استاد.

۱۰. پوهنمل مریم مهان: د بدخشان پوهنتون د پښتو څانگې استاده.

۱۱. پوهنیار حمیدالله عمرخېل: د بلخ پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د پښتو څانگې استاد.

۱۲. پوهنیار دکتور بیت الرحمن رودوال: د شهید استاد برهان الدین رباني د ښوونې او روزنې پوهنتون د پښتو څانگې استاد.

۱۳. پوهنیار رحمت الله حکیمي: د پکتیکا پوهنتون د پښتو څانگې استاد.

۱۴. پوهنیار رحمن الله قانع: د شهید استاد برهان الدین رباني د ښوونې او روزنې پوهنتون د پښتو څانگې استاد.

۱۵. پوهنیار سیدصمیم هاشمي: د ننگرهار پوهنتون استاد.

۱٦. پوهنیار عبدالعظیم صدیقمل: د کونړ د سیدجمال الدین افغان پوهنتـون د پښتو څانګې استاد.

۱۷. پوهنیار فیض محمد ځلاند: د کابل پوهنتون استاد.

۱۸. پوهنیار کریم الله رشیدي: د پنجشیر پوهنتون د پښتو څانګې استاد.

۱۹. پوهنیار ګل رحمن رحماني: د بغلان پوهنتون د پښتو څانګې استاد.

۲۰ .پوهنیار محب الله ترابي: لیکوال، څېړونکی او د پوهنتون استاد.

۲۱. پوهنیار محمود مرهون: د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیـاتو پـوهنځي د پښـتو څانګې استاد.

۲۲. پوهنیار میوند بختیار: لیکوال، څېړونکی او د پوهنتون استاد.

۲۳. پوهنیار نجیب الله مخلص: لیکوال، څېړونکی او د پوهنتون استاد.

۲۴. پوهنیاره شاکره غیاثي رودوال: د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیـاتو پـوهنځي د پښتو څانګې استاده.

۲۵. پوهیالی محمدصدیق: لیکوال، څېړونکی او د پوهنتون استاد.

۲٦. صدیق الله بدر: لیکوال، شاعر او د کلید راډیو د خپرونو ارزوونکی.

۲۷. عبدالباري جهاني: لیکوال، شاعر او څېړونکی.

۲۸. عبدالوکیل سوله مل شینواری: لیکوال او څېړونکی.

۲۹. محمد معصوم هوتک: لیکوال او څېړونکی.

۳۰. محمداکبر کرګر: لیکوال او څېړونکی.

۳۱. محمدآصف صمیم: لیکوال، کره کتونکی او څېړونکی.

۳۱. محمدطاهر شرر ساپی: لیکوال او څېړونکی.

## د کابل مجلې د فهرست د ترتیب ډول

د کابل مجلې د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ لمریزو کلونو الفبـایي فهرسـت پـه لانـدې ډول جوړ شوی دی:

۱. دا فهرست د لیکوالو د تخلصونو د لومړي توري پر بنسټ جوړ شوی دی، لکه په لاندې ډول:

احمــدزی، څېړندویــه ســمیله. پــه انګیــو کــې د ښـځو د یــادونو او فریــادونو انځور،۱۳۹۷ لمریز کال، لومړی ګڼه، ۱۴۵ مخ.

۲. هغه لیکوال چې تخلص نه لري، د نوم لومړی توری یې یې رااخیستل شوی دی، لکه په لاندې ډول:

یاسر پاچا (څېړنیار یاسر پاچا)، ولسي نکلونه او د هغو ادبي او ټولنیز ارزښتونه،۱۳۹۸ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۱٦۵ مخ.

۳. هغه مقالې چې له نورو ژبو ژباړل شوې دي، د مقالې تر څنګ یې په وړو لیندیو کې ژباړه لیکل شوې ده، لکه په لاندې ډول:

بدر، صدیق الله، د نړۍ د نومیالیو لیکوالو د لیکوالۍ بریالۍ تجربې ((ژباړه))، ۱۳۹۷ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۸۵ مخ.

۴. په دې فهرست کې علمي رتبې هم په نظر کې نیول شوې دي، خو د هغو لیکوالو چې تخلص یې نه و، علمي رتبه یې د فهرست د نوم په برخه کې نه ده راغلې، خو د فهرست د نوم مخامخ یې علمي رتبه او نوم لیکل شوی دی، لکه په لاندې ډول:

بي بي فضیله (څېړندویه بي بي فضیله)، د پښتو او دري ژبو د فعلونو د ریښې پرتلنه،۱۳۹۸ لمریز کال، دویمه ګڼه، ۱۵۸ مخ.

## د کابل مجلې د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ کلونو د ګڼو الفبایي فهرست

### الف

### احمدزی، څېړندویه سمیله

۱. په انګیو کې د ښځو د یادونو او فریادونو انځور،۱۳۹۷ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۱۴۵ مخ.

۲. د نامعلومې زمانې پښتو نکلونه، ۱۳۹۷ لمریز کال، څلورمه ګڼه، ۱۸۷ مخ.

### احمدزی، څېړنوال محمدآصف

۱. استاد جاج نیمه پېړۍ د علم او فرهنګ په خدمت کې، ۱۳۹۷ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۱ مخ.

۲. آلماني ګوېته او له شرقي ادب سره یې لېوالتیا،۱۳۹۸ لمریز کال، دویمه ګڼه، ۱۰ مخ.

**ازمون، پوهنوال دکتور لال پاچا**

۱. منثور ومنظوم شعر او منثور نظم،۱۳۹۷ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۴۷ مخ.

**اورمړ، څېړنپوه دکتور خلیل الله**

۱. مزدک او مزدکیان،۱۳۹۷ لمریز کال، دربیمه ګڼه، ۳۹ مخ.

۲. د آریاني ژبو وېش،۱۳۹۸ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۱۷ مخ.

۳. له لرغونو ژبو سره د پښتو ژبې تحول،۱۳۹۸ لمریز کال، دویمه ګڼه، ۱ مخ.

**ب**

**بختیار، پوهنیار میوند**

۱. د خروټو د لهجې ګړویزونه (ډایلکټېزمونه)، ۱۳۹۷ لمریز کال، څلورمه ګڼه، ۱۵۰ مخ.

**بدر، صدیق الله**

۱. د نړۍ د نومیالیو لیکوالو د لیکوالۍ بریالۍ تجربې ((ژباړه))، ۱۳۹۷ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۸۵ مخ.

**بهیر، پوهنیار فهیم**

۱. ادبیات او سوله،۱۳۹۷ لمریز کال، دویمه ګڼه، ١٦٩ مخ.

۲. د ادبیاتو او اروا‌پوهنې اړیکې،۱۳۹۸ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ٦۴ مخ.

**بي بي فضیله (څېړندویه بي بي فضیله)**

۱. د پښتو او دري ژبو د فعلونو د ریښې پرتلنه،۱۳۹۸ لمریز کال، دویمه ګڼه، ۱۵۸ مخ.

**ت**

**ترابي، پوهنیار محب الله**

۱. د استاد لېوال د کک او زرینې منظومه حماسه ده او که نه؟۱۳۹۸ لمریز کال، دویمه ګڼه، ۵۹ مخ.

**توحیدمل، څېړنوال شهزاده**

۱. په هایکوګانو کې د څپو څېړنه،۱۳۹۸ لمریز کال، دربیمه ګڼه، ۸۸ مخ.

۲. د لوګر د احمدزیو او د پکتیا د آریوب ځاځیو د لهجو د ځینو کلمو لهجوي او مورفولوژیکه پرتلیزه څېړنه،۱۳۹۸ لمریز کال، څلورمه ګڼه، ۳۴ مخ.

## ج

### جهاني، عبدالباري

۱. پښتو ادب ته د ختیځپوه راوړتې ناسمه ورکړه،۱۳۹۷ لمریز کال، درېیمه ګڼه، ۱۵۱ مخ.

## ځ

### ځدران، څېړنپوه محمد شریف

۱. غازي امان الله خان او د ښځو په ټولنیز او فرهنګي ژوندانه کې غوره بدلونونه، ۱۳۹۸ لمریز کال، دویمه ګڼه، ۴٦ مخ.

### ځلاند، پوهنیار فیض محمد

۱. په افغانستان کې د قبیلې او دولت په جوړښت کې د خان کردار، ۱۳۹۸ لمریز کال، دویمه ګڼه، ۸۷ مخ.

## ح

### حریفال، څېړندوی رحیم الله

۱. په پښتو معاصر شعر کې له جګړې کرکه، ۱۳۹۷ لمریز کال، څلورمه ګڼه، ۸۴ مخ.

۲. د پښتون ژغورنې غورځنګ او پښتو شاعري، ۱۳۹۸ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۸۰ مخ.

۳. د ژبې د زده کړې حساسه دوره، ۱۳۹۸ لمریز کال، دویمه ګڼه، ۷۷ مخ.

۴. د یوې بشپړې معیاري پښتو پر لور، ۱۳۹۸ لمریز کال، درېیمه ګڼه، ۹۸ مخ.

۵. طناز شاعر عبدالستار بمبار، ۱۳۹۸ لمریز کال، څلورمه ګڼه، ۲۵ مخ.

### حکیمي، رحمت الله

۱. په پښتو حمدیه شاعرۍ کې عرفاني ښکلاوې، ۱۳۹۷ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۳۳ مخ.

۲. استعاري کیف، ۱۳۹۸ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۹۴ مخ.

## خ

### خاورې، څېړندوی ګل غوټۍ

۱. په معاصر پښتو ادب کې د اسطورې پراختیا، ۱۳۹۷ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۹۹ مخ.

۲. د کونډې زوي سریال ته لنډه تحلیلي کتنه، ۱۳۹۷ لمریز کال، دويمه ګڼه، ۱ مخ.

## ر

### رحماني، پوهنیار ګل رحمن

۱. د لیکوالۍ خنډونه،۱۳۹۷ لمریز کال، دویمه ګڼه، ۹۵ مخ.

۲. نازک الملائکه او د عربي ژبې نوی شعر، ۱۳۹۷ لمریز کال، درېیمه ګڼه، ٦۳ مخ.

۳. د مینې او انسانیت شاعر، ۱۳۹۸ لمریز کال، درېیمه ګڼه، ۱۴۳ مخ.

### رشید، دکتور عبدالخالق

۱. کرګر، د خپلو عرفاني لیکنو په ضرب او کرب کې ، ۱۳۹۸ لمریز کال، څلورمه ګڼه، ۵۱ مخ.

### رشیدي، پوهنیار کریم الله

۱. د میا نعیم په اشعارو کې د مردفې قافیې څېړنه، ۱۳۹۸ لمریز کال، درېیمه ګڼه، ۱۷۵ مخ.

### رودوال، پوهنیار دکتور بیت الرحمن

۱. په پښتو ژبه کې د ماشومانو د ادبیاتو پېژندنه، ۱۳۹۷ لمریز کال، درېیمه ګڼه، ۱۷۲ مخ.

## ز

### زیار، پوهاند دکتور مجاور احمد

۱. د پښتو د ګرامر د زده کړې نوې لارې چارې، ۱۳۹۷ لمریز کال، دویمه ګڼه، ۷٦ مخ.

## س

### سانین، څېړنیار شریف الله

۱. د گواري ژبې فولکلوري(ولسي) ادبیاتو ته لنډه کتنه،۱۳۹۷ لمریز کال، دویمه گڼه، ۱۴۹ مخ.

۲. نورستاني ژبې او لهجې،۱۳۹۷ لمریز کال، دریمه گڼه، ۸۰ مخ.

۳. ژبه او د مورنۍ ژبې اهمیت او ارزښت،۱۳۹۸ لمریز کال، دویمه گڼه، ۲۰۲ مخ.

### سوله مل، شینواری، عبدالوکیل

۱. په داستاني ادب کې د کرگر نوې تجربې،۱۳۹۷ لمریز کال، څلورمه گڼه، ۲۸ مخ.

### سیدي، څېړنوال سیدنظیم

۱. په اوسني پېر کې د ادبي کره کتنې وضعیت،۱۳۹۷ لمریز کال، لومړۍ گڼه، ۵۹ مخ.

۲. پښتو ادب او موډرنیزم،۱۳۹۸ لمریز کال، لومړۍ گڼه، ۱ مخ.

۳. د کیسه ییز ادب ډیالوگونه باید څنگه وي،۱۳۹۸ لمریز کال، دریمه گڼه، ۴۵ مخ.

۴. په پښتو ادب کې د لیلی او مجنون لومړنی منظوم داستان،۱۳۹۸ لمریز کال، څلورمه گڼه، ۱۰ مخ.

## ش

### شرر، ساپی، محمدطاهر

۱. د پیرمحمد کاروان په شعر کې د حواسو توافق،۱۳۹۷ لمریز کال، څلورمه گڼه، ۹۹ مخ.

### شکیب، څېړنوال دکتور عبدالظاهر

۱. په افغانستان کې د پښتو ژبې وده او تعلیمي بهیر،۱۳۹۷ لمریز کال، دریمه گڼه، ۲۳ مخ.

۲. د حسن گل بانډوال ژوند او علمي هلې ځلې،۱۳۹۷ لمریز کال، څلورمه گڼه، ۱۴۲ مخ.

۳. د ملک احمد جان خان ساپي ځینو نظمونه ته لنډه کتنه،۱۳۹۸ لمریز کال، لومړۍ گڼه، ۵۴ مخ.

۴. د معاصر پښتو غزل فن او تکنیک له یوولسم سپتمبر وروسته (کابل، پېښور)، ۱۳۹۸ لمریز کال، درېیمه گڼه، ۱ مخ.

## شهاب، پوهنمل سبحان الله

۱. د سید محمدطاهر بینا ژوند او ادبي هڅې، ۱۳۹۸ لمریز کال، څلورمه گڼه، ٦٩ مخ.

## شینواري، څېړندویه خاطره

۱. په منظوم ولسي ادب کې ساندې او بابولالې ((د غم او ښادۍ د متضادو حالتونو څرگندوی))، ۱۳۹۷ لمریز کال، دویمه گڼه، ۱۰٦ مخ.

## ښ

## ښاد، څېړنیار حمایت الله

۱. سواتنامه د معاصرې یونلیکنې د ځانگړنو په رڼا کې،۱۳۹۸ لمریز کال، څلورمه گڼه، ۱۲۳ مخ.

## ښکلی، پوهندوی دکتور اجمل

۱. دودیزه اروапوهنه، ۱۳۹۷ لمریز کال، لومړۍ گڼه، ۲۱ مخ.

## ص

## صدیقمل، پوهنیار عبدالعظیم

۱. د مورفیمیکو جوړو پېژندنه،۱۳۹۷ لمریز کال، درېیمه گڼه، ۱۲۹ مخ.

## صلاحي، څېړنوال محمدنبي

۱. د ادبي بحثونو نړۍ،۱۳۹۸ لمریز کال، څلورمه گڼه، ۱ مخ.

## صمیم، محمدآصف

۱. د استاد خادم ځینو آثارو ته لنډه کتنه،۱۳۹۷ لمریز کال، لومړۍ گڼه، ۱۳۵ مخ.

## ع

## علیزی، څېړنیار فضل الرحمن

۱. پښتو منظوم حماسي ادبیات او د هغو د خوندي کولو اړتیا،۱۳۹۸ لمریز کال، دویمه گڼه، ۱۷۸ مخ.

**عمرخېل، پوهنیار حمیدالله**

۱. پیر روښان او وحدت الوجود،۱۳۹۷ لمریز کال، څلورمه ګڼه، ۱۲۵ مخ.

**غ**

**غیاثي، رودوال، پوهنیاره شاکره**

۱. د علامه استاد عبدالحی حبیبي (د پښتو ادبیاتو تاریخ) یو لنډ مقایسوي جاج،۱۳۹۸ لمریز کال، درېیمه ګڼه، ۲۰۷ مخ.

**ق**

**قانع، پوهنیار رحمن الله**

۱. په پښتو ګرامرونو کې د نه ګردانېدونکو مورفیمونو څېړنه،۱۳۹۸ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۱۴۷ مخ.

۲. عددي ستاینومیز متممونه،۱۳۹۸ لمریز کال، درېیمه ګڼه، ۱۰۷ مخ.

**ک**

**کتهوازی، څېړندوی نظام الدین**

۱. د ژبپوهنې او ادبپوهنې مسئلې،۱۳۹۷ لمریز کال، څلورمه ګڼه، ۱۱۳ مخ.

**کرګر، محمداکبر**

۱. وحدت الوجودي افکار او هندي متفکرین،۱۳۹۷ لمریز کال، دویمه ګڼه، ٦۴ مخ.

۲. په لرغوني فرهنګ کې د تصوف او عرفان ریښه،۱۳۹۷ لمریز کال، درېیمه ګڼه، ۵۳ مخ.

**کډوال، پوهندوی شاه محمود**

۱. په ژبه او وینا کې د مغزو ونډه،۱۳۹۷ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۱۲٦مخ.

**م**

**مبارز، څېړنیار عزیزالله**

۱. کلمه او تابع مهمل،۱۳۹۸ لمریز کال، څلورمه ګڼه، ۱٦۷ مخ.

**محمد صدیق (پوهیالی محمد صدیق)**

۱. په پښتو شعر کې نوې کره کتنې،۱۳۹۷ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۱۱٦ مخ.

**مخلص، پوهنیار نجیب الله**

۱. د سیدشمس الدین مجروح د شعر فکر او هنر،۱۳۹۸ لمریز کال، لومړۍ گڼه، ۲۱۰ مخ.

**مرهون، پوهنیار محمود**

۱. د عبدالرؤف بېنوا سبک،۱۳۹۷ لمریز کال، درېیمه گڼه، ۱۰۱ مخ.

**مشوانۍ، څېړنوال عبدالقیوم**

۱. دېگاني یا وټه پوري ژبه،۱۳۹۸ لمریز کال، دویمه گڼه، ۹۷ مخ.

**مموزی، څېړندوی صاحب گل**

۱. د استاد الفت د پښتو نثر ځانگړنې،۱۳۹۷ لمریز کال، دویمه گڼه، ۴۸ مخ.

۲. د میناتورۍ هنر او د هغه هنري، ادبي او عرفاني ارزښتونه،۱۳۹۸ لمریز کال، څلورمه گڼه، ۱۵۸ مخ.

**منگل، څېړندوی عبدالاحد**

۱. په پښتني فولکلور ټولونې او څېړنې کې د ختیځپوهانو ونډه،۱۳۹۷ لمریز کال، لومړۍ گڼه، ۱٦۱ مخ.

۲. درخانۍ د ولسي ادب په هینداره کې،۱۳۹۷ لمریز کال، دویمه گڼه، ۱۳۱ مخ.

۳. په پښتو ولسي ادب کې کړۍ،۱۳۹۷ لمریز کال، څلورمه گڼه، ۵۸ مخ.

۴. د پښتو پر کلاسیک شعر د سماع عرفاني اغېزې،۱۳۹۸ لمریز کال، لومړۍ گڼه، ۱۰۸ مخ .

**مهان، پوهنمل مریم**

۱. د ژبې د تحول ټولنیز عوامل، ۱۳۹۸ لمریز کال، څلورمه گڼه، ۸٦ مخ.

**میاخېل، پوهندوی ببرک**

۱. ډرامه مخ پر ودې ژانر،۱۳۹۷ لمریز کال، لومړۍ گڼه، ۱۷۵ مخ.

**ن**

**ناصر، څېړنپوه نصرالله**

۱. د محمداکبر معتمد ژوند او ادبي هڅې،۱۳۹۷ لمریز کال، څلورمه گڼه، ۱ مخ.

**نورستانی، څېړنواله عاطفه**

۱. په هوتکي پېر کې د ښځو فرهنګپالنه،۱۳۹۷ لمریز کال، څلورمه ګڼه، ۱۳ مخ.

۲. په افغاني ټولنه کې د ښځو پر وړاندې د ځینو ناوړو دودونو حل لارې،۱۳۹۸ لمریز کال، دریمه ګڼه، ۷۰ مخ.

**نوري، څېړندویه راضیه**

۱. د شال شعري ګلبڼ، ۱۳۹۷ لمریز کال، څلورمه ګڼه، ۱۷۵ مخ.

۲. پښتون د سمندر له نظره،۱۳۹۸ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۱۵۹ مخ.

۳. د خوشحال خټک په اشعارو کې پښتني ګاڼې،۱۳۹۸ لمریز کال، دویمه ګڼه، ۱۲۰ مخ.

**نیازی، څېړنوال رفیع الله**

۱. د پښتو ګرامر لیکنې پړون، نن او سبا،۱۳۹۷ لمریز کال، دریمه ګڼه، ۱ مخ.

۲. د عربي ژبپوهنې تاریخچه،۱۳۹۸ لمریز کال، دویمه ګڼه، ۲۵ مخ.

**نېکیار، څېړندویه مینا مسعوده**

۱. ژبه او فکر،۱۳۹۷ لمریز کال، دریمه ګڼه، ۱۳۹ مخ.

۲. د ژبې وده او پرمختګ،۱۳۹۸ لمریز کال، دریمه ګڼه، ۱۳۲ مخ.

**هاشمي، پوهنمل سیداصغر**

۱. د ګل پاچا الفت په هنري نثرونو کې د آزادۍ غوښتنې پیغام،۱۳۹۷ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۱۸۳ مخ.

۲. د غني خان او ګل پاچا الفت د شعرونو د شکلي جوړښت پرتلنه،۱۳۹۷ لمریز کال، دویمه ګڼه، ۱۲۰ مخ.

۳. د تېزس د معنوي جوړښت پېژندنه،۱۳۹۷ لمریز کال، دریمه ګڼه، ۱۶۱ مخ.

۴. د ګل پاچا الفت په نثرونو کې ځینې هیومانیستکي افکار،۱۳۹۷ لمریز کال، څلورمه ګڼه، ۷۶ مخ.

۵. د ادبیاتو او سایکالوژۍ اړیکې،۱۳۹۸ لمریز کال، دریمه ګڼه، ۱۲۰ مخ.

**هاشمي، پوهنیار سیدصمیم**

۱. د پریم چند د لنډو کیسو فني او موضوعي لوړتیا،۱۳۹۸ لمریز کال، څلورمه ګڼه، ۱۴۸ مخ.

**همدرد، څېړنیار حضرت آغا**

۱. د امیرحمزه شینواري په شاعرۍ کې عرفاني سیمبولونه،۱۳۹۸ لمریز کال، لومړۍ گڼه، ۱۸۹ مخ.

۲. د غازي امان الله خان د دورې سیاسي، فرهنگي، اقتصادي او ټولنیزو حالاتو ته لنډه کتنه،۱۳۹۸ لمریز کال، دویمه گڼه، ۲۲۱ مخ.

۳. د اکاډمیسین سلیمان لایق شاعرانه فکر او هنر،۱۳۹۸ لمریز کال، درېیمه گڼه، ۱۸۵ مخ.

۴. فهرست پېژندنه او د کابل مجلې د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ کلونو په گڼو کې د مقالو الفبایي فهرست،۱۳۹۸ لمریز کال، څلورمه گڼه، ۱۷٦ مخ.

**هنگامه، څېړنپوه ظاهره**

۱. پښتو لنډۍ د ټولنیزو ستونزو روڼ انځور،۱۳۹۸ لمریز کال، لومړۍ گڼه، ۱۳۳ مخ.

**هوتک، څېړندویه صمیم، سونیا**

۱. شاعر د الفت له نظره،۱۳۹۸ لمریز کال، دویمه گڼه، ۱۴۲ مخ.

۲. ژباړونکي ختیځپوهان،۱۳۹۸ لمریز کال، څلورمه گڼه، ۹۷ مخ.

**هوتک، محمدمعصوم**

۱. د کابلي منظوم پښتو آثار،۱۳۹۷ لمریز کال، درېیمه گڼه، ۱۱۲ مخ.

**هېوادمل، سرمحقق زلمی**

۱. د عبدالرحیم هوتک بخارایي د دیوان په باب څو یادونې،۱۳۹۸ لمریز کال، درېیمه گڼه، ۳۲ مخ.

**ی**

**یاسر پاچا (څېړنیار یاسر پاچا)**

۱. ولسي نکلونه او د هغو ادبي او ټولنیز ارزښتونه،۱۳۹۸ لمریز کال، لومړۍ گڼه، ۱۷۰ مخ.

۲. د ماشوم د ادبیاتو هنري ارزښت،۱۳۹۸ لمریز کال، درېیمه گڼه، ۱۵۹ مخ.

## وړاندیزونه

۱. د پښتو ژبې او ادب لیکوالو او څېړونکو ته بویه چې لـه کابـل مجلـې سره خپلـه قلمي همکاري وساتي.

۲. څومره به ښه وي چې د پښتو ژبې او ادب څېړونکي، په خپلو څېړنو کـې د دې فهرست په مرسته، د کابل مجلې له علمي ـ څېړنیزو مقالو څخه استفاده وکړي.

۳. د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمـي غـړي او یـا نـور څېړونکـی کـولای شي، د کابل مجلې د مطالبو موضوعي فهرست جوړ کړي.

## پایله

فهرست جوړونه، څېړونکو ته د څېړنې کار اسانوي، یعنې د څېړنې پر مهـال ورسره مرسته کولای شي چې له دې امله د څېړنې کارونه هم چټکتیا مومي. همدا ډول، د فهرستونو د جوړولو ګټه هم دا ده چې څېړونکی له تکراري څېړنو ژغوري، څکه چـې د دې په کومک سره، څېړونکي ته معلومېږي چې په کومه برخه کار شـوی دی او پـه کومه برخه نه دی شوی.

د کابل مجلې دا فهرست به له څېړونکو سره د راتلونکو څېړنو په وخت کې تر ډېـره مرسته وکړي چې له امله به یې څېړنه ښه شي. پـه دې فهرسـت کـې ادبي، ژبنــي او فولکلوري څېړنیزې مقالې راغلې دي چې فهرست وړاندې کول اړتیـا وه. همـدا ډول اړینه ده چې دا لړۍ همداسـې جـاري وسـاتل شي او لـه دې سره سره دې، د کابـل مجلې موضوعي فهرست هم جـوړ شي  او پـه دې توګـه بـه څېړونکـو تـه د څېړنـو پـه چارو کې لا ډېرې اسانتیاوې برابرې شي.

## مأخذونه

۱. احمدزی، محمدآصف. د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا اداره. د افغانسـتان د مـلي تحریک څانګه: کابل، ۱۳۹۴ل کال.

۲. حسن، عمیـد، فرهنـګ فـارسي عمیـد، مؤسسـه انتشـارات امیـر کبیـر: تهـران، ۱۳۸۳ل کال.

۳. ستوده، دکتر غلام رضا. مرجع شناسی و روش تحقیق در ادبیات فارسی. سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهها (سمت): تهران، ۱۳۸۴ل کال.
۴. کابل (مجله)، لومړۍ گڼه، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت، کابل، ۱۳۹۷ل کال.
۵. کابل (مجله)، دویمه گڼه، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت، کابل، ۱۳۹۷ل کال.
٦. کابل (مجله)، دریمه گڼه، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت: چهاردهي صنعتي مطبعه، کابل، ۱۳۹۷ل کال.
۷. کابل (مجله)، څلورمه گڼه، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت: چهاردهي صنعتي مطبعه، کابل، ۱۳۹۷ل کال.
۸. کابل (مجله)، لومړۍ گڼه، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت: چهاردهي صنعتي مطبعه، کابل، ۱۳۹۸ل کال.
۹. کابل (مجله)، دویمه گڼه، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت: چهاردهي صنعتي مطبعه، کابل، ۱۳۹۸ل کال
۱۰. کابل (مجله)، دریمه گڼه، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت: الهام نبي زاده، کابل، ۱۳۹۸ل کال.
۱۱. کابل (مجله)، څلورمه گڼه، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت: الهام نبي زاده، کابل، ۱۳۹۸ل کال.

**Published:** Academy of Science of Afghanistan

**Editor in Chief:** Research Fellow M. Nabi Salahi

**Assistant:** Research Assistant Hazrat Agha Hamdard

**Editorial Board:**

Research Fellow Ph.D. Abdul Zahir Shakib

Senior Research Fellow Ph.D.  Khalilullah Ormar

Senior Research Fellow Nasrulla Naser

Research Fellow Mohammad Asif Ahmadzai

**Composed & Designed By:**

Hamdard

**Annual Subscription:**

Kabul: 960 Af.

Province: 1440 AF.

Foreign Countries : 60 $

Price of each issue in Kabul : 80 AF.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan: 70 AF.
- For the disciples and students of schools: 40 AF.
- For other Departments and Offices: 80 AF.